Peace Study, Research & Publish Center

# مرکزي بانک

## او پرمختللي پولي سیاستونه




لیکوال: پوهاند دوکتور عبدالقیوم عارف

ژباړه: امان الله ورین


سي ډي سره

۱۴۰۱

مرکزي بانک او پرمختللي پولي سیاستونه

لیکوال: پوهاند دوکتور عبدالقیوم عارف

ژباړه: امان الله ورین

Faculty of Administration & Business

اداره او تجارت پوهنځی

Afghanic


Author: Prof Dr Abdul Qayoum Arif

Translator: Amanullah Vreen


# Central Bank & Advanced Monetary Policies


Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**

ISBN 978-9936-633-99-5


with CD

2022

# مرکزي بانک او پرمختللي پولي سیاستونه


لیکوال: پوهاند دوکتور عبدالقیوم عارف

ژباړه: امان الله ورین




Faculty of Administration & Business

اداره او تجارت پوهنځی


Funded by

**Kinderhilfe-Afghanistan**

**Pashto PDF**
2022

افغانیک

**Afghanic**


# Central Bank & Advanced Monetary Policies


Author: Prof Dr Abdul Qayoum Arif

Translator: Amanullah Vreen



**Download:**

**www.ecampus-afghanistan.org**

اقرأ باسم ربك الذي خلق

# مرکزي بانک او پرمختللي پولي سياستونه

## ليکوال: پوهاند دوکتور عبدالقيوم عارف

## ژباړه: امان الله ورين

دوهم چاپ

دغه کتاب په پي ډي ايف فارمټ کې په مله سي ډي کې هم لوستلی شئ:



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | مرکزي بانک او پرمختللي پولي سیاستونه |
| لیکوال | پوهاند دوکتور عبدالقیوم عارف |
| ژباړن | امان الله ورین |
| بیا کتنه | هدایت الله فرید |
| ډیزاینر | هجرت الله موحد |
| خپرندوی | شیخ زاید پوهنتون، خوست، اداره او تجارت پوهنځی |
| وېب پاڼه | www.szu.edu.af |
| د چاپ کال | ۱۴۰۱، لومړی چاپ |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| مسلسل نمبر | ۳۶۴ |
| ډاونلوډ | www.ecampus-afghanistan.org |

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې، په جرمني کې د Eroes کورنۍ یوې خیریه ټولنې لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې د افغانیک لخوا ترسره شوي دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسئولیت د کتاب په لیکوال، ژباړن او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.



د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:

ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کارته ۴، کابل

موبایل ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴، ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰

ایمېل info@ecampus-afghanistan.org



د کتاب هر ډول حقوق له سولې مرکز سره خوندي دي؛ هیڅوک یې د خپراوي حق نه لري.



اړیکشمېرې: ۰۷۸۷۶۱۳۱۰۴/۰۲۰۲۱۰۷۹۰۹، وېب سایټ: www.psrp.org.af

برېښنالیک: headoffice@psrp.org.af

ای اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۳۳-۹۹-۵

# د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي. یو زیات شمېر استادان او محصلین نویو معلوماتو ته لاسرسی نه لري، په زاړه میتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو نه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

موږ تر اوسه پورې د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، البیروني، کابل پوهنتون، د کابل طبي پوهنتون  او د کابل پولي تخنیک پوهنتون لپاره ۳۶۵ عنوانه مختلف درسي کتابونه د طب، ساینس، انجنیري، اقتصاد، ژورنالېزم او کرهنې پوهنځیو لپاره چاپ کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړوندو پوهنتونونو او یو زیات شمېر ادارو او موسساتو ته په وړیا توګه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.ecampus-afghanistan.org ویب پاڼې نه ډانلوډولی شئ.

دا کړنې په داسې حال کې ترسره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کـــړو وزارت د (۲۰۱۰-۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې:

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده، چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د لیکلو فرصت برابر شي، د تعلیمي نصاب د ریفورم لپاره له انګریزي ژبې نه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړین دي، له دغو امکاناتو پرته د پوهنتونونو محصلین او استادان عصري، نویو، تازه او کره معلوماتو ته لاسرسی نه شي پیدا کولای."*

موږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هېواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچرنوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره اړینه ده چې د افغانستان پوهنتونونو لپاره هر کال لږ تر لږه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

**له ټولو درنو استادانو نه هيله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه وليکي، وژباړي او يا هم خپل پخواني ليکل شوي کتابونه، لکچرنوټونه او چپټرونه ايډېټ او د چاپ لپاره تيار کړي، زموږ په واک کې يې راکړي چې په ښه کيفيت چاپ او وروسته يې د اړوند پوهنځيو، استادانو او محصلينو ته په واک کې ورکړو. همدارنګه د يادو ټکو په اړه خپل وړانديزونه او نظريات له موږ سره شريک کړي، چې په ګډه په دې برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړو.**

د ليکوالانو او خپروونکو له خوا پوره زيار ايستل شوی، چې د کتابونو محتويات د نړيوالو علمي معيارونو پر اساس برابر شي، خو بيا هم کېدای شي د کتاب په محتوا کې ځينې تېروتنې او ستونزې وليدل شي، نو له درنو لوستونکو نه هيله لرو چې خپل نظريات او نيوکې ليکوال او يا موږ ته په ليکلې بڼه راولېږي، چې په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې او د هغې له مشر ډاکتر ايروس نه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت يې ورکړی دی. دوی تر دې مهاله د ننګرهار پوهنتون د ۲۳۰ عنوانه طبي او غير طبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه اخيستی دی.

د پوهنتونونو رييسانو، د پوهنځيو رييسانو او استادانو نه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ يې هڅولې او مرسته يې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له ليکوال نه ډېر منندوی يم او ستاينه يې کوم، چې خپل د کلونو - کلونو زيار يې په وړيا توګه ګرانو محصلينو ته وړاندې کړ.

همداراز د سولې څېړنيز، مطالعاتي او خپرندوی مرکز مشر او بنسټګر ښاغلي ضيا الحق وزيرزي نه هم ځانګړې مننه کوم، چې د دغه کتاب د معنوي مالکيت حقوق چې د دوی د مرکز لپاره خوندي دي او موږ ته يې د وړيا چاپ لپاره راوسپاره، چې په ګډه د خپلې ټولنې علمي چوپړ وکړو.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر يو؛ ښاغلي حکمت الله عزيز او ښاغلي فهيم حبيبي نه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر يحيی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کابل، مې، ۲۰۲۲

د دفتر ټيليفون: ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰، ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴

ايميل: info@ecampus-afghanistan.org

په دې کتاب کې د مرکزي بانـک اړتیـا، اهمیـت، تاریخچـه او پـه اړه یــې بېلابېلې نظریې، دندې، موخې، پولي سیاستونه، د افغانستان بانک او د نړۍ د لویو هېوادونو مرکزي بانکونه په پوره تفصیل سره څېړل شوي دي.

# د باثباته اقتصادي

## او بانکي سیستم یو مهم اثر






د اقتصادپوهانو له آنده د هر هېواد اقتصاد د همغه هېواد په مرکزي بانک پورې تړاو لري. د پیسو پړسوب، د پیسو د ارزښت ټیټوالی او جګوالی، د اجناسو د بیو ټاکل او په ټوله کې د اقتصادي سیستم ځوړتیا او پرمختیا په مرکزي بانک پورې اړه لري. مرکزي بانک د یوه هېواد د اقتصاد او پولي سیستم هسته ده .

دا کتاب د همدې مهمې هستې په هکله د درانه استاد پوهندوی دوکتور عبدالقیوم عارف د هڅو پایله ده. په کتاب کې د مرکزي بانک اړتیا، اهمیت، تاریخچه او په اړه یې بېلابېلې نظریې، دندې، موخې، پولي سیاستونه، د افغانستان بانک او د نړۍ د لویو هېوادونو مرکزي بانکونه په پوره تفصیل سره څېړل شوي دي .

د دې کتاب لوستل د بانکي او اقتصادي برخې کسانو لپاره پر دې هم مهم دي، چې د خپل هېواد پر اقتصادي رکود او صعود یې سر خلاص وي او که په

ګانده کې مسولیت ور سپارل کېږي، نو په ډاډه توګه یې پر مخ یووړلای شي.

د دې کتاب ژباړه تکړه ژباړن امان الله ورین کړې او له نېکه مرغه اوس یې دا دی تاسو د سولې مطالعاتي، څېړنیز او خپرندوی مرکز له زیاره لولی. زموږ هڅه به تل همدا وي، چې پښتو ژبې ته په ټولو هغو برخو کې د شمار او کار اثار ورکړو، چې تشې پکې احساسېږي. د مرکزي بانک او پولي سیاستونو په برخه کې په پښتو ژبه کې داسې مواد نه ول، چې تشه راډکه کړای شي. دا کتاب به هم ټوله تشه راډکه نه کړي؛ خو زموږ باور دی، چې د دې برخې څانګوال به د دې کتاب په لوستلو پوره د ارامۍ او خوښۍ احساس وکړي.

زموږ هڅه او هوډ دا دی، چې دې مهمې برخې ته په راتلونکي کې هم مهم اثار را وژباړو او ولیکو او هېوادوالو ته په دې برخه کې پوره پوره مواد چمتو کړو، څو د مرکزي بانک پر اهمیت یو ستر پوهاوی رامنځته شي او مسلکیت ته کار وشي.

مینه او درناوی

ضیاءالحق وزیرزی

د سولې مطالعاتي، څېړنیز او خپرندوی مرکز مشر او بنسټګر

# د ژباړن خبرې

د یو باثباته او پیاوړي مالي سیستم د رامنځته کولو او لارښوونې په برخه کې مرکزي بانک حیاتي ونډه لري او دا ونډه د پرمختللو هېوادونو په اقتصاد کې له ورایه لیدل کېږي. مرکزي بانک د خپلو دندو او موخو له مخې اقتصادي وده او مالي سیستم تر اغېز لاندې راولي چې سالم او باثباته مالي سیستم په خپل وار اقتصادي وده هڅوي. ځواکمن مرکزي بانک خپلې دندې په ښه ډول پرمخ وړي، د خپلو موخو د ترلاسه کولو په برخه کې هم خورا بریالی وي او د هېواد په اقتصادي وده کې هم هر اړخیزه ونډه لري.

د پرمختللو هېوادونو په پرمختګ کې د ښوونې او روزنې، ساینس او ټکنالوژۍ، قانون ته درناوی، هېوادنۍ مینې ... ترڅنګ د مرکزي بانکونو ونډه هم د پام وړ ده. که چېرې مرکزي بانک خپلې دندې او موخې ( چې په دې کتاب کې ترېنه په هر اړخیز ډول یادونه شوې) په سم ډول پر مخ یوسي، نه یوازې دا چې د یو باثباته مالي سیستم له رامنځته کولو سره مرسته کوي، بلکې اقتصادي وده هم په هر اړخیز ډول تر اغېز لاندې راولي.

په ټوله کې ویلی شو چې مالي سیستم او مرکزي بانک داسې دي لکه په بدن کې وینه او زړه. د روغ بدن لپاره د وینې جریان او د وینې د ښه جریان لپاره روغ او سالم زړه ته اړتیا ده. که زړه سالم وي، د وینې جریان به هم منظم وي او د وینې جریان په منظم والي سره بالاخره ټول بدن هم سالم او روغ پاتې کېږي...

په دې کتاب کې د مرکزي بانک اړتیا، اهمیت، تاریخچه او په اړه یې بېلابېلې نظریې، دندې، موخې، پولي سیاستونه، د افغانستان بانک او د نړۍ د لویو هېوادونو مرکزي بانکونه په پوره تفصیل سره څېړل شوي دي. زه ددې ارزښتمن پوهنیز اثر د لیکلو له لامله خپل درانه استاد ښاغلي پوهاند دوکتور

عبدالقیوم عارف صیب ته د زړه له کومې مبارکي وایم او ورته د خوښ او اوږد ژوند هیله کوم.
دا چې په پښتو ژبه کې د داسې یو پوهنیز کتاب نه شتون تشه راته لا له وړاندې ښکاربده، نو د کتاب د منځپانګې په پام کې نیولو او د مرکزي بانک په اړه په پښتو ژبه کې د داسې یو هر اړخیز کتاب نه موجودیت زه هم وهڅولم چې له کاري بوختیاؤ سره ـ سره د درانه استاد دا ارزښتناک اثر پښتو ژبې ته وژباړم څو په دې ډول تر یوه بریده د خپلې ژبې او هېوادوالو خدمت وکړم. له درانه استاد څخه هم د زړه له تله مننه کوم چې زما غوښتنه یې په ورین تندي ومنله او د کتاب د ژباړې اجازه یې راکړه.
د یادولو وړ ده چې د کتاب په ژباړه کې د شونتیا/امکان تر بریده هڅه شوې څو موضوعات په پوره ځیرکتیا، ساده او پوهنیزه بڼه وژباړم. خو بیا هم دا چې انسان له تېروتنو سره مل وي او کېدای شي چې د دې کتاب ژباړه هم له ستونزو خالي نه وي، نو هیله من یم چې د مهربانۍ له مخې به د ژباړې په برخه کې شته ستونزې په نښه او د راتلونکي چاپ د لا ښکلا په موخه را سره شریکې کړئ.

په هېوادنۍ مینه

امان الله ورین

۱۴۰۰/۰۱/۱۰

کابل، افغانستان

# فهرست


د لیکوال خبرې ........................................................ ۱
لومړی څپرکی ........................................................ ٦
مرکزي بانک ........................................................ ٦
۱: د مرکزي بانک اهمیت او اړتیا ........................................ ٦

۲: د مرکزي بانک مفهوم او ماهیت ........................................ ۱۲

۳: د مرکزي بانک دندې او کړنې........................................ ١٤

۴: د مرکزي بانک خپلواکي او یا نه خپلواکي ........................................ ۳۵

۵: د مرکزي بانک د خپلواکۍ ښېګڼې ........................................ ٤۲

دویم څپرکی ........................................................ ٤٧
مرکزي بانک د یوې اقتصادي تصدۍ په توګه........................................ ٤٧
۱: پولي سیمه  او پولي ذیصلاح بنسټونه........................................ ٤٧

د مرکزي بانک ارګانونه ........................................ ٥٠

۲: په مرکزي بانکونو کې د پانګې څښتنان ........................................ ٥٠

۳: د مرکزي بانک مدیریتي ارګانونه ........................................ ٥٥

۴: د پولي شوراګانو اهمیت(Importance of Currency Board)............. ٦٠

۵: د مرکزي بانک د تړلتیا/وابستګۍ مفکوره ........................................ ٦١

٦: د مرکزي بانک موخې........................................ ٦٦

۷: د مرکزي بانک پولي سیاست ........................................ ٦٨

۸: د مرکزي بانک د پولي سیاست وسایل ........................................ ۷۰

۹: د مرکزي بانک پولي حاکمیت ........................................ ۸۷

۱۰: بانکي څارنه........................................ ۸۸

دریېم څپرکی ........................................ ۹۵

نړیوالې بانکي تصدی ........................................ ۹۵

۱: د دولت له واک، حاکمیت او نفوذ څخه بهر بنسټونه ........................................ ۹۶

الف: د ملګرو ملتونو بنسټونه ........................................ ۹۷

۱: د نړیوال بانک ډلې ........................................ ۹۷

۲: د پرمختیا او بیا جوړونې لپاره نړیوال بانک ........................................ ۹۹

۳: نړیوال مالي سهامي شرکت ........................................ ۱۰۰

۴: د نړیوالې پرمختیا بنسټ ........................................ ۱۰۱

۵:د څو ملتیزه پانګونې تضمین ځانګه ........................................ ۱۰۲

٦: د پانګونې شخړو د حل لپاره د نړیوالې تصفیې مرکز ........................................ ۱۰۳

ب: د پیسو نړیوال صندوق (International Monetary Fund, IMF) ..... ۱۰۳

ج: د سیمه ییزو کړنو نړیوال پرمختیایي بانکونه ........................................ ۱۰۵

دویم: نړیوالې ګډې بانکي مرستې (همکارۍ)........................................ ۱۲۰

څلورم: سیمه ییزې پولي ټولنې ........................................ ۱۲۷

څلورم څپرکی........................................ ۱۵۳

د مرکزي بانک پولي سیاست ........................................ ۱۵۳

۱: د پولي سیاست مفهوم او ماهیت ........................................ ۱۵۳
۲: د پولي سیاست ډولونه........................................ ۱۵۵
۳: د پولي سیاست موخې ........................................ ۱۵۸
۴: د پولي سیاست وسایل ........................................ ۱۵۹
۵: پولي سیاست او د بېلابېلو اقتصادي ښوونځیو له انده یې اغېزې .......... ۱٦۲
٦: د پولي سیاست تګلارې ........................................ ۱٦۷
۷: د بودجې کسر او پولي سیاست ........................................ ۱۷۵
۸: د پولي سیاست د لېږد جوړښتونه/میکانیزمونه ........................................ ۱۷٦
۹: د امریکا مرکزي بانک له انده د پولي سیاست موخې ........................................ ۱۸٦
۱۰ د اروپا مرکزي بانک له انده د پولي سیاست موخې ........................................ ۱۸۸
۱۱: د چین مرکزي بانک له انده د پولي سیاست موخې........................................ ۱۹٤
۱۲: د پیسو په بازار کې تعادل راوړونکي عوامل........................................ ۱۹۵
پنځم څپرکی ........................................ ۲۰۲
شرکتي حاکمیت او بانکونو ته د جواز ورکړه ........................................ ۲۰۲
۱: بانکونو ته د جواز ورکړې اړتیا او اهمیت ........................................ ۲۰۲
۲: د بانکي جواز ورکړې موخه........................................ ۲۰۵
۳: د بانکي جواز د ورکړې پر پروسه واکمن ضوابط ........................................ ۲۰۹
۴: د بانکونو مدیرانو وړتیا او شایستګي ........................................ ۲۱۳
۵: د مالي بنسټ د جوړېدو امتیاز لېږدول ........................................ ۲۱٦

٦: د بانک د جوړېدو امتياز ورکړې تګلاره ........................ ۲۱۷
۷: د سالم شرکتي حاکميت اصول .................................... ۲۲۳
۸: په افغانستان کې د بانکي جواز ورکړې پروسه او شرطونه ............ ۲۲۶
شپږم څپرکی ........................................................ ۲۳٦
د افغانستان بانک او پولي سياست .................................... ۲۳٦
۱: د افغانستان بانک د افغانستان مرکزي بانک په توګه.................. ۲۳٦
۲: د افغانستان بانک موخې او دندې ................................... ۲۳۸
۳: د افغانستان بانک د دندې په توګه د افغانۍ پولي واحد چاپ او خپرول .. ۲٤۱
په افغانستان کې د بانکنوټ تاريخچه.................................... ۲٤۲
دود افغاني بانکنوټونه ................................................ ۲٤٥
د افغاني بانکنوټونو د چاپ او خپرولو ډول.............................. ۲٤٥
د افغانۍ پيسو د چاپ او خپرولو معيارونه .............................. ۲٤٦
۴: د افغانستان بانک پولي سياست ..................................... ۲٤۸
۵: د افغانستان بانک د پولي سياست جوړښت (ميکانيزم)..................... ۲۵۰
٦: د غځول شوي/تمديد شوي کريډيټ اسانتيا ................................ ۲۵۱
۷: د نغدوالي (سياليت) وضعيت ........................................... ۲۵۳
۸: د افغانستان بانک پولي سياست وسايل .................................. ۲۵٦
۹: د پولي سياست چوکاټ ................................................. ۲٦۵
۱۰: په وروستيو کلونو کې په هېواد کې د پيسو پړسوب ....................... ۲٦۸

۱۱: د افغانستان بانک د مبادلې کچې نظام ........................ ۲۷۰

۱۲: د افغانستان اسعاري سیاست او د هغه اغېزې .................... ۲۷۱

۱۳: د تبادلې کچې د جوړښت ډولونه........................................ ۲۷۵

۱۴: د افغانستان بانک د اسعاري سیاست اغېزې......................... ۲۷۹

اووم څپرکی ............................................................................. ۲۸۵

د افغانستان بانک د مالي چارو څارنه او د هغې اهمیت ....................... ۲۸۵

۱: د افغانستان بانک د مالي چارو څارنې تاریخچه ............................. ۲۸۵

۲: د مالي چارو څارنې عمومي آمریت دندې او تشکیلاتي جوړښت ........... ۲۸٦

۳: د څارنې موخه او پېژندنه (تعریف) ....................................... ۲۸۹

۴: د مالي چارو څارنې اړتیا..................................................... ۲۹۰

۵: بانک د ګواښ مدیریت (Risk Management) له پلوه .................... ۲۹٤

٦: د رهبرۍ او مدیریت اغېزمنتوب (Management Efficiency): .......... ۳۰۳

# د لیکوال خبرې

هر پرمختللی اقتصاد یو مرکزي بانک لري. د بېلګې په توګه کولی شو د امریکا متحده آیالتونو د فدرل ریزرف، په انګلستان کې د انګلستان بانک، په اروپا کې د اروپا مرکزي بانک او په جاپان کې د جاپان بانک د مرکزي بانک د نمونې په توګه یاد کړو. مرکزي بانکونه په پرمختللې نړۍ کې له تر ټولو ځواکمنو بنسټونو څخه دي. کړنې او فعالیتونه یې د بهرې د کچې ټاکونکي دي چې موږ یې په بانکونو کې له خپلو حسابونو څخه ترلاسه کوو او په همدې ډول زموږ د اوسېدو لګښتونه هم ټاکي.

مرکزي بانکونه په حقیقت کې په غیر مستقیم ډول زموږ کورونه، د تقاعد حقونه او اوونیز مصرفي لګښتونه تر اغېزې لاندې راولي. د هغوی سیاسي پرېکړې کولی شي د پیسو د پړسوب او یا هم د اقتصادي ځوړ لامل وګرځي. په همدې ډول کولی شي د انساني کاري ځواک د روزګارتیا پر لیدلوري اغېز وکړي او د ټاکنو پایلو ته هم بدلون ورکړي.

که دا مهم بنسټ په سم ډول مدیریت شي، نو سیاستونه یې کولی شي چې د هېواد د اقتصادي کړنو د ښه والي او د ټولنې د وګړو د ژوند کچې او معیار د لوړوالي لامل وګرځي. خو که یاد بنسټ په سم ډول مدیریت نه شي، نو کولی شي چې د دېوالي کېدو، اقتصادي ځوړ، رکودي تورم، مالي ناورین او په همدې ډول لکه څرنګه چې په زیمبابوې او یا هم په

۱۹۲۰ میلادي لسیزه کې په آلمان کې ولیدل شول، د پیسو ډېر لوړ او حاد پړسوب رامنځته او د ټولنیز او اقتصادي سقوط لامل وګرځي.

د مرکزي بانک ددې اهمیت په پام کې نیولو سره چې پورته مو ورڅخه یادونه وکړه، لیدل کېږي چې د مرکزي بانکونو مشران او رییسان د هغو سیاستوالو په پرتله چې د رایو له لارې ټاکل کېږي، د وګړو پر ورځنیو چارو ډېر اغېز لري. دا کار ددې لامل ګرځي څو مرکزي بانکونه د ډیموکراټیک سیسټم له جریان څخه لیرې وساتل شي. د نړۍ په هېڅ هېواد کې د مرکزي بانک مشر نېغ په نېغه د وګړو له لوري نه ټاکل کېږي. په همدې ډول دا خلک تر ډېره پورې له سیاسي جریان څخه هم خپل ځانونه لیرې ساتي. اوس مهال له ټاکل شوي دولت څخه د مرکزي بانک مدیریت جلا کول د پرمختللي او مډرن پانګوال اقتصاد له اړتیاوو څخه دی.

د ټولنې اقتصادي هوساینې په برخه کې د مرکزي بانک اهمیت په اړه په وروستیو کلونو کې ډېر بحثونه شوي دي. د مرکزي بانک له لوري په ورځپاڼو کې هره ورځ د بهرې کچه اعلانېږي چې زموږ سوداګریزې او اقتصادي برخې تر اغېز لاندې راولي. د اقتصادي خبرونو ډلې د راپورونو د جوړولو په برخه کې هم د مرکزي بانک د رسمي چارواکو له تازه څرګندونو څخه ګټه پورته کوي. بانکي سوداګر او په همدې ډول د بېلابېلو صندوقونو مدیران چې د تقاعد د پیسو په لټه کې وي، د مرکزي

بانک د سیاستونو په برخه او یا هم آن د بانکي چارواکو د لحن بدلون په برخه کې په میلیونونو ډالر شرطونه تړي.

د دې بنسټونو د اهمیت او د هغوی د کړنو او عملیاتو په اړه د پوره ځیرکتیا په پام کې نیولو سره، بیا هم د مرکزي بانکونو په برخه کې په ټوله کې درک او

پېژندنه ډېره کمه ده. ډېر کم وګړي په دې پوهېږي چې مرکزي بانکونه ولې د بهرې کچې ته بدلون ورکوي او یا هم دا چې له سیاسي چارواکو څخه د هغوی خپلواکي روښانه کړي. آن د مالي چارو او اقتصاد پوهانو ترمنځ هم لیدل کېږي چې ډېر یې د دې وړتیا نه لري چې د مرکزي بانک د موجودیت فلسفه روښانه کړي. آن ډېر کم یې دا بیانولی شي چې کوم عوامل د مرکزي بانک د سیاستونو د تخریب او یا هم د ښه والي لامل ګرځي.

د مرکزي بانک له موخو او تګلارو څخه ناپوهي یوه نه بخښل کېدونکې تېروتنه ده. آن د مرکزي بانک د کارکوونکو ترمنځ هم د پام وړ موخو او د هغوی ترلاسه کولو لارو په اړه د نظر یووالی نه لیدل کېږي.

اوسمهال دوه تر ټولو ځواکمن مرکزي بانکونه چې د امریکا فډرل ریزرف بانک او د اروپا مرکزي بانک دی، د قیمتونو ټیکاو او ثبات ته د رسېدو په برخه کې د ګډو موخو په لټه کې دي. له دې سره ـ سره دا ټولیزه هوکړه او د نظر یووالی موخو ته د رسېدو د څرنګوالي تر سیوري لاندې دي. د اروپا مرکزي بانک د سیاستونو په نظام مند کولو کې د پیسو د عرضې پر بنسټیزې ونډې ټینګار کوي. د پولي سیاستونو کنټرول د مرکزي بانک

له دندو څخه ده، خو مرکزي بانکوالان د پیسو په عرضه کې د بدلونونو د واقعي مانا او مفهوم په برخه کې د نظر یووالی نه لري. د مرکزي بانکونو په سیاست کې د پیسو عرضې ودې د ونډې په اړه د نظر د یووالي رامنځته کولو په برخه کې پاتې راتلل، کېدای شي د دې نښه وي چې

اکثره اقتصاد پوهان د مرکزي بانک د اصلي موخې د درک په برخه کې له ستونزو سره مخ شي. دا به وروسته هم روښانه شي چې دا په کار او بازار باندې له ډېر باور څخه د رامنځته شوي سم درک نه موجودیت اغېز دی.

د اتلانتیک په دوو غاړو کې د مرکزي بانکونو د څېړنې او تجزیې په برخه کې د لسو کلونو تجربې په پام کې نیولو سره، د اروپا مرکزي بانک او د امریکا مرکزي بانک ترمنځ د توپیر بنسټیز عوامل په لاندې ډول دي:

د امریکا متحده آیالتونو مرکزي بانک له لوري د پیسو د ودې زیاتېدونکې کچې، د اعتباراتو د رامنځته کېدو او د شتمنیو د پړسوب پر موجودیت باور نه تر سترګو کېږي او پر ځای یې د هغوی په نه منل کېدونکې او ټیټې کچې ډېر باور لري. په پایله کې د امریکا مرکزي بانک سیاستونه داسې انګېرلی شو او دا په جدي ډول څاري چې مالي انقباض او یا هم د شتمنیو قیمت نه شي او د اعتباراتو د پراختیا او د شتمنیو له پړسوب څخه د مخنیوي اراده لري. دا فلسفه داسې هم تفسیرېدی شي

چې د شتمنیو وده د هغوی د چاودون او انفجار تر وخته د پېژندلو وړ نه وي او د وقوع وخت یې هغه وي چې مرکزي بانکونه باید ګام پورته کړي.

له بلې خوا څخه لیدل کېږي چې د اروپا مرکزي بانک په دې باور دی چې د پیسو د عرضې وده کېدای شي چې زیاتېدونکې هم وي. دا موضوع تر ډېره د شتمنیو د پړسوب له زیاتوالي او په همدې ډول د اضافي اعتباراتو د رامنځته کېدو له موضوع سره هم اړخ لګوي. نو له همدې لامله د شتمنیو د قیمت زیاتېدونکی پړسوب او د پیسو د عرضې زیاتېدونکې ودې ترمنځ د اړیکې د څرنګوالي ترلاسه کولو په برخه کې تر ډېره پورې تمایل هم نه لري.

په نړۍواله کچه د دې اختلافونو پایله دا ده چې د امریکا فډرل ریزرف د اعتباراتو د هر ډول انقباض پر وړاندې د جګړې په توګه خپله ونډه تعریف کړې ده. په داسې حال کې چې د اروپا مرکزي بانک په ټولنه کې د اعتباراتو د زیاتوالي پر وړاندې ځان ځواب ویونکی او مسؤل ګڼي.

پر دې موضوع له حد نه ډېر تمرکز چې مرکزي بانکونه څنگه له گواښ او خطر سره مخ کېږي او څنگه کولی شي چې هغه مهار کړي؟ له یوې ډېرې پېچلې معما څخه د غفلت لامل گرځېدلې دي. اصلاً په یو هېواد کې مرکزي بانکونه ولې موجود وي؟ مرکزي بانکونه د پانگې بازارونو د کنټرول په موخه د بهرې کچې کنټرول له سیاست څخه گټه پورته کوي. خو زموږ د گټې اخیستنې وړ اقتصادي نظریې دا وایي چې بازارونه گټور دي او باید آزاد وي څو د خپلو تگلارو له مخې عمل وکړي. نو موږ بیا ولې

مرکزي بانکوالۍ ته د بهرې کچې د ټاکلو لپاره اړ یو؟ په پرېکنده ډول کېدی شي موږ وکولی شو، پرته له دې چې په سوسیالیستي ټولنو کې دود تگلارو ته مراجعه وکړو، د بهرې کچې د ټاکلو په برخه کې پر بازار باور ولرو.

دا یو حیرانوونکی دوه گونی حالت دی چې په ټوله نړۍ کې د مرکزي بانکونو کارکوونکي اقتصاد پوهان وي. اړتیا نه شته چې ووایو؛ دا عقیده تر ډېره منل شوې نه ده او د پېژندل شوو اقتصاد پوهانو ترمنځ وړ او مناسب ځای نه لري خو بیا هم د اشارې ارزښت لري.

که چېرې په مالي بازارونو کې د ذاتي بې ثباتۍ له لامله د مرکزي بانکونو موجودیت ته اړتیا وي، نو د کار او بازار د نظرونو په پام کې نیولو سره دا په دې مانا دی چې له اردو څخه یو تنبتېدلی کس د نظامي ځواکونو د قوماندان په توگه وټاکو چې دا کار بیا په یو ډول د دایمي نه چتمووالي لامل گرځي.

# لومړی څپرکی

# مرکزي بانک

## ۱: د مرکزي بانک اهمیت او اړتیا

مرکزي بانکونه د پیسو تیتوالي (پراګندګۍ) له منځه وړلو، د سنجش معیار، د تبادلې معیار او د ارزښت زیرمې معیار د یو شان کولو د اړتیا په موخه رامنځته شوي او د اقتصاد او بانکوالۍ په بشپړتیا کې یې له نورو بانکونو سره په تدریجي ډول ځانګړی او بېل ځای خپل کړی دی. داسې چې د شلمې پېړۍ له لومړیو څخه ټولو هېوادونو د سوداګریزو او مرکزي بانکونو ترمنځ د توپیر په پام کې نیولو سره د خپلواک مرکزي بانک په جوړولو لاس پورې کړ او یا هم دا چې د سوداګریزو بانکونو له ډلې څخه یې یوه ته د مرکزي بانکوالۍ دندې او مسؤلیت وسپاره.

د مرکزي بانک دندې د اقتصادي بدلونونو او د پولي مسایلو (کورني او نړیوال) د پېچلتیا له امله په تدریجي ډول بشپړې شوې دي. دا په دې مانا چې په انحصاري ډول د سکو خپرول، د دولت مالي دندې او د هېواد د بانکونو د زیرمو ساتنه یې فرعي او دویمې دندې وشمېرل شوې او خپل ځای یې د پیسو عرضې ودې او د پیسو کورني او بهرني انډول ساتلو په شان اړینو دندو ته وسپاره. یا هم په بل ډول؛ د پیسو د پړسوب کنټرول او د با ثباته او اوږد مهاله اقتصادي ودې په موخه د قیمتونو ټیکاو یې بنسټیزې دندې وشمېېل شوې.

نو په دې ډول مرکزي بانک د هېوادونو په اقتصاد کې د ټاکونکي په توګه خپله ونډه پر غاړه واخیسته (۵:۳۵۳).

په اوسني وخت کې د نړۍ ټول هېوادونه (له څو وروسته پاتې هېوادونو څخه پرته) د مرکزي بانک درلودونکي دي. مرکزي بانک(Central Bank) د هېوادونو د بانکي او پولي سیستم مرکز ګڼل کېږي. په دې ډول (Paul Samuelson) په خپل کتاب (اقتصاد) کې له ویل راجرز څخه نقل قول کوي او زیاتوي چې: " د بشر په تاریخ کې درې لوی نوښتونه رامنځته شوي دي چې عبارت دي له: اور، څرخ او مرکزي بانک څخه."

لکه څرنګه چې بانک په تدریجي ډول سره بشپړ شوی، مرکزي بانک هم له دې قاعدې څخه مستثناء نه دی. په حقیقت کې په پرمختللو هېوادونو کې یو بانک ورو ـ ورو د بانکي کړنو او عملیاتو دندې پر غاړه واخیستې او په پایله کې یې په پولي او بانکي سیستم کې مرکزي ځای خپل کړ. دا دندې او کړنې د سکو له خپرولو څخه پیل شوې چې وروسته بانکي کړنې او د دولت استازیتوب هم ور اضافه شو. خو هغه وخت د مرکزي بانک په نوم نه پېژندل کېده، د بانک اصطلاح د مرکزي مختارۍ نه درلود او په ټوله کې د سکو د خپرولو بانک یا هم د ملي بانک په نوم پېژندل کېده. د سکو خپروونکو بانکونو ته په ځینو هېوادونو لکه انګلستان کې د سکو له خپرولو سره ـ سره په تدریجي ډول ځینې نورې دندې هم وسپارل شوې او په دې برخه کې یې د دولت او پارلمان له لوري اړین ځواک او واک هم ترلاسه کړ. بالاخره د مرکزي بانک اصطلاح د خلکو ترمنځ دود شوه او تر ډېره یې یو واحد او منل شوی مفهوم خپل کړ.

د نړۍ د مرکزي بانکونو ترمنځ تر ټولو پخوانی بانک د سویډن بانک (Riksbank of Sweden) دی چې په ۱۶۵۶ میلادي کال کې جوړ شوی دی. خو د انګلستان بانک د سکو د خپروونکي په توګه ورو ـ ورو ځینې نورې دندې او کړنې هم پر مخ یووړې او د مرکزي بانک ځای او مقام یې خپل کړ. په واقعیت کې له دې سره ـ سره چې د سویډن بانک د سکو لومړنی خپروونکی بانک دی او په یاد کال کې یې په واقعي ډول د سکو په خپرولو لاس پورې کړ،

خو بیا هم د انګلستان بانک د نړۍ د لومړني مرکزي بانک په توګه پېژندل کېږي او له همدې لامله د مرکزي بانکونو پلار ګڼل کېږي چې دلته د مرکزي بانک په توګه د یاد بانک پر تدریجي بشپړتیا رڼا اچوو:

د انګلستان بانک په ۱۶۹۴ میلادي کال کې د بریتانیا دولت ته د پور په ورکولو سره جوړ شو چې دولت ته د پور ورکړې سربېره یې په لندن کې د سکو خپرولو امتیاز هم ترلاسه کړ. دولت ته د پورونو د وخت سر ته رسېدو (سررسید) غځولو او د نوو پورونو په ورکړې سره په انګلستان کې د سکو خپرولو انحصار هم یاد بانک ته وسپارل شو.

ورو، ورو یې دولت ته د پور ورکړې او د سکو له خپرولو سره ـ سره، د دولت بانکوال په توګه هم ګام پورته کړ چې له دې سره یې د نورو بانکونو پر وړاندې ځانګړې اهمیت ترلاسه کړ. نو له همدې لامله په اتلسمه میلادي پېړۍ کې په انګلستان کې نور بانکونه هم ورو ـ ورو دې پایلې ته و رسېدل چې د انګلستان له بانک سره د حساب درلودل اړین او د دوی په ګټه دي. نو له همدې لامله یې له یاد بانک سره د حساب په پرانیستو او حساب ته د پیسو په زیاتولو لاس پورې کړ. په همدې ډول د بانکونو دې ته هم پام شو چې د انګلستان بانک له لورې خپرې شوې سکې د انګلستان په ډېرو برخو کې په چلښت او جریان کې دي، خلک په راکړه ـ ورکړه کې ترېنه ګټه اخلي او په یادو سکو ډېر باور لري. نو په دې ډول؛ بانکونو خپلې نغدې پیسې په تدریجي ډول سره د انګستان له بانک سره ساتلې او په دې ډول یاد بانک د ۱۹ میلادي پېړۍ په لومړیو کې تر ډېره د بانکونو بانک او د هېواد د زیرمو ساتلو بانک په توګه وپېژندل شو. دا په دې مانا چې د سکو د تکیې (پشتوانې) په توګه د هېواد د سرو زرو زیرمې په یاد بانک کې متمرکزې شوې او یاد بانک د هېواد د سرو زرو ساتونکی هم شو.

دا چې د انګلستان بانک له پوره مالي پیاوړتیا او استحکام څخه برخمن ؤ او سکې یې هم په لویه پیمانه په چلښت کې وې، نو د نورو بانکونو هم له یاد

بانک سره د حساب پرانیستې ته پام شو څو د مشتریانو له لوري په بانک د منډې (هجوم)، له بانک څخه د پیسو ایستلو او په سرو زرو باندې یې د اړولو په برخه کې له هغه حساب څخه چې له یاد بانک سره یې لري، ګټه واخلي. په همدې ډول کولی شي چې خپلمنځي پورونه او طلبات هم د انګلستان په بانک (Bank of England) کې د شته حساب له لارې تصفیه کړي.
د انګلستان بانک د پرمختیا بله برخه چې د انګلستان بانکي او پولي سیستم په توګه یې د هغه ځای او موقعیت لا ځواکمن او استوار کړ، د وروستي پور ورکوونکي په توګه ګام اخیستل و چې دې ګام په حقیقت کې یاد بانک د هېواد اعتباري سیستم تنظیموونکی کړ. په ټوله کې په انګلستان کې د ۱۸۴۷، ۱۸۵۷ او ۱۸٦٦ میلادي کلونو کې اقتصادي ناورینونو د بانکوالانو پام با اعتباره پولي اړیکو ته واړاوه. نو په دې ډول د بانکوالۍ قانون له مخې هر بانک اړ شو چې د خپرو شوو سکو په پام کې نیولو سره د سرو زرو یوه برخه د زیرمې په توګه د انګلستان له بانک سره وساتي څو د اړتیا او ناورین په وخت کې تربنه ګټه پورته کړي.
څرګنده ده کله چې په یو هېواد کې یو بانک د وروستي (نهایي) پور ورکوونکي حیثیت ترلاسه کوي، نو د پورونو او اعتباراتو د تنظیم په موخه به د پور بهرې کچه د یوې اغېزمنې وسیلې په توګه کاروي.
په ټوله کې د بریتانیا مرکزي بانک په توګه د انګلستان بانک په تدریجي ډول د بریتانیا له اقتصادي بشپړتیا سره بشپړ شوی او دې بانک د پېړیو په اوږدو کې خپلې کړنې، عملیات او دندې د بریتانیا اقتصادي اړتیاؤ په پام کې نیولو سره همغږې کړې دي.
د یادولو ده چې د مرکزي بانکوالۍ بشپړتیا د ځینو هېوادونو په ځانګړي ډول د فرانسې، هالنډ، اتریش، ناروې او نورو اروپایي هېوادونو له هغو بدلونونو او تحولاتو سره چې په نولسمه پېړۍ کې رامنځته شول، یو ځای شو. یا هم په بل

ډول؛ د بانکوالۍ په برخه کې هغه گامونه چې په نولسمه پېړۍ کې یادو هېوادونو واخیستل، د مرکزي بانک له بشپړتیا سره یې هم مرسته وکړه.

د بېلگې په توگه: د فرانسې بانک (Banque de France) چې په ۱۸۰۰ میلادي کال کې د ناپلیون له لوري په خپلې شخصي پانگې جوړ شو، له پیل سره سم یې د فرانسې له دولت سره خپلې نږدې او ځانگړې اړیکې پیل کړې. د فرانسې بانک د دولت بانک و، په پاریس کې یې د سکو خپرولو امتیاز درلوده او د فرانسې دولت د فرانسې بانک د کنټرول په موخه نېغ په نېغه د بانک د ټولو مشر او دوه مرستیالان ټاکل.

ناپلیون د خپل شخصي میل پر خلاف د یوه بنسټ (مؤسسې) لپاره ټاکل شوي خپل قانوني واکونه یاد بانک ته وسپارل. خو په ۱۸۰۶ میلادي کال کې یې په مدیریت کې د تېروتنې په پلمه د فرانسې فرمانروا د بانک په رأس کې داسې یو مدیر وټاکه چې د دولت د مشر له لوري وړاندیز شوی او ور پېژندل شوی و. ناپلیون د دولت پلاوي ته وویل: «زه غواړم چې د بانکوالۍ چارې د دولت په لاس کې وي خو د خپلواکۍ اندازه یې باید ټاکلې وي». په یو بل ځای کې یې په روښانه او ځانگړي ډول داسې وویل: « زه په هغو ټولو چارو کې چې په ما پورې اړه لري، باید واکمن وم په ځانگړي ډول د بانک اړوند چارې، خو بانک تر ډېره په امپراتور پورې اړه لري نه په ونډه وال پورې، ځکه چې بانک د سکو ضرب وهنه کوي». نو په دې ډول په فرانسه کې د فرانسې بانک مدیریت چې د فرانسې مرکزي بانک دی، دولتي شو (۱۶:۲۵۹).

په انگلستان، سویډن او فرانسه کې د بانکي بدلونونو په پام کې نیولو سره د هالنډ هېواد د یادو هېوادونو د مرکزي بانکوالۍ له تجربو څخه په گټې اخیستنې سره په ۱۸۱۴ میلادي کال کې د هالنډ بانک جوړ کړ او یاد بانک ته یې د دولت بانکوالي او د سکو د خپرولو امتیاز وسپاره. د یاد بانک پانگه په

خصوصي ونډه والو پورې اړه درلوده، د بانک د ټولو مشر، د مدیره پلاوي مشر او د عامل پلاوي مشر د بانک د ونډه والو له لوري ټاکل کېدل.
د نولسمې میلادي پېړۍ په وروستیو کې اکثرو اروپایي هېوادونو مرکزي بانک د سکو د خپروونکي او د دولت بانکوال په توګه پېژنده. خو د شلمې میلادي پېړۍ په پیل کې لا هم اکثرو هېوادونو لکه چین، هندوستان او د امریکا متحده آیالتونو داسې یو واحد بانک نه درلوده چې یادې کړنې ترسره کړي. د بېلګې په توګه: د ۱۹۱۳ میلادي کال د بانکوالۍ د قانون له مخې د امریکا متحده آیالتونه په دولسو بانکي برخو ووېشل شو، په هره برخه کې د فډرال ریزرف بانک په نوم مرکزي بانک جوړ شو چې د دولسو مرکزي بانکونو ترمنځ د اړیکو د تنظیم په موخه د مدیره پلاوي یوه اووه کسیزه شورا چې مرکزي دفتر یې په واشنګټن کې دی، وټاکل شوه. یادې شورا ته د مرکزي بانک شورا، د فډرال ریزرف بورډ (Federal Reserve Board) او یا هم په لنډ ډول (Fed) هم ویل کېږي.
په هر حال، په ۱۹۲۰ میلادي کال کې د بروکسل نړۍوال مالي کنفرانس د پرېکړه لیک له مخې له هغو ټولو هېوادونو څخه چې لا یې هم د مرکزي بانک د جوړولو په برخه کې ګام نه و پورته کړی، غوښتنه وشوه چې ددې اړین او مهم اقتصادي بنسټ په جوړولو لاس پورې کړي. د بروکسل په پرېکړه لیک کې راغلي دي چې د مرکزي بانک موجودیت نه یوازې دا چې د پولي او بانکي سیستم د ټینګښت او ساتلو په موخه اړین دی، بلکې د نړۍوالو اقتصادي مرستو او همکاریو له پلوه یې هم شتون اړین ګڼل کېږي.
د یادولو وړ ده چې د هېوادونو د بانکي او پولي نظام په پام کې نیولو سره د هغوی مرکزي بانکونه هم له قانوني، کړنو او دندو، سازمان او مدیریت او بالاخره د خپلواکۍ درجې په پام کې نیولو سره له یو بل سره توپیر لري. خو له اصولي اړخه له یو بل سره تر ډېره پورې ورته والی لري.

## ۲: د مرکزي بانک مفهوم او ماهیت

اوسمهال د نړۍ ټول هېوادونه مرکزي بانکونه لري. ځینې هېوادونه لکه د امریکا متحده آیالتونه څو مرکزي بانکونه لري، ځینې نور هېوادونه (بنین، نیجیر، سنیګال، توګو، بارکینا فاسو او ایوري کوست) بیا په ګډه یو مرکزي بانک لري. خو اکثره نور هېوادونه بیا یو بانک لري چې د مرکزي بانک دندې پرمخ وړي. په ځینو هېوادونو لکه په انګلستان او فرانسه کې له مرکزي بانک سره د «مرکزي» اصطلاح نه کارول کېږي. خو په ډېرو نورو هېوادونو کې په ځانګړي ډول په هغو هېوادونو کې چې د بروکسل نړۍوال مالي کنفرانس د پرېکړه لیک له خپرېدو څخه وروسته یې د مرکزي بانک په جوړولو لاس پورې کړ او یا هم په بل ډول؛ د مرکزي بانکوالۍ دندې او عملیات یې متمرکز کړل، له مرکزي بانک سره یې «مرکزي» اصطلاح هم کارول کېږي. د بېلګې په توګه: د ایران اسلامي جمهوریت مرکزي بانک، د کویټ مرکزي بانک، د برازیل مرکزي بانک او نور.

د مرکزي بانک هر اړخیزه پېژندنه پوره ځیرکتیا او پاملرنې ته اړتیا لري. په هغو هېوادونو کې چې یو بانک په کې ورو - ورو او د پېړیو په تېرېدو سره په مرکزي بانک بدل شوی، د مرکزي بانک حقوقي پېژندنه او تعریف نه دی رامنځته شوی خو بیا هم د مرکزي بانک په توګه خپلې کړنې ترسره کوي. یا هم په بل ډول، د قانوني مصوبو له مخې د مرکزي بانک دندې او کړنې ترسره کوي. د بېلګې په توګه: د فرانسې مرکزي بانک او یا هم د انګلستان مرکزي بانک.

دا چې د مرکزي بانک په اړه له حقوقي پېژندنې څخه یادونه وشوه، نو باید یادونه وکړو چې هغو هېوادونو چې د بروکسل نړۍوال مالي کنفرانس په ځانګړي ډول له دویمې نړۍوالې جګړې څخه وروسته یې د مرکزي بانک په جوړولو لاس پورې کړ، په بانکي او پولي قانون کې یې د مرکزي بانک موخې او

دندې ځانګړې شوي او پېژندل شوې دي. د مثال په توګه: د آلمان مرکزي بانک چې په ۱۹۵۷ میلادي کال کې جوړ شوی او د بوندس بانک (Bundes bank) په نوم یادېږي، لاندې دندې پرمخ وړي (۱٦:۲٦۱):

- د آلمان د پیسو د ارزښت د ساتلو په موخه د اعتباراتو او پیسو ګردښت تنظیم؛ او
- د بانکونو پر کړنو څارنه.

په حقیقت کې د بوندس بانک له جوړېدو څخه موخه په هېواد کې د پیسو د پړسوب کنټرول ؤ. د یادولو وړ ده چې په ۱۹۲۰ میلادي لسیزه کې په آلمان کې د پیسو چټک پړسوب خاطرو د بوندس بانک په جوړولو هم اغېزه درلوده.

پاول سمویلسن مرکزي بانک د دولت بانک او د بانکوالانو بانک په توګه پېژني او د خپلې پېژندنې (تعریف) په برخه کې زیاتوي چې د مرکزي بانک بنسټیزه او اصلي دنده په اقتصاد کې د اعتباراتو او د پیسو عرضې کنټرول دی. دا هم روښانه ده چې مرکزي بانک له یادو دندو سره ـ سره ځینې نورې دندې هم پرمخ وړي او دا د دې لامل ګرځي چې د مرکزي بانک ټولې دندې او کړنې د یوې واحدې پېژندنې او تعریف په چوکاټ کې را نه شي. په همدې ډول؛ سمویلسن په ۱۹۱۳ میلادي کال کې د امریکا متحده آیالتونو مرکزي بانک جوړولو په اړه زیاتوي چې دولت مرکزي بانک د دولتي راکړو - ورکړو ترسره کولو، د سوداګریزو بانکونو کنټرول او تر ټولو مهمه لا دا چې د اعتباراتو ورکړې شرایطو او د پیسو عرضې ټاکلو په موخه جوړ کړی دی.

په ټوله کې د مرکزي بانک په ډول د اقتصادي بنسټونو په اړه داسې پېژندنې او تعریف ته چې له اقتصادي شرایطو سره د تطابق په موخه د تحول په حال کې دی، اړتیا نه درلوده او مرکزي بانک باید د هغو کړنو او دندو له مخې چې ترسره کوي یې، وپېژندل شي.

## ۳: د مرکزي بانک دندې او کړنې

د مرکزي بانک دندې په لاندې ډول دي:

- د سکو ضرب وهل او خپرول.
- د دولت اړوند کړنو ترسره کول (د دولت بانکوالي).
- د دولت لپاره د استازي د کړنو او عملیاتو ترسره کول.
- دولت ته د اقتصادي چارو په ځانګړي ډول په بانکي او مالي چارو کې د سلا او مشورو ورکول.
- په هېواد کې د بانکي، اعتباري او پولي سیسټم کنټرول.
- پر بانکونو او د اعتباراتو پر غیر بانکي بنسټونو څارنه.
- د سوداګریزو بانکونو د نغدو پیسو ساتل.
- د هېواد د ارضي زیرمو مدیریت او ساتل.
- د نورو هېوادونو له مرکزي بانکونو سره د بانکي راکړو ـ ورکړو کول.
- د نړیوالو مالي بنسټونو لکه د پیسو له نړیوال صندوق سره د کړنو او عملیاتو ترسره کول.
- په اقتصاد کې د پور ورکوونکي په توګه ګام پورته کول او نورو سوداګریزو بانکونو ته د بیا کمښت (د تنزیل مجدد) له لارې د اعتباري اسانتیاؤ وړاندې کول دي.

سره له دې چې پخوانیو مرکزي بانکونو (لکه د انګلستان بانک) له یادو دندو څخه ځینې په تدریجي ډول د بریتانیا د بدلونونو او تحولاتو په پام کې نیولو سره پرمخ وړي دي، خو نوي مرکزي بانکونه دا دندې د خپلو قانوني دندو د پرمخ بېولو په موخه پرمخ وړي. د بېلګې په توګه: د کاناډا بانک (Bank of Canada) چې د کاناډا مرکزي بانک دی او په ۱۹۳۵ میلادي کال کې د بانکي قانون له مخې جوړ شوی دی، په چلښت کې د پیسو او اعتباراتو د ګردښت او د کاناډایي ډالر د بهرني ارزښت د ساتلو او کنټرول دندې پرمخ

وړي. له دې سره ـ سره د پولي راکړو ـ ورکړو په برخه کې باید هغه څه وکړي چې د سوداګرۍ اړوند چارو کې آسانتیاوې رامنځته او په پایله کې یې د هېواد اقتصادي ثبات وساتل شي (۱٦:۲٦۲).

اوس چې د مرکزي بانک له دندو او فعالیتونو سره بلد شوو، نو د مرکزي بانک د دندو او فعالیتونو تنوع په پام کې نیولو سره ځینو اقتصاد پوهانو ته دا پوښتنه پیدا کېږي چې له یادو دندو او کړنو څخه کومه یوه یې د مرکزي بانک ځانګړتیا او بېلوونکې نښه ده. یاده پوښتنه په ځانګړي ډول د دویمې نړۍوالې جګړې پرمهال رامنځته شوه. هاوتری په دې باور دی چې د وروستي پور ورکونکي په توګه د مرکزي بانک ونډه (نقش) د مرکزي بانک بېلوونکې ځانګړتیا ده. خو ځینې نور اقتصاد پوهان بیا په دې باور دي چې د یو هېواد په مرکزي سیستم کې د یو بانک له لوري د سکو خپرولو انحصار بنسټیزه (اساسي) دنده ده چې یاد بانک له نورو بانکونو څخه جلا کوي او د نورو کړنو او دندو ترسره کول یې فرعي دندې ګڼل کېږي. یا هم په بل ډول؛ د سکو خپرولو انحصار د مرکزي بانک لومړنۍ او اصلي دنده او نورې دندې یې دویمي او فرعي دندې دي.

ځینې نور اقتصاد پوهان لکه کیش والکین بیا په دې باور دی چې د مرکزي بانک بنسټیزه دنده په اقتصاد کې د پیسو د ګردښت حجم کنټرول له لارې د پیسو ارزښت ټیکاو او ثبات دی. په دې اړه د نړۍوالې تسویې بانک (Bank for International Settlements) چې د نړۍ د مرکزي بانکونو مرکزي بانک په نوم هم یادېږي، په مقرراتو کې راغلي دي چې یو مرکزي بانک له هغه بانک څخه عبارت دی چې په ګردښت کې د پیسو حجم او اعتباراتو د تنظیم مسئولیت پر غاړه لري.

د ځینو نورو هېوادونو مرکزي بانکونه لکه هندوستان، امریکا متحده آیالتونه، استرالیا، نیوزیلنډ او نور چې په ۲۰ مه میلادي پېړۍ کې جوړ شوي دي، د ریزرف کلیمه یې یوه برخه جوړوي لکه:

- د استرالیا ریزرف بانک (Reserve Bank of Australia) ؛
- د امریکا متحده آیالتونو ریزرف بانک (Federal Reserve Bank of USA)؛ او
- د هندوستان ریزرف بانک (Reserve Bank of India).

د یادو هېوادونو د پولي چارواکو په آند چې د یادو هېوادونو د مرکزي بانک په جوړېدو کې يې بنسټيزه ونډه درلوده، د مرکزي بانک بنسټيزه او مهمه دنده د بانکي زیرمو ساتل دي.

ډيکوک (د سويلي افريقا اقتصادپوه او د مرکزي بانک مشر) په دې باور دی چې مرکزي بانک هر وخت تيار دی چې له یادو دندو او کړنو سره ـ سره هره هغه دنده چې د يو هېواد اقتصادي وضعيت او شرايط يې غوښتنه کوي، ترسره کړي. یا هم په بل ډول، مرکزي بانک هغه بانک ته ویل کېږي چې د خپلو ګټو په موخه نه بلکې د هېواد د وګړو ټولیزې ګټې په پام کې نیولو سره ګام پورته کوي[۱]. دا په دې مانا چې د مرکزي بانک بنسټيزه (اصلي) دنده د ملي ګټو خونديتوب په برخه کې خپلې ګټې په پام کې نيول دي. د مرکزي بانک د بنسټيزو دندو پېژندنې په برخه کې ليدل کېږي چې ډيکوک د انګلستان د مرکزي بانک تر اغېز لاندې راغلی دی. داسې چې له دې سره ـ سره چې د انګلستان مرکزي بانک موخه په دقيق ډول پېژندل (تعریف) شوې نه ده؛ خو بیا هم یاد بانک باید د ملي ګټو د خونديتوب په برخه کې هڅې وکړي.

د مرکزي بانک بنسټيزه دنده د هېواد د بانکي او پولي سيسټم کنټرول دی او نورې کړنې او دندې يې د هېواد په مالي جوړښت او چاپېريال پورې اړه لري چې د انګلستان بانک د بريتانيا په اقتصاد کې د مرکزي بانک د يوې رښتينې نمونې په توګه عمل کوي.

د هېوادونو په اقتصاد کې د مرکزي بانکونو د هغې حیاتې او مهمې ونډې په اړه چې یاد بانکونه یې لري، اړینه ګڼل کېږي چې د مرکزي بانک له دندو او کړنو سره لا ډېر بلد شو:

۱. **د پیسو خپرول:** د ۲۰ میلادي پېړۍ تر لومړیو پورې مرکزي بانک د پیسو خپروونکي بانک په توګه پېژندل کېده او ځینو اقتصاد پوهانو هم د پیسو خپرول د مرکزي بانک بنسټیزه دنده ګڼله. خو اوسمهال د پیسو خپرول د مرکزي بانک بنسټیزه او اصلي دنده نه بلکې د یاد بانک له عادي او معمولي دندو څخه شمېرل کېږي.

د پیسو خپرول او په چلښت کې د پیسو جریان د مرکزي بانک له لوري د یوه قانون له مخې ډېزاین او پرمخ بېول کېږي او له جریان څخه یې د پیسو ویستل او راټولول هم د مرکزي بانک له لوري ترسره کېږي.

د پیسو خپرولو په برخه کې دا پوښتنه پیدا کېږي چې د اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره په چلښت کې د پیسو اندازه او حجم باید څومره وي؟ یادې پوښتنې ته د پیسو اړوند نظریې ځواب ورکوي. دا چې د پیسو خپرول اوسمهال د مرکزي بانک له عادي او معمولي دندو څخه شمېرل کېږي، نو د مرکزي بانک د دندو زیاتوالي په پام کې نیولو سره ځینې مرکزي بانکونه یاده دنده کوم بل بنسټ او یا هم کوم شرکت ته سپاري څو په دې توګه وکولی شي خپلې نورې دندې په ښه ډول ترسره کړي.

**د مرکزي بانک له لوري د پیسو خپرولو انحصار لوی لاملونه په لاندې ډول دي:**

**الف:** دا چې د سوداګریزو بانکونو له لوري د اعتباري پیسو خلق ډېر شوی دی، نو د اعتباراتو په حجم باندې د مرکزي بانک د کنټرول اړتیا په پام کې

نیولو سره لیدل کېږي چې د سوداګریزو بانکونو له لوري د اعتباراتو په پراختیا باندې د مرکزي بانک کنټرول اغېزمن تمامېږي.

**ب:** کله چې پیسې د مرکزي بانک له لوري چاپ او خپرېږي، نو یو ځانګړی ډول او بڼه لري.

**ج:** که د پیسو خپرولو انحصاري امتیاز مرکزي بانک ته ورکړل شي نو د دولت لپاره د پیسو خپرولو په اړه د غیر قانوني کړنو او قانون ماتولو پر وړاندې د څار کنټرول هم آسانېږي (۵:۲۵۷).

۲. **مرکزي بانک د دولت سلاکار، استازی او بانکوال:** له هغه راهیسې چې د دولت له لوري مرکزي بانک ته د پیسو خپرولو انحصار ورکړل شو او یاد بانک بیا وروسته د مرکزي بانک په توګه وپېژندل شو، د دولت اړوند بانکي کړنې هم ترسره کوي. دا چې د هېواد له مالي او اقتصادي چارواکو او بنسټونو سره نږدې اړیکې لري، نو د دولت د سلاکار په توګه هم دنده ترسره کوي او د دولت د بانکوال په توګه د دولت حسابونه ساتي.

د یادولو وړ ده چې په ځینو هېوادونو کې مرکزي بانکونه نه یوازې دا چې د دولت بانکي حسابونه بلکې د ښاروالیو حسابونه، په دولت پورې د تړلو شرکتونو او بنسټونو حسابونه هم ساتي او هغه ټولې دندې او کړنې چې یو سوداګریز بانک یې د خپلو مشتریانو لپاره ترسره کوي، مرکزي بانک یې هم د دولت د بانکوال په توګه د دولت لپاره ترسره کوي. دا په دې مانا چې په دې برخه کې مرکزي بانک د مقرراتو له مخې دولتي بنسټونو ته بانکي حسابونه پرانیزي، د دولتي بنسټونو نغد امانتونه اخلي، د دولتي بنسټونو چکونه تادیه کوي، له نورو بانکونو څخه د یادو بنسټونو مطالبات ترلاسه کوي، د دولت د کارکوونکو معاشونه او نور امتیازات ورکوي، له یوې سیمې څخه بلې سیمې او یا هم له یو

حساب نه بل حساب ته د دولتي بنسټونو پیسې لېږدوي او په دولتي بنسټونو پورې تړلې نورې کړنې او دندې ترسره کوي.
دا چې د دولتي حسابونو کنټرول تر ډېره پورې له خزانه دارۍ سره وي، نو مرکزي بانک له خزانه دارۍ څخه د اجازې له ترلاسه کولو څخه وروسته د دولتي بنسټونو او مؤسسو د حسابونو په پرانیستلو او یا هم تړلو لاس پورې کوي.
څرګنده ده چې د مرکزي بانک له لوري دولت او په دولت پورې اړوندو بنسټونو ته د بانکي خدمتونو او هغه هم په دومره لویه پیمانه وړاندې کول، ډېر لګښت ته اړتیا لري. نو دا چې مرکزي بانک د دولت لپاره د خدمتونو وړاندې کولو پر وړاندې په کلني ډول ثابت مزد ترلاسه کوي او یا هم دا چې یاد خدمتونه په وړیا ډول ترسره کوي؛ په هغې هوکړې پورې تړلې ده چې د مالي او پولي بنسټونو ترمنځ رامنځته شوې وي. خو دا چې مرکزي بانک د پیسو د خپرولو انحصار په واک کې لري او دا د یاد بانک لپاره یو لوی مالي امتیاز ګڼل کېږي؛ نو مرکزي بانک دولتي بنسټونو او مؤسسو ته په وړیا ډول خدمتونه وړاندې کوي. د دولت د بانکوال په توګه د مرکزي بانک دا ګام نه یوازې دا چې له اقتصادي اړخه د دولت په ګټه دی بلکې له دې لامله هم ترسره کېږي چې د دولت مالي چارو او پولي چارو ترمنځ نږدې اړیکه موجوده ده. په زیاترو هېوادونو کې دولت د ملي عاید په برخه کې لویه ونډه لري او له لویو پور اخیستونکو څخه هم دی. نو له همدې لامله؛ د دولت مالیه د وګړو په ژوند ډېرې اقتصادي اغېزې هم لري. له بلې خوا مرکزي بانک په داسې ډول چې د وګړو ګټې خوندي کړي، په هېواد کې د پیسو د حجم تنظیم او د اعتباراتو د کنټرول مسؤلیت هم پر غاړه لري. زیاتره وخت د دولت مالي کړنې د پیسو د بازار پر شرایطو، د مرکزي بانک د ارز کچې او اعتباري سیاست ویجاړوونکې اغېزې کوي. نو له همدې لامله په مرکزي بانک کې د دولت بانکي کړنو تمرکز

لږ تر لږه دولت ته دا فرصت ورکوي چې مرکزي بانک هر وخت په ځانګړي ډول د عمومي مالي موقعیت په برخه کې دولت ته ښه وړاندیزونه وکړي.
هغه نور خدمتونه چې مرکزي بانک يې دولت ته وړاندې کوي، د ارز اړوند دي. په دې برخه کې مرکزي بانک له هېواد څخه بهر له پولي بازارونو څخه د پور ترلاسه کولو او اړوند بانکي کړنو ترسره کولو لپاره ګام پورته کوي.

٣. **د اعتباراتو کنټرول او د پیسو حجم تنظیمول:** لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، سوداګریز بانکونه د پیسو د رامنځته کولو (خلق) ځواک لري او همدا د سوداګریزو بانکونو او نورو مالي بنسټونو ترمنځ یو بنسټیز توپیر هم ګڼل کېږي. سوداګریز بانکونه تر ځانګړو شرایطو لاندې د پیسو د خلق له ځواک څخه برخمن دي. په واقعیت کې نه یوازې دا چې سوداګریز بانکونه بلکې نور ټول هغه بانکونه چې د جاري حسابونو په پرانیستلو سره د چک کتابچې د خپلو مشتریانو په واک کې ورکوي او تقاضا کوونکو ته اعتبارات ورکوي، کولی شي پیسې خلق کړي. که په اقتصاد کې د پیسو پړسوب موجود وي او سوداګریز بانکونه هم د پیسو د خلق له ځواک څخه ګټه پورته کړي، نو د پیسو پړسوب حاد او چټکه (Hyper-inflation) بڼه غوره کوي. نو په هغه حالت کې چې په اقتصاد کې د پیسو پړسوب دا ډول وي، نو پیسې نه شي کولی چې د اقتصادي ارزښتونو د سپما وسیله وګرځي او وګړي هڅه کوي چې ملي پیسې په بهرنیو اسعارو واړوي.

نو په هغه حالت کې چې په اقتصاد کې د پیسو پړسوب دا ډول موجود وي، نو مرکزي بانک د ملي ګټو د خوندیتوب په موخه څنګه کولی شي چې پولي او بانکي سیستم مهار کړي؟ په داسې شرایطو کې مرکزي بانک کولی شي چې سوداګریزو بانکونو ته د پیسو خلق اجازه ور نه کړي او یا هم دا چې لږ تر لږه د

پیسو د خلق ځواک یې را کم کړي. لکه څرنګه چې لیدل کېږي سوداګریز بانکونه د ونډه والو (سهمدارانو) د ګټې لوړولو په موخه جوړېږي، خو مرکزي بانکونه د ملي ګټو ساتلو په موخه فعالیت کوي.

د یو هېواد په اقتصاد کې د اعتباراتو کنټرول اهمیت په پام کې نیولو سره ویلی شو چې د مرکزي بانک مهمه او بنسټیزه دنده د اعتباراتو کنټرول او په چلښت کې د پیسو حجم تنظیمول دي. په حقیقت کې په چلښت کې د پیسو حجم تنظیم او په همدې ډول د اعتباراتو کنټرول د مرکزي بانک بنسټیزې دندې جوړوي او نورې دندې یې فرعي دندې ګڼل کېږي. د نړۍوالې تسویې بانک(Bank For International Settlement)، د پیسو د حجم کنټرول او د اعتباراتو تنظیم د هر هېواد د مرکزي بانک بنسټیزه دنده ګڼي.

دا چې مرکزي بانک د پیسو خپروونکی دی، نو سوداګریز بانکونه هم د بانکي پیسو خلق کوونکي دي. په زیاترو پرمختللو هېوادونو کې آن له۹۰ سلنې څخه ډېرې راکړې - ورکړې د بانکي پیسو په مرسته کېږي او د سوداګریزو بانکونو د موخو په پام کې نیولو سره، مرکزي بانک اړ دی چې د سوداګریزو بانکونو فعالیتونه کنټرول کړي. سمویلسن په دې باور دی چې د امریکا متحده ایالتونو دولت په ۱۹۱۳ میلادی کال کې مرکزي بانک د اعتباراتو ورکړې شرایطو، د پیسو عرضې ټاکلو او د سوداګریزو بانکونو د کنټرول په موخه جوړ کړ. د امریکا مرکزي بانکونه چې په غړو سوداګریزو بانکونو پورې تړاو لري، د امریکا د متحده آیالتونو د کنګرې پر وړاندې ځواب ویونکي دي. یا هم دا چې له دې سره ـ سره چې د امریکا متحده آیالتونو مرکزي بانک بنسټ خصوصي دی، خو بیا هم یو دولتي بنسټ ګڼل کېږي. کله چې د امریکا مرکزي بانک سود له ټاکل شوې اندازې څخه زیاتېږي، نو د وګړو د ګټو ساتلو په موخه د دولت خزانې ته لېږدول کېږي.

په ټوله کې هغه مرکزي بانکونه چې له ۱۹۲۰ میلادي لسیزې څخه مخکې جوړ (تاسیس) شوي دي، د جوړېدو په قانون کې يې د اعتباراتو کنټرول د بنسټيزې او مهمې دندې په توگه په روښانه ډول یاد شوی نه دی چې یاده موضوع د امریکا متحده ایالتونو د مرکزي بانک د جوړېدو په برخه کې هم صدق کوي. خو هغه مرکزي بانکونه چې له یادې لسیزې څخه وروسته جوړ شوي دي، د جوړېدو په قانون کې یې په روښانه ډول یادونه شوې چې د مرکزي بانکونو د جوړېدو موخه د پیسو د حجم او اعتباراتو کنټرول دی. د بېلگې په توگه: د یونان مرکزي بانک (Bank of Greece) چې په ۱۹۲۸ میلادي کال کې جوړ شوی دی، موخه يې په جریان کې د پیسو حجم او اعتباراتو تنظیم گڼل کېږي.

په هر حال؛ له دې سره ـ سره چې د مرکزي بانک د جوړېدو اړوند قوانینو او مقرراتو او یا هم دا چې د یاد بانک د بنسټ جوړښت نوي کولو (تجدید) اړوند قوانینو او مقرراتو کې د بانکي او پولي سیستم له لارې د پیسو د حجم تنظیم او په چلښت کې د پیسو د عرضې کنټرول او له نورو څخه یادونه شوې وي، خو د اعتباراتو کنټرول د مرکزي بانک بنسټیزه (اساسي) دنده شمېرل کېږي.

د پورتني بحث په پایله کې ویلی شو چې په هر هېواد کې د مرکزي بانک د جوړېدو بنسټیزه موخه د اعتباراتو کنټرول دی. خو دلته دا پوښتنه هم را پیدا کېږي چې له اعتباراتو څخه موخه کوم ډول اعتبارات دي؟ په لومړیو کې له اعتباراتو څخه موخه هغه اعتبارات وو چې د سوداگریزو بانکونو له لوري وړاندې کېدل چې په چلښت کې د پیسو حجم یوه برخه جوړوي او د لوی اقتصاد د یو متحول په توگه په چلښت او جریان کې د پیسو حجم ټاکلو په برخه کې یوازې له جاري امانتونو سره مسکوکات او خپرې شوې سکې یو ځای کېدې. نو په دې توگه په چلښت کې د پیسو د حجم اندازه گیرۍ په برخه کې له سوداگریزو بانکونو سره میعادي او د سپما حسابونه په پام کې نه نیول

کېدل. ځکه چې له دې حسابونو څخه په راکړه ـ ورکړه کې سمدلاسه د تادیاتي وسیلې په توګه ګټه نه شي اخیستل کېدای.
نو په دې توګه؛ د پیسو حجم له سوداګریزو بانکونو سره د وګړو د جاري امانتونو او د خپرو شوو سکو او مسکوکاتو ټولګې ته ویل کېږي چې د پیسو د مقداري نظریې (Quantity Theory of Money) بنسټ جوړوي چې په ۱۹۱۱ میلادي کال کې د ایرونګ فیشر له لوري رامنځته شوې ده. د فیشر په آند، په چلښت او جریان کې د پیسو حجم او د قیمتونو ټولیزې کچې ترمنځ نېغه اړیکه موجوده ده. د پیسو په حجم کې د جاري حسابونو اهمیت او وزن چې د بانکي پیسو (چک) له لارې په راکړو ـ ورکړو کې د تادیې وسیلې په توګه کارول کېږي، د اهمیت په پام کې نیولو سره دې پایلې ته رسېږو چې مرکزي بانک باید ددې ډول اعتباراتو کنټرول په خپل واک کې ولري.
په هر حال د دې مهمې پوښتنې په ځواب کې چې مرکزي بانک کوم ډول اعتبارات کنټرول کړي او په چلښت او جریان کې د پیسو له حجم څخه موخه څه ده؟ د ایرونګ فیشر په آند؛ د پیسو له حجم څخه موخه له سوداګریزو بانکونو سره جاري حسابونه دي چې د اعتباراتو کنټرول هم د دې حسابونو کنټرول په بر کې نیسي. خو د شیکاګو د ښوونځي بنسټ ایښودونکي میلتون فریډمن (۲۰۰۶-۱۹۱۲) په آند چې د پیسو مقداري نظریه یې په بل ډول وړاندې کړې؛ د پیسو حجم له خلکو سره شته پیسې او سکې (له سوداګریزو بانکونو بهر سکې)، له سوداګریزو بانکو سره جاري سپما او میعادي حسابونه هم په بر کې نیسي. نو په دې توګه نه یوازې پیسې بلکې پیسو ته ورته یا نږدې شیزونه چې په چلښت او جریان کې د پیسو حجم جوړوي، باید د پیسو په حجم کې وشمېرل شي.
د غیر بانکي اعتباري بنسټونو اهمیت په پام کې نیولو سره؛ دا چې مرکزي بانکونه یوازې د سوداګریزو بانکونو د اعتباراتو د کنټرول په برخه کې ګام پورته

کوي، نو کېدای شي چې د پولي او بانکي سیستم کنټرول له لارې ځینې وخت ونه شي کولی چې د وګړو ګټې خوندي کړي. نو په دې اړه د راد کلیف کمېټې(**Radcliffe Committee**) له هغو پایلو څخه چې په ۱۹۵۹ میلادي کال کې یې په بریتانیا کې ترلاسه کړي، باید یادونه وکړو:

په ۱۹۵۷ میلادي کال کې په ټوله کې د بریتانیا مالي او بانکي سیستم د ارزونې په موخه د راد کلیف په مشرۍ یوه ډله چې دوه نور نوموتي انګلیس اقتصاد پوهان هر یو سرآلک کرنکروس او سایزر یې هم غړي وو، جوړه شوه چې پایلې یې په ۱۹۵۹ میلادي کال کې خپرې شوې. یاده ډله دې پایلې ته ورسېده چې له بانکي بنسټونو څخه پرته غیر بانکي بنسټونه هم د پیسو عرضې په برخه کې لویه ونډه لري. یادې ډلې دا فکر چې د پیسو د خلق په برخه کې یوازې بانکونه برخه لري، رد کړ او دې پایلې ته ورسېده چې پولي سیاست نه یوازې دا چې د پیسو عرضې په کنټرول کې را لنډ او خلاصه شي بلکې نغدوالي ته هم باید پاملرنه وکړي. د دې ډلې په آند؛ د بریتانیا مرکزي بانک پولي سیاست وروستۍ موخه د پیسو عرضه نه بلکې په ټولنه کې د بهرې کچې جوړښت دی. آن که چېرې د پولي سیاست موخه د بهرې کچې په جوړښت کې بدلون وي، د پیسو په عرضه باندې ډېره اغېزه نه لري او په پایله کې به د مرکزي بانک پولي سیاست د پیسو پر پړسوب او نورو اقتصادي متحولینو ډېره لږه اغېزه وکړي. نو له همدې لامله یادې ډلې وړاندیز وکړ چې د مالي او پولي سیاست تنظیم په برخه کې اعتبارات باید داسې کنټرول شي چې ټول مالي بنسټونه په بر کې ونیسي. د بریتانیا پولي سیاست په برخه کې د یادې ډلې مالي او پولي څېړنو له پایلو څخه له ۱۹۷۱ میلادي کال څخه وروسته ګټه پورته نه شوه.

په ټوله کې ویلی شو چې مرکزي بانک د خپلو موخو ترلاسه کولو لپاره د اعتباراتو کنټرول یو داسې بریالی سیاست تر لاس لاندې نیولی شي چې هر

اړخيز وي. دا په دې مانا چې که چېرې مرکزي بانک يوازې د سوداګريزو بانکونو اعتبارات کنټرول کړي، نو د ډېر برياليتوب تمه يې نه کېږي. ځکه چې د اعتباراتو د کنټرول په موخه نور غير مالي او غير بانکي اعتباري بنسټونه د مرکزي بانک پولي سياست له اغېزو څخه بېرون پاتې کېږي. يا هم په بل ډول؛ مرکزي بانک د سوداګريزو بانکونو د اعتباراتو د کنټرول له لارې کولی شي چې د پيسو په بازار کې يوازې د پيسو عرضې يوه برخه تر خپل اغېز لاندې راولي. په داسې حال کې چې اوسمهال پانګه ييز (سرمايوي) اعتبارات د نورو بانکونو او اعتباري بنسټونو لکه د بيمې، تقاعد صندوقونو، پانګونې، مالي او اعتباري او نورو شرکتونو له لوري چې د مرکزي بانک د اعتباراتو کنټرول له پولو څخه بهر دي، هم رامنځته کېږي.

دا مهمه موضوع کولی شو داسې هم بيان کړو چې د پانګې په بازار کې د مرکزي بانک کنټرول تت او کمزوری دی او د پانګې بازار د اوږدمهاله اعتباراتو د راکړې - ورکړې بازار دی. په هر حال؛ مرکزي بانک نه شي کولی چې د سرمايوي اعتباراتو په برخه کې د سوداګريزو بانکونو د اعتباراتو په توګه عمل وکړي. دا په حقيقت کې هغه پايله ده چې په ۱۹۵۹ ميلادي کال کې د رادکليف ډلې په راپور کې هم ورباندې ټينګار شوی دی. دا په دې مانا چې په هېواد کې اقتصادي ټوليز نغدوالی له ډېر اهميت څخه برخمن دی او د بريتانيا مرکزي بانک پولي سياست چې پام يې يوازې د سوداګريزو بانکونو په اعتباراتو دی، په پايله کې د اقتصاد په متحولينو لکه د پيسو پړسوب، روزګارتيا او نورو باندې ډېرې کمې او کمزورې اغېزې لري. څرګنده ده چې په ورته وخت کې د مرکزي بانک ستونزې او محدوديتونه هم بايد په پام کې ونيول شي.

مرکزي بانک د هېواد د پولي او اعتباري سيستم د لارښوونې او رهبرۍ په موخه په داسې ډول چې د وګړو ټوليزې ګټې خوندي کړي، بايد د ټولو پولي

او اعتباري بنسټونو (بانکي او غیر بانکي بنسټونه) د اعتباراتو کنټرول په برخه کې ځانګړی پام وکړي. دا هم باید په پام کې ونیسو چې مرکزي بانک د هغو نړدې اړیکو له لارې چې د یاد بانک او سوداګریزو بانکونو ترمنځ موجود دی، کولی شي د نورو مالي بنسټونو اعتباراتو په پرتله د بانکونو اعتبارات په اسانی کنټرول کړي. په همدې ډول دې ته هم باید پام وکړي چې یوازې د هغو قانوني تشو ډکول چې په دې برخه کې موجودې دي، هم بسنه نه کوي.

نو مرکزي بانک په ټوله کې هغه سرلوړی (اشرافیت) چې د پیسو پر بازار یې لري، د پانګې پر بازار یې نه لري.

**مرکزي بانک دا دنده په لاندې ډول ترسره کولی شي:**

**الف: د پیسو د چاپ کنټرول**: په زیاترو هېوادونو کې چې په چلښت کې یې د پیسو اندازه د مرکزي بانک له لوري ټاکل کېږي. د پیسو د تقاضې پر وړاندې د پیسو عرضې کموالي په وخت کې، بانک د پیسو عرضې زیاتوالي له لارې د پیسو د کنټرول په برخه کې ډېر ځواک لري څو په دې ډول پیسو ته تقاضا له عرضې سره مساوي کړي.

**ب: د قانونې زیرمې په کچه کې د بدلون له لارې د سوداګریزو بانکونو د کړنو تنظیمول**: مرکزي بانک د اړتیاؤ په پام کې نیولو سره سوداګریز بانکونه اړ باسي چې د طبیعي تقاضا په تناسب نغدي زیرمې وساتي. په قانوني زیرمو کې زیاتوالی د سوداګریزو بانکونو د اعتباراتو وړتیا راکموي.

**ج: د پرانیستي/ازاد بازار کړنې (عملیات):** دا وسیله په ځانګړي ډول په پرمختللو هېوادونو کې د پیسو د عرضې کنټرول په برخه کې خورا ګټوره تمامېږي. مرکزي بانک د دولتي او ان غیر دولتي ارزښت لرونکو پاڼو او د ارزي براتونو پېر او پلور په وسیله کولی شي چې په چلښت کې د پیسو اندازه تر کنټرول لاندې وساتي.

**د:** مرکزي بانک، سوداګريزو بانکونو او نور مالي تصديو ته د نېغو او مستقيمو اوامرو په ورکولو سره کولی شي چې د پيسو حجم او اعتبارات کنټرول کړي.

۴. **وروستی پور ورکوونکی:** د هاوتړ په آند؛ د مرکزي بانک مهمه دنده چې د ياد بانک يوه ځانګړتيا هم جوړوي، د وروستي پور ورکوونکي په توګه ګام اخيستل دي. نوموړی زياتوي چې د مرکزي بانک بنسټيزې کړنې په دې کې را لنډېږی چې ياد بانک د وروستي پور ورکوونکي په توګه ګام پورته کوي. نو له همدې لامله هغه نورې دندې چې ياد بانک يې ترسره کوي، دويمي او فرعي دندې ګڼل کېږي.

د وروستي پور ورکوونکي په توګه د مرکزي بانک دنده د ياد بانک له بلې مهمې دندې څخه چې د پيسو خپرول دي، سرچينه اخلي. نو له همدې لامله هر هغه بانک چې د پيسو خپرولو امتياز ولري، کولی شي د وروستي پور ورکوونکي دنده هم ترسره کړي. د يادولو وړ ده؛ په هغه حالت کې چې د پيسو خپرونکی بانک اړ وي چې د خپرو شوو سکو ارزښت سل سلنه په سرو زرو او يا هم په تبديلېدونکو اسعارو کې وساتي، نو ياد بانک د وروستي پور ورکوونکي په توګه د پيسو خپرولو په برخه کې له يو لړ محدوديتونو سره مخ کېږي.

لکه څرنګه چې په تېرو پېړيو کې ليدل شوي، په يو هېواد کې د سکو خپرولو او نشر په برخه کې ډېر بانکونه موجود ول  او يادو بانکونو له نورو کړنو او عملياتو سره ـ سره د سکو په خپرولو هم لاس پورې کاوه چې موخه يې يوازې او يوازې د ونډه والو ګټې لوړول وو. يوه له هغو دندو څخه چې يادو بانکونو ترسره کوله، له نورو بانکونو سره د سوداګريزو براتونو تنزيل ؤ. په دې ډول د سکو خپرونکو بانکونو په نازکو وختونو کې په تدريجي ډول د نورو سوداګريزو براتونو د بيا تنزيل له لارې سوداګريزو بانکونو ته پيسي ورکولې چې د وخت په تېرېدو سره يې د وروستي پور ورکوونکي ځای هم خپل کړ.

په همدې ډول لکه څرنګه مو چې د انګلستان بانک په اړه یادونه وکړه، یاد بانک په بریتانیا کې ورو ـ ورو د سکو د خپرولو امتیاز ترلاسه کړ او له خصوصي برخې سره یې په موازې ډول سوداګریزې کړنې هم محدودې شوې. د دې محدودیتونو پر وړاندې د وروستي پور ورکوونکي په توګه د بریتانیا له دولت او نورو سوداګریزو بانکونو سره د یاد بانک کړنو هم پراختیا پیدا کړه چې په واقعیت کې مرکزي بانک د وروستي پور ورکوونکي په توګه خپله دنده د سوداګریزو براتونو له مجدد تنزیل سره یو ځای پر مخ یوړه.

مرکزي بانک د وروستي پور ورکوونکي په توګه خپله دنده داسې ترسره کوي څو نورو بانکونو ته اندېښنه پیدا نه کړي او تر هر ډول شرایطو لاندې د سوداګریزو بانکونو اعتباري اړتیا په پوره کولو اړ دی. ځکه چې په هېواد کې د بانکي او پولي سیستم له کنټرول څخه د مرکزي بانک وروستۍ موخه د وګړو ټولیزو ګټو خوندیتوب دی او کله چې په ټولنه کې د پیسو پړسوب موجود وي، نو د وروستي پور ورکوونکي په توګه د مرکزي بانک ګام باید له پوره احتیاط څخه برخمن وي.

په هر حال پخوانیو مرکزي بانکونو په دودیز ډول او نوي مرکزي بانکونه له بانکي او پولي قانون سره سم د دولت بانکوال او د بانکونو بانک په توګه عمل کوي او له خصوصي وګړو سره راکړې ـ ورکړې نه کوي.

د لاندېنیو دلیلونو په پام کې نیولو سره اوسمهال مرکزي بانکونو خپلې کړنې په دولت او بانکونو پورې محدودې کړې دي:

**الف:** اوسمهال په ټولو هېوادونو کې بانکي اړیکو پوره پراختیا موندلې او بانکي خدمتونه په اسانۍ سره ټولو وګړو ته د لاسرسي وړ دي. نو له همدې لامله مرکزي بانک ته د ورته خدمتونو وړاندې کولو اړتیا نه لیدل کېږي.

**ب:** مرکزي بانک د پولي او بانکي سیستم د لارښوونې او رهبرۍ مسؤلیت پر غاړه لري. دا مسؤلیت ایجابوي چې یاد بانک هغه کړنې چې سوداګریز بانکونه

يې ترسره کوي، ترسره نه کړي. دا ځکه چې که چېرې مرکزي بانک هم د سوداګریزو بانکونو دندې ترسره کړي، نو له سوداګریزو بانکونو سره یې د مشتریانو جذب په برخه کې سیالي رامنځته کېږي چې په پایله کې مرکزي بانک نه شي کولی خپل اصلي مسؤلیت په ښه ډول ترسره کړي.

**ج:** که چېرې مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو په شان عمل وکړي، نو نه شي کولی چې د بانکونو بانکوال، وروستي پور ورکوونکي او بالاخره د بانکونو د اعتباراتو کنټرولوونکي په توګه عمل وکړي.

**د:** مرکزي بانک د خپل ماموریت د ترسره کولو په موخه نه یوازې له بانکونو سره بلکې باید له نورو مالي بنسټونو سره هم ښې اړیکې ولري. مرکزي بانک په حقیقت کې بانکونه او نور مالي بنسټونه دې ته اړ باسي چې د ونډه والو د ګټو پر وړاندې د وګړو ټولیزو ګټو ته لومړیتوب ورکړي. یا هم په بل ډول؛ د بانکونو او مالي بنسټونو ګټې دا ایجابوي چې له مرکزي بانک سره د ښو اړیکو په رامنځته کولو او ساتلو کې هڅه وکړي. دا ځکه چې دا ډول همکاري په هېواد کې د پولي ثبات ساتلو په موخه اړینه ګڼل کېږي. که چېرې سوداګریز بانکونه مرکزي بانک د خپل سیال په توګه ویني او یا هم دا چې مرکزي بانک د خپلو ګټو پر وړاندې د خنډ په توګه وانګېري، نو صمیمانه مرسته او همکاري نه کوي.

٥. **د سوداګریزو بانکونو د نغدو پیسو ساتل:** لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، په اتلسمه پېړۍ کې په بریتانیا کې بانکونه دې پایلې ته ورسېدل چې د انګلستان له بانک سره د نغدو پیسو یوه برخه ساتل ځکه د دوی په ګټه دي چې د اړتیا په وخت کې له هغوی څخه ګټه پورته کولی شي. په لومړیو کې سوداګریزو بانکونو د سرو زرو سکې د بریتانیا له بانک سره ساتلې او له یادو بانکونو سره هم دوې لارې وې. یوه دا چې د انګلستان له بانک څخه سکې ترلاسه

کړي او یا هم یاد بانک ته وړاندیز وکړي چې یادو بانکونو ته حسابونه پرانیزي. د بریتانیا دولت د هر اړخیز ملاتړ په پام کې نیولو سره د انګلستان بانک سکې د وګړو له هر اړخیز باور څخه برخمنې او په لویه پیمانه په چلښت کې وې. د انګلستان بانک د ۱۸۲٦ میلادي کال قانون له مخې دا جواز ترلاسه کړ چې د بریتانیا په نورو سیمو کې هم څانګې پرانیزي. د سکو خپرولو انحصار او په نورو سیمو کې د څانګو پرانیستل دې ته لاره هواره کړه چې نور بانکونه د پیسو لېږد ـ را لېږد او د بانکي پورونو او غوښتنو د تصفیې په برخه کې له یاد بانک څخه ګټه پورته کړي.

له مرکزي بانک سره د پیسو اېښودل دوې لویې ګټې لري:

- بانکونه کولی شي د اړتیا په وخت کې له مرکزي بانک سره له خپلو اېښودل شوو پیسو څخه ګټه واخلي؛ او
- مرکزي بانکونه هم د ډېرو پیسو په مرسته کولی شي چې د بانکونو سوداګریزو براتونو په تنزیل لاس پورې کړي.

په هر حال؛ له مرکزي بانک سره د سوداګریزو بانکونو نغدو پیسو د یوې برخې ساتل په لومړیو کې په خپله خوښه کېدل خو وروسته یې قانوني بڼه غوره کړه. یا هم په بل ډول؛ د نوو مرکزي بانکونو قانون سوداګریز بانکونه دې ته اړ کړل چې د وګړو د امانتونو یوه برخه د قانوني/الزامي زیرمې(Required Reserve) په توګه له مرکزي بانک سره وساتي چې دا امر پر هغو ټولو بانکونو باندې پلې کېږي چې د وګړو امانتونه ساتي. د بېلګې په توګه: د امریکا متحده آیالتونو د ۱۹۱۳ میلادي کال بانکي قانون له مخې د فډرل ریزرف غړي بانکونه اړ دي چې د جاري حسابونو او د ټاکلي وخت (میعادي) لپاره د حسابونو یوه برخه مرکزي بانک ته ولېږدوي.

په همدې ډول؛ له مرکزي بانک سره د بانکونو نغدو پيسو يوې برخې ايښودل مرکزي بانک ته د دې ځواک ورکوي چې د ټولنې د ټوليزو ګټو خونديتوب په برخه کې ترېنه ګټه پورته کړي او که چېرې بانکونه له ماتېدو سره مخ کېږي، نو قانوني زيرمې د دې لامل ګرځي چې د وګړو ټول امانتونه له منځه ولاړ نه شي. په لومړيو کې له قانوني زيرمو څخه د وګړو د امانتونو يوې برخې ساتلو په موخه ګټه پورته کېده خو ورو ـ ورو د بانکونو د اعتباراتو د کنټرول په موخه هم ترېنه ګټه پورته شوه.

د يادولو وړ ده چې له مرکزي بانک سره د بانکونو د قانوني زيرمو نسبت په بېلابېلو هېوادونو کې توپير لري. په همدې ډول؛ ياد نسبت په ځينو هېوادونو کې د امانتونو د ډولونو په پام کې نيولو سره هم توپير لري. اصولاً ليدل کېږي چې د ميعادي امانتونو په پرتله بايد د جاري امانتونو ډېره برخه مرکزي بانک ته ولېږدول شي. دا په دې مانا چې د ميعادي حسابونو په پرتله د جاري حسابونو د قانوني زيرمې نسبت بايد لوړ وي. خو په ځينو هېوادونو لکه کاناډا کې د ۱۹۳۵ ميلادي کال له بانکي قانون سره سم د قانوني زيرمې نسبت د ټولو امانتونو پر وړاندې يو شان دی او د حسابونو د ډولونو په پام کې نيولو سره توپير نه لري. له دې سره ـ سره بانکونه کولی شي چې قانوني زيرمې د کاناډا مرکزي بانک ته ولېږدوي او يا يې هم په بانک کې له شته صندوق سره په کاناډايي ډالر کې وساتي.

٦. **د ارزي زيرمو مديريت او ساتنه:** د زيرمو د ساتلو په برخه کې د مرکزي بانک دنده د سکو خپرولو له دندې څخه سرچينه اخلي. لکه څرنګه چې د پيسو په برخه کې ليدل کېږي، د سکو خپروونکی بانک بايد په لومړيو کې د خپرو شوو سکو سل سلنه سپين زر او يا هم سره زر د تکيې (پشتوانې) په توګه وساتي. خو دا چې ورو ـ ورو يو واحد بانک د سکو خپرولو انحصار ترلاسه کړ، نو نورو بانکونو هم خپل فلزي

شته مرکزي بانک ته ولېږدول او له بانکي سکو څخه يې د ورکړې د وسيلې په توګه ګټه پورته کړه. په دې ډول فلزي زيرمې له مرکزي بانک سره متمرکزې شوې او مرکزي بانک وګمارل شو چې د سکو کورنۍ او بهرنۍ ارزښت ساتلو په برخه کې اړين ګامونه پورته کړي.

۷. د يادولو وړ ده چې په تېرو پيړيو کې چې د سکو خپروونکی بانک د خپرو شوو سکو پر وړاندې د سل سلنه ارزښت لرونکو فلزاتو تکيې (پشتوانې) په ساتلو اړ ؤ، نو د اعتباراتو د کنټرول مسئله هم بې مانا وه. ځکه چې په يادو شرايطو کې بانکونو د پيسو د خلق ځواک نه درلوده او د سکو هر خپروونکی بانک چې وګړو ته يې بانکي خدمتونه وړاندې کول، د شته قيمتي فلزاتو ارزښت په پام کې نيولو سره يې کولی شو چې سکې هم خپرې کړي. په واقعيت کې دې قيمتي فلزاتو د قانونې امانتونو سل سلنه حکم درلوده.

له اقتصادي پرمختګ سره سم د سوداګرۍ د غوړېدو او په راکړو - ورکړو کې د اسانتيا رامنځته کولو لپاره د لويو راکړو - ورکړو په موخه د يوې وسيلې احساس کېده او د خپرو شوو سکو پر وړاندې د قيمتي فلزاتو سل سلنه ساتل د پرمختللو هېوادونو اړتياؤ ته ځواب ويونکی نه ؤ. نو له همدې لامله اړينه وه چې يادو اړتياؤ ته د ځواب په موخه د خپرو شوو سکو يوازې يوه برخه فلزي زيرمې وساتي چې دې نسبت هم په بېلابېلو هېوادونو کې توپير درلود. په همدې ډول دا هم جبري نه وه چې زيرمې او تکيه بايد يوازې د قيمتي فلزاتو په بڼه وي بلکې د نورو هېوادونو سکې چې له ځواکمنې او قوي تکيې (پشتوانې) څخه برخمنې او د نړۍوالو معيارونو لرونکې وې، د تکيې په جوړښت کې يې برخه اخيستلی شوه. نو په دې توګه د مرکزي بانک زيرمې د اسعارو او سرو زرو يو ګډ جوړښت شو. د يادولو وړ ده چې ياد اسعار تر ډېره له سټرلينګ پونډ، فرانسوي فرانک، الماني مارک او وروسته له امريکايي ډالر څخه عبارت وو. د

مرکزي بانک زیرمو اکثره برخه ورو ـ ورو له معتبرو اسعارو څخه جوړه شوه چې په پایله کې یې د سرو زرو ونډه هم را کمه شوه.
لکه څرنګه چې د اسعارو په برخه کې یادونه وشوه، نن ـ سبا نړدې د نړۍ ټول پرمختللي او ځواکمن هېوادونه د لامبو وهونکي (شناور) اسعاري نظام لرونکي دي او نور هېوادونه هم د همدې نظام په لوري ګامونه پورته کوي. په یاد اسعاري نظام کې د اسعارو د برابرۍ کچه هم د اسعارو عرضې او تقاضا د بدلون په پایله کې بدلون کوي. دا شرایط چې د اسعارو پر نړیوال بازار باندې واکمن دي، د مرکزي بانک له لوري د اسعاري زیرمو د مدیریت مسئله رامنځته کوي. نو له همدې لامله د اسعاري زیرمو مدیریت د مرکزي بانک له دندو څخه ګڼل کېږي.
د اسعاري زیرمو اهمیت په پام کې نیولو سره د افغانستان اسلامي جمهوریت مرکزي بانک په ګډون؛ د مرکزي بانکونو اسعاري زیرمې په حقیقت کې یو اسعاري ټوکرۍ (سبد) جوړوي چې جوړښت یې له ډېر اهمیت څخه برخمن دی. په دې اسعاري ټوکرۍ کې د نړۍ ځواکمنو او معتبرو اسعارو د هر سعر برخه باید په ترتیب سره وټاکل شي څو د اسعارو د برابرۍ کچې دوامداره بدلونونو او نوساناتو په پام کې نیولو سره د اسعاري زیرمو ارزښت خوندي وساتل شي. لکه څرنګه چې د معتبرو اسعارو د برابرۍ کچه په دوامداره ډول بدلون کوي، نو د دې اسعاري ټوکرۍ جوړښت هم باید ثابت نه وي. له همدې لامله د افغانستان اسلامي جمهوریت مرکزي بانک په ګډون د نړۍ زیاتره مرکزي بانکونه له اقتصادي موډلونو او اړوند سافټویرونو څخه په ګټې اخیستنې سره د خپلو اسعارو د ټوکرۍ جوړښت متناسب او برابر ساتي څو د اسعارو د برابرۍ کچې د بدلون او نوساناتو په پایله کې یې ارزښت خوندي وساتل شي.

د بېلګې په توګه: د ۲۰۰۳ میلادي کال په وروستیو درېیو میاشتو کې د ډالر پر وړاندې د یورو برابرۍ کچه د یورو په ګټه د پام وړ بدلون وکړ. نو هغه مرکزي بانکونه چې خپل اسعاري زیرمې یې یوازې په ډالر کې ساتلې وې، له سخت زیان سره مخ شول او د خپلو اسعاري زیرمو یوه لویه برخه یې له لاسه ورکړه. خو هغو مرکزي بانکونو چې په خپل وخت یې د ډالر پر وړاندې د یورو د بدلون کچې وړاندوینه کړې وه او پر وړاندې یې اړین ګامونه پورته کړي وو، نه یوازې دا چې زیان ونه کړ بلکې د یورو په ګټه د اسعاري زیرمو د جوړښت بدلون په پایله کې یې وکولی شو چې په خپلو زیرمو کې زیاتوالی راولي. په هر حال یوازې په یو سعر کې د اسعاري زیرمو ساتل لوی ګواښ او خطر لري چې د یو موزون او متناسب اسعاري ټوکرۍ (سبد) په ټاکلو سره د اسعاري زیرمو په ارزښت کې د کموالي ګواښ او خطر را کموي.

**د یادو ټکو په پام کې نیولو سره د مرکزي بانک دندې د سوداګریزو بانکونو له دندو سره په بشپړ ډول توپیر لري چې په لاندې ډول ترېنه یادونه کوو (۵:۳٦۳):**

**لومړی:** مرکزي بانک ددې پر ځای چې د ځانګړو کسانو د ګټو په موخه جوړ شي، د وګړو ټولیزو ګټو د خوندیتوب په موخه جوړېږي او د سوداګریزو بانکونو برعکس یې کړنې د ګټې انګېزه نه لري.

**دویم:** مرکزي بانک د یو هېواد له دولت سره ځانګړې اړیکه لري او د دولت د بانکوال په توګه په غیر مستقیم ډول د دولت په کړنو اغېز لري.

**درېیم:** مرکزي بانک نېغ په نېغه له خلکو سره اړیکې نه ساتي بلکې په غیر مستقیم ډول د پیسو بازار او سوداګریزو بانکونو له لارې دا ډول اړیکې جوړوي.

**څلورم:** مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو په شان د خلکو امانتونه نه ساتي.

## ۴: د مرکزي بانک خپلواکي او یا نه خپلواکي

له دویم نړۍوال جنګ څخه وروسته، له دولت سره د مرکزي بانک اړیکه د بحث وړ مسئله ده. له لومړي نړۍوال جنګ څخه وروسته د المان مارک اغېزو له لامله ځینې په دې باور دي چې دا چې دولت د پیسو مصرفوونکی دی، نو له همدې لامله یې باید رامنځته کوونکی نه وي او له دولت سره تړلی مرکزي بانک د خزانه دارۍ ورته دندو په ترسره کولو سره په واقعیت کې دولت ته اجازه ورکوي چې د خپلې اړتیا پیسې خپرې کړي چې دا کار پر پولي عوایدو باندې اغېز کوي او په ځانګړي ډول د پیسو د چټک پړسوب لامل ګرځي. دا کار د دې لامل هم ګرځي چې دولت د دې پر ځای چې د مالیاتو په شان یوې ستونزمنې خو له روغې او سالمې سرچینې څخه ګټه پورته کړي، د دې زمینه برابروي چې له یوې اسانې سرچینې (مرکزي بانک اعتبارات) څخه ګټه واخلي. نو په دې توګه د انفلاسیوني قیمتونو له لارې د دولت د دې ګام واقعي لګښت، پرته له دې چې د وګړو د عاید کچه په پام کې ونیول شي، په ټوله کې په مستهلکینو پورې اړه لري او پر عوایدو د مالیې برعکس، د دې کار بار پر ثابتو عاید لرونکو وګړو پرېوځي. یا هم په بل ډول؛ د سکو ډېر خپرېدل او نغدوالي زیاتوالی چې له دولت سره د مرکزي د بانک تړلتیا په پایله کې رامنځته کېږي، هغه مالیات دي چې د ثابت عاید لرونکي وګړي یې ورکوي. نو د دې لپاره چې د پیسو تولیدوونکې او مصرفوونکې دستګاوې یو له بل څخه جلا شي، نو دا کار د مرکزي بانک له خپلواکۍ پرته ناشونی دی.

د مرکزي بانک خپلواکي له اقتصادي اړخه او د مرکزي بانک او دولت ترمنځ د اړیکو څرنګوالي سیاست له مخې هم پېژندل کېږي. د مقرراتو له مخې د دولت پر وړاندې د مرکزي بانک قانوني ژمنې، د مرکزي بانک د ټولو مشر انتصاب، د پرېکړې ډول، د پالیسۍ جوړولو شورا او د دولت د استازو شمېر، د مرکزي بانک مالکیت، د بودیجې کسر تمویل او د شرایطو په اړه د دولت

غوښتنې پر وړاندې د مرکزي بانک مقاومت، د مجلس او خلکو پر وړاندې د مرکزي بانک مسؤلیت، د بانک اطلاعاتو ښکاره کول او له خلکو سره د بانک اړیکې او قانون جوړونه، ټول د خپلواکۍ له بېلابېلو دلایلو څخه شمېرل کېږي.
د ډاکټر سید محمد حسین عادلي په اند؛ د مرکزي بانک خپلواکي د کورنیو سیاسي شرایطو او همدارنګه د هېواد د اقتصادي ودې په درجې پورې تړلې ده او هیڅ ځانګړې او واحده نښه نه شي کولی چې د دولت او مرکزي بانک ترمنځ اړیکه وټاکي. مرکزي بانک د پیسو د خلق ځواک لري چې د سکو خپرول او د پیسو رامنځته کول (خلق) د هر حکومت د ځواک اهرمونه جوړوي.
دلته دا پوښتنه پیدا کېږي چې دا اهرمونه باید د دولت د سیاستونو او که د ټول هېواد اقتصادي هوساینې او اوږدمهاله اقتصادي موخو په چوکاټ کې قرار ولري؟
مرکزي بانک هغه وخت خپلواک ګڼل کېږي چې خپلې دندې له هر ډول سیاسي فشار پرته او له دولت سره ځانګړې اړیکې د هېواد د اقتصادي قوانینو او ضوابطو په پام کې نیولو سره په پوره خپلواکۍ سره پرمخ یوسي. که چېرې دولت د بېلابېلو دلایلو له مخې (د نامناسب اقتصادي مدیریت) پر له پسې ناورینونو او د بودیجې له کسر سره مخ کېږي او په دې ډول د پیسو خلق ته اړتیا پیدا کېږي، نو پر مرکزي بانک فشار ته تمایل پیدا کوي څو د پیسو په خلق او د ډېرو سکو په خپرولو لاس پورې کړي او په دې توګه خپله ستونزه په ښکاره ډول په لنډ مهال کې حل کړي. خو د مرکزي بانک دا کار بیا په اوږدمهال کې د هېواد د ګټو په زیان تمامېږي. ځکه چې د دې کار اغېزې په راتلونکي کې ښکاره کېږي چې دا کار د اوږدمهالو اقتصادي ګټو پر وړاندې د لنډمهاله اقتصادي ګټو معامله ده چې د دولت لنډمهاله سیاسي پرستیژ ګڼل کېږي.

ډي کوک (د مرکزي بانکوالۍ يو کارپوه) په دې باور دی چې د مرکزي بانک دندې او موخې د ټولنې مادي هوساينې په بر کې نيسي او له دې سره ـ سره چې پر مرکزي بانک د دولت څارنه په ټوله کې اړينه ده، خو دا څارنه بايد داسې وکړي چې ياد بانک د دولت هغو غوښتنو ته چې اکثره وخت د پولي مسايلو په پرتله ځانګړې سياسي ليد لري او په اوږدمهال او يا هم ان دا چې په لنډمهال کې د اقتصاد پر زيان تماميږي، تسليم نه شي. نوموړی استدلال کوي چې دا په ټوله کې د دولت په ګټه ده چې مرکزي بانک پريږدي څو په پوره خپلواکۍ او له هر ډول سياسي فشار څخه پرته خپل قضاوت او ليد څرګند کړي.

**د يوې واکمنې ټوليزې ضابطې په برخه کې د مرکزي بانک پر اړيکو بېلابېلې نظريې وړاندې شوې دي چې په لاندې ډول ترېنه يادونه کوو:**

۱: ځينې د پيسو مصرفوونکي (دولت) او د پيسو توليدوونکي (مرکزي) ترمنځ په يوه نه پخلا کېدونکي بېلوالي باور لري او زياتوي چې؛ دولت بايد پيسو ته د چټکې او سملاسي لاسرسۍ څخه ليرې وساتل شي او مرکزي بانک بايد په خپل ټول ځواک سره د دولت له هميشني او اجتناب ناپذيره رسوخ څخه مخه ونيسي.

۲: ځينې نور بيا په دې باور دي چې مرکزي بانک د دولت خزانه دارۍ يوه برخه ده او دا چې د سياست او اقتصاد په برخه کې د وروستيو پريکړو مسؤليت هم د دولت او خزانه دارۍ پر غاړه دی، نو هغه وګڼي چې دولت يې ټاکلی دی، نو هغه د هېواد د اقتصادي سياستونو مسؤل بولي چې پولي سياست هم د هغې يوه برخه ګڼل کېږي.

۳: د دې دوو نظريو ترمنځ يوه بله نظريه هم شته چې له مخې يې مرکزي بانک بايد دومره خپلواکي ولري، چې د سياست له اغېزو څخه خوندي وي. يا هم په بل ډول، د هېواد پولي جوړښت بايد داسې جوړ شي چې دولت ونه شي کولی

د مرکزي بانک په حریم کې پښه کېږدي او ددې حریم په پام کې نیولو سره د مرکزي بانک له لوري د سیاستونو د اعمال او پلي کولو تمه ونه لري. دا چې د ټولنې د ګټو په موخه د هېواد دود پیسو خپرولو او د اعتباراتو کنټرول واک په ټوله کې مرکزي بانک ته ورکړل شوی دی، نو له همدې لامله دا د هېواد په ګټه ده چې دولت تر یوه بریده پر مرکزي بانک څارنه وکړي او همدارنګه د دې بانک په ټولې پانګې، د پانګې په یوې برخې د مالکیت له لارې او یا هم د مدیرانو په توګه د څو کسانو ګمارلو له لارې څارنه وکړي.

مرکزي بانک باید د هېواد اعتباراتو او د دولت د مالي چارو سلاکار په توګه له خپلواکۍ څخه برخمن وي. خو په هر حال کې نه شي کولی چې د وګړو د ټولیزو افکارو د ملاتړ له مخې د دولت د اصرار په صورت کې د دولت له سیاست سره همغږي رامنځته نه کړي.

په ځینو پرمختللو هېوادونو کې له دې سره ـ سره چې د مرکزي بانک خپلواکي په لوړه کچه موجوده وي، خو د هېواد پولي چارواکي او بنسټونه بیا هم باید د دولت له مالي سیاستونو سره همغږي رامنځته کړي. د المان مرکزي بانک د پولي سیاست پلي کولو په برخه کې قانوني مسؤلیت لري خو دا کار د دولت د اقتصادي سیاست په ملاتړ کېږي. د سویس مرکزي بانک هم د پولي سیاست ټاکلو په برخه کې خپلواک دی، خو بیا هم دولت او مرکزي بانک اړ دي چې د سیاستونو له پلي کولو څخه مخکې یو له بل سره سلا او مشورې وکړي. په دې برخه کې په ځینو پرمختللو هېوادونو کې یو بل اړخ هم لیدل کېږي. په فرانسه کې د اقتصاد وزارت د پولي سیاست په اړه پرېکړه کوي. په بریتانیا کې خزانه داري د قانوني حد په اړه مرکزي بانک ته رسمي اوامر ورکوي (کولی شي چې له دې حق څخه ګټه پورته نه کړي). په حقیقت کې همدا خزانه داري ده چې پولي سیاست په خپل کنټرول کې لري او مرکزي بانک یوازې د دې سیاست

پلي کوونکی دی. نو له همدې لامله لیدل کېږي چې د فرانسې او بریتانیا مرکزي بانکونه خپلواک نه دي.
د یادو دوو پولو (محدودو) ترمنځ د امریکا مرکزي بانک دی. د امریکا مرکزي بانک نه یوازې دا چې د پولي سیاست د ټاکلو بلکې د پلي کولو په برخه کې هم له پوره خپلواکۍ څخه برخمن دی خو اړ دی چې په کال کې دوه وارې پارلمان ته د خپلو کړنو په اړه راپور ورکړي.
د چیلي هېواد پرته په نورو پرمختیایي هېوادونو کې هم په وروستیو کلونو (د بانکي او پولي قوانینو په بیا کتنې سره) کې د مرکزي بانکونو خپلواکي ډېره شوې ده. په برازیل کې د پولي سیاست په اړه د پرېکړو او پلي کولو دنده د مرکزي بانک پر غاړه ده. په سویلي کوریا کې د نوي قانون چې له ۱۹۹۸ میلادي کال راهیسې پلی کېږي، د درېیمې مادې له مخې د پولي سیاست او اعتباراتو (د هر ځواک له اغېزو څخه پرته) په اړه د سیاستونو جوړولو او پلي کولو په برخه کې مرکزي بانک خپلواکي تضمین شوې ده. مرکزي بانک د بازار جوړښت په پام کې نیولو سره، د مرکزي بانک په کړنو کې روڼتیا د دې قانون ۴ او ۵ ماده جوړوي.
د هېوادونو بانکي قانون او پیسو قانون ارزونه دا ښکاره کوي چې خپلواک مرکزي بانکونه د محدودو موخو تر لاسه کولو په لټه کې دي او له ارزي او مالي سیاستونو څخه جلا په خپلواک ډول پولي سیاستونه جوړوي. یا هم په بل ډول؛ د مرکزي بانکونو د خپلواکۍ یو معیار هم د هغوی د موخو پراخوالی دی. هغه مرکزي بانکونه چې د پولي سیاست په برخه کې لږه خپلواکي لري، ډېرې موخې ځاري. خو هغه بانکونه چې له ډېرې خپلواکۍ څخه برخمن دي، کمې قانوني موخې ځاري. د بېلګې په توګه: د پیسو کورني او بهرني ارزښت ساتل یې یوه موخه جوړوي.

د پرمختیایي هېوادونو په کتار کې د برازیل هېواد چې د خپلواک مرکزي بانک درلودونکی دی، یوازېنی موخه یې له پولي وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره د نغدوالي کنټرول او څارل دي. د چین خلق بانک (د چین مرکزي بانک) قانون له مخې چې له ۱۹۹۵ میلادي کال راهیسې پلی کېږي، د پولي سیاست بنسټیزه موخه په هېواد کې د قیمتونو ټیکاو (ثبات) دی. د ترکیې هېواد مرکزي بانک موخه له پولي وسایلو څخه په ګټې اخیستنې د ملي پیسو د ارزښت ثبات ساتل دي. د ارجنټاین هېواد مرکزي بانک چې د نوي بانکي او پولي قانون له مخې یې په ۱۹۹۵ میلادي کال کې ډېره خپلواکي ترلاسه کړه، لومړنۍ او بنسټیزه موخه یې د ملي پیسو ارزښت ساتل دي. د سویلي کوریا مرکزي بانک موخه د قیمتونو ټولیزې کچې تثبیت دی او د دې هېواد بانکي او پولي قانون له مخې چې په ۱۹۹۸ میلادي کال جوړ شوی دی، مرکزي بانک ته پوره خپلواکي ورکړل شوې ده. په نیوزیلنډ کې د نوي بانکي او پولي قانون له مخې چې په ۱۹۹۰ میلادي کال کې نافذ شوی دی، د پولي سیاست موخه د قیمتونو ټولیزې کچې ټاکل او تثبیت دي.

د اروپا مرکزي بانک چې مرکزي دفتر یې د فرانکفورټ په ښار کې دی او له ډېرې خپلواکۍ څخه برخمن دی، بنسټیزه او اصلي دنده یې د اروپایي ټولنې په غړو هېوادونو کې د پولي سیاست چې د اروپایي مرکزي بانکونو سیستم (European System of Central Bank) له لوري ابلاغ شوی، له سمې اجرا څخه ډاډ ترلاسه کول دي. په همدې ډول؛ د یورو په سیمه کې د قیمتونو د ټولیزې کچې ټاکل هم د دې بانک بنسټیزه موخه جوړوي.

اوسمهال د نړۍ د مرکزي بانکونو له ډلې څخه د سویس او المان مرکزي بانکونه له پوره خپلواکۍ څخه برخمن دي. د المان مرکزي بانک هغه مهال چې په هېواد کې پولي ټیکاو له ګواښ سره مخ کېږي، نو دولت ته هیڅکله هم د لاسوهنې اجازه نه ورکوي. خو د سویس مرکزي بانک له دې سره ـ سره چې

په ناورین او حادو مواردو کې له دولت څخه سلا او مشوره اخلي، خو د هغې په پلي کولو اړ نه دی. په داسې حال کې چې د انګلستان مرکزي بانک د پولي سیاست پلي کوونکي سلاکار او مشاور په توګه شمېرل کېږي او د مهمو پولي سیاستونو مسؤلیت هم د انګلستان د دولت پر غاړه دی.
په هر حال د اقتصادي ټیکاو لپاره د مرکزي بانک خپلواکي اړین او کافي شرط نه ګڼل کېږي او په دې اړه نظري او عملي لوست هم دا ښکاره کوي چې که چېرې نور شرایط ثابت وي، نو د مرکزي بانک خپلواکي د پیسو پړسوب له ټیټې کچې سره ملګرې وي. د مرکزي بانک خپلواکي له ډېرو نورو ګټو سره ـ سره، لګښتونه هم نه لري.
د مرکزي بانک خپلواکي دا مانا هم نه ورکوي چې یاد بانک باید د دولت پر وړاندې ځواب ویونکی نه وي. که چېرې مرکزي بانک داسې سیاستونه پرمخ یوسي چې د دولت له سیاسي ملاتړ څخه برخمن نه وي، نو بالاخره به یې کړنې هم ودرېږي.
د دولت پولي عواید په عمل کې د مالي او پولي خوځښتونو د بشپړ عدم تفکیک لامل ګرځي، د دولت د کړنو لپاره د بهرنۍ شتمنۍ راتګ، په اقتصاد کې د ملي پیسو د حجم زیاتوالي لامل ګرځي. نو مرکزي بانک د پولي پایې کنټرول په موخه باید د ملي پیسو مدیریت او د ارزي مدیریت اړوند پرېکړې سره یو ځای او مدغم کړي. نو په دې ډول مرکزي بانک نه شي کولی چې په بشپړې خپلواکۍ سره عمل وکړي او یوازې کولی شي چې د پولي شبکې اړوند د دولت نفوذ تر یوه بریده را کم کړي.
په هغو هېوادونو کې چې لوی او بشپړ مالي بازارونه لري، یوازېنۍ وسیله چې په مرسته یې دولت کولی شي د سرچینو د تامین په برخه کې له داخل څخه په اغېزمن ډول ګټه واخلي، له بانکي سیستم په ځانګړي ډول له مرکزي بانک څخه چې د دولت د بانکوال په توګه عمل کوي، نېغ په نېغه پور ترلاسه کول

دي. کله چې مرکزي بانک اړ وي چې د دولت پر ځای د بودیجې او مالي عملیاتو یوه برخه او یا هم نورې کړنې چې له مالي سیاست سره ورته اغېزې لري، ترسره کړي، نو د بودیجه یي شبه کړنې (Quasi-budgetary operations) رامنځته کېږي او په دې حالت کې د بودیجې د واقعي رقم په پرتله د بودیجې کسر څو ځله کم مالومېږي او دولت ته دا شونې کوي چې پر پولي بنسټونو باندې د خپلو پورونو په تحمل سره، مالي وضعیت ښه وښیي.

## ۵: د مرکزي بانک د خپلواکۍ ښېګڼې

د مرکزي بانک خپلواکي لاندې ښېګڼې لري:

- د هېواد په پولي سیاستونو کې روښتیا رامنځته کېږي.
- د هېواد پولي سیاستونه ځواکمنېږي.
- د مالي سیاست او پولي سیاست ترمنځ بېلتون رامنځته کېږي.
- پولي او غیر پولي دندې یو له بل سره بېلېږي.
- مالي ته ورته کړنو پراختیا او لمن (دامنه) محدودېږي.
- د تېروتنو او ارزونو تګلارو دوام او په پرېکړو کې تزلزل کمېږي.
- د هېواد پولي او اعتباري سیاستونو سره د نورو مالي، صنعتي او سوداګریزو سیاستونو د خنثا کولو او شخړو کچه له منځه وړي.
- د پولي ګامونو او پرېکړو په برخه کې د دې بنسټ مسؤلیت منل زیاتېږي.
- د بانکي او پولي سیاست جوړونې په برخه کې د اقتصاد وزارت ملاحظات کمېږي.
- د پولي ګامونو ارزونې او څېړنې په برخه کې د پولي سیاستونو نیوکه کوونکو، څېړونکو او څارونکو پېژندنه او وړتیا زیاتېږي.

- د هېواد په پولي او اعتباري سیاستونو باندې د خصوصي برخې ډاډ او باور زیاتېږي.

**له دولت سره د مرکزي بانک انډول/تعادل**

- د دولت او مرکزي بانک ترمنځ اړیکې روښتیا پیدا کوي.
- په دې بنسټ پورې د دولت د تړلتیا درجه را کمېږي.
- د بانکي سیسټم په لوړ پوړو چارواکو او مدیرانو باندې د نورو فشار راوړونکو دستګاوو ځواک کمېږي.
- په بانکي سیسټم کې د مدیرانو پر سیاسي ګمارنو او لرې کولو فشارونه له منځه ځي.
- د پولي سیاستونو او ان د مالي سیاستونو په برخه کې د سیاسي رهبرانو لنډمهاله لیدلوری له منځه ځي او پر وړاندې یې اوږدمهاله لید لوري پیاوړی کېږي.
- د هېواد په کچه د لویو پرېکړو په برخه کې د مرکزي بانک موقف پیاوړی کېږي.
- د دولت بې انضباطي حداقل ته رسېږي.
- د مرکزي بانک اعتباراتو له لارې د دولت لپاره د ټولیزو لګښتونو د مالي تامین پر وړاندې سختو قانوني محدودیتونو رامنځته کولو ته لاره هواروي.
- د مرکزي بانک د ټولو مشر نېغ په نېغه د ولسمشر له لوري ټاکل کېږي او د اقتصاد وزیر په مستقیم یا هم غیر مستقیم ډول د هغه د پلانونو پلي کوونکی وي.

**اقتصادي پایلې**

- د سرچینو تخصیص په ښه ډول صورت نیسي.
- مرکزي بانک ته د دې واک ورکوي څو مالي وسایل (د بهرې کچه، د بیا تنزیل کچه، د پور پاڼو خپرول او د قانوني زیرمو مقدار ټاکل) په متعارف ډول تر لاس لاندې ونیسي.
- د پیسو د پړسوب کچې راکمولو او کنټرول په برخه کې هم د مرکزي بانک خپلواکي اغېزمنه ده.
- د نغدوالي د ودې کنټرول رامنځته کېږي.
- د ملي پیسو ارزښت ساتل کېږي.
- د بهرنیو ورکړو پر وړاندې د انډول ساتلو په برخه کې د ګټورو سیاستونو له جوړولو سره مرسته کوي.
- د هېواد ارزي زیرمو او ژمنو (تعهداتو) مدیریت آسانېږي.
- د دولت د جاري لګښتونو وده کنټرولېږي.
- د اماري راپورونو خپرولو پر وړاندې د دې بنسټ مسؤلیت زیاتېږي.

**د مرکزي بانک خپلواکي او د ارتقا موقعیت**

- په نړۍوالو بنسټونو او پولي ناستو کې د هېواد د بانکوالۍ نظام او مرکزي بانک د اعتبار کچې د لوړوالي لامل ګرځي.
- د هېواد په بانکي نظام او پولي سیاستونو باندې د نړۍوالو ډاډ او باور زیاتېږي.
- پر پولي سیاستونو د اعتباري او پولي شورا د اغېزو پوله ټاکي.
- پر بانکونو د دې بنسټ څارنه ځواکمنه کېږي.
- په ټولیزو افکارو کې د دې بنسټ ځای او موقعیت روښتیا پیدا کوي.
- په هېواد کې له بېلابېلو ادرسونو څخه بانکي قوانینو او مقرراتو ته د پای ټکی کېښودل کېږي.

**د مرکزي بانک د خپلواکۍ د نظریې مخالفین**

په نظري ډول ځینې اقتصاد پوهان په دې باور دي چې اقتصادي نظام هم د نورو نظامونو په شان یوه کیلي ده چې د نورو له ټولګې (مجموعې) څخه ترلاسه کېږي او مرکزي بانک هم له دې ټولګو څخه یو دی. نو له همدې لامله که چېرې د ساز او غږ په سیسټم کې هر تار او خپلواک غږ چې سیسټم یې اړین بولي، ونه غږېږي، نو د غړونو ترمنځ د همغږۍ نه شتون د سیسټم موخې له منځه وړي او هیڅ یو یې نه شي کولی چې موخې ترلاسه کړي، بلکې بانکونه هم نه شي کولی خپلې موخې (د قیمتونو ټیکاو) ترلاسه کړي. نو له همدې لامله دا اړینه نه ده چې ټول سیسټم د مرکزي بانک له خپلواکو کړنو ګټه پورته کړي څو د بانک موخې چې په خپلواک ډول یې ټاکلي او جوړې کړې دي، ترلاسه شي.

د مرکزي بانک خپلواکۍ په اړه بله نیوکه دا ده چې که چېرې د دولت له نورو اقتصادي سیاستونو سره همغږي نه وي، نو په دې صورت کې د مرکزي بانک

خپلواکي د ملي سرچينو د له منځه تلو لامل ګرځي. يا هم په بل ډول که چېرې مرکزي بانک خپلواک وي نو پولي سياستونه يوازې پاتې کېږي، د دولت له نورو سياستونو څخه په جلا ډول پرمخ ځي او د دې کار بدي په لومړيو کې دا ده چې کېدی شي د نورو سياستونو په وسيله خنثا او په عمل کې بې اغېزې پاتې کېږي.
په همدې ډول؛ د مرکزي بانک اعتبار يوازې د مطلوب پولي سياستونو په پلي کولو نه ترلاسه کېږي، بلکې د دې بانک اعتبار هغه وخت ترلاسه کېږي چې د دولت لوی اقتصادي سياستونه هم خپلې موخې ترلاسه کړي. د بېلګې په توګه: که دولت د بوديجې له لوی کسر سره مخ وي او مرکزي بانک د پيسو له انقباضي سياست(Contractionary Monetary Policy) څخه کار اخلي، نو د هېواد اقتصادي پلانونه به په ټوله کې خپل اعتبار له لاسه ورکړي. نو په داسې حالت کې يا بايد پولي سياست د خپلو موخو له ترلاسه کولو څخه لاس په سر شي او يا هم دا چې مالي سياست له پولي سياست څخه پېروي وکړي.
نو له دولت څخه د مرکزي بانک خپلواکي هغه وخت منل کېدی شي چې دولت په اقتصادي چارو کې مهم مسؤليت پر غاړه ونه لري او بنسټيزه دنده يې يوازې په هېواد کې د نظم او امنيت ساتل وي. خو دا چې اوسمهال د هېواد په اقتصاد کې د هر ډول ګډوډيو او بې نظميو وروستۍ پړه پر دولت اچول کېږي او وګړي هم د خپلو ټولو اقتصادي او ټولنيزو ستونزو لکه اقتصادي ودې، د قيمتونو ټيکاو او ثبات، روزګارتيا او نور له دولت څخه غواړي، نو په داسې حالت کې چې دولت داسې درانه مسؤليتونه منلي دي، نو نه شي کولی او نه هم بايد د هېواد پولي بنسټ پر وړاندې بې پرې وي. نو که دولت د ټولنيزو او اقتصادي موخو وروستی (نهايي) ځواب ويونکی ګڼل کېږي، نو نه شي کولی او منطقي هم نه ده، چې دولت د دې موخې له نيل څخه بېرون او محروم شي (۵:۵۷۲).

# دویم څپرکی

## مرکزي بانک د یوې اقتصادي تصدۍ په توګه

مرکزي بانک د یوې اقتصادي تصدۍ په توګه د دوو لویو ځانګړتیاؤ لرونکی دی. لومړۍ دا چې د تصدۍ په توګه مرکزي بانک د تصدي اقتصاد علم په مفهوم دی. دویمه دا چې د ملي اقتصاد له اړخه د ملي پیسو د ارزښت ساتونکی دی او د یو خپلواک بنسټ په توګه د هېواد له اقتصادي سیاستونو، د ملي پیسو ارزښت ساتلو او استقرار، بشپړه روزګارتیا، د تادیاتو له بیلانس /توازن او انډولیزې ودې څخه ملاتړ کوي. د مرکزي بانک جوړښت په بېلابېلو هېوادونو کې د بانک پانګې څښتنانو په پام کې نیولو سره توپیر لري (وروسته به بحث پرې وکړو). د نړۍ د هېوادونو مرکزي بانکونه د عامه تصدۍ حقوقي بڼې، خصوصي تصدي حقوقي بڼې او یا هم د دواړو یو ځایوالی (ترکیب) دی. مرکزي بانکونه د اقتصادي اصل له مخې خپلې کړنې پرمخ بیایي، خو د نورو بانکونو او خصوصي مالي بنسټونو په شان یې د ګټې ترلاسه کول بنسټیزه موخه نه ګڼل کېږي. خو دا په دې مانا هم نه ده چې مرکزي بانک له ګټې څخه پرته خپلې کړنې ترسره کوي (۱:۴۲).

## ۱: پولي سیمه (Currency Territory) او پولي ذیصلاح بنسټونه (Currency Instance)

پولي سیمه هغې سیمې ته ویل کېږي چې یو یا څو پولي واحدونه په کې په رسمي ډول په اقتصادي راکړو - ورکړو کې کارول کېږي. پولي ذیصلاح بنسټونه هغه بنسټونه یا اداري دي چې د رسمي پولي واحد خپرولو واک لري.

خو د مرکزي بانکونو په تاریخ کې لیدل کېږي چې د ملي پیسو خپرولو مدیریت مخکښان د مالیې وزارت او یا هم د خزانې اداره ( د بېلګې په توګه د جیپوتي، بحرین، مسقط-عمان، یمن، برازیل او تایلنډ پولي کمیسیون ( The Commissionaire of Currency, Exchange Control Board, Currency Board) و چې وروسته دا دنده مرکزي بانک ته لېږدول شوې ده.

د پیسو خپروونکی بنسټ د راکړو - ورکړو او د سیمې او حلقې ترمنځ اړیکو په پام کې نیولو سره بېلابېل حالتونه موجود وي چې دلته یې درې شونتیاوې تر لوست لاندې نیسو:

**لومړی:** دا چې قاعدتاً او په ټوله کې دواړه یو بل تر پوښښ لاندې نیسي. دا په دې مانا چې پولي سیمه د پیسو خپرولو یو مرکزي مقام دی. د بېلګې په توګه: د افغانستان پولي سیمه د افغانستان جغرافیایي سیمه ده چې پیسې په کې د یو پولي بنسټ (د افغانستان بانک) له لوري خپرېږي.

**دویمه:** په یوه واحده جغرافیایي سیمه کې د بېلابېلو بنسټونو له لوري خپرې شوې پیسې په راکړو - ورکړو کې کارول کېږي. د مثال په توګه: په استثنایي حالتونو کې، د جهادي ګوندونو د حکومت او د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې د ملي پیسو ترڅنګ چې د افغانستان بانک له لوري خپرېدې، څو ډوله نورې پیسې (د افغانۍ په نوم) د واکمنو ګوندونو له لوري د خپلې واکمنۍ په سیمه کې په چلښت کې وې. د انتقالي دولت پر مهال او د افغانستان جمهوري دولت له رامنځته کېدو څخه یو څه وخت وروسته هم د افغانۍ پولي واحد تر څنګ پاکستانۍ روپۍ، ایراني ریال او امریکایي ډالر هم په اقتصادي راکړو - ورکړو کې د تبادلې د وسیلې په توګه کارول کېدل. اوسمهال هم امریکایي ډالر د نه لېږدیدونکو ملکیتونو او د لیږد وړ قیمتي شتمنیو په راکړو - ورکړو کې د تبادلې د وسیلې په توګه کارول کېږي.

د بریتانیا، فرانسې او هالنډ استعماري واکمنۍ پر مهال (له استعمار څخه د مستعمرو خلاصون تر وخته) هغه پیسې چې د استعماري هېوادونو د مرکزي بانکونو له لوري د ملي پیسو په توګه خپرېدې، په لاندې شوو هېوادونو کې هم د چلښت وړ وې. په ځینو هغو مستعمره هېوادونو کې چې د پیسو خپروونکي بنسټونه یې درلودل، د ملي پیسو ترڅنګ د استعماري هېوادونو پیسې هم په اقتصادي راکړو - ورکړو کې کارول کېدې.

په عادي حالت کې لیدل کېږي چې پولي سیمه په بېلابېلو سیمو پورې تړلې وي. لکه د اروپا پولي ټولنه چې د اروپایي ټولنې مرکزي بانک له جوړېدو څخه مخکې رامنځته شوې، د پولي ټولنې په چوکاټ کې یې غړو هېوادونو ته د دې واک ورکړل شوی چې ملي پیسې د پخوا په څېر خپرې کړي. په دې ټولنه کې د غړو هېوادونو یوازې پولي سیاستونه همغږي کېدل. خو کله چې غړي هېوادونه پر یو واحد پولي واحد (Euro) سلا شول، نو غړو هېوادونو یوازې یورو او هغه هم د اروپایي ټولنې د مرکزي بانک په اجازه خپرولی شوې.

د امریکا په متحده آیالتونو کې له ۱۹٦۴ میلادي کال څخه وروسته د پیسو خپرولو واک فډرل ریزرف بانکونو (Federal Reserve Banks) او د خزانې اداري ته ورکړل شوی ؤ چې د خزانې اداره یوازې د فلزي پیسو، د سپینو زرو تصادیق چې په سپینو زرو باندې اوړېدونکي وو او د متحده آیالتونو نوټونو (United state Notes) په خپرولو ګمارل شوې وه. په چلښت کې د دولتي بانکنوټونو حجم د نغدو پیسو د حجم ۲۵٪ جوړوله او د سپینو زرو پیسو حجم هم ډېر لږ ؤ. په عمل کې د پیسو خپرول له فډرل ریزرف بانکونو (Federal Reserve Banks) سره وو. د امریکا متحده آیالتونه په دولسو برخو وېشل شوي دي چې هر (Federal Reserve Districts) څو آیالتونه په بر کې نیسي او په هره سیمه کې یو مرکزي بانک جوړ شوی دی. د نیویارک فډرل ریزرف بانک (Federal Reserve Bank of New York) د دې بانکونو تر ټولو لوی بانک

دی چې په چلښت کې د پیسو نړدې څلورمه برخه په همدې بانک پورې اړه لري.

**درېیمه:** د پیسو خپرولو یو واک لرونکي بنسټ (مرکزي بانک) پر وړاندې بېلابېلې جغرافیايي سیمې شته. د بېلګې په توګه: په اروپايي ټولنه کې د اروپايي ټولنې مرکزي بانک د یورو خپرولو واک لري چې د اروپايي هېوادونو په جغرافیايي سیمه کې د قانوني پیسو په توګه د پیسو دندې پرمخ وړي (په بېلابېلو جغرافیايي سیمو کې) خو د (Federal Reserve Notes) خپرول یوازې د مرکزي بانک سیستم تر څارنې لاندې ترسره کېږي. د دې بنسټ په مدیریتي پلاوي کې د مرکزي بانک له هرې سیمې یو استازی (Federal Reserve Agent) شتون لري. د متحده آیالتونو پولي سیاست حاملین هم سیمه ییز مرکزي بانک او هم (Governors of the Federal Reserve System Board) دي.

لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، په استعماري هېوادونو (فرانسه، انګلستان، هالنډ او پرتګال) کې مرکزي بانکونو د پیسو خپرولو انحصار درلوده او مستعمره هېوادونو داسې مرکزي بانک نه درلوده چې د خپلواک پولي سیاست او د پیسو خپرولو دندې پرمخ یوسي.

## د مرکزي بانک ارګانونه

د مرکزي بانک د ارګانونو په اړه بنسټیز موضوعات لکه د مرکزي بانک د پانګې څښتنان، حقوقي بڼه او د ځانګړو ارګانونو ډولونه تر بحث لاندې نیول کېږي.

## ۲: په مرکزي بانکونو کې د پانګې څښتنان

مخکې مو بانکونه د یوې تصدۍ په توګه وپېژندل چې د تولید وسایل لري او د معقول جوړښت له مخې بانکي خدمتونه وړاندې کوي. نو له همدې لامله مرکزي بانک هم یوه اقتصادي تصدۍ ده چې ځانګړې موخې لري او د دې

موخو د ترلاسه کولو لپاره د تولید وسایل (د تولید د څلورم عامل یعنې د مدیریت په وسیله) داسې یو ځای کوي څو اقتصادیت او ګټورتوب لوړ کړي. د پانګې څښتنان له یوې خوا د تولید عواملو په جوړښت کې خپله پانګه د تصدۍ په واک کې ورکوي او له بلې خوا د مدیریت پر غاړه اخیستو یا د مدیریت په انتصاب (چې تر ډېره د تصدي په حقوقي بڼې پورې اړه لري) سره د تولید عواملو په جوړښت کې بنسټیزه ونډه لري.

د مرکزي بانکونو په اړه د یوې څېړنې (له ۱۹۶۳ میلادي کال نه تر ۱۹۶۶ میلادي کال پورې) له مخې چې د پروفیسور دوکتور اوسوالدهان (دې فقید پروفیسور د لیکونکي د دوکتورا لارښود دنده هم پر غاړه درلوده) او د دوکتورا ځینو نورو نوماندانو (د لیکونکي په ګډون) له لوري ترسره شوه چې د ۱۹۶۱ کال په وروستیو کې د نړۍ په ۶۷ هېوادونو کې:

- د ۴۴ هېوادونو مرکزي بانکونو پانګه د دولت په واک کې وه.
- د ۱۲ نورو مرکزي بانکونو پانګه قسماً خصوصي وه.
- د ۱۱ نورو مرکزي بانکونو پانګه په بشپړ ډول خصوصي وه.

په پورته یادو شوو ۱۲ مرکزي بانکونو کې د پانګې لویه برخه د سوداګریزو بانکونو (د متحده آیالتونو په ګډون) له لوري تیاره شوې وه (دې حالت د شهید داوود خان جمهوریت په وخت کې د بانکوالۍ د لومړي قانون له جوړېدو څخه مخکې په افغانستان کې هم موجود و). له دویم نړۍوال جنګ څخه وروسته د اکثره مرکزي بانکونو پانګه یا د پخوانیو مرکزي بانکونو د دولتي کېدو (د بېلګې په توګه: په انګلستان او فرانسه کې) له لامله او یا هم دا چې نوي جوړ شول (په ځانګړي ډول په هغو مستعمره هېوادونو کې چې خپلې ازادۍ ته مایل شول)، د دولت په واک کې راغله.

**۱.۲: هغه مرکزي بانکونه چې په بشپړ ډول د دولت په ملکیت کې دي**

د څېړنې پایله دا په ګوته کوي چې په ۱۹٦٦ میلادي کال کې د مرکزي بانکونو له ډلې څخه د ۹۹ مرکزي بانکونو پانګه په دولت پورې اړه لري.

**۲.۲: هغه مرکزي بانکونه چې د پانګې یوه برخه یې په دولت او بله برخه یې په سوداګریزو بانکونو پورې اړه لري:** د بېلګې په توګه: د مکسیکو او اکوادور مرکزي بانکونه یاد شوي دي.

**۲.۳: د اکوادور مرکزي بانک**

دا بانک دوې کټګورۍ پانګه لري. د A کټګوري له هغې ونډې (Acciones Bancaria) څخه جوړه ده چې سوداګریزو بانکونو پر غاړه اخیستې ده خو د هر سوداګریز بانک د پانګې ونډه باید حداقل ۵٪ او حداکثر ۲۰٪ د سوداګریز بانک له شخصي پانګې ډېره نه شي. هغه ونډې چې د سوداګریز بانک له لوري ترلاسه شوي دي، په ټوله کې د مرکزي بانک ۹۰٪ پانګه جوړوي او ۱۰٪ نورې ونډې د B کټګورۍ دي چې په دولت پورې اړه لري.

**۲.۴: د مکسیکو مرکزي بانک**

د مکسیکو مرکزي بانک پانګه هم په دوو بنسټیزو کټګوریو (A او B) وېشل شوې ده چې A کټګوري یې په دولت او B کټګوري یې په کورنیو ـ خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو په څانګو پورې اړه لري. په همدې ډول؛ د دولت ونډه ۵۱٪ او د سوداګریزو بانکونو ونډه هم ۴۹٪ د بانک بنسټیزه پانګه (تادیه شوې پانګه او قانوني زیرمې) جوړوي. همداراز؛ هغه ونډې چې لا هم پلورل شوې نه دي، د مالیې وزارت په خزانه کې ساتل کېږي او د پلور تر وخته پورې د رایې حق نه لري.

**۲.۵: د ونډه وال په توګه عامه بانکونه او دولت**

په دوو هېوادونو (چیلي او ترکیه) کې د مرکزي بانک بنسټیزې پانګې جوړښت په لاندې ډول دی:

### ۲.٦: د چیلي هېواد مرکزي بانک

د چیلي هېواد مرکزي بانک پانګه په لاندې څلورو کټګوریو وېشل شوې ده:

- دولت ۲۳٪؛
- کورني یا داخلي بانکونه د خپلي تادیه شوې پانګې ۱۰٪؛
- په چیلي هېواد کې د بهرنیو بانکونو څانګې د خپلې کارول شوې پانګې ۱۰٪؛ او
- اقتصادي، حقوقي او حکمي واحدونه (له بانکونو څخه پرته)، پاتې پانګه.

په عمل کې د دولت او خصوصي واحدونو پانګه د بدلون په حال کې وي او قسماً د بانکونو له لوري تعویض کېږي. په ځانګړي ډول د بانکونو ونډه وال د مرکزي بانک د رهبرۍ غړو ټاکلو په برخه کې انحصار لري.

### ۲.۷: د ترکیې مرکزي بانک

د ترکیې مرکزي بانک پانګه هم په لاندې څلورو کټګوریو وېشل شوې ده:

- د دولت ونډه ۲۴٪.
- د کورنیو یا داخلي بانکونو ونډه ۳۹٪.
- په ترکیه کې د بهرنیو بانکونو څانګو ونډه ۷٪.
- تصدۍ او خصوصي وګړي ۳۰٪.

### ۲.۸: د دولت له ونډې پرته مرکزي بانکونه

د ځینو مرکزي بانکونو په بنسټیزه پانګه کې د دولت د ونډې اندازه ځانګړې شوې نه ده.

### ۲.۹: د یوازېني ونډه وال په توګه سوداګریز بانکونه

په المان کې تر ۱۹۵۹ میلادي کال پورې سوداګریزو بانکونو کولی شول چې د ایالتي مرکزي بانکونو ونډه وال واوسي. خو اوسمهال دا موضوع بدله شوې

ده (وروسته به تر څېړنې لاندې ونیول شي). د امریکا متحده ایالتونو ریزرف بانکونو او د ایټالیا بانک پانګه په بشپړ ډول د بانکونو په ملکیت کې ده.
د ایټالیا بانک (Banca d'Italia) د ۱۹۳٦ میلادي کال بانکي قانون له مخې؛ ددې بانک پانګه باید یوازې د انفرادي ونډه والو په ملکیت کې وي. نو له همدې لامله د بانک بنسټیزه پانګه هم د سپما کسه، د عامه حقوقي پور بنسټ (مؤسسه)، کورني بانکونو، د بیمې شرکتونو او د عامه هوساینې په بنسټونو پورې اړه لري. د ونډو لېږد یوازې ورته بنسټ ته د ایټالیا بانک د عالي شورا په اجازه ترسره کېدی شي.
د امریکا په متحده ایالتونو کې د ۱۲ ایالتي مرکزي بانکونو (Federal Reserve Banks) پانګه یوازې د دولس ګونو سیمو بانکونو له لوري ورکول کېږي. هر سوداګریز بانک اړ دی چې د ایالتي مرکزي بانک لږ تر لږه ٦٪ پانګه ترلاسه کړي. هغه ملي بانکونه چې جواز یې د فدرالي/ مرکزي حکومت له لوري ورکړل شوی وي، کولی شي ازاد غړیتوب ترلاسه کړي.

## ۲.۱۰: بانکونه او خصوصي واحدونه د مرکزي بانک د پانګې څښتنانو په توګه

په ۱۹٦٦ میلادي کال کې په سویلي امریکا کې د کولمبیا په مرکزي بانک (Banco de la República Columbia) کې کورني خصوصي بانکونو ٦٦٪، په کولمبیا کې د بهرنیو بانکونو څانګې ۷٪ او دولت هم ۲٦٪ د مرکزي بانک په پانګه کې ونډه لري.

## ۲.۱۱: د نه کنټرول کېدونکي ملکیت اړیکې

په ټوله کې څلور مرکزي بانکونه داسې دي چې د اساسنامې او قانون له مخې یې په پانګه کې د دولت ونډه ځانګړې شوې نه ده. د پیسو خپرولو دا بنسټونه عبارت دي له: د سویس، سویلي افریقا، پرتګال او انګولا مرکزي بانکونه دي.

په لنډ ډول ویلی شو چې په هغو ۱۲۱ مرکزي بانکونو کې چې د اوسوالدهان له لوري څېړل شوي دي، ۹۹ مرکزي بانکونه په بشپړ ډول او ۱۵ نور بنسټونه هم قسماً د دولت په ملکیت کې وو. په ۳ نورو مرکزي بانکونو کې سوداګریزو بانکونو له خصوصي واحدونو سره په ګډه بنسټیزه پانګه په واک کې درلوده او یوازې په ۴ مرکزي بانکونو کې بنسټیزه پانګه د خصوصي بنسټونو له لوري ورکړل شوې وه.

کېدای چې د ۱۹٦٦ میلادي کال له هغې څېړنې څخه وروسته چې د مرکزي بانکونو د پانګې جوړښت او حقوقي بڼې په اړه ترسره شوې وه، د ځینو هېوادونو په بانکي قوانینو کې ځینې بدلونونه هم رامنځته شوي وي، چې په دې درسي کتاب کې ترېنه یادونه نه کوو. ځکه چې دلته زموږ موخه د نړۍ د ځینو هېوادونو د مرکزي بانکونو بنسټیزې پانګې او یا هم تادیه شوې پانګې په جوړښت کې بېلابېلې شونتیاوې دي.

دا چې د پانګې د ملکیت جوړښت د مرکزي بانکونو د بانکي او پولي سیاستونو د پرېکړو په برخه کې څه اهمیت او اغېزې لري، په راتلونکو بحثونو کې تر لوست لاندې نیول کېږي.

## ۳: د مرکزي بانک مدیریتي ارګانونه

په مرکزي بانکونو کې بېلابېل ونډه وال موجود وي چې په مدیریت او جوړښت باندې یې هم اغېزې کوي. مرکزي بانک یوه تصدي ده چې په استثنایي ډول پکې قسماً خصوصي حقوق او قسماً هم عامه حقوق پلي کېږي. نو په دې توګه؛ ددې دوو موضوعاتو په پام کې نیولو سره ویلی شو چې مرکزي بانکونه هم د مدیریتي ارګانونو په پام کې نیولو سره دوې بېلابېلې بڼې لري. د بېلګې په توګه: داسې مرکزي بانکونه هم شته چې د ونډه والو عمومي مجمع نه لري او یوازې د دولت مامورینو (مالیې وزارت) له لوري مدیریت کېږي. په همدې

ډول داسې مرکزي بانکونه هم شته چې د ونډه والو مجمع او د سلاکارې شورا مدیره پلاوي لري.
دلته د مدیریتي ارگانونو په پام کې نیولو سره د هغوی د واک موضوع هم ډېر اهمیت لري. هغه مرکزي بانکونه چې یوازې د دولت په ملکیت کې دي، د ونډه والو پلاوي (Board of Shareholders) نه لري. دا چې په دولتي بانکونو کې دولت د بانک د ټولې پانگې څښتن وي، نو واک لرونکی بنسټ د مالیې وزارت وي. دا چې دې موضوع په سوسیالیستي هېوادونو کې هم صدق کاوه، نو په افغانستان کې هم د کمیونیستي رژیم واکمنۍ پر مهال د بانکوالۍ وزارت موجود و او د مرکزي بانک په گډون ټول بانکونه د دولت په واک یا ملکیت کې وو. نو له همدې لامله د دې بانکونو د مدیره پلاوي ټاکل او لیرې کول هم د یاد وزارت له لوري کېدل.
په هغو بانکونو کې چې د ونډه والو عمومي مجمع (د ونډه والو مجمع، عمومي مجمع او یا هم د پانگې څښتنانو مجمع) لرونکې وي، کېدای شي چې درې حالتونه وجود ولري:
**لومړی:** عمومي مجمع کولی شي د عالي شورا، مدیره پلاوي او د نورو سلاکارو کمېټو غړي وټاکي او یا هم د مدیره پلاوي او نورو کمېټو غړو انتصاب واک، عالي شورا ته ولېږدوي.
**دویم:** ونډه والو ته یوازې د گټې وېش، انحلال، د ملکیتونو پلور او د عاید وېش په برخه کې حق ورکول کېږي. د وېش ډول په اساسنامه یا اړوند قوانینو کې ټاکل کېږي.
**دریېم:** د مرکزي بانک په معاملاتي سیاست کې د نفوذ واک ونډه والو ته لېږدول کېږي.
په هغو مرکزي بانکونو کې چې د قانون له مخې د افتخاري شوراگانو لرونکي وي، د مدیریت څلور حالتونه لري:

**لومړی:** افتخاري شوراګانو ته لږ واک ورکول کېږي. د بېلګې په توګه : د مشورتي دندو په برخه کې.
**دویم:** افتخاري شوراګانو ته ډېر واک ورکول کېږي. د بېلګې په توګه: د پیسو د تکیې (پشتوانې) څارنې او کنټرول حق.
**درېیم:** د مدیره پلاوي د ټولو غړو یا د یوې برخې انتصاب واک ورکول کېږي.
**څلورم:** د مشورې، څارنې، په پولي سیاست کې د نفوذ او یا هم په افتخاري ډول د مرکزي بانک د مدیریت په برخه کې د ګډون لږ یا ډېر واک ورکړه، په دې حالت کې مشورتي شورا د پولي شورا ځانګړتیا لري.
په هغو مرکزي بانکونو کې چې د رسمي دندو شورا درلودونکی وي، دوه مدیریتي امکانه شتون لري:
**لومړی:** که چېرې دا ډول مدیریت د سلاکارۍ شورا یو اجرایوي ارګان وي، نو د پالیسۍ جوړولو په برخه کې یې نفوذ هم تر یوه بریده کم وي. اجرایوي مدیران د افتخاري سلاکارۍ (مشورتي) شورا سره په ګډه په پولي سیاست نفوذ واردوي او د پرېکړو پلي کولو ځواک یې د افتخاري سلاکارۍ شورا د غړو او د دې مدیرانو په فني ځرنګوالي پورې اړه لري.
د مرکزي بانکونو مدیریت په اړه بله موضوع چې خورا اړینه ده، د مرکزي بانک مدیریت او بېلابېلو شوراګانو ترمنځ د دندو وېش دی چې په دې اړه درې شونتیاوې شتون لري:
**لومړی:** د مرکزي بانک پالیسي د رسمي مدیرانو له لوري پر مخ وړل کېږي. دا په دې مانا چې پرېکړې او اجرایوي دندې د یوه مقام له لوري پرمخ وړل کېږي چې د اوسوالدهان له لوري د واحد مدیریت (۱ شکل) په بڼه پېژندل شوی دی. دا اداري شکل د اروپایي هېوادونو د سهامي شرکتونو د رهبرۍ له بنسټونو سره ورته والی لري چې د مدیره پلاوي (Board of Directors) په نوم

پېژندل کېږي او هغه کس چې د دې پلاوي په رأس کې وي، د مشر یا رییس په نوم یادېږي.

د بېلگې په توگه: د سویس ملي بانک عمومي مجمع، د بانک شورا یو کاري پلاوی (۴۰ غړي)، د بانک کمېټه (۱۰ غړي) او مدیره پلاوی (مشر او دوه غړي) لري.

**دویم: مرکزي بانک (فدرالي)**

که چېرې د مرکزي بانک د سیاست کرښې د مدیره پلاوي او د سلاکارې شورا له لوري په گډه ټاکل کېږي، نو د گډ مدیریت (Joint Management) او یا هم ۲ شکل په نوم یادېږي. د سازماندهۍ دا بڼه د انگلوساکسون هېوادونو سهامي شرکتونو له (Outside Directors) سره ډېر ورته والی لري. ددې بنسټ او سازمان اجرایوي غړي د مشر یا گورنر (Governor) په نوم یادېږي. په گډو گټو لرونکو هېوادونو (Common Wealth Nations) کې افتخاري غړي د مدیره غړو درجه لري (Other Member of the Board) او پولي شورا د مشرانو پلاوي (Board of Directors) په نوم یادېږي.

اجرایه یا عامل پلاوي (Board of Governors) په فردي ډول په دوو برخو وېشل کېږي، چې د رایې ورکړې حق په پام کې نیولو سره له پولي پلاوي سره توپیر لري. د رایې حق لرونکي غړي د مشر یا گورنر او د رایې حق نه لرونکي غړي مدیر (Manager) یا هم مرستیال گڼل کېږي.

**درېیم:** که چېرې د مرکزي بانک د سیاست په برخه کې پرېکړې د افتخاري شورا د پلاوي او د پرېکړو پلي کولو دنده د اجرایوي یا عامل پلاوي پر غاړه وي، د وېشل شوي مدیریت یا له ۳ شکل څخه خبرې کېږي. د بېلگې په توگه: د عمومي مجمع لرونکی مرکزي بانک: د یونان بانک د ونډه والو عمومي مجمع لرونکی دی، مدیره پلاوي چې له مشر یا گورنر، مرستیال او ۹ مدیره غړو (Board of Directors) څخه جوړ دی، عامل یا اجرایه پلاوی چې له مشر، د

مشر مرستیال او ۲ اجرایي مدیرانو (Executive Committee) څخه جوړ دی او اداري پلاوی چې له مشر، د مشر مرستیال، ادارای عمومي مدیر او له یو یا څو مدیرانو (Board of Management) څخه جوړ دی، لرونکی دی.

**د پیسو څار شورا لرونکی مرکزي بانک**

یوازې د تایوان مرکزي بانک دا ډول شورا لري چې عبارت دي له:

- عالي شورا (Board of Directors) چې له ۱۱ تر ۱۵ مدیران لري.
- اجرایه یا عامل کمېټه (Executive Committee) چې له مشر یا گورنر او ٦ اداري مدیرانو څخه جوړه ده.
- د څار پلاوی (Board of Supervisors) چې د ملي حکومت له ۷ غړو څخه جوړ دی.

**له عمومي مجمع څخه پرته مرکزي بانک**

د کاناډا بانک (Bank of Canada) مدیره پلاوی چې له مشر یا گورنر، د مشر مرستیال، ۱۲ مدیرانو او د مالیې وزارت له مرستیال څخه جوړ دی او د مشورتي رایې لرونکی دی. د عامل کمېټه (Executive Committee) چې له مشر، د مشر مرستیال او یو مدیر څخه جوړه ده او د مشرانو پلاوي (Board of Governors) چې له مشر او د مشر له دوو مرستیالانو څخه جوړ دي.

**د هندوستان مرکزي بانک (Reserve Bank of India)**

د هندوستان مرکزي بانک مدیره پلاوی (Central Board of Directors) چې له مشر، د مشر درېیو مرستیالانو، ۱۰ مدیرانو او د حکومت له یو استازي مدیر نه جوړ دی چې د مشر مرستیالان او د حکومت استازی د رایې حق نه لري. د مرکزي بورډ کمېټه له مشر او نورو غړو څخه جوړه ده، د مشرانو پلاوی (Board of Governors) چې له مشر او درېیو مرستیالانو څخه جوړ دی او یوازې مشر د پولي شورا په ناستو کې د رایې حق لري.

## ۴: د پولي شوراګانو اهمیت (Importance of Currency Board)

د مرکزي بانکونو د ډلبندۍ په اړه په زړه پورې موضوع دا ده چې په کوم ډول او شکل کې مرکزي بانک د پولي سیاست په مسایلو کې ازاد لاس لري. په دې اړه ویلی شو چې واحد مدیریت په یوازې ځان کولی شي چې د بل ارګان له لاسوهنې څخه پرته په خپلواک ډول د پولي سیاست په برخه کې پرېکړه وکړي. په هره اندازه چې شوراګانې او ارګانونه ډېر وي؛ نو په همغه اندازه د پولي سیاست په برخه کې پرېکړې او د هغوی پلي کول هم پېچلي او ستونزمن وي. د ۲ او ۳ شکل په قانوني مقرراتو کې افتخاري او مشورتي شوراګانو ته د پولي سیاست د پرېکړو په برخه کې ډېر واک ورکړل شوی دی.

خو دلته دا پوښتنه پیدا کېږي چې د اجراییه یا عامل پلاوي غړي لکه مشر، د ټولو مشر (عمومي رییس)، عمومي مدیر او ادارای مدیر تر کومه بریده پورې پولي سیاست تر اغېز لاندې راوستلی شي؟ اوسوالدهان په دې اړه له لاندې معیارونو څخه یادونه کوي:

**لومړی معیار:** له پولي شورا سره د عامل مشر یا مدیر تړلتیا او د پولي شورا له لوري اجرایوي مرجع ته د واکونو لېږد دی. دا په دې مانا چې، ایا مشر یا مدیر په عالي شورا او یا هم مشورتي کمېټو کې د ګډون حق لري؟ او یا هم دا چې ایا د شورا په پرېکړو کې د رایې حق لري؟

**دویم معیار:** هغه لږ تر لږه (حداقل) قواعد دي چې له اجرایوي ډلې سره د پولي شورا او پلاوي د ناستو او غونډو د شمېر په اړه جوړ شوي دي.

**درېیم معیار:** د شوراګانو په ناستو کې د عامل یا اجرایه پلاوي د غړو اغېز او نفوذ دی.

**څلورم معیار**: د مرکزي بانک شوراګانو د پرېکړو پلي کولو په برخه کې د عامل یا اجرایه پلاوي نفوذ او اغېز دی. څکه چې دا شوراګانې په ټولیز ډول د مرکزي بانک د سیاست بنسټیزې او ستراتیژیکې کرښې ټاکي او ددې بنسټیزو کرښو د پلي کولو جزیات او ځینې پرېکړې د اجرایه پلاوي له لوري کېږي چې د پولي سیاست په برخه کې د عامل پلاوي نفوذ په ګوته کوي. د دې اغېزو څرنګوالی به د اجراییه پلاوي د دندو لایحو په برخه کې وڅېړل شي.

## ۵: د مرکزي بانک د تړلتیا/وابستګۍ مفکوره

د اوسوالدهان په اند؛ د مرکزي بانک تړلتیا د دولت او د بانک مدیریت ترمنځ د اړیکو له څرنګوالي څخه عبارت دی. نوموړی په دې اړه له پنځو اړیکو څخه یادونه کوي (۱:۴۷):

### ۵.۱: د مرکزي بانک مادونیت (Subordination)

په دې حالت کې مرکزي بانک د یو وزارت څانګه ګڼل کېږي. دا وزارت د مرکزي بانک د اجرایي یا عامل مشر ټاکلو او لیرې کولو واک لري او د بانک مدیریت ته لارښوونې کوي. یاد وزارت د مرکزي بانک پولي سیاست او بانک ته د قوانینو او مقرراتو د جوړولو مسؤلیت پر غاړه لري. نو که چېرې دا حالت په بشپړ ډول رامنځته شي، نو له حکومت سره د مرکزي بانک له بشپړې تړلتیا څخه خبرې کېږي.

### ۵.۲: د مرکزي بانک همپالنه (integration)

په دې حالت کې مرکزي بانک د وزارت په بڼه وي. د مرکزي بانک مشر د وزیر حیثیت لري او د کابینې غړی وي. دا واقعیت په بېلابېلو هېوادونو کې د حکومت په څرنګوالي پورې اړه لري. که چېرې د حکومت مشر یا لومړی وزیر ټاکونکي وي، نو د مرکزي بانک وزیر یا مشر د سلا کار ځانګړتیا لري. څکه چې د پرېکړو پرېکنده والی (قاطعیت) د لومړي وزیر په لاس کې وي او د بانک مشر ته یوازې دا موکه ورکول کېږي څو له خپل مؤقف څخه استازیتوب وکړي

او خپل نظرونه په مساويانه ډول له وزيرانو سره شريک کړي. په داسې حال کې چې د پېروي په حالت کې يوازې اړوند وزير سلا او مشوره ورکوي.
په يوه داسې کابينه کې چې د هم قطارۍ (Collegial) په اصل ولاړه وي، د مرکزي بانک مشر په ځينو مسايلو  لکه:( اقتصادي سياست، پولي سياست او بانکي سياست) باندې اغېز کولی شي. خو دلته دا ګواښ (خطر) هم شته چې کېدای شي د کابينې د ځينو غړو د غوښتنو پر وړاندې ودرېږي. خو بيا هم د قانون او مقرراتو له مخې، د مرکزي بانک تړلتيا د ۱ شکل په پرتله ځو ځلې کمه وي. په عمل کې ليدل شوي دي چې د مديريت د همنوايۍ اصل په پرتله د هم قطارۍ اصل په حالت کې تړلتيا ډېره وي.

**۵.۳: يو شان يا مساوي حقونه (Equal Rights)**

په دې حالت کې مرکزي بانک د حکومت د ټولو غړو معادل دی. په دې حالت کې لاندې فرعي شونتياوې رامنځته کېدی شي:

**لومړی:** له حکومت سره د مرکزي بانک اړيکه همغږې وي. دواړه لوري اړ وي چې د پولي سياست او اقتصادي مسايلو په برخه کې همغږي رامنځته کړي. خو د دې دواړو بنسټونو ترمنځ د نظر د يووالي نه شتون په حالت کې د منځګړتيا يا قضاوت په برخه کې د يو لوړ پوړي مقام شتون اړين وي.

**دويمه:** که چېرې دا مقام له پارلمان څخه لوړ وي، نو مرکزي بانک بايد د اساسي قانون له مخې د څلورم ځواک په بڼه او يا هم د اجرايه قوې د دويم ځواک په توګه د اجرايه قوې او د دولت مشر ترڅنګ تنظيم شي. په دې حالت کې مرکزي بانک د پولي قوانينو په برخه کې د رهبرۍ ځای لري او د حکومت پر وړاندې له بشپړې خپلواکۍ څخه برخمن وي.

**درېيمه:** انډول (تعادل) هغه وخت له منځه ځي، کله چې لازمه همغږي له منځه ولاړه شي. د مرکزي بانک ازادي هغه وخت اوج ته رسېږي کله چې بانک

د اجرايوي ځواک د دويمې ستنې په ډول له قضايه قوې سره په خوا کې رامنځته شي.

**۴.۵: د مرکزي بانک مافوقيت**

په دې حالت کې مرکزي بانک د حکومت پر وړاندې په لوړ موقف کې ځای نيسي او په اقتصادي سياست او پولي سياست باندې د تحکم له حق څخه برخمن وي. په دې حالت کې مرکزي بانک ته هم واک ورکول کېږي چې په ټوله کې د دولت د بهرنۍ سوداګرۍ سياست وټاکي.

د اوسوالدهان په باور؛ دې حالت د مرکزي بانک په تاريخ کې يوازې يو وار او هغه هم د ۱۹۴۶ او ۱۹۴۹ ميلادي کلونو (له دويم نړۍوال جنګ نه وروسته) ترمنځ په ارجنټاين کې د بانکونو له دولتي کېدو څخه وروسته شتون درلوده. د پورونو، اقتصاد، بوديجې او پولي سياست له پوره واک سره د ارجنټاين هېواد مرکزي بانک ته ولېږدول شو. په همدې ډول يو لړ نور دولتي ارګانونه هم د مرکزي بانک تر نفوذ او اغېز لاندې راغلل او په دې ډول د ارجنټاين ملي اقتصاد د مديريت دنده ياد بانک ته وسپارل شوه.

د اوسوالدهان څېړنه دا په ګوته کوي چې؛ په عمل کې له هر حالت څخه په يوازې ډول ګټه نه ده پورته شوې بلکې ۱۲۱ مرکزي بانکونه چې تر څېړنې لاندې نيول شوي دي، د دوو حالتونو ډېر ترکيب په کې ليدل شوی دی.

په همدې ډول څېړنه دا هم په ګوته کوي چې له دولت سره د مرکزي بانک مطلقې تړلتيا او يا هم مطلقې خپلواکۍ ترمنځ نور امکانات هم موجود دي چې دلته ترېنه په لنډ ډول يادونه کوو او له ډېر تفصيل څخه ډډه کوو.

په هغو مرکزي بانکونو کې چې پرېکړې يې په بشپړ ډول په دولت پورې تړلې دي، ټولې پرېکړې د دولت له لوري کېږي. په دې حالت کې دوې شونتياوې چې په ښکاره ډول يو له بل سره هر اړخيز توپير لري، موجودې دي:

- د مرکزي بانک مدیریت د مرکزي حکومت د مستقیمو لارښوونو او اوامرو لاندې وي.
- له دې سره ـ سره چې پولي سیاست د مرکزي بانک له لوري ټاکل کېږي، خو په کمېټو کې يې یا اکثره غړي د دولت وي او یا یې هم د مهمې دندې لرونکی استازی په شورا کې ګډون لري. په هر حال؛ پرېکړې د حکومت تر اغېز لاندې وي.

په هغو مرکزي بانکونو کې چې حکومت ته د نه منلو یا رد (ویټو) حق ورکړل شوی وي، حکومت د مرکزي بانک د اجرایه پلاوي په پرېکړو کې لاسوهنه کوي او نېغ په نېغه د ویټو له حق څخه ګټه پورته کوي. حکومت د ویټو له حق څخه په ځانګړي ډول د پولي سیاست د مسایلو په برخه کې ګټه پورته کوي.
حکومت په ځینو مرکزي بانکونو کې د مرکزي بانک مشر د لیرې کولو (عزل) په برخه کې په یوازې ځان پرېکړه کوي او یا هم دا چې د لیرې کولو (عزل) په برخه کې یې اړوند وزیر نفوذ لري.
د مرکزي بانک د مشر لیرې کولو په برخه کې دوه امکانه موجود دي:
**لومړی:** د بانک مشر لیرې کول آسان وي. په دې حالت کې د مرکزي بانک مشر په آسانۍ سره لیرې کېږي او هر وخت چې حکومت وغواړي د یاد بانک مشر د مرکزي بانک یا کوم بل دولتي ارګان له مشورې پرته، لیرې کولی شي.
**دویم:** د بانک مشر لیرې کول د نورو ارګانونو په سلا سره کېږي او په دې ډول یې لیرې کول هم تر یوه بریده پورې ستونزمن وي. په دې حالت کې په پام کې نیول شوي وخت څخه مخکې د بانک مشر لیرې کولو په برخه کې حکومت باید د یو ناپېیلي دولتي ارګان او یا هم د بانک ارګان هوکړه ترلاسه کړي.
په دې حالت کې دوه امکانه شته:

- د مرکزي بانک مشر هغه وخت د مرکزي حکومت له لوري لیرې کېدی شي چې د لیرې کولو په برخه کې یې د پارلمان اجازه ترلاسه شوې وي.
- کله چې د مرکزي بانک مشر لیرې کول د پولي شورا د پرېکړې له مخې کېږي، نو له حکومت سره د بانک مدیریت ترړلتیا د لومړي امکان په پرتله کمه وي، په ځانګړي ډول کله چې د مدیره پلاوي لیرې کېدل په ټوله کې د بحث وړ وي او یا هم دا چې حکومت د پولي شورا غړیتوب ونه لري.

که چېرې د مرکزي بانک پرېکړې له نفوذ څخه پرته کېږي، نو دوې ځانګړتیاوې موجودې دي:

**لومړۍ ځانګړتیا:** د مرکزي بانک له لوري د دولت تمویل محدودېدو یا ستونزمنېدو څرنګوالی.

**دویمه ځانګړتیا:** د مرکزي بانک مشر د مشرتوب وخت یا دوره څومره ده؟. دا په دې مانا چې په هره اندازه چې د مرکزي بانک د مشر د چوپړ/خدمت وخت له درېیو کلونو څخه ډېر وي او تر هر بریده چې د دولت تمویل ستونزمن وي، په همغه اندازه د حکومت پر وړاندې د مرکزي بانک خپلواکي هم ډېره وي.

## ٦: د مرکزي بانک موخې

دا چې د قانون او یا هم دولت له لوري د پیسو ارزښت ساتلو په موخه د پولي سیاست اړوند ډېرى دندې مرکزي بانک ته سپارل کېږي، نو له همدې لامله مرکزي بانک د درېیو دندو پرمخ بېولو مسؤلیت پر غاړه لري چې په لاندې ډول دي:

- د ملي پیسو ارزښت (بهرنى ارزښت او کورنى ارزښت) ساتل.
- بشپړه روزګارتیا.
- د تادیاتو بیلانس انډول او توازن دي.

(Oswald Hahn) د مرکزي بانک دا موخې په داخلي (Endogen) موخو او بهرنیو (Hexogen) موخو وېشي چې د پیسو ارزښت ساتل او د تادیاتو بیلانس انډول د کورنیو، داخلي یا خپلواکو موخو او د بشپړې روزګارتیا ساتل هم د بېروني یا غیر متجانسو موخو په توګه پېژني چې له پولي سیمې څخه بهر اشتقاق شوي دي.

یادې موخې هیڅ وخت هم په یوه وخت کې نه شي ترلاسه کېدی، بلکې یوې ته باید لومړیتوب ورکړل شي. دا چې کومې موخې ته لومړیتوب ورکړل شي، تر ډېره یوه سیاسي موضوع ګڼل کېږي. د بېلګې په توګه: په پرمختللو هېوادونو کې هغه حکومتونه چې د سوسیال ډیموکرات په لوري ترجیح لري، داسې سیاست خپلوي څو د تقاضا د لوړولو له لارې پانګه اچونې ته زمینه برابره کړي (د رهبرۍ ربحې کچې تنزیل له لارې د پیسو حجم لوړول، د ازاد بازار سیاست، د لږ تر لږه/حداقل زیرمې سلنې راکمول او د پولي سیاست نور وسایل) چې په پایله کې یې د روزګارتیا کچه لوړېږي او د عاید او اقتصادي ودې د لوړېدو لامل ګرځي. د دې برعکس، ښې لاستي سیاستوال بیا غواړي چې د عرضې زیاتوالي له لارې بشپړه روزګارتیا رامنځته او په دې ډول د عاید

کچه لوړه کړي. په پرمختیایي هېوادونو او هغو هېوادونو کې چې له ناورین سره مخ دي، د موخو لومړیتوب او ټاکل لا ډېر ستونزمن وي.
داخلي موخه د نسبتي نغدوالي (د پیسو حجم تغییر) د ساتلو یوې ستونزې په توگه هم لیدل کېږي. د نغدوالي ستونزه په دوو بڼو رامنځته کېږي چې عبارت دي له: د کورني اقتصاد له لارې او د بهرني اقتصاد له لارې. د بهرني اقتصاد نغدوالي له ساتلو څخه هغه وخت خبرې کېږي چې بانک هر وخت وکولی شي چې بهرنۍ پیسې یا اسعار د یوې ټاکلې کچې له مخې په ملي پیسو او یا هم برعکس واړوي. دا حالت د ملي پیسو د بهرني ارزښت د استقرار په مفهوم هم پېژندل کېږي. د داخلي اقتصادي نغدوالي ساتل د توکو اقتصاد یوه ستونزه جوړوي او له هغې وړتیا څخه عبارت ده چې هر وخت د توکو یوه ټاکلې اندازه په ورته کیفیت او بڼې سره د ملي پیسو (د مرکزي بانک پیسو) یوې مالومې اندازې پر وړاندې تبادله شي. په دې حالت کې د ملي پیسو په کورني یا داخلي ارزښت کې له ټیکاو او استقرار څخه یادونه کېږي.
داخلي موخو ته د رسېدو لپاره مرکزي بانک باید فردي اقتصادي معقولیت (د تصدي اقتصاد په مفهوم) اصل د ټولیز اقتصادي گټورتوب له اصل سره په موازي ډول په پام کې ونیسي. د تصدي اقتصاد موخې په پام کې نیولو سره د اقتصادیت اصل لکه څرنگه چې مخکې هم یادونه وشوه، د تولید او اقتصادیت د عواملو ترمنځ او د گټې او په کار وړل شوې پانگې ترمنځ اړیکه تر لوست لاندې نیسي.
د اقتصادي سیاست د ملاتړ کوونکي په توگه؛ د مرکزي بانک بهرنۍ موخه او د اقتصادي معقولیت اصل له مخې د دې موخې مطالعه د ناسم درک لامل گرځي. د مرکزي بانک د اقتصادي معقولیت اصل هر وخت د رهبرۍ هغه ډول په پام کې نیسي چې د نغدوالي له ساتلو سره اړیکه ولري. په داسې حال کې چې د مرکزي بانک لپاره د اقتصادي سیاست ملاتړ تر هغه د خپلواکې موخې

په توګه رامنځته کېږي، چې د نغدوالي اصل ته لومړیتوب ورکړل شي. له همدې لامله اوسوالدهان د پولي سیاست اقتصادي اساسات د پولي سیاست حقوقي اساساتو پر وړاندې نیسي او په دې باور دی چې حقوقي اساسات د تطابق اصل (Principle of Conformity) او حقوقي استقرار اصل لرونکی دی.

تطابقي سیستم له مرکزي بانک نه غواړي چې د بازار له جوړښت سره سم داسې ګامونه پورته کړي چې د ادارې د وسایلو پر وړاندې د بازار اقتصاد وسایلو ته لومړیتوب ورکړل شي. نو په دې ډول د تطابقي سیستم مفهوم د بازار اقتصاد په نظر پورې تړلی دی.

په ټوله کې؛ حقوقي استقرار د حقوقي قاعدو د دوامداره بدلون پر ضد دی چې حقوقي امنیت له ګواښ سره مخ کوي او پر ټولو نه، بلکې یوازې په فردي ډول پلي کېږي. دا اساس په ځانګړي ډول د پرمختیایي هېوادونو لپاره مهم دی چې نه رعایت یې د پولي چارو پر وړاندې د وګړو د بې باورۍ لامل ګرځي او دا کار په خپل وار د بانکي او پولي چارو د پرمختګ مخه نیسي.

په پای کې باید وویل شي، چې د مرکزي بانک د دندو او موخو ترمنځ توپیر شته چې دواړه د مرکزي بانک په قوانینو کې روښانېږي. خو په تیوریکي ډول، موخې، انګېرنې (فرضیې) او یا هم قضایاوې د دندو ترسره کولو په موخه جوړېږي.

## ۷: د مرکزي بانک پولي سیاست

د اوسوالدهان په اند؛ پولي سیاست له هغو ټولو ګامونو څخه عبارت دی چې د پیسو اوسني (موجوده) او بالقوه مقدار او د پیسو د څښتنانو سلوک تر اغېز لاندې راولي. اوسوالدهان د پیسو اوسنی مقدار لاندې اوسنی سیاست پېژني چې پولي وسایل په شته بڼه (نغده پیسې، عوضي پیسې او کتبي پیسې) د یو

وخت په پیل کې د لاسرسي وړ وي. بالقوه نغدوالی د متوقع عوایدو له تادیاتو څخه عبارت دی چې په یوه وخت کې جریان پیدا کوي. په دې برخه کې هغه مبالغ راځي چې د سپما، امانتونو، د قیمتي لاسوندونو (ارزښت لرونکي یا بهاداره اسناد) ګټه او پلور او د پور اخیستو له لامله په پولي وسایلو تبدیلېږي.
(Helmut Lipfert) پولي سیاست په مؤسسوي (Institutional) سیاست او وظیفوي پولي سیاست وېشي. مؤسسوي پولي سیاست ځانګړي ګامونه دي چې د پیسو اساساتو او د قانوني ارګانونو د جمیع موضوعاتو (د پولي واحد تثبیت، هغه ځانګړي قواعد دي چې د صنعت او بانکوالي حرفه او نور مؤسسوي چوکاټونه چي په یو هېواد کې فعالیت کوي) په چوکاټ کې په پام کې نیول کېږي. نو په دې توګه؛ دولت د پولي سیاست عامل دی. په ځانګړي ډول کله چې د مرکزي بانک قانون پلي کول د دولت تر اغېز لاندې راشي.
د وظیفوي پولي سیاست پلي کوونکی په خپله مرکزي بانک دی. خو دا چې ایا د ازاد بازار سیاست (د پور لاسوندونو او یا هم د سپما جایزه لرونکو اوږدمهاله لاسوندونو خپرول) بانکي څارنه او د اسعارو سیاست د دولت په لاس کې وي او یا په مرکزي بانک پورې تړلی وي؟ بېلابېل نظرونه موجود دي. بانکي څارنه په ځینو هېوادونو لکه افغانستان کې د مرکزي بانک او په ځینو نورو هېوادونو (المان، د امریکا متحده ایالتونو او اروپایي ټولنې هېوادونو) کې د خپلواکو بنسټونو له لوري ترسره کېږي. روښانه ده چې د دواړو بنسټونو ترمنځ د لېوالتیا کشمکش شته او هر یو یې د یادو موضوعاتو په برخه کې ځان، واک لرونکی او مستحق ګڼي. دا ډول اختلافونه د اقتصادي نظام، د اقتصادي ودې کچې او د مرکزي بانک د مشر یا رییس په اهلیت او څرنګوالي پورې تړلي علایق دي. خو بیا هم باید د مرکزي بانک او د بانکونو څارنې بنسټونو ترمنځ همغږي موجوده وي او د بانکي څارنې د جوړښت په برخه کې مرکزي بانک او د بانکي څارنې بنسټونو ګامونه یو له بل سره همغږي وي (د بېلګې په توګه په المان کې).

په هره اندازه چې اقتصادي نظام د دولت له پلان جوړونې سره نږدې وي او یا هم ګډ (مختلط) اقتصادي نظام وي، په همغه اندازه پولي سیاست د دولت اقتصادي سیاست تر اغېز لاندې راځي. د بازار اقتصاد په نظام کې پولي سیاست په مرکزي بانک پورې اړه لري او تر هغه د دولت له سیاست څخه ملاتړ کوي چې له قانوني واک سره اړیکه ونه نیسي. په ځینو هغو هېوادونو کې چې تازه یې د بازار اقتصاد په لوري ګام پورته کړی او یا هم دا چې په هغو هېوادونو کې چې د ګډ اقتصادي نظام سیستم پر مخ بیایي، په هر حالت دا د مرکزي بانک دنده ده چې د پولي سیاست او د دولت اقتصادي سیاست ترمنځ د ملي پیسو د استقرار مرجع په توګه همغږي رامنځته کړي. د یادولو وړ ده چې د ځوانو دولتونو او یا هم د هغو مرکزي بانکونو لپاره چې نوي جوړ شوي دي (لکه افغانستان) وخت ته اړتیا ده څو د خپلو دندو او واکونو په برخه کې بشپړ پوهاوی ترلاسه کړي.

## ۸: د مرکزي بانک د پولي سیاست وسایل

د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو مرکزي بانکونو مطالعه دا په ګوته کوي چې د قانون له مخې یو شمېر وسایل د مرکزي بانک په واک کې ورکول کېږي څو د خپلو موخو ترلاسه کولو لپاره ترینه ګټه واخلي. د دې وسایلو ترمنځ د ټکر له منځه وړلو په موخه پکار ده چې د پولي سیاست وسایل تنظیم او ډلبندي شي. د نغدوالي نظریې له مخې کېدای شي چې په موجوده نغدوالي، بالقوه نغدوالي او یا هم د پور سلوک باندې د اغېزو ډول د ډلبندۍ معیار په توګه وټاکل شي. ځینې پوهان د مرکزي بانک د پولي سیاست وسایل مرکزي بانک ته د ورکړل شوي قانوني واک او ځواک له مخې ډلبندي کوي. په دې ډول؛ د دولت بانک په توګه مرکزي بانک پولي وسایل تر اغېز لاندې راولي او په دې توګه د پولي سیاست وسایل په مستقیم کنټرول او غیر مستقیم کنټرول ډلبندي کوي.

په دې کتاب کې هڅه شوې چې له هغې ډلبندۍ څخه ګټه واخیستل شي چې د (Otto Viet) او (Oswald Hahn) له لوري وړاندې شوي دي. (Otto Veit) د (بانک ته مناسب وسایل) او د (ادارې مناسب وسایل) ترمنځ توپیر په ګوته کوي، په داسې حال کې چې (Oswald Hahn) د (ادارې مناسب وسایل) او (د مرکزي بانک تصدۍ مناسب وسایل) (چې کولی شو مالومات، توصیې او ګډې همکارۍ هم ور زیاتې کړو)، یادونه کوي. هغه مثبت ټکی چې د اوسوالدهان په ډلبندۍ کې لیدل کېږي دا دی چې د نوموړي نظریاتو له مخې د پولي سیاست د وسایلو په ډلبندۍ کې د دولت بانک په توګه د مرکزي بانک قانوني واک او ځواک پدیده، د مدیر په توګه د مرکزي بانک له لوري د بانکونو په نغدوالي کې بدلون او مرکزي بانک د اقتصاد او بانکونو د ګډ همکار او سپارښتنې (توصیه یا خواهش Moral Suasion) او سلا او مشورې د پولي سیاست وسایلو په ډلبندۍ کې په پام کې نیول شوي دي. خو له دې سره ـ سره دا هم نه شو ویلی چې دا ډلبندي په بشپړ ډول د پولي سیاست د وسایلو ترمنځ د ټکر مخه نیسي.

په هند کې د (نغدوالي پایه) د تنزیل کچې مشایعت کوونکي اړیکې په توګه یادېږي. په هره اندازه چې د سوداګریز بانک د خالص نغدوالي پایه (نغده یا سیال وسایل منفي د مرکزي بانک پورونه یا بدهکاري= بدهي) خرابېږي، په همغه اندازه د هند مرکزي بانک له زیرمې څخه د مجدد تنزیل کچه هم لوړه ټاکل کېږي او ډلبندي یې هم په اداري ډول کېږي.

دا چې د بانک یا ادارې مناسبې ځانګړتیاوې څومره وزن لري، په دقیق ډول ویل کېدی نه شي. دا هغه حالت دی چې د پولي سیاست د وسایلو په هره ډلبندۍ کې لیدل کېږي.

## ۸.۱ د پولي سیاست اداري مناسب وسایل

مرکزي بانک نه یوازې دا چې د بانکونو بانک یا یوه بانکي تصدي ده، بلکې له نورو بانکي تصدیو سره هم د پیسو خپرولو امتیاز او مسؤلیت په پام کې نیولو سره توپیر لري. لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، مرکزي بانک اړ دی چې د دولت له اقتصادي سیاست سره پولي سیاست همغږی کړي. نو په دې توګه، مرکزي بانک د مسؤل بنسټ په توګه دا واک لري څو د بانکي او پولي چارو په برخه کې اړینې لارښوونې، مقررات، لارښود او نظامنامې صادرې کړي. مرکزي بانک د پولي سیاست د اداري وسایلو په مرسته هڅه کوي څو د دولت د اقتصادي سیاست موخو په پام کې نیولو سره د مالي بنسټونو او اقتصادي واحدونو د پیسو په حجم (بانکي نغدوالی) کې بدلون راولي.

د پولي سیاست دا وسایل عبارت دي له:

- د پولي وسایلو خپرول او د پولي سیادت (Sovereignty) تشکل شونتیاوې.
- د بانکونو کتبي پیسو خلق (Fiduciary Money, Money in Accounts, Deposit Currency) تر اغېز لاندې راوستل.
- د اقتصادي واحدونو د پیسو مقدار تر اغېز لاندې راوستل.

پولي سیادت تشکل له استثناء څخه پرته د مؤسسوي پولي سیاست په سیمې (د هغه ځواک او واک له مخې چې مرکزي بانک ته د قانون له مخې ورکړل شوی دی) پورې تړلی دی چې د ملي پیسو خپرول او په جریان کې اچول، له ملي پیسو سره یو ځای جریان ته د نورو پیسو اچول په بر کې نیسي (چې د لنډمهاله ارزښت تضمین، د دایمي ارزښت تضمین او د ارزښت له تضمین څخه پرته د موازي پیسو ترمنځ اړیکې له مخې تفکیک کېږي). یا هم په بل ډول؛ د ملي پولي واحد سیمه او سیادت په چلښت کې د موازي پیسو په اچولو سره زیانمنېږي. موازي پیسې کېدای شي بهرنۍ او یا هم کورنۍ پیسې

وي. دا دواړه بنې له افغانستان څخه د شوروي ټولنې د ځواکونو له وتلو څخه وروسته او په افغانستان کې د کورنيو جګړو پر مهال، د لنډمهالې ادارې راتګ او د افغانستان جمهوري دولت له جوړېدو څخه وروسته هم تر يوه وخت پورې موجودې وې چې د کورنيو جګړو پر مهال د پوهاند رباني حکومت او د بېلابېلو ګوندونو او ملېشو له لوري د خپل واک په سيمو کې په چلښت کې وې چې د لنډمهالې ادارې پر مهال د پولي سمون په پايله کې په نويو افغانيو واړول شوې. له دې سره ـ سره بيا هم د تبادلې وسيلې په توګه په جريان کې دا پيسې تر يوه وخته موجودې وې. خو د دې پيسو ارزښت ساتل د وخت د حکومتونو له لوري تضمين شوي نه وو او ان د اسلامي جمهوريت له راتګ څخه وروسته هم په وار ـ وار د رسنيو له لارې هڅه وشوه څو د تبادلې وسيلې په توګه بهرنيو پيسو له کارولو څخه ډډه وشي. په دې اړه د مرکزي بانک په ګډون بېلابېل ګډ دولتي پلاوي هره ورځ نېغ په نېغه بازارونه څاري او هغه وګړي چې بهرني اسعار د تبادلې وسيلې په توګه کاروي، د راکړې ـ ورکړې ارزښت په پام کې نيولو سره په نغد ډول جريمه کوي. خو لکه څرنګه چې په عمل کې ليدل کېږي رسنيزو تبليغاتو، مستقيمې څارنې او جريمو ونه شو کولی څو وګړي د توکو او خدمتونو په راکړه ـ ورکړه کې د بهرنيو اسعارو له کارولو څخه راوګرځوي چې دا کار د ملي پيسو (افغانۍ) په دودولو او په بازار کې د غير نغدي راکړو ـ ورکړو په برخه کې د خلکو باور ته اړتيا لري.

د يادولو وړ ده چې يو ملي پولي واحد په بهرنيو اسعارو لکه انګليسي پونډ، فرانسوي فرانک، يورو او تر ډېره پر امريکايي ډالر پورې تړلی وي. د نړۍوالې سوداګرۍ ډېره برخه په ډالرو ترسره کېږي او ډالر د هېوادونو ترمنځ د بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې د ارزښت مقياس په توګه دود دی چې د ملي پولي واحد ترڅنګ د دې پيسو له موازي چلښت سره اړيکه نه لري.

هغه پولي وسایل چې د نورو اقتصادي واحدونو له لوري د کتبي پیسو پر خلق اغېزه لري، ټول اداري او مؤسسوي ځانګړتیاوې لري. په همدې ډول؛ د مرکزي بانک پولي سیاست جمیع وسایل چې د بانکونو کتبي پیسو خلق تر اغېز لاندې راولي، ټول وظیفوي اړخ لري او د ارادي (Administrative) پولي سیاست وسایلو په ډله کې شمېرل کېږي.

د اوسوالدهان په اند؛ د سوداګریز بانک د کتبي پیسو خلق وړتیا او حجم (Money Multiplier) د اقتصاد د یوې برخې د ټولو تادیاتو په پرتله د غیر نغدي تادیاتو پر ونډې او همداراز د بانک د مشتریانو غیر نغدي اخیستنو په ونډې پورې تړلی دی چې له یو حساب څخه بل حساب ته د حسابي درج او یا هم معادلت (Compensation) له لارې کېږي.

د اقتصاد په بازار کې مرکزي بانک تر ډېره د پولي سیاست له تصدیي وسایلو څخه ګټه پورته کوي. په دې برخه کې مرکزي بانک د درېیو عواملو (تادیاتي عاید، د بانکونو د بازار ونډه او معادلت) پر شونتیاؤ اغېز کولی شي.

په هره اندازه چې په یوه ټولنه کې غیر نغدي تادیات ډېر وي، یا هم په بل ډول؛ وګړي له بانکي حوالو او له بانک څخه د شتمنۍ ایستلو په برخه کې له چک څخه ګټه پورته کوي (په دې ډول د نغدي تادیاتو په پرتله د غیر نغدي تادیاتو ونډه لوړه وي)، نو په همغه اندازه د سوداګریزو بانکونو په پولي وړتیا باندې د مرکزي بانک د مداخلې ضریب او اغېزمنتوب هم ډېر وي (په حداقل په زیرمه کې د بدلون په مرسته). خو په هغو هېوادونو لکه ( افغانستان) کې چې وګړي یې له بانکي نظام سره ډېره اړیکه نه لري او د اقتصادي راکړو ـ ورکړو ډېره برخه په نغد ډول ترسره کېږي، نو د سوداګریزو بانکونو د پیسو خلق په وړتیا باندې د مرکزي بانک اغېزې هم کمې وي.

له تادیاتي دود سره ـ سره په ټولنه کې د ډېرو مالي بنسټونو، بانکونو او مشتریانو (لکه په ۲۰۰۸ میلادي کال کې په المان کې د بانکي مؤسسو شمېر

۲۰۷۰ او د څانګو شمېر يې هم ۳۱۶۰۰ ۀ او ټوليز بيلانس يې ۶۰۸۰ ميليارد يورو ته رسېده) شمېر هم د غيري نغدي تادياتو د حجم زياتوالي لامل ګرځي. نو په دې ډول مرکزي بانک ته ډېرې اسانتياوې په واک کې ورکول کېږي چې په مرسته يې د کتبي پيسو په ورتيا باندې هم اغېز کولی شي. د بېلګې په توګه: د پولي بازارونو او يا هم د بانکونو ترمنځ (بين البانکي) تادياتو او د بانکوالۍ حرفې په برخه کې د محدوديتونو او يا هم اسانتياؤ رامنځته کول (د تمويل له لارې)، د بانکونو ترمنځ تفکيک، د عامه شتمنۍ مديريت، د سپما او بهرنيو پورونو مديريت.

لکه څرنګه چې مو مخکې هم يادونه وکړه، د بانکونو ترمنځ د تمويل اسانتياؤ زياتوالی د بانکي پورونو زياتوالي ته زمينه برابروي. مرکزي بانک د تمويل ډول محدودولو له لارې کولی شي چې د پور حجم را کم او يا هم د اسانتياو په رامنځته کولو سره د پور حجم ډېر کړي. دا چې کورني بانکونه کولی شي د پيسو له بهرني بازار څخه هم پيسې ترلاسه کړي (په ځانګړي ډول کله چې د پيسو بهرني بازار کې د سود کچه د پيسو کورني بازار په پرتله ټيټه وي) او يا هم دا چې په بهر کې د تمويل شونتياوې اسانې وي، نو مرکزي بانک کولی شي دا شونتيا د سوداګريزو بانکونو لپاره محدودې کړي او يا هم هغوی وهڅوي.

د اوسوالدهان د پېژندنې له مخې چې د کتاب ليکوال يې هم پلوي کوي؛ د بانکونو د کتبي پيسو خلق امکاناتو ضريب د اکتيف (شتمنۍ) اړخ بېلابېلو راکړو - ورکړو هرې برخې لپاره مازاده زيرمه (Reserve) جوړوي. هغه ځانګړي عوامل چې د زيرمو د مازاد د زياتوالي لامل ګرځي، له يو بانک نه بل بانک ته توپير لري. د افغانستان بانک چې په تېرو وختونو کې او اوسمهال د پولي سياست له ډېرو ساده وسايلو څخه ګټه اخلي، نو طبعاً د پاليسۍ جوړونې په وخت کې د کتبي پيسو خلق او يا هم د پيسو زياتوونکی ضريب د دې بانک په

محاسبو کې شامل نه دی او ان دوه کاله وړاندې یوازې نغدې پیسې (Cash) د پولي سیاست برخه وې (M0) او په دې وروستیو کې له M0 نه M1 ته پام اړول شوی دی چې دا هم په هغو دلایلو پورې تړلي دي چې مخکې مو ترېنه یادونه وکړه چې په هېواد کې زیاتره راکړې - ورکړې په نغدو پیسو کېږي او په بانکي سیستم کې په جاري حسابونو کې د امانتونو کچه ټیټه ده.
د اکتیفي راکړو - ورکړو زیرمې د زیاتولو په امکاناتو باندې د مرکزي بانک اغېزمن پولي سیاست ګامونه د مؤسسوي او وظیفوي ځانګړتیاؤ لرونکي دي. دا چې ایا یاد ګامونه د قانون له مخې تنظیمېږي او یا هم دا چې د مرکزي بانک له لوري په خپلواک ډول اخیستل کېږي، د اقتصادي نظام په بنې پورې اړه لري. د بېلګې په توګه:
**لومړی:** مرکزي بانک کولی شي چې د مکلفیتونو ټاکلو لکه د ځینو اکتیفي اقلامو ترلاسه کول او د احتیاطي حداقل زیرمې جوړښت (چې د نغدوالي اغېزمن عامل په توګه هم یادېږي) له لارې د تادیاتي وړتیا را کمولو او یا هم دا چې د شتمنۍ د ځینو اقلامو د ترلاسه کولو په مرسته د کتبي پیسو خلق تر اغېز لاندې راولي.
**دویم:** د محدودیتونو له لارې اغېزې. د مثال په توګه: د پیسفي اقلامو (پانګه او پورونه/بدهي) او اکتیفي اقلامو (شتمنۍ) په برخه کې د مقداري محدودیتونو ټاکل، د شتمنۍ په برخه کې د محدودیتونو ټاکل، د پورونو محدودول او یا هم د نوو پورونو په ورکړه باندې بندیز لګول دي. د حداقل زیرمې په سلنه کې بدلون، په ډله ییز ډول د هغې ساتل او یا هم دا چې د هغو امانتونو او سپارښتنو په ډولونو کې بدلون چې د زیرمې جوړښت په بر کې نیسي او د مقرراتو له مخې له مرکزي بانک سره ساتل کېږي، په پسیفي اقلامو پورې تړاو لري چې دلته یې له ډېر تفصیل او د بېلابېلو شونتیاوو له محاسبې څخه ډډه کېږي.

د مکلفیتونو او مقداري محدودیتونو ترڅنګ؛ کیفي او شرطي محدودیتونه هم شته چې له هغو څخه په ګټې اخیستنې سره مرکزي بانکونه پر پولي پېښو اغېز کوي. لکه څرنګه چې لیدل کېږي، د مکلفیتونو په مرسته کولی شي د کتبي پیسو د خلق اساس په توګه د زیرمو مازاد په غیر مستقیم ډول تر اغېز لاندې راولي خو د مقداري محدودیتونو ټاکل بیا د کتبي پیسو خلق شونتیاوې په مستقیم ډول تر اغېز لاندې راولي. د دې محدودیتونو د اغېزو چټکوالی هغه وخت تر سترګو کېږي، چې د پولي سیاست نور وسایل بې پایلې پاتې شي. د دې محدودیتونو اساس د پور معاملات او یا هم د بیلانس ځینې اقلام جوړوي.
د مثال په توګه: سوداګریز بانکونه اړ دي چې د بیلانس پسیف او اکتیف اړخونو ترمنځ له ټاکلي اړیکې څخه د پورونو اندازه لوړه نه کړي. د بېلګې په توګه: د بانک د لنډمهاله پورونو اندازه د بانک لنډمهالو امانتونو او یا هم سپارښتنو له ٦٠ سلنې څخه ډېره نه شي چې دا ډول محدودیتونه د ستاتیکو محدودیتونو په نوم یادېږي. په دې برخه کې خوځنده یا ډینامیک محدودیتونه هم شته چې نېغ په نېغه پورونه تر اغېز لاندې راولي. دا ډول محدودیتونه سخت پولي سیاست جوړوي چې د پیسو د چټک پړسوب په وخت کې ترېنه ګټه اخیستل کېږي او د پور قطعي موقف په نوم هم یادېږي. د کیفي محدودیتونو له مخې؛ یوازې ځینې پورونه محدودېږي. دا په دې مانا چې د کمي محدودیتونو برعکس ټول پورونه په بر کې نه نیسي او د پور کیفي محدودیتونه یوازې د پور یو ډول (د مثال په توګه استهلاکي پور) او یا هم یوې اقتصادي څانګې یا رشتې (د هغو سوداګریزو تصدیو تمویل چې یوازې لوکس توکي واردوي) ته د پورونو ورکړه په بر کې نیول کېږي.
مرکزي بانک کولی شي په غیر مستقیم ډول هم د سوداګریزو بانکونو د پور ورکړې شرایط محدود کړي. دا شرایط عبارت دي له:

- د ټکټانې یا سود په کچه کې بدلون، د بېلګې په توګه: د ټکټانې حداقل کچه ټاکل.
- د پور په میعاد کې بدلون.
- یا هم د پور په مبلغ کې بدلون.

دا چې د ټکټانې د بدلون کچه د ټولو پورونو په برخه کې یو شان وي او یا هم دا چې تر ډېره د بیا کمښت (مجدد تنزیل) په کچه کې د بدلون په پایله کې د بانکونو د پورونو د ټکټانې کچه هم بدلون مومي، نو په میعاد کې بدلون او یا هم د پور ورکړه د پور په ډول پورې تړلې وي.

د مرکزي بانک د پولي سیاست یوه بله وسیله چې په مرسته یې د پیسو مقدار تر اغېز لاندې راولي؛ د بانکونو مشتریانو ته د پور په مبلغ باندې د محدودیتونو لګول دي. له مشتریانو سره د نغدو پیسو مبلغ محدودول هغه سخت اداري (Administrative) وسایل دي چې د بازار په اقتصادي نظام کې تربنه ډېره کمه ګټه اخیستل کېږي خو د پور اخیستلو مبلغ محدودول یو وظیفوي اړخ لري چې د پولي سیاست په چوکاټ کې د مرکزي بانک له لوري د بازار په اقتصادي نظام کې هم لیدل کېږي. په دې حالت کې مرکزي بانک د بانک د مشتریانو وړاندیز تر غور او ارزونې لاندې نیسي او وروسته د پور ورکړې اجازه ورکوي. په دې توګه د مرکزي بانک له لوري د پور ورکړه د مرکزي بانک مامورینو ته لېږدوي (په عین وخت کې د پولي سیاست دا وسیله د بانکونو د څارنې وسیلې په توګه هم کارول کېږي). د پولي سیاست د دې وسیلې او د پور ټاکلو (د پور محدودیت چې مخکې مو تربنه یادونه وکړه) ترمنځ توپیر دا دی چې د پور محدودیت د بانک د مشتري د پور وړتیا نه کموي، په داسې حال کې چې د پولي بنسټونو له لوري د مشتري د پور غوښتنلیک ارزول په مستقیم ډول د بانک د مشتري تمویل اسانتیاوې محدودوي.

## ۸.۲: د مرکزي بانک تصديي پولي سياست وسايل

د تصديي پولي سياست وسايل هغه ځانګړتياوې لري چې هر بانک يې له مشتريانو سره د اړيکو په برخه کې او يا هم په پرانيستي بازار کي تر لاس لاندې نيسي. لکه څرنګه چې مو مخکې هم يادونه وکړه، دا معاملات پرته له دې چې د بيلانس له اقلامو سره تماس ونيسي، د بيلانس په اکتيفي (د شتمنو معاملات) اړخ او پسيفي (پانګې او بديهي معاملات) اړخ وېشل کېږي. دا ډول معاملات چې د بيلانس اقلامو لويه برخه نه ګټل کېږي، د بانکي خدمتونو په نوم يادېږي. د بېلګې په توګه: تادياتي اړيکې لکه د چک تصفيه، حواله، د اسعارو پېر او پلور، د بيمې منځګړيتوب، د اوږد مهاله پورونو منځګړيتوب او د ارزښت لرونکو پاڼو پېر او پلور منځګړيتوب او نور په بر کې نيسي. په پسيفي معاملاتو کې د مرکزي بانک د وظيفوي سيادت واکمنۍ بنسټ د پيسو خپرول دي. دا په دې مانا چې د ملي پيسو خپور شوی مبلغ د بيلانس په پسيف اړخ کې تر بديهي اقلامو لاندې راځي خو د بانکي کړنو لپاره د مرکزي بانک خدمتونه او اکتيفي (شتمنۍ) راکړې - ورکړې په اساس کې قرار لري. د بېلګې په توګه: د مجدد تمويل د بازار اسنادو پېر او پلور او داسې نور.

د اوسوالدهان په اند، د مرکزي بانک دوديز (سنتي) اکتيفي معاملات عبارت دي له:

- د کورني/داخلي پلور دوران تمويل
- صادرات
- مالياتي عوايد

خو مرکزي بانک ته د عاليه دندو د واک لېږد د دې مانع شول چې مرکزي بانک د سوداګريزو بانکونو اکتيفي معاملات ترسره او له سوداګريزو بانکونو سره سيالي وکړي. د افغانستان بانک د وګړو امانتونو معاملات او اقتصادي بنسټونو

(له ملي او سوداګريزو بانکونو سره سيالي) ته د پورونو ورکړه ان د ۱۹۷۶ کال (د جمهوريت دوره) وروسته او د انتقالي دولت له رامنځته کېدو څخه مخکې ترسره کول، په داسې حال کې چې د بانکوالۍ په قانون کې د دې کړنو وړاندوينه نه وه شوې. لا تر اوسه هم د اقتصادي واحدونو (حقيقي او حقوقي وګړي) حسابونه د افغانستان بانک په هغو ځانګو کې چې هلته د سوداګريزو بانکونو ځانګې نه وي، پرانيستل کېږي.

اوسمهال د نړۍ د هېوادونو اکثره مرکزي بانکونه داسې راکړې - ورکړې کوي چې سوداګريز بانکونه يې د کولو واک نه لري چې تر ټولو لويه برخه يې د سوداګريزو بانکونو بيا/مجدد تمويل دی. د مثال په توګه: د پور ورکړه، د سوداګريزو براتونو مجدد تنزيل او د لمبارډ پورونه. خو دولت، دولتي تصديو او نورو تصديو ته د پور ورکړه په ځانګړي ډول په پرمختيايي هېوادونو او يا هم ځينو نورو هغو هېوادونو کې ترسره کېدی شي چې د سوداګريزو بانکونو له لوري د يادو بنسټونو د تمويل اسانتياوې موجودې نه وي. ان مرکزي بانکونه اړ دي، د تمويل دا تشه ډکه کړي. مرکزي بانک کولی شي د تصديي پولي سياست له وسايلو څخه په ګټې اخيستنې سره د بانکي او غير بانکي بنسټونو د پيسو ممکنه مقدار تر اغېز لاندې راولي. د يادولو وړ ده چې د دې وسايلو اغېزې هغه وخت کمې وي چې په اقتصاد کې نغدوالی يا سياليت لوړ وي.

### ۸.۳: اکتيفي او پسيفي معاملات

لکه څرنګه چې مو مخکې هم يادونه وکړه، د مرکزي بانک تصديي سياست وسايل په اکتيفي او پسيفي راکړو- ورکړو وېشل کېږي. دلته دا لولو چې، مرکزي بانک له خپلو کومو اکتيفي معاملاتو څخه د پولي سياست د وسايلو په توګه ګټه پورته کوي؟

د مرکزي بانک اکتيفي معاملات په پورونو او په سوداګريزو راکړو - ورکړو وېشل کېږي. په دې اړه درې حالتونه تر لوست لاندې نيسو:

- مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو د شتمنیو معاملات تمویلوي. دا په دې مانا چې مرکزي بانک سوداګریزو بانکونو ته پور ورکوي.
- مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو معامله لرونکي په توګه د اسعارو او قیمتي پاڼو بازار ته ننوځي؛ او
د قیمت په پالیسۍ کې بدلون راولي.

د سوداګریزو بانکونو د تمویلوونکي په توګه د مرکزي بانک ګامونه کمي او کیفي بڼې لري. د کمي ګامونو په مرسته د سوداګریزو بانکونو د تمویل اسانتیاوې محدودېږي، یا هم دا چې د سوداګریزو بانکونو تمویل په قطعي ډول بندېږي او یا هم دا چې د پور پولې او سرحدونه محدودېږي. د سوداګریزو بانکونو د تمویل مهمه بېلګه د سوداګریزو بانکونو د براتونو مجدد تنزیل (Rediscount) دی چې دا بانکونه د خپلو مشتریانو براتونه په کمښت (Discount) سره مني. که چېرې مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو له لوري د منل شوو براتونو عرضه محدودوي، د مقدار له سهمیه بندۍ، که مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو د براتونو مجدد تنزیل ته حاضر نه شي، د بانکونو د تمویل له درولو (توقف) او که چېرې مرکزي بانک ته د عرضه شوو براتونو مبالغ محدود شي، د سوداګریزو بانکونو د پور له محدودولو ځخه خبرې کېږي. دا درې ګامونه د دې لامل ګرځي، چې د پیسو خلق او په پایله کې یې مشتریانو ته د پور ورکړه محدوده شي.

په افغانستان کې د سوداګریزو بانکونو د تمویل په برخه کې د افغانستان بانک اکتیفي معاملات د اعتباري اسانتیا (Credit Facility) په نوم ترسره کېږي. داسې چې هغه بانکونه چې پیسو ته اړتیا لري، مرکزي بانک ته غوښتنلیک وړاندې کوي او لنډمهاله پور ترلاسه کوي. د یادولو وړ ده چې د دې ډول پورونو ورکړې اندازه د پولي سیاست  د موخو په پام کې نیولو سره ټاکل کېږي او اجراء کېږي. د دې پورونو سود کچه تر ډېره د پانګه ییزو نوټونو (Capital

(Notes) سود په پرتله چې د افغانستان بانک له لوري سوداګریزو بانکونو ته ورکول کېږي، یو نیم سلنه لوړه وي.

په دویم حالت کې مرکزي بانک د کیفي ګامونو له مخې د سوداګریزو بانکونو د تمویل او یا پور ډول محدودوي او په دې توګه ځینې پورونه زیاتوي او یا هم دا چې کموالی په کې راولي. دا په دې مانا چې د دې ګام له مخې د پورونو ډول ټاکل کېږي. د بېلګې په توګه: د ځینو اقتصادي برخو تمویل.

د یادولو وړ ده چې د مرکزي بانک او د سوداګریز بانک له لوري د پور ټاکل د موخې له مخې توپیر لري. سوداګریزو بانکونو ته د مرکزي بانک له لوري د پور ورکړه د لوی اقتصاد له اړخه او د سوداګریزو بانکونو له لوري مشتریانو ته د پور ورکړه د تصدي اقتصاد له اړخه لیدل کېږي.

په درېیم حالت کې مرکزي بانک سوداګریزو بانکونو ته د پور ټکټانه (سود) ټاکي او یا هم دا چې بدلون په کې راولي. د مجدد تنزیل په کچه کې د بدلون په شان د ټکټانې په کچه کې بدلون، د لمبارډ کچه او یا هم د (Tender) کچه رامنځته کوي.

په هر صورت، د تمویل د کچې ټاکل او بدلون دوې لویې اغېزې لري:

- د لګښت د یو عامل په توګه د پیسو مقدار (نغدوالي) تر اغېز لاندې راولي؛ او
- (Tender)، لمبارډ او د مجدد تنزیل کچه د کاروباري دوران (Business Cycle) د لاربښود او بارومتر په توګه پېژندل کېږي.

د افغانستان بانک د پولي سیاست موخو د ترلاسه کولو لپاره چې د سوداګریزو بانکونو اړتیاوې هم په پام کې نیول کېږي، له پسیفي معاملاتو څخه ګټه پورته کوي. اوسمهال د افغانستان بانک یوازېنی ارزښت لرونکي (قیمتي) پاڼې، پانګه ییز نوټونه (Capital Notes) دي چې د اوونۍ په ټاکلو ورځو کې د لیلام (Auction) په بڼه په سوداګریزو بانکونو پلورل کېږي. په دې لیلام کې هغه

بانکونه ګډون کوي چې له خپلې اړتیا څخه ډېرې (مازاد) پیسې ولري او په دې ډول د مرکزي بانک پانګه ییز نوټونه پېري. د دې لنډ مهاله پانګه ییزو نوټونو میعاد له ۲۸ ورځو څخه پیلېږي. په دې ډول راکړو - ورکړو کې د افغانستان بانک کولی شي د ټکټانې کچې بدلون له لارې د پولي سیاست موخې ترلاسه کړي.

لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، مرکزي بانک د سوداګریز سیاست له لارې په اقتصاد کې د پیسو مقدار تر اغېز لاندې راولي او په دې برخه کې له مقداري ګامونو او یا هم له کیفي ګامونو څخه ګټه پورته کوي. د قیمتي پاڼو په ځانګړي ډول د اسعارو او لنډمهاله دولتي لاسوندونو (اسنادو) د عرضه کوونکي او تقاضا کوونکي په توګه مرکزي بانک د اسعارو، سرو زرو او د قیمتي پاڼو د عرضې او تقاضا په مقدار کې بدلون له لارې د پیسو حجم تر اغېز لاندې راولي.

په پرانیستي بازار (Open Market) کې د قیمتي پاڼو او اسعارو د پلور په پایله کې په اقتصاد کې د پیسو حجم کمېږي، د پیسو کورنی او بهرنی ارزښت ساتل کېږي او د پیسو د پړسوب کچه کمېږي. برعکس د اسعارو، سرو زرو او قیمتي پاڼو پېر د پیسو  خلق زیاتوي. په همدې ډول؛ مرکزي بانک کولی شي د پور پاڼو په ربحه کې د بدلون له لارې د پیسو حجم تر اغېز لاندې راولي.

د یادولو وړ ده چې د بازار سیاست اغېزې تر ډېره د پانګې بازار په پراختیا (په ځانګړي ډول د ارزښت لرونکو او قیمتي پاڼو د عرضې او تقاضا مقدار) پورې اړه لري.

له یوې مودې راهیسې د افغانستان بانک د اسعارو (ډالرو) پېر او پلور له لارې هڅه کوي چې د ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت وساتي. دا پېر او پلور مخکې په اوونۍ کې دوې ځلې خو له څه وخت راهیسې په اوونۍ کې یو ځل د اسعارو د لیلام له لارې کېږي.

ددې لیلام له لارې لږ تر لږه دوې موخې ترلاسه کېږي چې عبارت دي له:

- د پولي سیاست موخې.
- د دولت، انجوګانو، امریکا اردو او د ایتلاف نور اقتصادي او نظامي لګښتونو ته چې اسعاري وجوه یې لا له وړاندې د افغانستان بانک حساب ته لېږدول شوي دي، د افغانیو برابرول.

په لومړیو کې د پلور اندازه د پولي سیاست موخو په پام کې نیولو سره ټاکل کېږي او په بشپړ برېښنایي ډول او روڼتیا سره د اسعارو د پلور په برخه کې مزایده او د پېر په برخه کې مناقصه ترسره کېږي.

د یادولو وړ ده چې یوازې له یوې وسیلې څخه ګټه اخیستل د پیسو پر خلق ډېرې کمې او یا هم ناڅیزه متوقع اغېزې لري. د بېلګې په توګه: دا چې په افغانستان کې د تولنیزو محصولاتو وده د امنیت نه شتون او ځانمرګو بریدونو له لامله ډېره کمه ده، نو کېدای شي چې د اسعارو پېر او پلور د افغانیو د تبادلې په ارزښت کې ټیکاو رامنځته کړي. خو دا چې د صادراتو په پرتله د افغانستان واردات ډېر دي او دا نسبت د افغانستان په زیان دی، نو د ډالرو پر وړاندې د افغانیو ارزښت ټیکاو هم د سوداګرۍ بیلانس مازاد او افغانیو ته د بهرنیانو په تقاضا کې زیاتوالي له لامله نه دی. له بلې خوا په افغانستان کې د پیسو د پړسوب زیاتوالي د افغانیو ارزښت راکم کړی دی او د افغانیو د بهرني ارزښت استقرار مصنوعي بڼه لري.

د افغانستان بانک د یو لوړ پوړي او خبیر چارواکي په باور، دا بانک لا تر اوسه هم په دې نه دی توانېدلی چې د پانګې بازار، د ارزښت لرونکو پاڼو (قیمتي پاڼو) پېر او پلور چې په پانګه اچونه کې مهمه ونډه لري، تنظیم کړي. یاد کارپوه او د دې کتاب لیکونکی په دې باور دي، چې د پرانیستي بازار سیاست (د ارزښت لرونکو پاڼو پېر او پلور) د نورو هېوادونو په شان په افغانستان کې هم

نه یوازې د پانګه اچونې په برخه کې بلکې د پولي سیاست په برخه کې هم یوه اغېزمنه وسیله ګڼل کېږي.

### ۸.۴: د خدماتي راکړو ـ ورکړو ترسره کول

د مرکزي بانک خدماتي راکړې ـ ورکړې دولت او د سوداګریزو بانکونو ته د خدمتونو وړاندې کول دي.

په ټوله کې په هېواد کې د مرکزي بانک دنده د پیسو د جریان تنظیم دی. د تادیاتي اړیکو مرکزي کېدل نه یوازې دا چې یاده دنده اسانوي، بلکې د پیسو د تامین په برخه کې هم ډېر اهمیت لري. د مرکزي بانک له لوري د سوداګریزو بانکونو د تادیاتي اړیکو د تصفیې له لارې د خدمتونو کول، د بین البانکي تادیاتي تصفیې له سیالۍ څخه چې د پیسو په جریان باندې منفي اغېز کوي، مخنیوی کوي.

لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه کړه، په اقتصاد کې د سوداګریزو بانکونو زیاتوالی او د بانکي سیستم وده د دې لامل ګرځي چې په سوداګریزو راکړو ـ ورکړو کې له نغدو پیسو څخه کمه ګټه واخیستل شي او د نغدو پیسو په پرتله له چک، حوالې او نورو څخه ډېره ګټه اخیستل کېږي. دا چې د معاملاتو ترسره کوونکي نه یوازې په یو بانک کې بلکې په بېلابېلو بانکونو کې حسابونه لري، نو له همدې لامله هغه چکونه او حوالې چې د یو بانک په ګټه صادرېږي، یاد بانک یې د مرکزي بانک مرکز او یا هم څانګو ته لېږي. دا چې ټول سوداګریز بانکونه له مرکزي بانک سره حساب لري، نو مرکزي بانک هغه چکونه او حوالې چې د بېلابېلو بانکونو د مشتریانو په نوم صادرې شوې وي، تصفیه کوي، توپیر یې په اړوند حسابونو کې ثبتوي او د تصفیې پایله یې په ټاکلي وخت کې اړوند بانکونو ته لېږي. که چېرې د راکړو ـ ورکړو توپیر له مرکزي بانک سره د یاد بانک له قانوني زیرمې څخه لوړ وي، نو یاد توپیر سمدلاسه د یاد بانک حساب ته لېږل کېږي. خو که یاد توپیر منفي وي او له مرکزي بانک

سره د یاد بانک د زیرمې په موجودګۍ کې د کموالي لامل وګرځي، نو سوداګریز بانک اړ دی چې په لنډ وخت کې د زیرمې دا کسر جبران کړي، له دې پرته له نغدي جریمې سره مخ کېږي.

هغه خدماتي راکړې - ورکړې چې مرکزي بانک (د دولت بانک په توګه) د دولت لپاره ترسره کوي، عبارت دي له:

- په تادیاتي او حصولي (Collection) راکړو - ورکړو کې عام خدمتونه.
- د شتمنیو مدیریت.
- د پورونو خدمتونه.

مرکزي بانک دا خدمتونه په وړیا ډول او یا هم په ډېر کم لګښت سره کوي چې د مرکزي بانک په بانکي عوایدو او په ورته وخت کې د دولت د بودیجې په لګښت کې کموالی راولي. د (Oswald Hahan) په باور؛ دا خدمتونه د دولت مرکزي بانک له پسیفي او اکتیفي معاملاتو سره نږدې اړیکې لري او د مرکزي بانک د پولي سیاست موضوع جوړوي. د مثال په توګه: د دې وسیلې په مرسته کېدی شي چې د مرکزي بانک خدمتونو ته د دولت پور پاڼو له خپرولو او د ارزښت لرونکو پاڼو په بازار (د پرانیستي بازار سیاست (Open Market Operation, کې راکړو - ورکړو سره اړیکه ورکړل شي.

د مرکزي بانک یوه دنده هم د دولت اقتصادي سیاست په برخه کې حکومت ته د سلا او مشورو ورکول دي. مرکزي بانک په دې ډول په اقتصادي سیاست باندې داسې اغېزې واردوي چې د حکومت اقتصادي سیاست او د مرکزي بانک پولي سیاست ترمنځ چې ورته موخې څاري، همغږي رامنځته کړي.

د افغانستان بانک د دولت د بانکوال په توګه خپله دنده د دولت د ټولو عوایدو راټولولو، د ټولو لګښتونو ورکړه او د هېواد په کچه د دولت بودیجوي مبلغ لېږدوونکي په توګه ترسره کوي. یادې ټولې دندې مخکې د افغانستان بانک د څانګو له لوري پرمخ وړل کېدې، خو په هېواد کې د بانکي شبکې له پراختیا او

وروستیو پرمختګونو سره د یادو دندو یوه برخه سوداګریزو بانکونو ته لېږدول شوې ده په ځانګړي ډول د ملکي او نظامي کارکوونکو د معاشونو ورکړه د مستقیمو امانتونو(Direct Deposits) د سیستم له لارې د سوداګریزو بانکونو له لوري ترسره کېږي، د دولت د عوایدو یوه کوچنۍ برخه د سوداګریزو بانکونو له لوري راټولېږي. خو په هر حال د افغانستان بانک د دولت د بانکوالۍ د لوی او عمده عنصر په توګه شامل وي داسې چې د تادیاتو په برخه کې د دولت د لګښتونو حساب لومړنی ډېبیټ کوونکی او د دولت د عوایدو راټولولو په برخه کې د دولت د عوایدو حساب د وروستی کریډېټ کوونکي په توګه موجود دی.

## ۹: د مرکزي بانک پولي حاکمیت (Monetary/Currency Authority of Central Bank):

د مرکزي بانک پولي حاکمیت د یو مقتدر مقام او بانک په توګه د مرکزي بانک د رامنځته کېدو، رفتار او واک تابع دی. په هره اندازه چې دا دوې ځانګړتیاوې په جدیت سره ترسره کړي، په همغه اندازه د بنسټونو او وګړو د پولي سیاست په سلوک نفوذ واردوي.

د مرکزي بانک یاد نفوذ په درېیو بڼو وي:

- د پولي پیښو په اړه مالومات.
- جدي توصیې.
- په خپله خوښه هوکړه او موافقه.

دوې لومړنۍ بڼې چې په انګلوساکسون هېوادونو (Anglo-Saxon Countries) کې د هیلې او توصیې (Moral Suession) په اصطلاح دود ده، ډېرو اقتصادي واحدونو ته متوجې وي. په خپله خوښه هوکړې له بېلابېلو اقتصادي ګروپونو او بانکونو سره د پولي مسایلو په برخه کې کېږي.

د یادولو وړ ده چې د پولي سیاست هره وسیله په یوازې ډول تر ډېره اغېزمنه نه وي. نو له همدې لامله د پیسو په حجم باندې د پولي سیاست د اغېزو په موخه اړینه ده چې د څو وسیلو له جوړښت (ترکیب) څخه ګټه پورته شي. دا موضوع به په راتلونکو بحثونو کې د ځینو مرکزي بانکونو په بېلګو سره تر بحث لاندې ونیول شي.

## ۱۰: بانکي څارنه

په ځانګړي ډول په پانګه وال اقتصاد او په پرانیستي بازار اقتصاد کې د بانکي څارنې او د دولت له لوري د مالي بنسټونو د چارو تنظیم ترمنځ ډېر توپیر موجود دی. د دولتي څارنې په چوکاټ کې د بانکي څارنې دنده، د مالي بازار له لارې د پور بنسټونو څارنه او مراقبت دی. نو له همدې لامله د بازار په اقتصاد کې بانکي څارنه په هېڅ وجه د پیسو او پانګې په بازار کې د دولت د لاسوهنې او مداخلې په مانا نه ده. دا چې د څارنې دنده کوم بنسټ ته وسپارل شي، په بېلابېلو هېوادونو کې توپیر لري. په ځینو هېوادونو کې د بانکونو څارنه یو خپلواک بنسټ ته سپارل کېږي. د مثال په توګه: په المان کې د مالي خدمتونو څارنه فدرال بنسټ ته، په اتریش کې د مالي بازار چارو څارنې بنسټ ته، په سویس کې د مالي بازار د څارنې بنسټ ته او په انګلستان کې هم د مالي خدمتونو ادارې (Financial Services Authority) ته سپارل شوې ده. خو په ځینو نورو هېوادونو کې دا دنده د قانون له مخې مرکزي بانک ته ورکړل شوې ده. د مثال په توګه: په افغانستان کې د بانکونو څارنې دنده د قانون له مخې د افغانستان بانک ته سپارل شوې ده. د بانکي څارنې دندې په ځینو هېوادونو کې د جلا قوانینو له مخې خو په ځینو نورو هېوادونو کې د بانکوالۍ قانون او د مرکزي بانک د قانون له مخې تنظیم شوي دي. په المان کې د پورونو قانون ٦مه ماده لومړۍ فقره بانکي څارنه داسې راپېژني: څارنه

هغه ټولې نیمګړتیاوې چې د امانتونو او سپارښتنو خوندیتوب یې له ګواښ سره مخ کړی وي، په منظم ډول د مالي خدمتونو او راکړو - ورکړو ترسره کېدل له زیان سره مخ کوي او یا هم دا چې ټولیز اقتصاد له ډېر زیان سره مخ کوي، له منځه وړي.

### ۱۰.۱: د بانکي څارنې قواعد: وقایوي څارنه (Preventive Supervision)

په وقایوي څارنه کې هغه ټول ستراتیژیک او قانوني ګامونه راځي چې موخه یې په لومړي ګام کې د څارنې د جوړښت او میکانیزم د چوکاټ سازماندهي او په دویم ګام کې هغه وسایل دي چې په مرسته یې دایمي څارنه تامینېږي. د جواز د ورکړې څرنګوالي لپاره د مقرراتو ټاکل د بانکي څارنې له وقایوي کړنو څخه شمېرل کېږي. د مثال په توګه: د لږ تر لږه (حداقل) پانګې اندازه ټاکل، د بانکونو مدیرانو د اهلیت لپاره معیارونه ټاکل، په بانکونو او د څارنې په بنسټونو کې د څارنې د مفتیشینو روزل، د څارونکي بنسټ او د پورونو بنسټونو ترمنځ د اړیکو په برخه کې د لایحو جوړول او د څارنیز بنسټ له لارې د بانکونو د تفتیش او څارنې لپاره د لایحو ټاکل دي. د څارنې لایحې باید د بازار اقتصاد له غوښتنې سره سمې وي او د بانکونو په معاملاتي سیاست کې د څارونکي بنسټ لاسوهنه موجوده نه وي. په ځانګړي ډول کله چې مرکزي بانک او څارونکی بنسټ د خپلو دندو له مخې د پور بنسټونو د څارنې مسؤلیت پرغاړه ولري، نو د څارنې د واکونو ترمنځ له ټکر څخه باید مخنیوی وشي. لکه څرنګه چې په المان کې د بانکونو څارنه د مالي چارو څارنې بنسټ او د المان مرکزي بانک (bundesbank Deutsche) ترمنځ وېشل شوې ده، د دې دوو بنسټونو ترمنځ همکاري د پور چارو قانون په ۷مه ماده کې تنظیم شوې ده. د المان مرکزي بانک د خپلې دایمي(عملیاتي) څارنې په چوکاټ کې د مالي بنسټونو ټولې اطلاعیې او راپورونه ارزوي چې ایا د شخصي پانګې تجهیز او د

ګوابښ مدیریت (Risk Management) مناسب او له مقرراتو سره سم دی او که نه؟. د مالي چارو څارنې بنسټ د المان له مرکزي بانک سره په همغږۍ د مالي بنسټونو د دایمي مراقبت د کیفیت تامین په موخه بنسټیزې کرښې (خطوط) او لایحې رامنځته کړې دي (د څارنې خطوط).
د بېلګې په توګه: د یو بانک جوړولو او جواز اخیستلو لپاره باید یو لیکلی غوښتنلیک (د المان د پورونو چارو قانون د ۳۲ او ۳۳ مادې له مخې) د مالي خدمتونو څارنې بنسټ ته وړاندې شي. له دې سره ـ سره باید لاندې شرایط هم پوره کړي:

## لږ تر لږه (حداقل) شخصي پانګه

د یو بانکي بنسټ جوړولو په موخه (د راکړې ـ ورکړې ډول په پام کې نیولو سره) باید لږ تر لږه ټاکل شوې پانګه موجوده وي. هغه مالي بنسټونه چې غواړي د ارزښت لرونکو پاڼو د سوداګرۍ په برخه کې جواز ترلاسه کړي، باید لږ تر لږه ۷۳۰۰۰۰ یورو او د سپما بنسټونه باید لږ تر لږه ۵ میلیونه یورو لومړنۍ پانګه ولري.
په افغانستان کې د بانکوالۍ قانون له مخې د یو بانکي بنسټ د جوړولو په موخه باید یو میلیارد افغانۍ پانګه ولرئ.

## د څلورو سترګو اصل په پام کې نیول

مالي بنسټ باید لږ تر لږه دوه عامل مدیران (چې په بانکي اصطلاح کې د څلورو سترګو اصل په نوم یادېږي) ولري. دا دوه کسان باید مسلکي، له اهلیت څخه برخمن او ژمن وي. مسلکي اهلیت په دې مانا چې یاد مدیران د خپل کار د کولو لپاره په بانکي چارو کې په کافي اندازه علمي مالومات ولري. د مدیرانو اعتبار او باور د څارونکي بنسټ د آفاقي معیارونو له مخې ټاکل کېږي.

## روڼتیا او عینیت

مالي بنسټ باید په جوړېدونکي بنسټ کې د ونډه والو د ونډې جوړښت ښکاره کړي او ونډه وال هم د باور او اعتماد وړ خلک وي. که چېرې ونډه وال د تصدۍ د رهبرۍ په برخه کې په کافي اندازه له کفایت او باور څخه برخمن نه وي، د مالي خدمتونو څارنې بنسټ جواز نه ورکوي.
د افغانستان د بانکوالۍ په قانون کې له وړ او شایسته کلیمې څخه یادونه شوې خو په روښانه ډول واضح شوې نه ده.

## د منظم کاري پلان شتون

له غوښتنلیک سره یو ځای باید د راکړو - ورکړو یو داسې پلان موجود وي، چې له مخې یې د راکړو - ورکړو ډول، سازماني جوړښت او د داخلې ارزونې پلان جوړ شي. څارونکی بنسټ دا ارزوي چې ایا د غوښتنلیک ورکوونکی د دې وړتیا لري چې بانکي راکړې - ورکړې په منظم ډول پرمخ یوسي؟ په همدې ډول څارونکی بنسټ باید د څارنې هغه ضوابط چې له مخې یې د مالي بنسټونو کړنې په متواتر ډول څارل کېږي، تثبیت کړي. په ټوله کې دا ضوابط کېدی شي چې د گواښ جبران، د تکیې ضریب لایحې ضوابط او حداقل له مطالباتو څخه یادونه وشي. د گواښ تکیه له خپلواکې شتمنۍ یا شخصي وسایلو (شخصي پانگه) سره د بانکي یا مالي بنسټ له تجهیز څخه عبارت دی چې پر وړاندې یې دیني مکلفیت موجود نه وي.

## عملياتي څارنه

د بانکي خدمتونو څار بنسټ باید د څارنې په چوکاټ کې له جوړېدو څخه وروسته د مالي بنسټ کړنې په متواتر ډول وڅاري.

په ځانګړي ډول:

۱: د المان د پورونو چارو قانون د ۱۰ مادې له مخې د پور بنسټ باید کافي پانګه ولري. دا چې دا بنسټ تر کومه بریده د شخصي پانګې لرونکی وي، په هغو ګواښونو او خطرونو پورې اړه لري چې په راکړو - ورکړو کې ورسره مخ وي. د پور بېرته نه ورکړې ګواښ (Risk of Nonrepayment) پر وړاندې باید د بانک شخصي پانګه له ۸ سلنې څخه کمه نه وي (د ګواښ د جبران تکیې ضریب).

په دایمي څارنه کې دا په ګوته کېږي چې ایا مالي بنسټ د هغو ټولو ګواښونو پر وړاندې چې په ورځنیو راکړو - ورکړو کې ورسره مخ کېږي او د اکتیفي معاملاتو (د بیلانس شیت برخه) او د بیلانس شیت بهر (Off-Balance Sheet) معاملاتو له لامله رامنځته کېږي، د جبران په موخه کافي اندازه شخصي پانګه لري او که نه؟ له بیلانس شیت څخه بهر جاري معاملات ( هغه معاملات چې په بیلانس شیټ کې نه ثبتېږي او مالي بنسټ اړ دی چې د بیلانس شیټ لاندې یې ثبت کړي)، د براتونو او تضمینونو له منلو، اشتقاقي (Derivatives) راکړو - ورکړو او اشتراکاتو څخه عبارت دي. په المان کې له ۲۰۰۷ میلادي کال څخه وروسته د پور له منځه تلو ګواښ جبران، د بازار معاملاتو (د ارزښت لرونکو پاڼو د راکړو - ورکړو له لامله ګواښونه او خطرونه، د اسعارو او اشتقاقي راکړه - ورکړه) له منځه تلو ګواښ او د عملیاتي بالقوه ګواښونو جبران لپاره یو بنسټ باید ۱۲.۵ سلنه شخصي پانګه ولري.

۲: له دې سره ـ سره، د مالي بنسټونو خدمتونو څارنې بنسټ دا هم تثبيتوي چې ايا مالي تصدي په المان کې د پورونو چارو قانون د ۱۱ مادې له مخې کافي نغدوالي يا سياليت (Liquidity) لري څو د اړتيا په وخت کې خپل تادياتي مکلفيتونه ترسره کړي (۱:۵۹)؟.

۳: په همدې ډول، د مالي خدمتونو څارنې بنسټ د بانکي څارنې پروسې په چوکاټ(Supervisory Review Processs, SRP) کې هغه ګواښونه هم تفتيش کوي چې د ګواښ جبران د تکيې لايحه له مخې په شخصي پانګه کې په پام کې نيول شوې نه وي.

د (Robust Governance Arrangement) بنسټيز عنصر د داخلي پانګې کفايت ارزونې له پروسې (Internal Capital Adequacy Assessment Process, ICAAP) څخه عبارت دی چې د بنسټ له لوري څارل کېږي. د (ICAAP) پروسه بايد په مالي بنسټونو کې ترسره شي، څو په دې ډول دا تضمين شي، چې د بنسټيزو ګواښونو د جبران په موخه د دوی پانګه بسنه کوي. په همدې ډول د کنټرول د عمليې يوه ځواکمنه اداره (Robust Governance Arrangment) هم بايد رامنځته شي. يا هم په بل ډول، د معاملاتو د ډول او حجم په پام کې نيولو سره د پورونو بنسټونو جوړښت بايد داسې تنظيم شي، څو ټاکل شوي لږ تر لږه (حداقل) شرايط پوره کړي. دا چې د نوو بانکي خدمتونو د رامنځته کېدو له لامله د مالي بنسټونو راکړې ـ ورکړې ورځ تر بلې پېچلې کېږي، نو مالي بنسټونه بايد په پر له پسې ډول خپل وقايوي ګامونه ډېر کړي څو هر وخت وکولی شي چې بالقوه ګواښونه مديريت کړي. نو په دې ډول؛ د بانکي خدمتونو څارنې بنسټ يوه دنده هم د دې ارزول دي چې ايا مالي بنسټونه د ګواښ څارنې مراقبت په موخه يو فعال او اغېزمن مديريتي سيستم لري او که نه؟

۴: د بانکي خدمتونو هر ځارونکی بنسټ (که خپلواک وي او یا هم د مرکزي بانک برخه وي) د ځارنې ترسره کولو په موخه یو لړ بنسټیزو مالوماتو ته اړتیا لري چې باید له مالي بنسټونو څخه یې ترلاسه کړي. د ځارنې بنسټ مالوماتو لومړنۍ بنسټیزه سرچینه تړل کېدونکي حسابونه ( بیلانس شیټ، د ګټې او زیان حساب او کلنی راپور)، د قانوني ځارونکو راپورونه (اقتصادي ارزوونکي بنسټونه او یا هم د ټولنې ارزوونکي)، د مالي بنسټونو ځارونکو، داخلي ځارونکو او د مالي بنسټ د ګواښ مدیریت څانګې راپورونه دي چې د تړل کېدونکو (اختتامیه) حسابونو په ارزونه کې جوړېږي. په همدې ډول مالي بنسټونه باید هره میاشت د ځارنې بنسټ ته له ګواښ څخه ډکو شتمنیو (Risk Weighted Assets) په برخه کې راغلي بدلونونه (تغییرات) او د ګواښونو له منځه وړلو په برخه کې د اخیستل شوو ګامونو راپور ورکړي. همداراز، مالي بنسټونه اړ دي، څو د ځارنې بنسټ ته د مهمو بدلونونو لکه د زیان رامنځته کېدل، په مدیریت کې بدلونونه (د هېواد دننه او له هېواد څخه بهر څانګو کې)، د اشتراکاتو اندازه، مدیره پلاوي ته پور، د ځار پلاوي او مامورینو ته پور او د هغه پور، راپور ورکړي چې له یو میلیون یورو څخه ډېر وي. د ځارنې بنسټ کولی شي، چې د مالي بنسټ د اقتصادي وضعیت د تثبیت په موخه دا بنسټونه په مستقیم ډول تفتیش او وارزوي. دا ډول تفتیش د مخکېنی اطلاع له مخې او یا هم له اطلاع څخه پرته ترسره کېدی شي.

# درییم څپرکی

## نړۍوالې بانکي تصدۍ

د نړۍوالو بانکي تصدیو تر چتر لاندې هغه ټول بنسټونه راځي چې د راکړې - ورکړې ثقلت یې په دولت پورې تړلی نه وي، ونډه (سهم) یې په نړۍواله توګه تنظیم او رهبري کېږي او مدیران یې هم د بېلابېلو هېوادونو وګړي وي. د دې ډول تصدیو توپیر او تفکیک د دوو بېلابېلو نښو (د راکړې - ورکړې سیمه او حاملین یا څښتنان) له مخې لیدل کېږي. د نړۍوالو بانکي تصدیو سیسټم له یو شمېر غیر متجانسو بنسټونو څخه جوړ دی خو د بېلابېلو هېوادونو د بانکونو په پرتله ډېر تنوع نه لري.

د (Oswald Hahn) په اند؛ د نړۍوالو بانکي تصدیو سیسټم په دریېو برخو وېشل کېږي:

**لومړۍ برخه:** هغه نړۍوال بانکونه چې د دولت په واک او حاکمیت کې نه وي. دا بیا په خپل وار په دوو ډولونو وېشل کېږي:

- هغه نړۍوال بنسټونه چې پولي دندې ترسره کوي.
- پرمختیایي بانکونه.

**دویمه برخه:** هغه سوداګریز بانکونه چې په نړۍواله کچه بانکي خدمتونه وړاندې کوي.

**دریيمه برخه:** د څو هېوادونو د بنسټونو او سازمانونو جوړښت چې د همکارۍ له مخې له نورو بانکونو سره بهرنۍ راکړې - ورکړې ترسره کوي (۱:۶۵).

## ۱: د دولت له واک، حاکمیت او نفوذ څخه بهر بنسټونه

(Oswald Hahn) په خپل اثر (د بانکي اقتصاد جوړښت) کې د (Rudolf Sprung) نظریې پر بنسټ د دولت له واک، حاکمیت او نفوذ څخه بهر بنسټونو د سازماندهۍ لپاره اووه ځانګړتیاوې په نښه کوي چې عبارت دي له:

- د کړنو مکاني سیمه (منطقوي، قاره یي او نړۍواله سیمه).
- د کړنو مادي سیمه (هغه بنسټونه چې لنډمهاله، منځمهاله پورونه ورکوي او هغه بنسټونه چې اوږد مهاله سرمایوي پورونه ورکوي). سرمایوي بانکونه په خپل وار په دوو برخو ویشل کېږي چې عبارت دي له:
  - هغه بانکونه چې پرمختیایي هېوادونه تمویلوي.
  - هغه بانکونه چې د اقتصادي مرستو په تمویل بوخت دي.
- دربیمه ځانګړتیا یې حقوقي جوړښت دی. په دې اړه هغه تصدۍ چې کمه خپلواکي لري د خپلواکو تصدیو پر وړاندې قرار نیسي.
- څلورمه ځانګړتیا تمویل دی، هغه بانکي تصدۍ چې یوازې په خپله پانګه کار کوي او هغه بانکي تصدۍ چې په لومړیو کې د نورو په پانګه فعالیت پیلوي. دا ځانګړتیا د پورونو په ورکړې او شرایطو تکیه لري.
- له پنځمې او شپږمې ځانګړتیا څخه چې دلته له موضوع څخه وتلې دي، ډډه کېږي.
- اوومه ځانګړتیا د سازماندهۍ له ډول څخه عبارت دی.

د یادو ځانګړتیاو په پام کې نیولو سره نړۍوالې بانکی تصدۍ په لنډ ډول تر بحث لاندې نیسو:

## الف: د ملګرو ملتونو بنسټونه

### ۱: د نړیوال بانک ډلې

نړیوال بانک، د هغه ډلې او د پیسو نړیوال صندوق د ملګرو ملتونو اړوند بنسټونه دي، چې له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته د برټن ووډز (Britton Woods) په کنفرانس کې جوړ شوي دي. دا بنسټونه په واقعیت کې د نړیوالو اړیکو جوړښت دی چې له عیني اړخه او یا هم د بڼې له مخې د بېلابېلو هوکړو له مخې تنظیم شوي دي. دا اړیکې په ۱۹۴۷ میلادي کال کې د برټن ووډز کنفرانس په ناسته کې او یا هم وروسته د پیسو نړیوال صندوق په مرسته جوړې او د پیسو نړیوال صندوق د اجرایه پلاوي له لوري تصویب شوي دي. د پیسو نړیوال صندوق د نورو نړیوالو بنسټونو سره چې په اقتصادي، سوداګریزو او پولي برخه کې دندې ترسره کوي، نږدې همکاري لري.

د نړیوال بانک ډلې عبارت دي له:

- نړیوال مالي سهامي شرکت (International Finance Corporation).
- د بیا جوړونې او پرمختیا لپاره نړیوال بانک (Internnational Bank for Reconstruction and Development).
- د نړیوالې پرمختیا بنسټ (International Development Association) او
- د څو اړخیزه پانګونې د تضمین ځانګې دي.

د دې اقتصادي پرمختیایي بنسټونو دندې له لږو پرمختللو هېوادونو سره د مالي مرستو، سلا ـ مشورو او تخنیکي مرستو له لارې د نړیوالو پرمختیایي موخو ترلاسه کول دي (په ځانګړې ډول تر ۲۰۱۵ میلادي کال پورې په نړیواله کچه د بېوزلۍ ۵۰ سلنې کموالی).

**برټن ووډز پر دوو بنسټیزو موخو او پایو ولاړ ؤ:**

- د بېلابېلو هېوادونو د پیسو ازادانه تبادلې وړتیا اصل.
- د ثابتې تبادلې کچې اصل.

دا دواړه اصلونه د برټن ووډز بنسټیزې موخې جوړوي. د دې دوو بنسټیزو موخو ترڅنګ د پیسو نړیوال صندوق د مرستو او همکاریو له مخې په لومړیو کې د اسعارو او سرو زرو معیار او له ۱۹۷۱ میلادي کال څخه وروسته د اخیستنې له ځانګړي حق (Sonderziehungsrecht, Special Drawing Rights, SDR) څخه ګټه واخیستل شوه چې د اسعارو او سرو زرو معیار د اخیستنې ځانګړي حق په رامنځته کېدو سره په بشپړ ډول له منځه ولاړ. اوسمهال د پیسو نړیوال صندوق غړي هېوادونه د خپلو ملي پیسو د تکیې (پشتوانې) لپاره د تبادلې وړ اسعارو یا سرو زرو ساتلو ته اړتیا نه لري. وروسته کلیدي سعر (Key Currency) چې د پیسو نړیوال صندوق د راتلونکو کارونو په جریان کې د ځانګړي ماهیت لرونکی دی، رامنځته شو.

د پیسو نړیوال صندوق د سواګرۍ او تعرفو عمومي هوکړه لیک (General Aggrement on Trade and Tarriff, GATT) بنسټ ته د هېوادونو تادیاتي راکړو - ورکړو او اسعاري زیرمو په برخه کې سلا او مشوره ورکوي او د یاد بنسټ له لوري څارل کېږي.

د غړو هېوادونو د تبادلې کچې سیاست څارنه او کنټرول، د پیسو نړیوال صندوق او (GATT) د دندو پرمخ وړلو او د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې د نوو پرمختګونو په اړه د (GATT) او د پیسو نړیوال صندوق ترمنځ د مالوماتو راکړه - ورکړه ګټوره تمامېږي.

په همدې ډول د پیسو نړیوال صندوق او ملګرو ملتونو ترمنځ نږدې همکاري موجودې دي. په همدې ډول؛ په پاریس او ژینیو کې د پیسو نړیوال صندوق ځانګې د نړیوالو اقتصادي بنسټونو د اقتصادي پرمختیا او همکارۍ سازمان

(Organization for Economic Cooperation and Development, OECD) او د سوداګرۍ او پرمختیا لپاره د ملګرو ملتونو له کنفرانس (United Nations Conference on Trade and Development, UNCTAD) سره هم نږدې اړیکې لري. د (OECD) په کمېټو کې چې د پولي مسایلو په موخه جوړېږي، د پیسو نړۍوال صندوق استازی د لیدونکي (مشاهده کوونکي) په توګه ګډون کوي. د دې دواړو بنسټونو ترمنځ هر وخت د نظرونو تبادله او د مالوماتو او لاسوندونو راکړه - ورکړه ترسره کېږي. د پیسو نړۍوال صندوق د تادیاتي تصفیې لپاره نړۍوال بانک (Bank for International Clearing, BIC) ( دا بانک د مرکزي بانک په بڼه په نړۍواله کچه د بین البانکي تادیاتو د تصفیې دنده پرمخ وړي) چې مرکز یې د سویس هېواد په بازل ښار کې دی، د تمویل او احصایوي ارقامو په برخه کې مرسته کوي. د نړۍوالې تصفیې بانک د پیسو نړۍوال صندوق ته د اقتصادي پرمختیا تمویل په موخه پورونه ورکوي او د پیسو نړۍوال صندوق خپل اضافي مالي وسایل په دې بانک کې ودیعې ته ږدي.

## ۲: د پرمختیا او بیا جوړونې لپاره نړۍوال بانک (International bank for Reconstruction and Development, IBRD)

د پرمختیا او بیا جوړونې لپاره نړۍوال بانک (IBRD) په نړۍوال بانک پورې تړلی بانک دی. په یاد بانک کې د غړیتوب شرط د پیسو نړۍوال صندوق کې غړیتوب دی. په ۲۰۰٦ میلادي کال کې ۱۸۴ هېوادونو د دې بانک غړیتوب درلوده. د هر هېواد د ونډې اندازه په نړۍوال اقتصاد کې د یاد هېواد په ونډې پورې تړلې ده.

## ۳: نړۍوال مالي سهامي شرکت (International Finance Corporation, IFC)

د نړۍوال مالي سهامي شرکت موخه پرمختیایي هېوادونو ته د خصوصي تصدیو د پرمختیا لپاره مالي خدمتونو او پورونو برابرول دي. د دولتي تصدیو او عامه تصدیو تمویل له دې امر څخه مستثناء دي او د دې بانک تر ملاتړ لاندې نه راځي. د دې بانک ۴۶ سلنه ونډې د نړۍ لویو صنعتي هېوادونو (جي ۸) په واک کې دي. د امریکا متحده ایالتونو ونډه د دې بانک د ټولې پانګې ۱۶ سلنه جوړوي او له همدې لامله د امریکا متحده آیالتونو ته د شخصي پانګې د مطابقت او اساسنامه کې د بدلون په برخه کې د ویټو یو حق هم ورکړل شوی دی. د بنسټ په اساسنامه کې د بدلون لپاره د ونډه لرونکي هېوادونو ۸۵ سلنې هوکړه شرط ګڼل کېږي. د پورونو د ورکړې په ګډون په نورو مسایلو کې د پرېکړو لپاره د غړو هېوادونو د رایو اکثریت بسنه کوي. د بانک عالي شورا د مشرانو یا ګورنرانو شورا ده چې د (IBRD, IDA, IFM, MIGA, ICSID) بنسټونو له مشرانو او مرستیالانو څخه جوړه ده. له دې پنځو بنسټونو څخه چې بېلابېل مالي جوړښتونه لري، لومړني څلور بنسټونه یې پور ورکوي، چې د بېرته ورکړې وړ دی. د پانګه اچونې شخړو د حل لپاره نړۍوالې تصفیې مرکز (International Center for Settlement of Inestment Disputes, ICSID) د نړۍوال بانک ډلو د پانګونې د شخړو حل په برخه کې د منځګړي دنده پرمخ وړي.

دا بنسټ په لنډ ډول تر مطالعې لاندې نیسو:

د مشرانو یا ګورنرانو شورا اکثره واکونه عامل پلاوي ته لېږدوي چې ۲۵ سلنه یې له لویو ونډه لرونکو هېوادونو څخه او پاتې برخه یې له نورو غړو هېوادونو څخه جوړه ده، چې د دوو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د دې بنسټ د پانګې مهمه

سرچینه د پور د پاڼو خپرول دي. د غړو هېوادونو له لوري ورکړل شوې ونډه د شخصي پانګې ۲۰ سلنه جوړوي او د بنسټ پاتې پانګه تضمیني پانګه ده.

نړۍوال مالي بنسټ په ۱۹۵۶ میلادي کال کې د ۱۰۰ میلیون امریکایي ډالرو په پانګې جوړ شو خو د وخت په تېرېدو سره یې پانګه هم ډېره شوه چې په ۱۹۸۴ میلادي کال کې ۱.۳ میلیارده امریکایي ډالرو ته ورسېده. په ۲۰۰٦ میلادي کال کې ۱۷۸ هېوادونه چې د پیسو نړۍوال صندوق غړیتوب هم لري، د دې بنسټ غړیتوب درلوده او په پانګه کې یې هم ونډه درلوده. د دې بنسټ لوی غړی هېواد د امریکا متحده آیالتونه دي چې ۴۵.۳ سلنه ونډې یې په واک کې دي. دې بنسټ ته د پانګې ورکړې بله سرچینه د پرمختیا او بیا جوړونې لپاره نړۍوال بانک (IBRD) دی. په همدې ډول له ۱۹۸۳ میلادي کال راهیسې د دې بنسټ پانګه د پور د پاڼو خپرول او د بنسټ مخ په زیاتېدونکې ګټه جوړوي.

د (IBRD) د مقرراتو له مخې پورونه باید هغو هېوادونو ته ورکول شي، چې د پور او د پور سود بېرته ورکړې وړتیا ولري. دا چې پور د پور اخیستونکي هېواد په ملي پیسو کې نه ورکول کېږي، نو له همدې لامله باید دا تضمین هم موجود وي، چې پور اخیستونکی هېواد په کافي اندازه د اسعارو ترلاسه کولو وړتیا لري. که چېرې یو هېواد د پور اخیستو لپاره ټاکل شوي شرایط پوره نه کړي، د (IBRD) له پور څخه ګټه نه شي اخیستلی.

## ۴: د نړۍوالې پرمختیا بنسټ (International Development Association, IDA)

د دې بنسټ دنده پرمختیایي هېوادونو او د اروپا سرحدي هېوادونو لکه جورجیا، مکدونیا او البانیا ته د پرمختیایي پروژو د تمویل لپاره له سود څخه پرته د پورونو ورکړه ده. دا بنسټ ۱٦۵ غړي هېوادونه لري چې په ورته وخت

کې د (IBRD) غړي هم دي. دا چې د (IDA) پورونه د (IBRD) د پورونو برعکس له سود څخه پرته، اوږدمهاله او په څو لومړیو کلونو کې بېرته ورکړه هم نه لري، نو نه شي کولی چې پانګه د پور پاڼو خپرولو له لارې ترلاسه کړي. نو له همدې لامله یې د پانګې لویه برخه د غړو هېوادونو غړیتوب حق او له سود څخه پرته هغو مالي لاسوندونو (سندونو) څخه جوړه ده چې د دې بنسټ په واک کې دي. له دې سره ـ سره د (IBRD) د ګټې یوه برخه هم دې بنسټ ته لېږدول کېږي.

## ۵:د څو ملتیزه پانګونې تضمین ځانګه (Multinational Investment Guarantee Agency)

د دې لپاره چې په پرمختیایي هېوادونو کې بهرنۍ مستقیمه پانګونه وهڅول شي او په دې برخه کې سیاسي ګواښونه له منځه ولاړ شي، نو په ۱۹۸۵میلادي کال کې د (MIGA) جوړېدل ومنل شو او د جوړېدو په موخه یې لړ تر لړه غړي هېوادونه په ۱۹۸۸ میلادي کال کې پوره شول. د دې بنسټ بنسټیزه موخه د غیر اقتصادي ګواښونو په ځانګړي ډول د سیاسي ګواښونو، انتقالي محدودیتونو، د هوکړه لیک یو اړخیزه فسخه او د استملاک مدني ناارامۍ تضمین دی. په همدې ډول د پرمختیایي هېوادونو حکومتونو ته د پانګونې د پیاوړتیا او هڅوونکو پلانونو جوړولو په برخه کې هم مشورې ورکوي. (MIGA) هڅه کوي، څو له شته وسایلو څخه په ګټې اخیستو سره له یوې خوا د پرمختیایي هېوادونو له حکومتونو سره د بهرنۍ پانګونې د تضمین هوکړه لیکونه عقد کړي او له بلې خوا په دې هېوادونو کې د بهرنۍ پانګونې په برخه کې د ممکنو ګواښونو پر وړاندې ځاني او انفرادي بیمه وهڅوي. د دې بنسټ د پانګې لویه برخه د ۱٦۸ غړو هېوادونو د ونډو له لارې تمویلېږي. په ۲۰۰۳ میلادي کال کې یې د ۴.۱ میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت ۵۹ هوکړه لیکونو او پانګونې او جمعاً یې د ۵.۲ میلیارد ډالرو په ارزښت په ۲۸ غړو

هېوادونو کې عقد کړي دي چې ۲۰ سلنه یې بېوزلو هېوادونو ته ځانګړي شوي دي.

## ٦: د پانګونې شخړو د حل لپاره د نړۍوالې تصفیې مرکز

**(International Center for settelement of Investment Disputes, ICSID)**

دا بنسټ د نړۍوال بانک ګروپونو په ډله کې ځانګړی ځای لري چې په ۱۹٦٦ میلادي کال کې جوړ شوی او ۱۳۹ غړي هېوادونه لري. د دې بنسټ دندې د مالي راکړو ـ ورکړو ترسره کول او تضمینونه نه، بلکې د بهرنیو پیسو او پانګونې ترمنځ منځګړیتوب او ډاډ رامنځته کول دي چې په بېلابېلو بڼو د پانګې د زیاتوالي لامل وګرځي.

## ب: د پیسو نړۍوال صندوق (International Monetary Fund, IMF)

لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، د پیسو نړۍوال صندوق په ۱۹۴۷ میلادي کال کې د امریکا متحده آیالتونو د برټن ووډز په ښار کې د هغه کنفرانس د پرېکړې له مخې چې د یو نړۍوال پولي سیستم د رامنځته کېدو په موخه رابلل شوی ؤ، جوړ شو. یاد بنسټ په لومړیو کې ۲۱ غړي هېوادونه درلودل چې وروسته یې شمېر ډېر شو او اوسمهال ۱۸۵ غړي هېوادونه لري. د دې بنسټ دنده دا ده، چې د غړو هېوادونو د متقابلو همکاریو له مخې په نړۍوال مالي بازار کې استقرار رامنځته کړي او هېوادونو ته د دې اجازه ور نه کړل شي څو یو هېواد د خپل پولي واحد ارزښت دومره لوړ کړي چې په نړۍوال بازار کې د سواګرۍ جریان د ګډوډۍ لامل وګرځي. یا هم په بل ډول، دا بنسټ دنده لري څو د هېوادونو د اسعارو د پېر او پلور په موخه یو داسې استقرار لرونکی سیستم رامنځته کړي، چې د بېلابېلو هېوادونو ترمنځ د تادیاتو په برخه کې د ګډوډیو مخنیوی وکړي. دې بنسټ په ځانګړي ډول له

۱۹۷۰ میلادي کال راهیسې، د غړو هېوادونو د تادیاتو بیلانس د تصفیې په موخه د اخیستنې ځانګړي حق د سنجش واحد یا وسیلې په توګه رامنځته کړې او هغو غړي هېوادونو ته چې د تادیاتو بیلانس یې له کسر سره مخ وي، پورونه ورکوي. اوسمهال دا صندوق هڅه کوي، څو د یورو (EURO) ارزښت ساتلو په موخه د اروپايي ټولنې ځینو هېوادونو (یونان، ایرلنډ او پرتګال) ته چې له مالي ستونزو سره مخ دي او د نورو هېوادونو پر وړاندې خپل تادیاتي مکلفیتونه نه شي ترسره کولی، د دولت د بودیجې او د تادیاتو بیلانس د تعادل په موخه اوږدمهاله پورونه ورکړي.

خو ځینې پوهان د پیسو نړۍوال صندوق پر ځینو پلانونو او کړنو نیوکې کوي. د بېلګې په توګه: د عامه بنسټونو خصوصي کولو ساختماني مطابقت پروګرام چې په افغانستان کې هم د طالبانو د رژیم له ماتې  څخه وروسته تر یوه بریده پلې شوی دی. د دې پروګرام له مخې دولت اړ دی څو ځینې بنسټونه خصوصي کړي او د نظامي پانګونې د زیاتوالي په موخه قوانین جوړ کړي. نیوکه کوونکي په دې باور دي، چې دا پروګرام د دولتي پورونو د زیاتوالي لامل ګرځي او هغه هېوادونه چې له ناورین سره مخ دي، باید د خپل عاید ۳/۱مه برخه د پورونو د بېرته ورکړې ته ببل کړي. په دې توګه نه شي کولی، چې په عامې روغتیا، ښوونې او روزنې او ټولنیزو چارو کې اړینه پانګونه وکړي. له دې سره ـ سره، یاد پروګرام د دې لامل ګرځي، چې ځینې خصوصي بنسټونه (لکه په افغانستان کې نفت او بوره) په خپله خوښه قیمتونه وټاکي. په همدې ډول د کورنیو بازارونو په پرانیستلو سره، کورني تولیدوونکي د بهرنیو تصدیو پر وړاندې سیالي نه شي کولی. نو له همدې لامله کورنۍ تصدۍ له دېوالي کېدو سره مخ او خصوصي سکټور کمزوری کېږي.

ځینې نور پوهان بیا په دې باور دي چې د پیسو نړۍوال صندوق دا واک نه لري چې د غړو هېوادونو پولي سیاست تر اغېز لاندې راولي او هغوی اړ کړي

څو د ښوونې او روزنې او عامې روغتیا په برخه کې لږ خو په نظامي برخه کې ډېر لګښتونه وکړي. خو برعکس د پیسو نړۍوال صندوق یوازې دا سپارښتنه کوي چې غړي هېوادونه خپلې کمې شته سرچینې د عامې روغتیا او ښوونې او روزنې په برخه کې په سم ډول وکاروي، دا چې غړي هېوادونه د یاد بنسټ سپارښتنې په پام کې نیسي یا نه، په یاد بنسټ پورې اړه نه لري.

## ج: د سیمه ییزو کړنو نړۍوال پرمختیایي بانکونه

د نړۍوال پرمختیایي بانکونو ګروپ ته ورته او د یاد بنسټ د دندو د بشپړتیا په موخه په اروپا، لاتینې امریکا او اسیا کې یو لړ پرمختیایي بانکونه جوړ شوي دي، چې غړو هېوادونو ته پرمختیایي پورونه ورکوي.

### ۱: د اروپایي پانګونې بانک (Europeans Investment Bank, EIB)

په ۱۹۵۸ میلادي کال کې د اروپایي ټولنې له رامنځته کېدو سره (EIB) د اروپا اقتصادي ټولنې ته د پور یو بنسټ په توګه چې له حقوقي اړخه خپلواک دی، جوړ شو. د دې بنسټ مرکز په لوګزامبورګ کې دی او د سازماندهۍ له اړخه له نړۍوال بانک او نورو پرمختیایي بانکونو سره ورته والی لري. دا په دې مانا چې د مشرانو شورا، اداري شورا او د عامل پلاوي په شان مدیریتي ارګانونه لري. په همدې ډول د تمویل او د پانګې د سرچینو له اړخه هم له یادو بانکونو سره ګډه وجه لري او د پانګې لویه برخه یې د پور پاڼو له خپرولو څخه ترلاسه کېږي. (EIB) په انډولیزې او متوازنې پرمختیا کې لویه ونډه لري او په دې توګه د پانګونې پروژو تمویل د تضمینونو په منلو او د پور ورکړې له لارې تیاروي. په همدې ډول؛ د لږو پرمختللو سیمو د پرمختګ په موخه د پانګونې پروژو او د تصدیو عصري کولو ته اسانتیاوې برابروي او روزګارتیا پیاوړې کوي. د مثال په توګه: په ۲۰۰۳ میلادي کال کې دې بنسټ د سویډن هېواد د سټاکهولم زېرزمینۍ قطار د نوي کولو تمویل او د اتریش، هنګري، کروشیا، ایټالیا او هسپانیې هېوادونو بنسټیزو (زیربنایي) پروژو تمویل هم پر غاړه

واخيست. په همدې ډول د هغو هېوادونو پروژې چې د اروپايي ټولنې له سيمو سره اړيکه لري خو له اروپايي ټولنې څخه بهر دي، پر غاړه اخلي. د مثال په توګه: په پاکستان کې د پايپ لاين جوړول. د ۲۰۰۵ ميلادي کال په وروستيو کې د دې بنسټ پورونه او تضمينونه له ۲۹۴ ميليارد يورو هم ډېر وو.

**۲: د بيا جوړونې او پرمختيا لپاره اروپايي بانک (European Bank for Reconstruction and Development, EBRD)**

دا بنسټ چې مرکزي دفتر يې په لندن کې دی، په ۱۹۹۱ ميلادي کال کې د ۲۹ اروپايي هېوادونو له لوري جوړ شو. خو وروسته نورو اروپايي او غير اروپايي هېوادونو لکه استراليا، جاپان او د امريکايي متحده آيالتونو هم د دې بنسټ غړيتوب ترلاسه کړ او اوسمهال ٦۰ غړي هېوادونه لري. د دې بنسټ پانګه په ټوله کې د غړو هېوادونو له ونډو (سهمونو) څخه جوړه ده چې د اصلي پانګې ۳سلنه يې (EIB) جوړوي. د (EBRD) يوه بنسټيزه دنده په پخوانيو کميونيستي اروپايي هېوادونو کې له مرکزي اقتصاد څخه د بازار اقتصاد ته د ملي اقتصاد جوړښت اړول او په يادو هېوادونو کې د خصوصي اقتصاد د کړنو هڅوول دي. ياد بنسټ په دې موخه د اقتصادي سمونونو سکټور او ساختاري چوکاټ په ځانګړي ډول د دولتي انحصار له منځه وړلو او د دولتي تصديو د خصوصي کولو په برخه کې اړينې مرستې کوي. په دې ډول نړۍوال اقتصاد ته د منځنۍ او ختيځې اروپا هېوادونو د انضمام بنسټيز شرطونه رامنځته شول. د پور ورکړه په دې شرط پورې تړلې وه، چې پور اخيستونکي هېوادونه بايد د بازار اقتصاد او څو ګوندېزه ډېموکراسۍ بنسټونه ومني.

(EBRD) د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره د پيسو له نړۍوال صندوق، د نړۍوال بانک ګروپ، د (OECD) بنسټ او نورو نړۍوالو بنسټونو په ځانګړي ډول د اسيا له پراختيايي بانک سره چې د پخواني شوروي ټولنې  اکثره غړي هېوادونه يې غړيتوب لري، اړينې مرستې کوي.

د دې بنسټ تر ټولو لوړپوړی ارګان د مشرانو شورا ده چې هر غړی هېواد پکې یو مشر لري. د کړنو واک ډېره برخه یې اجرایه پلاوي ته چې ۲۲ غړي لري او د درېیو کلونو لپاره د مشرانو شورا له لوري انتصابېږي، ورکړل شوې ده. په همدې ډول د بانک مشر د مشرانو شورا له لوري ټاکل کېږي. د بانک مشر د بانک رسمي استازی دی او د اجرایه پلاوي د لارښوونو په مرسته بانک مدیریت کوي. د دې بانک اصلي پانګه تر ۱۰ میلیارد یورو اوړي چې ۳۰ سلنه یې باید تادیه شي او پاتې برخه یې خصوصي پانګه ګڼل کېږي. اروپایي ټولنه او د اروپا پانګونې بانک یې ۵۱سلنه پر غاړه اخیستې ده. که چېرې یې غړي هېوادونه او یا هم دا چې د بانک پانګه زیاتېږي، د پانګې اکثریت جوړښت په خپل حال پاتې کېږي.

د دې بانک لوی ونډه وال په لاندې ډول دي:

- د امریکا متحده آیالتونه ۱۰ سلنه.
- جاپان او د اروپایې ټولنې هېوادونه ۵.۸ سلنه.
- منځنۍ او ختیځه اروپا ۱۲.۳ سلنه.
- له روسیې څخه پرته د پخواني شوروي ټولنې غړي هېوادونه ٦سلنه.
- د روسیې فدراسیون هم ۴ سلنه.

د رایو شمېر د پانګې د ونډې له مخې ټاکل کېږي.

د دې بانک د پانګونې سرچینې د شخصي پانګې ترڅنګ د پور اخیستل او د پانګې په بازار کې د پور پاڼو خپرول دي. د دې بنسټ تر ټولو مهمې کړنې د ختیځې اروپا په هېوادونو کې خصوصي تصدیو ته د پانګونې د جریان او اوږدمهاله پورونو ورکړه، د تضمینونو منل او د بهرنۍ پانګې په بازار کې خصوصي تصدیو ته د ارزښت لرونکو او قیمتي پاڼو له عرضې څخه عبارت دي.

## ۳: د نړیوالې تصفیې بانک

**(Bank for International Settlement, BIS)**

د نړیوالې تصفیې بانک چې مرکزي دفتر یې د سویس هېواد په بازل ښار کې دی، له هغو پخوانیو نړیوالو مالي بنسټونو څخه دی چې په ۱۹۳۰ میلادي کال کې جوړ شوی دی. په لومړیو کې د دې بانک دنده د نړیوال جنګ په پایله کې د المان هېواد له لوري د زیانونو د ورکړې په موخه د تادیاتو تسویې او وړتیا لوړول وو. دا بانک اوسمهال ۵۵ غړي هېوادونه لري چې د ونډې له مخې د رایې حق لري. د اروپایي هېوادونو له مرکزي بانکونو سره ـ سره، د امریکا مرکزي بانکونه، کاناډا او جاپان هېوادونه هم د دې بانک غړیتوب لري. د دې بانک حقوقي بڼه سهامي ده چې پانګه د تمویل ونډو د عرضې او پلور له لارې ترلاسه کوي. له دې سره ـ سره چې دا بانک په سویس کې فعالیت لري، خو د سویس بانک د حقوقي مقرراتو نه بلکې د دولتونو ترمنځ (بین الدول) حقوقي مقرراتو تابع دی. له ۱۹۹۶ میلادي کال څخه وروسته چین، برازیل، اسټرالیا، سویلي افریقا، هندوستان، مکسیکو، روسیې، سعودي عربستان، سنګاپور او سویلي کوریا هم د دې بنسټ غړیتوب ترلاسه کړی دی.

د (BIS) دندې د غړو هېوادونو ترمنځ د مرستو ډېرول، د نړیوالو مالي راکړو ـ ورکړو لپاره د نوو اسانتیاؤ رامنځته کول او په نړیوالو تادیاتي راکړو ـ ورکړو کې د متولي (Trustee) په توګه دنده پرمخ وړل دي. په همدې ډول د بانکونو د څارنې لپاره د نړیوالو قواعدو د تنظیم واک هم یاد بنسټ ته ورکړل شوی دی.

هغه قواعد چې د یاد بنسټ له لوري د بانکونو څارنې لپاره جوړېږي، د بانکونو څارنې په برخه کې مو په لنډ ډول ولوستل؛ خو دلته یادونه کوو چې د دې موضوع په پام کې نیولو سره دا بنسټ د بانکونو د نړیوالو راکړو ـ ورکړو په اړه د اطلاعاتو او مالوماتو راټولولو سرچینه ګڼل کېږي. مرکزي بانکونه یاد بانک ته

د طلباتو او د سوداګریزو بانکونو بهرنیو پورونو راپور ورکوي چې په پر له پسې ډول د دې بنسټ له لوري تیاربږي او د نړۍوالو بانکونو د احصایوي په بڼه په هرو دریو میاشتو کې خپرېږي. د دې خپرونې منځپانګه د بانکي راکړو - ورکړو او مالي بازارونو موضوعات جوړوي. له دې سره ـ سره د ورځې په اوږدو کې د نوو معاملاتو، د مثال په توګه د سلف یا د میعادي معاملاتو کچې (Future Rate) په اړه مالومات خپروي او په دې توګه د نړۍوالو بانکي راکړو - ورکړو د لا روښانتیا په برخه کې لویه ونډه لري.

د نړۍوال بانک د ډلې او د سیمه ییزو پرمختیایي بانکونو برعکس، یاد بنسټ دا اجازه نه لري چې براتونه ومني او یا هم دا چې حکومتونو ته پورونه (له لنډمهاله عبوري پورونو څخه پرته) ورکړي.

**۴: بین الامریکایي پراختیایي بانک (Inter-American Development Bank, IADB)**

د لاتینې امریکا پراختیایي بانک هم د پخوانیو پراختیایي بانکونو له ډلې څخه دی چې په ۱۹۵۹ میلادي کال کې د امریکا متحده آیالتونو او د لاتینې امریکا د ۱۹ هېوادونو له لوري جوړ شوی او مرکزي دفتر یې په واشنګټن کې دی. په ۱۹۷۶ میلادي کال کې یې ۸۶ غړي هېوادونه لرل (د ګوګل د معلوماتو له مخې یې په غړو هېوادونو کې بدلون نه دی راغلی) چې د کاناډا او سویلي امریکا هېوادونو ترڅنګ ځینې اروپایي او اسیایي هېوادونو هم د یاد بانک غړیتوب ترلاسه کړی دی. د دې لپاره چې د دې بانک سیمه ییزې ځانګړتیاوې ساتل شوې وي، د پانګې د ونډې لوړولو په پایله کې په یاد بنسټ کې د امریکایي هېوادونو د رایو حق ۵۰ سلنې ته لوړ شو. د امریکا متحده آیالتونو ونډه ۳۱ سلنه او د اسیایي هېوادونو (جاپان او اسرائیل) او د اروپایي هېوادونو (سویس، اتریش او المان) ونډه ۱۹ سلنه ټاکل شوې ده.

د بانک اجرایه پلاوی له ۱۴ غړو څخه جوړ دی چې ۱۱ یې د سیمې په هېوادونو او ۳ نور یې په نورو هېوادونو پورې اړه لري. دا چې د امریکا متحده آیالتونه پکې ډېره ونډه لري، نو له همدې لامله د اجرایه پلاوي یو غړی هم د یاد هېواد دی.

په ۱۹۹۰ لسیزه کې د دې بانک ټوله پانګه له ۱۰۱ میلیارد ډالرو څخه هم ډېره شوه. د بانک د اساسنامې له مخې، غړو هېوادونو په منځني ډول ۲.۵ سلنه منل شوې پانګه د تبادلې وړ اسعارو کې ورکړې او پاتې یې د مسؤلې او غوښتنې وړ پانګې (Callable Capital) په بڼه ده. د ۱۹۹۵ میلادي کال تر وروستیو پورې د دې بنسټ غړو هېوادونو ٦٦.۳۳۹ میلیارد ډالر پر غاړه واخیستل چې ۳.۴۸۱ میلیارد ډالر یې تادیه کړل او په دې توګه یې مسؤل پانګه ۹۵ سلنه بنسټیزه پانګه جوړوله. د بنسټیزې او اساسي پانګې لویه برخه د امریکا متحده آیالتونو له لوري ۲۲.٦۴۳ میلیون ډالر منل شوې ده چې له دې برخې څخه ۲۱.۴٦۸ میلیون ډالر یې تضمیني پانګه جوړوي.

د دې بنسټ دویمه مالي سرچینه د پانګې له بازار څخه د مالي وسایلو ترلاسه کول دي چې اندازه یې د شخصي پانګې د زیاتوالي په تناسب لوړه شوې ده او په ۱۹۹۲ میلادي کال کې ۵.۱ میلیارد ډالرو ته ورسېده. د ۱۹۹۵ میلادي کال په وروستیو کې د پور پاڼو، له سوداګریزو بانکونو اخیستل شوو پورونو او انفرادي پورونو په ګډون د بانک پورونه او دیون له ۲٦.۱ میلیارد ډالرو څخه هم ډېر شول. د بانک لوی او مهم پورونه هم ۹ میلیارد ډالر معادل جاپاني ین، ٦.۸ میلیارد ډالر د امریکا ډالرو پورونه وو او د سویس اسعارو پورونه هم ۴.۲ میلیارد ډالرو معادل وو.

د (IADB) د مالي وسایلو یو پر شپږمه برخې ونډه د ځانګړو کړنو صندوق (Fund For Special Operation,l FSO) پورې چې د (IADB) ترڅنګ د امریکا متحده آیالتونه، کاناډا او ځینې نور غیر سیمه ییز هېوادونه هم پکې

ګډون لري، اړه لري. د شخصي پانګې له زیاتوالي سره سم، د (IADB) شورا دا هم ومنله، چې د پانګې زیاتوالي اتم چوکاټ له مخې، د بنسټ مالي وسایل د ۱ میلیارد ډالرو په اندازه ډېر شي او دا مبلغ باید د لسو کلونو په اوږدو کې په قسطونو (FSO) ته ورکړل شي. د ۱۹۹۵ میلادي کال په وروستیو کې دې صندوق ته ژمنه شوې ټولې ونډې ۹.۸ میلیارد ډالره وې چې د امریکا متحده آیالتونو ونډه ۴.۸ میلیارد ډالر، د غیر سیمه ییزو هېوادونو ونډه ۲.۱ میلیارد ډالر، د کاناډا ونډه ۰.۵ میلیارد ډالر او د لاتیني امریکا هېوادونو ونډه هم ۲.٦ میلیارد ډالره وه.

د ۱۹۹۲ میلادي کال په لومړیو کې یې د (IADB) او څو اړخیزې پانګونې صندوق (Multilateral Investment Fund, MIF) اداره هم چې په د ۲۱ هېوادونو له لوري جوړ شوی ؤ، پر غاړه واخیسته. د دې صندوق مالي مبلغ تر ۱.۳ میلیارد ډالرو څخه ډېر ؤ.

(IADB) د متولي (Trustee) اداره هم پر خپله غاړه واخیسته او د همدې موخې لپاره ځینو هېوادونو ۱.۴ میلیارد ډالر د دې بانک په واک کې ورکړل. په همدې ډول؛ د ۱۹٦۱ او ۱۹٦۴ کلونو ترمنځ د امریکا متحده آیالتونو د سیمې بېوزلو وګړو د ودې لپاره د یووالي چوکاټ (Alliance For Progress) تر چتر لاندې د ټولنیزې ودې امانتونو صندوق (Social Progress Trust Fund, SPTF) له لارې ۵۲۵ میلیون ډالر تیار کړل څو د پور په ډول ورکړل شي. د تخنیکي مرستو په چوکاټ کې بین الامریکایي پراختیایي بانک؛ د دې صندوق ببرته ورکړې له قسطونو څخه ګټه واخیستل شوه او یوه برخه یې بیا هم د امریکا متحده آیالتونو ته ورکړل شوه. په ۱۹۷۵ میلادي کال کې د وینزویلا هېواد د وینزویلا امانتونو صندوق (Venezuelan Trust) له لارې ۵۰۰ میلیون ډالر د یاد بانک په واک کې ورکړل څو یاد بانک دا مبلغ د سیمه ییزې اقتصادي پراختیا د ملاتړ او د لاتیني امریکا هېوادونو د انضمام جریان چمتو

کړي. په ۱۹۹۰ میلادي کال کې (IADB) د هسپانیې هېواد د ٦۵۰ میلیون امریکایي ډالرو مالي مرستې مدیریت هم پر غاړه واخیست. یاد مبلغ د کارابین او لاتینې امریکا له هېوادونو سره د اړیکو د ۵۰۰م کال د لمانځلو په موخه د یاد بانک په واک کې ورکړ. د یاد مبلغ په مرسته باید د سیمه ییزو پروژو په ځانګړي ډول کرنې، روغتیا او ښاري پراختیا مالي ملاتړ شوی وای.

په ۱۹۸۴ میلادي کال کې د بین الامریکایي پانګونې شرکت (Corporation Inter American Investment) چې د (IADB) یو حقوقي بنسټ هم ؤ، د لویدیځ المان په ګډون د ۲۴ هېوادونو له لوري جوړ شو. د نړۍوال پراختیایي بانک په شان د دې شرکت دنده هم د عصري کولو، پراختیا او جوړولو له لارې د کوچنیو خصوصي تصدیو ملاتړ او پیاوړتیا ده. د دې موخو ترلاسه کولو لپاره یاد شرکت د دې تصدیو په شخصي پانګه کې برخه اخیسته او یا یې هم ورته پورونه او اړین تضمینونه برابرول او په دې ډول د نورو هېوادونو د ګډون لپاره هم زمینه برابره شوه. بین الامریکایي پانګونې بنسټ وکولی شو چې د ګډون او اشتراکاتو د پلور او د پور په ډول د (IADB) مرستو له لارې خپلې مالي سرچینې پیاوړې کړي. د دې بنسټ لومړنۍ پانګه له ۲۰۰ میلیون امریکایي ډالرو څخه لوړه شوه چې د غړو هېوادونو له لوري په ۱۹۹۵ میلادي کال کې په ټولیز ډول نړدې د لاندې سلنې له مخې ورکړل شوه:

- ۵۵ سلنه د سیمې پرمختیایي هېوادونو (کارابین او لاتینې امریکا).
- ۲۵.۵ سلنه د امریکا متحده آیالتونو.
- ۱۹.۵ سلنه هم د نورو غیر سیمه ییزو هېوادونو له لوري.

دې بنست تر ډېره د غړو هېوادونو اقتصادي ودې لپاره د پورونو ورکړې ته پام ؤ چې د ۱۹۹۵ میلادي کال تر پایه په ټولیز ډول ۷۸.۲ میلیارد ډالرو ته ورسېدل، چې ٦۳.٦ میلیارد ډالر یې د یاد بانک په شخصي پانګې، ۱۳

میلیارد ډالر د (FSO) صندوق او ۱.٦ میلیارد ډالر هم د (SPTF) له لوري ورکړل شوي دي.
د ۱۹۹۵ میلادي کال تر وروستیو د نړۍوالې پراختیا بانک د خپلې ژمنه شوو پورونو ۵۷.۵ میلیارد ډالر د لاتینې امریکا پراختیایي بانک ته ورکړل چې ۲۰ سلنه یې د انرژۍ، ۱٦ سلنه یې د کرنې، ۱۱ سلنه یې د صنعت، کانونو او ټرانسپورټ، ۲۴ سلنه یې د ښوونې او روزنې، ښاري پراختیا او ټولنیزو بنسټیزو پروژو او پاتې ۱۳.۵سلنه یې د ټرانسپورټي لیکو، مواصلاتو او مخابراتو د پراختیا په موخه وکارول شوې.

**۵: د افریقا پراختیایي بانک (African Development Bank, AFDB)**

دا بانک په ۱۹٦۳ میلادي کال کې د ۳۰ خپلواکو افریقایي هېوادونو له لوري جوړ او په ۱۹٦٦ میلادي کال کې یې په فعالیت پیل وکړ. د دې بانک مرکز د عاج ساحل په پلازمېنه ابي جان ښار کې دی. په ۱۹۷۸ میلادي کال کې د دې بانک د مشرانو شورا د تصویب له مخې نورو هېوادونو ته هم د غړیتوب حق ورکړل شو او په دې ډول په ۱۹۹۵ میلادي کال کې د ۷۷ غړو هېوادونو له ډلې یې ۵۲ افریقایي هېوادونه او پاتې یې غیر افریقایي هېوادونه وو. د مدیریت واک یې د نورو پراختیایي بانکونو په شان د مشرانو شورا ته ورکړل شوی دی چې د هر هېواد یو غړی پکې ګډون لري. د مشرانو شورا د خپل اداري واک یوه برخه عامل پلاوي ته لېږدولې ده. د ۱۹۹۵ میلادي کال په وروستیو کې عامل یا اجرایه پلاوی له ۱۸ غړو څخه جوړ ؤ چې یو غړی یې هم المانی ؤ. د المان دې غړي په ورته وخت کې د انګلستان، هالنډ او پرتګال استازیتوب هم کاوه. د سیمې غړي هېوادونه د ٦۵.۵ سلنه او غیر سیمه ییز هېوادونه ۳۴.۵ سلنه د رایې حق درلوده.

په ۱۹۹۵ میلادي کال کې د بانک اساسي پانګه ۱٦.۵ میلیارد حسابي واحد ته ورسېده (یو حسابي واحد د اخیستنې ځانګړي حق(SDR) نږدې یو واحد ؤ)، چې له دې برخې ۱۵.۷ میلیارد حسابي واحد چې د ۲۳.۴ میلیارد ډالرو برابر ؤ، د غړو له لوري ومنل شو. د اساسنامې له مخې د بانک ۲۵ سلنه منل شوې پانګه باید په سرو زرو او یا هم د تبادلې وړ په اسعارو کې ورکړل شوې وای. په ۱۹۷۸ میلادي کال کې د بانک بنسټیزه پانګه له ۵.۲ میلیارد واحد نه ۱٦.۲ میلیارد واحد (درې برابره) ته لوړه شوه. خو د سرو زرو او اسعارو زیرمو د پانګې د زیاتوالي په تناسب (Capital Appreciation/Increase) یې لکه څرنګه چې په اساسنامه کې ټاکل شوې وه، زیاتوالی ونه کړ نو په دې ډول د پانګې د زیاتوالي دا سلنه هم له ۲۵.۵ نه ٦.۲۵ سلنې ته راټیټه شوه او پاتې پانګه یې خصوصي پانګې جوړوله. د ۱۹۹۵ میلادي کال تر پایه نږدې د ۱.۹ میلیارد حسابي واحد د غړو له لوري ورکړل شو. د دې بنسټ لوی ونډه وال مصر، لیبیا، عاج ساحل او الجزایر هېوادونه دي. د غیر سیمه ییزو هېوادونو له ډلې څخه امریکا، جاپان، المان، فرانسه او کاناډا د ډېرې ونډې لرونکي دي.

د بانک د تمویل دویمه سرچینه د بانک پورونه دي چې په ۱۹۹۵ میلادي کال کې د یاد بانک ټول پورونه ٦.۴۳۵ میلیون حسابي واحدونه وو. په لومړیو کې یاد بانک د اسیایي او بین الامریکایي پراختیایي بانکونو برعکس د پانګې نړیوال بازار ته د پور پاټو وړاندې کولو په برخه کې له ستونزو سره مخ ؤ، ځکه چې د نړۍ هیڅ لوی صنعتي هېواد هم دې ته حاضر نه ؤ چې د مسؤلې پانګې لویه برخه پر غاړه واخلي. لومړنی اوږدمهاله پور په ۱۹۷۲ میلادي کال کې د کاناډا هېواد ته ورکړل شو. د بانک نورې مالي سرچینې د دوه اړخیزو عامه پورونو اخیستل، مرکزي بانکونو او غړو هېوادونو ته د دوه کلنو پور پاټو پلور او د پانګې له کورنیو بازارونو او د اروپا د پانګې له بازارونو څخه د پور اخیستل دي. د پورونو د اخیستلو په برخه کې د افریقا پراختیایي بانک یوه ځانګړتیا هم

د مقدمو پورونو (Senior Debts) او د فرعي پورونو (Subordinated Debt) ترمنځ توپیر او تفکیک دی. له فرعي پورونو څخه د نغدوالي ستونزې له منځه وړلو په موخه هغه وخت ګټه اخیستل کېږي، چې د مقدمو پورونو بېرته ورکړه نه وي ترسره شوې. د بانک د اساسنامې له مخې؛ د یو غړي هېواد مجدد تمویل یا ټول پور باید د هغه غړي چې لا یې هم د (AFDB) له بانک څخه ګټه نه وي اخیستې، د شخصي پانګې له۸۰ سلنې څخه ډېر نه وي. په ۱۹۹۵ میلادي کال د بانک د پور سیاست له مخې، د بانک له لوري ټول اخیستل شوی پور د ټولو ونډه والو د شخصي پانګې له ۸۰سلنې څخه لوړ شو او تر ٦.۱۸۸ میلیون حسابي واحدونو ورسېده چې له دې برخې یې ۳.٦۵۹ میلیون حسابي واحدونه مقدم او اصلي پورونه او ۲.۵۲۹ میلیون واحده هم فرعي پورونه وو.

په ۱۹۷۲ میلادي کال کې د هغه هوکړه لیک له مخې چې د (AFDB) او ۱٦ افریقایي غړو ترمنځ عقد شو، د افریقا پراختیایي صندوق (African Development Fund, AFD) جوړ شو. د دې صندوق یوه لویه موخه د افریقایي غړو هېوادونو اقتصادي پرمختیا ملاتړ او په مساعدو شرایطو د داسې پورونو برابرول وو چې د سود اندازه یې کمه وي ( په ځانګړې ډول د ټولنیز سکټور او د کلیو د پراختیا په برخه کې ترېنه ګټه اخیستل کېږي). د دې صندوق پورونه تر ډېره له سود څخه پرته او اوږدمهاله ((له ۴۰ کلونو تر ۵۰ کلونو او یا هم په ډېر کم سود (۰.۷۵ سلنه)) دي. د ۱۹۹۵ میلادي کال په وروستیو کې د دې صندوق غړي هېوادونه د افریقا پراختیایي بانک او ۲۵ غیر افریقایي هېوادونه وو، چې د صندوق ټولیزه پانګه یې د ۷.۷۰۲ میلیون حسابي واحدونه (۱۱.۴۴٦ میلیارد امریکایي ډالرو معادل) وه او نږدې دا ټول مبلغ یې هم تادیه کړ.

د دې صندوق لوی پانګه ورکوونکي په لاندې ډول دي:

- جاپان ۱۴.۵ سلنه.
- امریکا متحده آیالتونه ۱۳.۱۳ سلنه.
- المان هم ۹.۴ سلنه.

د بانک اجرایه پلاوی له ۱۲ غړو (٦افریقایي او ٦ غیر افریقایي) څخه جوړ دی.
دې صندوق د فعالیت له پیل راهیسې تر ۱۹۹۵ میلادي کال پورې د ۴۹ پروژو د تمویل لپاره د ۱۱٦۴ پورونه چې ۷.۸۸۰ میلیون حسابي واحدونه (۱۱.۱۷۲ میلیارد امریکایي ډالرو معادل) کېږي، ورکړي دي. دا پروژې په هغو هېوادونو کې پلې شوي دي چې د سړي سر عاید له پلوه د پرمختیایي هېوادونو تر ټولو بېوزلو هېوادونو په ډله کې راځي.

**٦: د اسیا پراختیایي بانک (Asian Development Bank, ADB)**

د اسیا پراختیایي بانک په ۱۹٦۵ میلادي کال کې جوړ شوی او مرکزي دفتر یې د فلپین هېواد په پلازمېنه مانیلا ښار کې دی. اوسمهال یې ٦۷ هېوادونه غړیتوب لري چې ۴۸ یې اسیایي او ۱۹ یې غیر اسیایي هېوادونه دي. هر هغه هېواد چې د ملګرو ملتونو غړیتوب ولري، کولی شي چې د دې بانک غړیتوب هم ترلاسه کړي. واک لرونکي ارګانونه یې د مشرانو شورا ده چې هر غړی هېواد پکې برخه لري. دا شورا د بانک مشر چې د بانک د راکړو - ورکړو مسؤلیت پر غاړه لري، ټاکي. د بانک عامل یا اجرایه پلاوی له ۱۲ غړو څخه جوړ دی چې درې غړي یې د چین، جاپان او امریکا له لوري په مستقیم ډول او پاتې غړي یې د غړو هېوادونو د مستقیمې رایې اچونې له لارې ټاکل کېږي. د اجرایه پلاوي ۸ غړي په اسیایي هېوادونو او ۴ غړي یې په غیر اسیایي هېوادونو پورې اړه لري. المان او انګلستان دواړه یو غړی لري چې په نوبتي ډول د دواړو هېوادونو استازیتوب کوي.
دې بنسټ د تمویل لومړۍ سرچینه بنسټیزه (اساسي) پانګه ده چې په لومړیو کې یو میلیارد ډالر وه او په ۱۹۹۵ میلادي کال کې د ۳۴.۹ میلیارد د

اخیستنې ځانګړي حق ته چې د ۵۱.۹ ميليارد ډالرو معادل وو، لوړه شوه. د ۱۹۹۵ میلادي کال تر وروستيو د بانک بنسټيزه پانګه د غړو له لوري د ۴۳.۱ میلیارد ډالرو په اندازه ومنل شوه چې ۲۹.۱ میلیارد ډالر يې غير سيمه ييزو غړو هېوادونو او ۱۴ میلیارد ډالر يې د سيمې په هېوادونو پورې اړه درلوده.

ددې بانک لوی ونډه وال په لاندې ډول دي:

- جاپان ۸.۲۰۹ میلیارد امريکايي ډالر.
- چين ۳.۳۸۹ میلیارد امريکايي ډالر.
- هند ۲.۳۳۰ میلیارد امريکايي ډالر.
- استرالیا ۳.۰۳۴ میلیارد امريکايي ډالر.
- کوريا هم ۲.٦۵۰ میلیارد امريکايي ډالر دی.

د دې بانک لوی غير سيمه ییز ونډه لرونکي هېوادونه په لاندې ډول دي:

- د امريکا متحده ایالتونه ۴.۱۰۴ میلیارد امريکايي ډالر.
- کاناډا ۲.۷۵۱ میلیارد امريکايي ډالر.
- المان ۲.۲۷۵ میلیارد امريکايي ډالر.
- فرانسه ۱.۲۲۴ میلیارد امريکايي ډالر.
- انګلستان هم د ۱.۰۴۷ میلیارد امريکايي ډالر.

د بانک دويمه مالي سرچينه پورونه دي. د دې لپاره چې خپلو پورونو ته پراختيا ورکړي، بانک هڅه وکړه چې د پور پاڼې خپرې او د پانګې نړیوال بازار لکه امريکا، جرمني، جاپان او د نفتو د توليدوونکو هېوادونو ته يې وړاندې کړي او په دې ډول خپلې مالي سرچينې پیاوړې کړي. له دې سره ـ سره يي د پور لاسوندونه (سندونه) د پلور په موخه د غړو هېوادونو مرکزي بانکونو او حکومتونو ته وړاندې کړل. دا چې د پور دا لاسوندونه منځمهاله وو، نو له ډېرو خپرولو څخه يې هم ډډه وشوه. هغه مبلغ چې بانک د پانګې له بازارونو څخه د

۱۹۹۵ میلادي کال تر پایه د پور په ډول ترلاسه کړل، له ۱۹.۱ میلیارد ډالرو څخه ډېر شول. نو د دې لپاره چې د اسیا پراختیایي بانک د سود لګښتونه را کم شي، د ورکړل شوو پورونو پر وړاندې یې د اسعارو سواپ (SWAP Currency) راکړې - ورکړې ترسره کړې. نو په دې توګه د (SWAP Currency) راکړو - ورکړو له پلوه د بانک مکلفیت هم تر ۵.۴ میلیارد ډالرو لوړ شو.

د اسیا پراختیایي بانک بله سرچینه د اسیا پرمختیایي صندوق (Asian Development Fund, ADF) غړو هېوادونو ونډې دي. د دې صندوق له لارې غړو بېوزلو هېوادونو ته مناسب پورونه ورکول کېږي. د ۱۹۹۵ میلادي کال په وروستیو کې د صندوق ټوله پانګه ۲۰ میلیارد ډالرو ته رسېده، چې له دې برخې څخه ۱۹.۱ میلیارد ډالر یې ورکړل شوه.

د دې صندوق لوی ونډه لرونکي په لاندې ډول دي:

- جاپان ۱۰.۵ میلیارد امریکایي ډالر.
- امریکا متحده آیالتونه ۲.۵ میلیارد امریکایي ډالر.
- المان هم ۱.۴ میلیارد امریکایي ډالر.

د اسیا پراختیایي بانک دوه نور صندوقونه هم مدیریت کوي. د تخنیکي مرستو لپاره ځانګړی صندوق چې د پرمختیایي پروژو د پلي کولو لویه سرچینه ګڼل کېږي. دا بنسټ د سیمه ییزو مطالعاتو په برخه کې هم تخنیکي مرستې کوي. د دې صندوق مالي سرچینې هم د غړو هېوادونو د خپلې خوښې ونډه او یوه برخه یې هم د اسیا پراختیایي بانک ګټه جوړوي. د ۱۹۹۵ میلادي کال تر وروستیو پورې یاد صندوق له دې سرچینې څخه ٦۳۳ میلیون ډالر پانګه ترلاسه کړه.

د اسیایي بانک چارواکو او د جاپان حکومت تر منځ د هوکړې له مخې، په ۱۹۸۸ میلادي کال کې یو ځانګړی جاپانی صندوق جوړ شو چې موخه یې د

سیمې پرمختیایي هېوادونو ته د پانګونې هڅوونه، د ساختماني مطابقت په برخه کې مرستې او یادو هېوادونو ته د پانګې جریان ؤ. دا مالي سرچینه نه یوازې دا چې د خصوصي سکټور او یا هم قسماً خصوصي او قسماً له دولتي سکټور سره د پرمختیایي پروژو او په ټولیز او یا هم په قسمي ډول د تخنیکي پروژو د تمویل په برخه کې مرسته کوي، بلکې په پانګه کې ګډون او اشتراکات هم مني. د ۱۹۹۵ میلادي کال تر وروستیو پورې د جاپان حکومت له یاد صندوق سره د ٦۰۹ میلیون ډالر ژمنه وکړه.

د اسیا پراختیایي بانک په ټوله کې ځانګړو پروژو ته پورونه ورکوي خو ځینې وخت د سکټوري پورونو ورکړه هم ترسره کوي. له دې سره ـ سره له ۱۹۷۸ میلادي کال راهیسې پورونه د برنامې یا پلان له مخې ورکول کېږي، چې موخه یې د مطابقتي ګامونو مالي ملاتړ دی. د دې ډول پورونو ځانګړتیاوې دا دي، چې له یوې خوا د پروژوي پورونو په پرتله تر ډېره ژر تادیه کېږي او له بلې خوا د پور بېرته ورکړه د اقتصادي سمونونو او اصلاحاتو په پرمختګ پورې تړلې ده چې پور اخیستونکی هېواد په خپله ورته د پرمختیایي سیاست پروګرام (Development Policty Letter) جوړوي. بانک له رسمي سرچینو د پور بنسټونو او سوداګریزو بنسټونو د تمویل د شریک په توګه صادراتي پورونه هم ورکوي. له دې سره ـ سره د اسیا پراختیایي بانک په سیمه کې د پانګونې د هڅونې په موخه د هغو بهرنیو بنسټونو او مؤسساتو په پانګه کې هم ونډه اخلي چې په غړو هېوادونو کې فعالیت کوي او په دې ډول د اقتصادي پرمختیا لپاره د اضافي تمویلي سرچینې هم رامنځته کېږي.

په ۱۹۹۵ میلادي کال کې بانک له خپلو عادي مالي سرچینو او له اسیایي پراختیایي صندوق څخه د ۳.٦ میلیارد ډالرو په ارزښت پورونه ورکړل او د همدې کال په وروستیو کې د بانک له لوري ژمنه شوي ټول پورونه چې ۱۲۹۴ پروژو ته په پام کې نیول شوي وو، ۵٦.۷ میلیارد ډالرو ته ورسېدل، چې ۳۹.۲

میلیارد ډالر یې باید د بانک له عادي مالي وسایلو او ۱۷.۵ میلیارد ډالر یې هم باید د ځانګړي صندوق له لوري برابر شوي وای. دا پورونه نه یوازې دا چې د غړو هېوادونو پورونه او تضمینونه وو بلکې خصوصي تصدیو ته یې مستقیم پورونه هم په بر کې نیول. د ۱۹۹۵ میلادي کال په وروستیو کې د اسیا پراختیایي بانک او اسیا پراختیایي صندوق لوی پور اخیستونکي په لاندې ډول وو:

- اندونیزیا ۱۲.۱ میلیارد امریکایي ډالر.
- پاکستان ۸.٦ میلیارد امریکایي ډالرو.
- هندوستان ۵.۸ میلیارد امریکایي ډالر.
- فلپین ۵.۸ میلیارد امریکایي ډالر.

په دې ډول د بانک د ټولو پورونو ٦٦.۷ سلنه یې یادو هېوادونو ته ورکړل شوې وه.

## دویم: نړۍوالې ګډې بانکي مرستې (همکارۍ)

د (Oswald Hahn) په اند د بانکي ګډو مرستو په برخه کې کولی شو چې د ځانګړي مفهوم همکارۍ او عام مفهوم همکارۍ ترمنځ توپیر ته قایل شو. په عام مفهوم همکاري د دوه تصدیو ترمنځ مرستې او همکارۍ دي چې په بشپړ ډول خپلواکې وي او په خپلواک ډول د یوې هوکړې له مخې په یوه ځانګړې سیمه کې د یوې ځانګړې موخې (د مثال په توګه د اقتصادیت زیاتوالی) لپاره رامنځته کېږي. خو په ځانګړي مفهوم مرستې د دوو یا ډېرو تصدیو له یووالي څخه عبارت دي، چې د یوې جلا کړنې لپاره رامنځته کېږي، یوه تصدي یې په رأس کې ځای نیسي او بله تصدي (یا تصدۍ) د خپلې (یا خپلو) حقوقي او اقتصادي خپلواکۍ یوه برخه د ارګان تصدي په واک کې ورکوي.

په نړۍواله کچه د ګډې مرستې بڼه یا شکل چې دلته زموږ د بحث موضوع جوړوي، له هغه ډول څخه عبارت دی، چې له لومړي شکل څخه اخیستل

شوې ده. نو په دې ډول، په نړۍواله کچه بانکي ګډه همکاري لږ تر لږه دوه بېلابېلو هېوادونو د پورونو بنسټونو له هوکړې څخه عبارت دی، چې د يوې ځانګړې دندې د نښې ترسره کولو او يا هم د بانکي سياست موخو ته د رسېدو لپاره رامنځته کېږي، څکه چې په ځاني يا انفرادي ډول دې موخو ته رسېدل ستونزمن دي.

د دې پيژندنې له مخې درې ډوله مرستې يا همکارۍ له يو بل څخه بيلېږي:

**۱: د بانکي اړيکو په بنه مرستې (Banker's Correspondence)**

د کورنيو او نړۍوالو بانکونو ترمنځ اړيکې کلاسيکه بين البانکي بڼه ده چې له پخوا راهيسې د بانکونو ترمنځ موجوده ده. د بېلګې په توګه: د حسابونو ساتل چې د مشتريانو د سوداګريزو اړيکو (مراوداتو) او د تادياتي راکړو - ورکړو د تسويې په موخه ترېنه ګټه اخيستل کېږي. په همدې ډول داخلي بانک له بهرني بانک څخه د خپل استازي په توګه په بل هېواد کې د اړيکو په برخه کې د مرستندوی په توګه ګټه اخلي. د راکړو - ورکړو د ډولونو او حجم له مخې؛ يو داخلي بانک کولی شي يو يا څو بهرني بانکونه د ارتباطي مرستندوی په توګه وټاکي او له هغوی سره خپلې بانکي اړيکې پياوړې کړي. دا ډول اړيکې کېدای شي، يوازې د يوه حساب په بڼه وي او يا هم د اشتراکاتو له مخې په يوه يا څو بانکونو کې د حسابونو په بڼه وي. د مثال په توګه: د المان د بانکونو له ډلې څخه يو بانک په ۱۹۸۴ ميلادي کال کې د پور د ورکړې نږدې ۱۰۰۰ بهرنيو بنسټونو سره د بانکي حسابونو اړيکې درلودې چې د هغوی له ډلې څخه له ۵۰۰ بانکونو سره يې د حسابونو له لارې خپلې عادي راکړې - ورکړې ترسره کولې، ۱۰۰ بانکونو د المان بانک په پولي راکړو - ورکړو کې ونډه درلوده او له ۱۲ بانکونو سره يې د دولتونو ترمنځ (بين الدول) حسابونو د تسويې هوکړه درلوده. يوازې له څلورو بانکونو سره يې چټکې بانکي راکړې - ورکړې

ترسره کولې چې سیالانو یې دا ډول راکړې - ورکړې نه ترسره کولې. د دې څلورو ارتباطي بانکونو مرکزونه په لندن، نیویارک، پاریس او ټوکیو کې وو.

**۲: نړۍواله بین البانکي ټولنه/ایتلاف (Consortium Bank)**

په یو طبقه یي بانکي ایتلاف کې دوه بانکونه د لنډمهال لپاره د یوې مالي راکړې - ورکړې (د مثال په توګه د ځانګړې پروژې تمویل) لپاره هوکړه کوي چې د پروژې له پای ته رسېدو سره سم هوکړه هم پای ته رسېږي. په همدې ډول د پور پاڼو د وړاندې کولو او خپرولو لپاره د کوچنیو بانکونو له ټلوالې څخه هم یادونه کولی شو. په دوه طبقه یي ټلوالې کې څو کورني بانکونه له یوه بهرني بانک سره یو ځای مرسته کوي.

**۲.۱: د پور پاڼو د عرضې او خپرولو په برخه کې نړۍوال بانکي ایتلاف (Issuing Consortium)**

په دې ایتلاف کې د همکارانو شمېر نه بلکې د ارزښت لرونکو پاڼو اندازه، د عرضې او خپرولو د راکړو - ورکړو څرنګوالی او د پانګې د بازار وضعیت اهمیت لري.

هر نړۍوال ایتلاف په درېیو ګروپونو وېشل کېږي چې په لاندې ډول دي:

- د ایتلاف نوښتګره ډله چې یو استقراري رکن وي او د ایتلاف لارښوونه او د راتلونکو ګروپونو د لارښوونې او رهبری دنده پر غاړه لري.
- دویمه ډله په ایتلاف کې د منونکو (UnderWriter) بانکونو ډله ده.
- درېیمه ډله هم د پلورونکو (Selling Banks) ډله ده، چې د شمېر له مخې د ایتلاف لوی ګروپ جوړوي.

لارښود یا نوښتګر ګروپ د اسنادو ځای پر ځای کول او اړوند ګواښونه او خطرونه پر غاړه اخلي، په داسې حال کې چې پلورونکي بانکونه له ګواښ یا خطر سره مخ نه وي.

## ۲.۲: د پور نړۍوال ایتلاف

د پور دا ډول ایتلاف د تمویل په لومړیو کې جوړېږي چې د راکړو - ورکړو د حجم له پلوه د ارزښت لرونکو او قیمتي پانګو د خپروونکي ایتلاف په پرتله کوچنی خو د شمېر له مخې د ډېرو غړو لرونکی وي. په دې ډول ایتلاف کې هم کولی شو چې د ایتلاف د لارښوونکو له لارښوونو او یا هم د ایتلاف د غړو له لارښوونو څخه یادونه وکړو. د ګروپ په غړو کې لارښوونکي یا رهبران له یوه هېواد او یا هم له یوه بانک څخه وي.

په دې ډول ایتلاف کې دوه میتودونه رامنځته کېږي:

- **د مستقیم ګډون او شراکت میتود (Straight Syndication-Method):** په دې میتود کې هر غړي ته د پور مبلغ وړاندې له وړاندې ورکول کېږي.
- **انتقالي میتود یا د شراکت د منلو میتود (Participation or Broadcast Method):** په دې میتود کې مدیریت کوونکی ګروپ (Managing Group) د پور ټوله ورکړه پر غاړه اخلي او هغه د نورو بانکونو له لارې مجدد تمویلوي چې یاد بانکونه د دې تمویل په منلو سره د ایتلاف غړي کېږي.

## ۲.۳: نړۍوال مهلت ورکوونکی ایتلاف (International Moratorium Consortium)

دا ډول ایتلاف د بانکونو له لوري په جلا ډول او یا هم د یوه شته ایتلاف له لوري په هغه حالت کې جوړېږي، چې د یو پوروړي د پور د تصفیې او یا هم د وخت په برخه کې پرېکړه کېږي. د ایتلاف دا ډول یو ځانګړی ایتلاف دی چې دنده یې د هوکړه لیک له مخې پور ورکوونکي ته د پور د تصفیې په موخه د وخت ورکولو لپاره د یوې برنامې جوړول دي. د مهلت تطبیق او اجراء په پورو ورکوونکي پورې اړه لري.

**دریم: نړیواله بانکي ملګرتیا**

دا ډول ملګرتیا د بانکونو او یا هم د دولتونو په کچه د ځینو دندو د ترسره کولو په موخه رامنځته کېږي. د بانکي ملګرتیا په اړه کولی شو په ځانګړي ډول د سپما د کسو بنسټونو ترمنځ او یا هم د ملي بانکونو له لویو کوپراتیفونو څخه یادونه وکړو.

د ملګرتیا یاده بڼه په درېیو ډولونو رامنځته کېږي:

**۱: د ملګرتیا له عناصرو سره نړیوالې بانکي ټولنې**

نړیوال اتحادیوي سازمان په لومړیو کې د اختصاصي بانکونو ترمنځ لیدل کېږي چې په حقیقت کې د ملګرتیا برخې او عناصر په درېیو ګروپونو کې رامنځته کېږي:

- ددې لویو بنسټونو له ډلې څخه یو هم د نړیوالو پورونو کوپراتیف متقابلې همکارۍ شورا (World Council of Credit Unions, WOCCU) ده. دا شورا له ۷ نړیوالو سیمه ییزو ټولنو او د افریقایي، اسیایي، امریکایي او د اقیانوس جزایرو هېوادونو د کوپراتیفونو له ۱۰ ټولنو څخه جوړه ده. د (WOCCU) غړي اړ دي چې د ملي او نړیوالو کوپراتیفونو ټولنو د جوړېدو او تمویل ملاتړ په موخه اړین ګامونه پورته کړي.
- د پرمختللو هېوادونو د سیمه ییز سازمان یو ډول د سپما او تعمیراتي شرکتونو نړیواله ټولنه (International Union of Building Societies and Saving Association) ده چې د تعمیراتي سپما له کسې او یا هم د تعمیراتي سپما د کسو له ټولنو څخه جوړه ده. دا ټولنه اساساً اتحادیوي دندې پرمخ وړي؛ خو له ۱۹۶۰ میلادي کال را هیسې، د دې بنسټ دنده هم د تعمیراتي سپما د کسو د جوړولو

ملاتړ کووونکي بنسټ ته لوړه شوه. د کوپراتیف له نړۍوالو ټولنو سره په موازي ډول، اروپايي سیمه ییزې ټولنې هم موجودې دي.

- په قسطونو د ورکړې بانکونو ټولنه او د اجارې (Leasing) بنسټونه په سیمه ییز ډول په اروپا کې شته چې ترڅنګ یې د (Leasing) لپاره ډېرې نورې ځانګړې ټولنې هم جوړې شوې دي.

## ۲: د پور کوپراتیفونه او د سپما کسو نړۍوالې ټولنې

د پور کوپراتیفونه او د سپما کسې په بېلابېلو ډولونو په سیمه ییزه او نړۍواله کچه فعالیت کوي:

- په کوپراتیفي سکټور کې هم په بانکي او هم په عمومي کچه ټولنې رامنځته شوې دي چې په عمومي ډول کولی شو د کوپراتیف نړۍوالې ټولنې او د رایف ایزن له ټولنې څخه یادونه وکړو. د کرنیزو پورونو بنسټونو نړۍواله ټولنه د نړۍوالې بانکي ټولنې یو ډول دی. په همدې ډول له پورته یادو شوو کوپراتیفي بنسټونو له همکارۍ څخه یادونه کېږي، چې د سوداګریزو بانکونو د ملګرتیا ځانګړتیا لري. د بېلګې په توګه: د کوپراتیفي بانکونو ټولنه (Cooperative Banks, UNICO) چې په لومړي ګام کې د کوپراتیفونو د مرکزي بانکونو دندې پرمخ وړي.
- د سپما د کسو بنسټونه د سپما کسو نړۍوال انسټیټیوټ په نوم یوازې یو بنسټ لري. دا بنسټ د ټولنې د دندو پرمخ وړلو سره ـ سره؛ د (WOCCU) په شان د سپما د کسو د جوړولو په برخه کې په فعالانه ډول مرسته کوي. د سپما کسې، د کوپراتیفي پورونو بانکونه او د پور نور بنسټونه د اروپايي هېوادونو د ټولنې په شان ټولنې لري. له دې سره ـ سره د اروپايي ټولنې په کچه د کوپراتیفونو مرکزي بانکونه هم شته چې د مرکزي بانک دودیزې دندې (د لږ تر لږه یا حداقل زیرمې ساتل او یا هم

بانکي مجدد تمويل) پرمخ نه وړي بلکې د دوی پیاوړتیا یا تقویتي دندې او لویې راکړې - ورکړې ترسره کوي. په دې ډول مرستو سربېره، اروپايي کوپراتيفي بانکونه او ځينو نورو هېوادونو لکه ارجنټاين، چيلي، کاناډا، مراکش او ترکيې هم د کوپراتيفونو نړۍواله ټولنه (Volksbanken) جوړه کړې ده.

**۳: د سوداګريزو بانکونو ملګرتيا**

د سوداګريزو بانکونو ملګرتيا د همکارۍ په بڼه ترسره کېږي چې په بل هېواد کې د بهرنۍ څانګې د شتون پر وړاندې يو بديل دی. دا ډول همکارۍ يا د بهرنيو بانکونو سره د (Correspondence Banks) معاملاتو او د داخلي بانکونو د بانکي راکړو - ورکړو د نږدې اړيکو له مخې او يا هم د هغو سياليو له منځه وړلو په موخه رامنځته کېږي چې ورته خدمتونه وړاندې کوي. تر ډېره د يو چوپړ د وړاندې کولو، پلور او يا هم په اړوند هېواد کې د بهرني بانک (بانکونو) او داخلي بانک (بانکونو) تر منځ د مرستې او ملګرتيا په موخه هوکړه رامنځته کېږي. دا ډول ځينې ملګرتياوې ان د يوې نوې ګډې تصدۍ د جوړېدو لامل هم ګرځي. د کواپراتيفونو او د سپما کسو نړۍوالې ټولنې برعکس، د سوداګريزو بانکونو ترمنځ ملګرتيا يوازې په يوه سيمه پورې تړلې نه وي، بلکې (د مثال په توګه اروپا) د اروپايي ټولنې ټولې سيمې په بر کې نيسي. د بانکونو ترمنځ د مرستې دويم ډول د هېواد په داخل کې رامنځته کېږي. خو لا تر اوسه له دې شونتيا څخه ګټه نه ده اخيستل شوې.

**۴: نړۍوال سوداګريز بانکونه**

سوداګريز بانکونه د نړۍوالو تصديو په مفهوم ټول اشتراکي جوړښتونه په بر کې نيسي چې د بانکي مشارکت (Joint Ventur) او يا هم د ائتلاف په بڼه جوړېږي. دا چې دا ډول اشتراکات د ملګرتيا او مرستو له بنې سره يو شان نه دي، نو له همدې لامله يې دلته له ډېرې توضيح څخه هم ډډه کېږي.

# څلورم: سیمه ییزې پولي ټولنې

## پېژندنه

یوه مهمه پولي ټولنه چې له دویم نړۍوال جنگ څخه وروسته د لویې وچې په بڼه رامنځته شوې، د اقتصادي یووالي په چوکاټ کې اروپایي ټولنه ده. د اروپا کورني بازار له جوړېدو څخه وروسته، د ګډ پولي واحد په توګه د اروپا پولي ټولنې جوړېدو غوښتنه هم ډېره شوه چې بالاخره یاده ټولنه په ۱۹۹۸ میلادي کال کې د اروپایي ټولنې غړو هېوادونو له لوري جوړه او یورو (EURO) د ګډ پولي واحد په توګه وټاکل شو. خو د اروپایي ټولنې د ۲۷ غړو هېوادونو له ډلې څخه، تر اوسه یوازې ۱۷ غړي توانېدلي چې له دې پولي ټولنې سره د یو ځای کېدو او یا هم د ادغام ضوابط (Convergent Criteria) پوره کړي. انګلستان له لومړیو نه په دې ټولنه کې ورګډ نه شو او ناروې هم د ټولپوښتنې له لارې دا پولي ټولنه پرېښوده.

**الف: د اروپا مرکزي بانک (European Central Bank)**

د ۱۹۹۲ میلادي کال د ماستریخت (هالند) هوکړې له مخې، د ۱۹۹۹ میلادي کال د جنوري په لومړۍ نېټه د اروپا مرکزي سیستم جوړ شو چې مرکز یې د المان هېواد په فرانکفورټ ښار کې دی. د دې بانک د جوړښت بڼه د المان مرکزي بانک (Bundes bank) د جوړښت له بڼې سره ورته ده. د دې جوړښت له مخې، د اروپایي ټولنې مرکزي بانک فدرالي بڼه لري او د هر غړي هېواد مرکزي بانک مشر د بانک په عالي شورا کې چې تر ټولو لوړ ارګان دی، برخه لري. د دې مرکزي بانک تر ټولو لویه او مهمه دنده د بانکي سیستم څارنه، مراقبت او په چلښت کې د پیسو (یورو) د مقدار تنظیم دی. نو په دې ډول د ګډ پولي سیاست شرایط رامنځته او د اروپایي بانک سیستم جوړ شو. په دې سیستم کې د اروپا نوی جوړ شوی بانک او د ټولنې هېوادونو مرکزي بانکونه شامل شول. د اروپایي ټولنې ټولو غړو هېوادونو چې مرکزي بانکونه یې

په دې سيستم کې شامل شول، د اروپايي مرکزي بانک له سيستم سره په خوا کې يوه بله څانګه د اروپا مرکزي بانک په نوم هم جوړه کړه او د پيسو خپرولو او د غړو هېوادونو پولي سياست واکونه هم دې څانګې ته ولېږدول شول. له جوړېدو راهيسې د اروپا مرکزي بانک د نورو اسعارو پر وړاندې د پولي سياست له وسايلو لکه د پيسو په مقدار کې بدلون او د ناخالص ملي توليد (GNP) سره د هغه مطابقت، د رهبرۍ ربحې پايې او د تبادلې د کچې له بدلون څخه ګټه پورته کړې ده. په همدې ډول ياد بانک د امريکا متحده آيالتونو او د اروپايي ټولنې د اوسنيو اقتصادي شرايطو په پام کې نيولو سره تر دې مهاله تل د لارښودې او رهنما ربحې کچې ته بدلون ورکړی دی. ياد بانک د ۲۰۰۲ ميلادي کال د جنوري مياشتې له لومړۍ نېټې راهيسې د بانک نوټونو خپرول، د سکو ضرب او په چلښت کې د هغوی اچولو دنده هم پرغاړه اخيستې ده.

د اروپا غړي هېوادونه په دې وتوانېدل چې د يوه ځانګړي ډسپلين له مخې د ګډون شرايط (Convergent Criterias) چې يو يې هم د پيسو په ارزښت کې استقرار و، پوره کړي. مخکې له دې چې د اروپا پولي ټولنه د ۱۹۹۹ ميلادي کال له لومړيو په فعاليت پيل وکړي، د اروپايي ټولنې چارواکو د اروپا مرکزي بانک په سيستم کې د ګډون په موخه ياد شرايط وټاکل. د اروپايي ټولنې د مشرانو پرېکړې له مخې دا شرايط بايد د دوو کلونو (په ۱۹۹۷ او ۱۹۹۸ ميلادي کلونو) په اوږدو کې مخکې له دې چې په ۱۹۹۹ ميلادي کال کې ياد بانک په فعاليت پيل وکړي، پوره شوي وای. د ۱۹۹۸ ميلادي کال په وروستيو کې د اروپايي ټولنې هېوادونو چارواکو د نوماندانو د ګډون په اړه له ارزونې څخه وروسته پرېکړه وکړه او په دې ډول د اروپا مرکز بانک فعاليت پيل ته لاره هواره شوه. له دې سره ـ سره دا پرېکړه هم وشوه چې د ۲۰۰۲ ميلادي کال په پيل کې ګډ پولي واحد (يورو) د قانوني پيسو په توګه په چلښت کې واچول شي.

د ګډون شرایط (Conovergent Criterias) په لاندې ډول وو (۱:۷۸):

- د غړیتوب په نوماندو هېوادونو کې په کلني ډول د قیمتونو کچې لوړوالی باید د اروپایي ټولنې د درېیو غړو هېوادونو چې د ځواکمنو پیسو لرونکي دي او یا هم په بل ډول؛ د قیمتونو د تر ټولو کم لوړوالی په کې شتون لري، د قیمتونو د لوړوالي په پرتله له ۱.۵ سلنه څخه لوړ نه وي. هغه هېوادونه چې د ۱۹۹۷ او ۱۹۹۸ میلادي کلونو په لومړیو کې له یادې ستونزې سره مخ وو، نه یوازې دا چې د قیمتونو د ډېر لوړوالي پر وړاندې د ګامونو په اخیستو اړ وو، بلکې قیمتونه یې باید د ټاکل شوو شرایطو (چې د اروپایې ټولنې مشرانو له لوري ټاکل شوي وو) سره سم کړي وای. دا هېوادونه پرتګال، هسپانیا، ایټالیا او انګلستان وو. له دې سره ـ سره چې انګلستان دا شرط پوره کړ، خو دا چې په دې هېواد کې په اروپایي پولي ټولنه کې د ګډون پر وړاندې مخالفین په اکثریت کې وو، نو له همدې لامله یې غړیتوب هم وځنډول شو. پاتې هېوادونو وکولی شو چې د ۱۹۹۹ میلادي کال په پیل کې دا شرط پوره کړي.
- د غړیتوب نوماندو هېوادونو د دولتي اوږدمهاله پور پاڼو د ربحې کچه باید د ځواکمنو پیسو لرونکو هېوادونو د پور پاڼو د منځنۍ کچې له ۲ سلنې څخه لوړه نه وي او یا هم دا چې د قیمتونو لوړوالی په کې د ځواکمنو پیسو لرونکو هېوادونو (جرمني، هالنډ او فرانسه) کې د قیمتونو له لوړوالي څخه کم وي.
- د نوماندو هېوادونو پیسې باید د اروپایي ټولنې د پولي سیسټم د تبادلې کچې (په ټولنه کې هوکړه شوې وه، چې د تبادلې کچې سیسټم له ۲.۲۵ سلنې ټیټه او یا هم لوړه نه شي) په جوړښت کې برخه واخلي او ملي پیسې باید په همدې پولو کې تبادله شي. له دې

سره ـ سره دا هېوادونه په همدې دوو کلونو کې د خپلو ملي پیسو په ارزښت کې کموالی یا د ارزښت تنزیل (Abwertung/Devaluation) رامنځته نه کړي.

- بالاخره نوماند هېوادونه باید دا ثابته کړي چې د دولت بودیجه تر څار او مراقبت لاندې لري او د دې تضمین ورکړي، چې په راتلونکي کې د خپلې بودیجې سیاست د پولي ټولنې له غوښتنو سره سم مراقبت او مدیریت کړي. د دې غوښتنو له مخې د نوماند هېواد د بودیجې کسر باید د ملي ناخالص تولید (ټول توکي او خدمتونه چې د یو کال په اوږدو کې په ملي اقتصاد او یا هم یو هېواد کې تولیدېږي) له ۳ سلنې څخه لوړ نه وي. په همدې ډول دولتي پورونه د ملي ناخالص تولید له ٦٠ سلنې څخه ډېر نه وي.

د دې لپاره چې پولي استقرار د تل لپاره وساتل شي، نو د غړیتوب د ترلاسه کولو لپاره یوازې د دې شرطونو او ضوابطو په پوره کولو هم بسنه نه کوله. نو له همدې لامله غړي هېوادونه اړ وو څو په راتلونکي کې همدا شرطونه پوره کړي. نو د اروپا مرکزي بانک د مفکورې له مخې دا امر یوازې د پیسو استقرار، اقتصادي ودې په ساتلو او د وزګارتیا کچې په ټیټولو سره شونی دی. خو وروستیو پېښو په ځانګړي ډول په نیویارک او واشنګټن کې د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپټمبر میاشتې زړه بوږنوونکو پېښو دا وښوده چې د اکثره صنعتي هېوادونو اقتصادي وده له دې سره ـ سره چې په دې هېوادونو کې د پیسو استقرار موجود دی، اغېزمنه شوه. اوسمهال په ایرلنډ، یونان او پرتګال کې د ملي ناخالص تولید پر وړاندې د بودیجې کسر له ۳ سلنې څخه لوړ شوی دی. اروپایي ټولنه له یوې مودې راهیسې یادو هېوادونو ته لارښوونه کوي، چې د یادو ضوابطو د پوره کولو په موخه د خپلو اقتصادي سیاستونو په برخه کې اړین ګامونه پورته کړي. اروپایي ټولنې په دې هېوادونو کې د بودیجې کسر

راکمولو او د پیسو پړسوب د له منځه وړلو په موخه ۷۵۰ میلیون یورو تیار او د یادو هېوادونو په واک کې یې ورکړل. له دې سره ـ سره؛ د پیسو نړۍوال صندوق هم له یادو هېوادونو سره د مرستې په لټه کې دی. خو د دې لارښوونو پلي کول په ځانګړي ډول د یونان په هېواد کې د ډېرو ناارامیو او ستونزو لامل شول او داسې ورځ نه شته چې رسنۍ په یونان کې د خلکو د لاریونونو راپور ور نه کړي.

په لنډ ډول ویلی شو، چې د اروپایي ټولنې هېوادونو له لوري د قانوني پیسو په توګه په چلښت کې د یورو اچول درې پړاوونه تېر کړي دي:

- **د ګډون یا ادغام شرطونو او ضوابطو ارزونه:** د ۱۹۹۸ میلادي کال په پیل کې د اروپایي ټولنې هېوادونه د ۱۹۹۷ میلادي کال احصایوي ارقامو له مخې وارزول شول چې ایا د غړیتوب نوماندو هېوادونو د ګډون شرطونه یې پوره کړي دي او د جنوري تر لومړۍ نېټې پورې د پولي ټولنې د اصلي غړو په توګه وشمېرل شي او که نه؟ د ۱۹۹۸ میلادي کال تر وروستیو له اسعاري احتکار څخه د مخنیوي په موخه غړي هېوادونه اړ شول چې په خپلو منځونو کې د تبادلې له ثابتې کچې څخه ګټه واخلي.
- **د پولي ټولنې د فعالیت پیل:** دا پړاو د ۱۹۹۹ میلادي کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه پیل او د ۲۰۰۱ میلادي کال د ډسمبر تر پایه دوام درلوده. په دې پړاو کې د یورو پر وړاندې د ملي پولي واحد ارزښت او د غړو هېوادونو ملي پولي واحد د یو بل پر وړاندې د بېرته ګرځېدو له شونتیا څخه پرته (بدون امکان باز ګشت) د تل لپاره وټاکل شو.
- د ۱۹۹۹ میلادي کال له پیله یورو د ګډ پولي واحد (د مقیاس دنده) دنده ترسره کړه. په همدې ډول د امریکایي ډالر، کاناډایي ډالر،

هالنډي ګولډن او سويسي فرانک پر وړاندې د يورو ارزښت او د تبادلې کچه وټاکل شوه. د دې کړنلارې له مخې؛ د تبادلې پر مهال د پولي ټولنې غړو هېوادونو ملي پيسې د يو بل پر وړاندې نه سنجول کېږي بلکې د هر هېواد ملي پيسو ارزښت په لومړيو کې د يورو له مخې سنجش او وروسته د دې سنجش له مخې تبادله کېږي.

- **د تبادلې وسيلې او قانوني پيسو په توګه په چلښت کې د يورو اچول:**

د ۲۰۰۲ ميلادي کال د جنوري مياشتې له لومړۍ نېټې راهيسې يورو نه يوازې دا چې د حسابي واحد او ارزښت د ساتلو وسيلې دنده پرمخ وړي، بلکې د تبادلې د وسيلې دنده چې د پيسو تر ټولو لويه او مهمه دنده ګڼل کېږي، هم پرمخ وړي. دا پړاو دوې برخې لري: د ۲۰۰۲ ميلادي کال د جنوري له لومړۍ څخه تر جولايي پورې ده چې د غړو هېوادونو ملي پيسې د يورو پر وړاندې تبادله شوې. په آلمان کې د فبروري مياشتې تر وروستيو او په ځينو نورو هېوادونو کې د ۲۰۰۲ ميلادي کال د جولای مياشتې تر لومړۍ نېټې پورې ملي پيسې په موازي ډول له يورو سره په جريان کې وې. له دې نېټې څخه وروسته ملي پيسې له چلښت ولوېدې او يوازې يورو د ګډ پولي واحد په توګه په راکړو - ورکړو کې پاتې شو. له چلښت څخه د غړو هېوادونو د ملي پيسو په وتلو سره، اقتصادي واحدونو کولی شو خپلې ملي پيسې له اضافي لګښت څخه (حق الاجرة) پرته د اړوندو هېوادونو مرکزي بانکونو په څانګو کې په يورو تبادله کړي. سوداګريزو بانکونو دا تبادله د حق الاجرة په اخيستو ترسره کوله.

## ۱. د اروپا مرکزي بانک موخې او دندې

د اروپا مرکزي بانکونو سيستم او اروپا مرکزي بانک په اساسنامه کې چې د ماسټريچ د هوکړې له مخې رامنځته شوي او عقد شوي دي، د اروپا مرکزي بانک او د اروپايي ټولنې غړو هېوادونو مرکزي بانکونو موخې او دندې په لاندې ډول يادې شوې دي:

**موخې**

د اساسنامې له مخې؛ په یاد سیستم کې د اروپا د مرکزي بانک دوې لویې موخې عبارت دي له:

- د قیمتونو د ټیکاو تضمین.
- د تلپاتې ودې او روزګارتیا د کچې زیاتوالي په پام کې نیولو سره د اروپايي ټولنې اقتصادي سیاست ملاتړ (البته تر هغې چې د قیمتونو استقرار له ګواښ سره مخ نه شي).

په غړو هېوادونو کې د قیمتونو کچه د استهلاکي قیمتونو شاخص (Hamonisierte Verbraucherpreis index, HBPI) له مخې د یورو په سیمه کې همغږي کېږي او په غړو هېوادونو کې د قیمتونو د لوړوالي کچه باید په کلني ډول له دوې سلنې لوړه نه وي.

**دندې**

د ماسټریچ د هوکړې له مخې د اروپا مرکزي بانک او د غړو هېوادونو مرکزي بانکونو دندې په لاندې ډول دي:

- د پولي سیاست جوړول او پلي کول.
- اسعاري راکړې - ورکړې.
- د غړو هېوادونو د پیسو رسمي زیرمې مدیریت.
- په پیسو د ملي اقتصاد راکړې - ورکړې (تدارک)، په ځانګړي ډول د تادیاتي اړیکو له اخلال څخه پرته پیاوړتیا.
- د یورو بانکنوټونو خپرولو اجازه، البته خپرول یې د غړو هېوادونو مرکزي بانکونو له لوري ترسره کېږي.
- د مالي بازارونو د استقرار او د پورونو بنسټونو په څارنه کې ونډه اخیستل.

- اروپايي ټولنې او غړو هېوادونو ته د سلا او مشورو ورکړه او له نورو نړۍوالو او اروپايي بنسټونو سره مرسته او همکاري.
- د اروپا مرکزي بانک بيلانس جوړول.

## ۲: د اروپا مرکزي بانک د پولي سياست وسايل

د دندو ترسره کولو او موخو ترلاسه کولو لپاره يو لړ وسايل د اروپا مرکزي بانک په واک کې ورکړل شوي دي چې د پولي سياست له دې وسايلو څخه په ځانګړي ډول د قيمتونو د ټيکاو تضمين په برخه کې ګټه پورته کوي.

دا وسايل په لاندې ډول دي:

- **د ټکټانې يا ربحې کچه (Interest Rat):** د اروپا مرکزي بانک د ټکټانې يا ربحې په ټاکلو سره هغه راکړې - ورکړې چې د ياد بانک او نورو سوداګريزو بانکونو ترمنځ ترسره کېږي، نېغ په نېغه تر اغېز لاندې راولي او په ځانګړي ډول د تمويل پر شرايطو اغېزې رامنځته کوي. د ربحې په کچه کې دا ډول بدلون د سوداګريزو بانکونو له لوري د هغوی مشتريانو ته لېږدول کېږي او په دې ډول په پولي بازار کې د لنډمهاله ربحې کچه او د پانګې په بازار کې د اوږدمهاله ربحې په کچه کې هم بدلون رامنځته کېږي.
- **د پرانيستي او ازاد بازار کړنې (Open Market Operation):** د پرانيستي بازار د مهمو راکړو - ورکړو له ډلې څخه چې ۷۰ سلنه د تمويل لوی وسايل جوړوي، يوه هم د لوړې ربحې د ورکړې پر وړاندې د ليلام په بڼه د مرکزي بانک له لوري د پيسو علني (Tender) عرضه ده. دا په دې مانا چې يو ټاکلی مبلغ هغه سوداګريز بانک ته ورکول کېږي، چې د ربحې د لوړې کچې ورکړې ته حاضر وي. د ليلام له دې بڼې څخه د ۲۰۰۰ ميلادي کال له لومړيو څخه ګټه اخيستل

کېږي. مرکزي بانک د لیلام له یوې بلې بڼې څخه چې د مقداري علني عرضې په نوم یادېږي، د ۲۰۰۷ میلادي کال د مالي ناورین له لامله د ۲۰۰۸ میلادي کال د اکتوبر میاشتې له ۱۵ نېټې راهیسې ګټه پورته کوي. د اروپا مرکزي بانک په دې ډول راکړو - ورکړو کې د ربحې کچه ټاکي او سوداګریزو بانکونو ته یې لېږي چې کوم سوداګریز بانک د دې ربحې له مخې ډېرې پیسې مرکزي بانک ته عرضه کوي.

د پرانیستي بازار له دې ډول راکړو - ورکړو سره په خوا کې د راکړو - ورکړو یو بل ډول هم موجود دی چې موخه یې د سوداګریزو بانکونو د نغدوالي په کچه کې بدلون دی. د سوداګریزو بانکونو د نغدوالي په کچه کې بدلون (لکه څرنګه چې مخکې د پولي سیاست په وسایلو کې یادونه وشوه) کولی شي چې د یادو بانکونو د پیسو خلق کچه تر اغېزې لاندې راولي. د پرانیستي بازار دا درې وسیلې د ساختماني عملیاتو او اوږدمهاله معاملاتو له مجدد تمویل څخه عبارت دی.

- **تلپاتې یا دایمي اسانتیاوې:** دا ډول اسانتیاوې د مجدد تمویل قلعه یې اسانتیاوو (Spitzener finanzierungs fazilitat) په نوم یادېږي. د پولي سیاست دې وسیلې ته په الماني ژبه (Tagesgeld) او په انګلیسي کې (Day to Day) ویل کېږي او له دې وسیلې څخه د مالي بنسټونو او بین البانکي لنډمهاله امانتونو او پورونو په برخه کې چې په یوه ورځ او یا هم د اوونۍ په پیل کې د سوداګریزو بانکونو په راکړو - ورکړو کې د نغدوالي د زیاتوالي او یا هم کموالي لامل ګرځي، ګټه اخیستل کېږي. د ربحې په کچه کې د بدلون (تر ډېره په ورځني، څلورویشت ساعته او یا هم اوونیز ډول) په پایله کې د پور او ډېر لنډمهاله امانتونو اخیستل محدودېږي او یا هم دا چې زیاتوالی

کوي. دا حالت د بانکونو په ځلورویشت ساعته او ورځنیو راکړو - ورکړو کې دود دی. سوداګریز بانکونه د ورځې په پیل کې د نغدوالي څارنې په پایله کې دا ګوري، چې ایا بانک د کاري ورځې په اوږدو او یا هم په راتلونکو ځلورویشتو ساعتونو کې د نغدوالي له زیاتوالي او یا هم له کموالي سره مخ کېږي؟ د نغدوالي د کموالي په صورت کې ربحه د هغې کچې له مخې چې د پیسو په بازار کې هره ورځ د مرکزي بانک له لوري ټاکل کېږي، اضافي نغدوالی تقاضا کوونکي بانک ته په ورځني ډول او یا هم د ځلورویشت ساعتونو له مخې ورکول کېږي او یا هم دا چې هغه اقتصادي بنسټونه چې مازاد نغدوالی ولري، خپل مازاد د ټاکلې کچې له مخې بانکونو او مالي بنسټونو ته د لنډمهاله امانتونو په بڼه ورکوي. د پولي سیاست د یوې وسیلې په توګه د اروپا مرکزي بانک له لوري د پورونو او لنډمهاله امانتونو د ربحې کچه په ورځني ډول ټاکل کېږي.

- **د اسعارو په بازار کې لاسوهنه (مداخله):** د اروپا مرکزي بانک له دې وسیلې څخه ډېر لږ او په ندرت سره ګټه پورته کوي چې یوازې یو وار او هغه هم په ۲۰۰۴ میلادي کال کې ترېنه ګټه اخیستل شوې ده.

له دې وسیلې څخه د لاندې دوو موخو ترلاسه کولو لپاره ګټه اخیستل کېږي:
**لومړۍ موخه:** د پیسو پرسوب پر وړاندې مجادله او یا هم د تبادلې کچې له لویو نوساناتو څخه مخنیوی (لومړنۍ یا ابتدایي موخه).
**دویمه موخه:** کله چې د یورو په سیمه کې اقتصادي استقرار له ګواښ سره مخ شي (دویمي موخه).

- **لږ تر لږه قانوني زیرمه (Legal Minimum Reserve):** د اروپا مرکزي بانک سوداګریز بانکونه اړ باسي چې د جاري امانتونو او د

خپلو بانکي پور پانګو پر ورانديې يوه ټاکلې کچه د زيرمې په توګه له مرکزي بانکونو سره وساتي چې اوسمهال ۲ سلنه ده. خو د اروپا مرکزي بانک تر دې مهاله د پولي سياست د وسيلې په توګه له يادې وسيلې څخه ګټه نه ده اخيستې. د نورو وسايلو برعکس، دا وسيله قانوني بڼه لري، چې د نه پام کې نيولو په صورت کې نظمي بنديزونه او تعذيرات رامنځته کوي. مرکزي بانک بايد د لږ تر لږه زيرمې پر ورانديې د ربحې کمه کچه هم تاديه کړي. مرکزي بانک مخکې د دې زيرمې پر ورانديې ټکټانه نه ورکوله. خو دا چې سوداګريز بانکونه د ۹۰يمې ميلادي لسيزې راهيسې د جاري حسابونو د ترلاسه کولو لپاره چې مخکې له ربحې څخه پرته وو، ربح ورکوي (چې لږ تر لږه زيرمه هم په کې شامله ده)، نو د اروپا مرکزي بانک هم د ربحې د دې لګښتونو د يوې برخې د جبران په موخه د لږ تر لږه زيرمې پر ورانديې ربح ورکوي.

- **نور وسايل**: د اروپا د مرکزي بانک له فعاليت راهيسې د ۲۰۱۱ ميلادي کال د اګست تر مياشتې پورې ياد بانک د پرانيستي بازار له وسايلو څخه ګټه پورته نه کړه. خو د يونان د ناوړه اقتصادي وضعيت، د اروپايي ټولنې غړو هېوادونو او د پيسو نړۍوال صندوق له لوري د ۱۹ ميليارد يورو پور ورکړې په پام کې نيولو سره، د اروپايي ټولنې مرکزي بانک د يونان، پرتګال او هسپانيې هېوادونو د پور پانګو پېرلو لپاره په ۲۰۱۱ ميلادي کال کې ګام پورته کړ. اوسمهال د پور پانګو د خپرولو موضوع د اروپايي ټولنې هېوادونو او پيسو نړۍوال صندوق ترمنځ د اروپايي فنډ په نوم ډېره شوې ده او زياتره هېوادونه او ان د اروپايي ټولنې غړو ټولنې له لوري هڅول کېږي (خبري رسنۍ).

په ۲۰۱۰ میلادي کال کې د اروپا مرکزي بانک مشر په پام کې درلوده چې د یورو د ارزښت د لوېدو مخنیوي په موخه د ۱٦.۵ میلیارد یورو په ارزښت له ناورین سره مخ غړو هېوادونو پور پانې وپېري. د یونان د ناورین گواښ دومره پراخ شو چې دوام او د حل لارې نه پیدا کېدو په صورت کې به د یورو سیستم هم له منځه ولاړ شي. نو په دې برخه کې د اروپا مرکزي بانک او د غړو هېوادونو حکومتونه اړ شول، څو د یادو هېوادونو د ناورین را کمولو په برخه کې اړین گامونه پورته کړي. له هغو گامونو څخه چې گټه ترې واخیستل شوه، د ۷۵۰ میلیارد یورو په ارزښت د یو تضمیني چتر (Europaische Sicherungsschirm) جوړول وو. سره له دې چې یونان نه دی توانېدلی چې د اروپایي ټولنې له غوښتنې سره سم لا تر اوسه هم (د ۲۰۱۱ میلادي کال اکتوبر پورې) دولتي پورونه کم کړي، دا گواښ شته چې د یونان دولت له دېوالي کېدو سره مخ شي او په دې توگه یو شمېر اروپایي بانکونه او د نړۍ نور بانکونه هم له منځه ولاړ شي.

**۳: د اروپا مرکزي بانک ارگانونه**

په واقعیت کې د اروپا مرکزي بانک ارگانونه چې د اروپایي مرکزي بانک سیستم د مقرراتو له مخې جوړ شوي دي، د اروپایي ټولنې د غړو هېوادونو د مرکزي بانک اخرالامر گڼل کېږي. دا ارگانونه د اروپا مرکزي بانک له شورا او مدیره پلاوي څخه جوړ دي. له دې سره ـ سره چې شورا د غړو هېوادونو د مرکزي بانکونو له غړو څخه جوړه ده، خو بیا هم د اړوندو هېوادونو تر اوامرو او لارښوونو لاندې نه ده.

- **مدیره پلاوی:** مدیره پلاوی د اروپا مرکزي بانک شورا پرېکړې پلې کوي. په همدې ډول د غړو هېوادونو مرکزي بانکونو ته اړینې لارښوونې او پرېکړې هم صادروي.

د مدیره پلاوي غړي د پولي ټولنې غړو هېوادونو د اقتصاد او مالیې وزارتونو په وړاندیز د اروپایي پارلمان له لوري د رایو په اکثریت منل کېږي او د ۸ کلونو لپاره انتصابېږي. د دې لپاره چې د غړو د ډله ییز انتصاب له لامله په کار کې له ځند څخه مخنیوی وشي، نو هر کال د دې غړو ګمارنه په یو او بل پسې کېږي. مدیره پلاوی له مشر، د مشر مرستیال او له څلورو غړو څخه جوړ دی. یاد پلاوی له خپل منځه یو کس د اقتصادي آمر په توګه ټاکي. د مدیره پلاوي د انتصاب په برخه کې دا په پام کې نیول کېږي، چې د اروپایي ټولنې ټول دولتونه په ورته وخت کې باید د مدیره پلاوي غړیتوب ونه لري. د دې پلاوي څلور غړي باید د اروپایي ټولنې له لویو هېوادونو لکه المان، فرانسه، ایټالیا او هسپانیې څخه او دوه نور غړي یې د پولي ټولنې له نورو کوچنیو غړو هېوادونو څخه وي.

- **د اروپا مرکزي بانک عالي شورا:** د اروپا مرکزي بانک عالي شورا د مدیره پلاوي او د اروپایي ټولنې د غړو هېوادونو له ۱۷ غړو څخه جوړه ده چې په ورته وخت کې د پولي ټولنې غړیتوب هم لري. هر غړی د یوې رایې حق لري او پرېکړې یې د رایو په ډېروالي نیول کېږي. عالي شورا د پیسو سیاست او د لارښوونکې (رهنما) ربحې کچه ټاکي او د مرکزي بانک پیسې تیاروي.

که د پولي ټولنې غړي ۱۸ کسانو ته ورسېږي (چې اوسمهال ۱۷ دي)، د شورا رایې اچونې اصل په دوراني اصل (Rotation principle) بدلېږي. د دې اصل له مخې، ۶/۵ (پنځه پر شپږ) غړي د داخلي ناخالص تولید او ۶/۱ غړي د پولي بنسټ په ټولیز بیلانس کې د (Monetry Financial Institution, MFI) هېوادونو د ونډې له مخې ټاکل کېږي. له دې ډلې څخه پنځه لوی هېوادونه د اروپا مرکزي بانک په عالي شورا کې د څلورو ثابتو رایو لرونکي دي، چې د شورا پنځو غړو له لوري هره میاشت په دوراني توګه کارول کېږي. ۱۰ نورې

رایې د نورو هېوادونو له لوري هره میاشت په دوراني ډول کارول کېږي. که چېرې د غړو شمېر ۲۲ ته ورسېږي، دویم گروپ به په دوو برخو و وېشل شي: نیمایي غړي چې په پنځو لویو هېوادونو پسې راغلي دي، د اتو رایو له حق (دویم نوی گروپ) او پاتې کوچني هېوادونه (درېیم نوی گروپ) له درېیو پاتې رایو څخه په دوراني ډول گټه پورته کوي. د دوراني سیستم له منځته راتگ څخه وروسته د ټولنې زیاتره هېوادونه د مرکزي بانک په عالي شورا کې د برخه اخیستو حق ترلاسه کوي. د رایې حق لرونکي هېوادونه، له دې وروسته هم هر غړی د یوې رایې حق لري.

د مرکزي بانک عالي شورا د دوراني پرنسیب له رامنځته کېدو څخه وروسته د پانگې او عوایدو په برخه کې د رایو په ډېروالي (ثقلت) پرېکړه کوي. د رایو ثقلت د منل شوې پانگې ونډې په پام کې نیولو سره ټاکل کېږي او مدیره پلاوی د رایې حق نه لري. د پرېکنده اکثریت د شتون لپاره د پانگې له درېیو څخه دوې برخې او د غړو مرکزي بانکونو اکثریت اړین گڼل کېږي.

- **د مرکزي بانک پرمختیایي شورا:** دا شورا د اروپا مرکزي بانک مشر، مرستیال او د اروپایي ټولنې ۲۷ غړو هېوادونو مرکزي بانکونو له مشرانو څخه جوړه ده چې د احصایوي ارقامو د راټولولو په برخه کې مرسته کوي او د پولي ټولنې د نوو غړو د منلو په برخه کې سلا او مشورې ورکوي. دا شورا قاعدتاً په هرو درېیو میاشتو کې یو ځل ناسته کوي چې په ناسته کې یې د اروپایي کمیسیون یو غړی او د اروپایي شورا مشر د رایې ورکولو له حق څخه پرته گډون کولی شي. (د کمیسیون غړو اجرایوي دندې د اروپایي شورا او کابینې غړو په شان چې د اروپایي ټولنې پارلمان دی او د دې پارلمان غړي په غړو هېوادونو کې د وگړو له لوري ټاکل کېږي).

### ۴: د اروپا مرکزي بانک پولي زيرمې او پانګه

د ۲۰۱۰ میلادي کال په وروستیو کې د اروپا مرکزي بانک ژمنه شوې یا منل شوې پانګه (Subscribed Capital) ۱۰.۷٦ ميليارد يورو وه چې د غړو هېوادونو مرکزي بانکونو له لوري د ورکړې وړ وه. د ورکړې وړ ټوليزې پانګې پر وړاندې د غړو هېوادونو د مرکزي بانکونو ونډه د يوې کيلي په بڼه د اروپايي مرکزي بانک سيسټم له جوړېدو څخه یو کال مخکې د اروپايي ټولنې د وګړو شمېر او د اروپا د مرکزي بانک د سيسټم له جوړېدو څخه پنځه کاله مخکې د بازار د قيمت په پام کې نيولو سره د اروپا د ټولنې ملي ناخالص ټولنيز توليد کې د هر هېواد د ونډې له مخې جوړه شوې ده. د هرې ونډې یا ګډون ثقلت په هرو پنځو کلونو او یا هم د ګډ بازار د پراختيا په صورت کې نوی کېږي. وروستۍ بیا کتنه د ۲۰۰۹ میلادي کال د جنوري په مياشت کې شوې ده.

د ونډې ثقلت له مخې د اروپا پولي ټولنې څلور غړي هېوادونه په لاندې ډول دي:

- جرمني ۱۸.۹۴ سلنه.
- فرانسه ۱۴.۲۲ سلنه.
- ایټالیا ۱۲.۵ سلنه.
- هسپانیا هم ۸.۳ سلنه.

په همدې ډول د اروپا مرکزي بانک د يورو سيمې له مرکزي بانکونو څخه ۵۰ ميليارد يورو د پولي زيرمې په بڼه ترلاسه کوي چې اوسمهال یې نږدې ۴۰ میلیارد یورو د اروپا مرکزي بانک ته لېږدول شوي دي. دا زیرمې د اروپا مرکزي بانک له لوري ساتل او تعبيه کېږي خو مديريت یې تل د غړو هېوادونو د ملي مرکزي بانکونو له لوري کېږي. په ورته مهال د غړو هېوادونو د مرکزي بانکونو ونډه د دوی له لوري د ژمنه شوې پانګې ۱۵ سلنه مبلغ په سرو زرو او پاتې یې د امریکایي ډالر او یا هم جاپاني ين په مرسته کريډېټ کېږي.

**۵: د اروپا مرکزي بانک خپلواکي**

دا چې د اروپا مرکزي بانک بنسټیزه موخه د قیمتونو ټیکاو دی، نو د اروپایي ټولنې د هوکړې له مخې د همدې موخې ترلاسه کولو لپاره د اروپا مرکزي بانک خپلواکي په رسمیت پېژندل شوې ده، څو د سیاسي نفود او لاسوهنې لاندې را نه شي او د سیاسي لېوالتیاوو، شخړو او کشمکشونو څخه لیرې وساتل شي.

په ټوله کې د اروپا مرکزي بانک له څلور ډوله خپلواکۍ څخه یادونه کېږي:

- **د دندو پرمخ وړلو خپلواکي:** د اروپایې ټولنې په هوکړه لیک کې یوازې د قیمتونو له ټینګښت څخه د پولي سیاست بنسټیزې موخې په توګه یادونه شوې ده چې د اروپا مرکزي بانک دنده د دې موخې ترلاسه کول دي. نو په دې توګه؛ د اروپا مرکزي بانک په دې برخه کې یوازې عملیاتي اړخ لري او د موخې د ټاکونکي په توګه نه تعبیرېږي. په دې توګه ویلی شو چې د اروپا مرکزي بانک د امریکا متحده آیالتونو د فدرالي زیرمې سیستم په پرتله کمه خپلواکی لري.
- **مؤسساتي خپلواکي:** د دې لپاره چې د اروپایي ټولنې او د دې ټولنې د غړو هېوادونو دولتونو د بودیجې کسر له تمویل څخه مخنیوی وشي، نو د ماسټریچ د هوکړې له مخې یادې ټولنې او غړو دولتونو ته د اروپا مرکزي بانک له لوري پور نه ورکول کېږي. نو په دې توګه؛ د اروپا مرکزي بانک او ټولنې غړو هېوادونو ملي مرکزي بانکونه د سیاسیونو د لارښوونو تابع نه دي.
- **مالي خپلواکي:** په دې برخه کې د اروپا مرکزي بانک د بودیجې جوړولو او له خپلو مالي وسایلو څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې چې د ټولنې غړو هېوادونو له لوري تمویلېږي، په بشپړ ډول خپلواک دی او په مرکزي بانک کې د خصوصي بانکونو اغېزې ډېرې کمې

دي. د اروپا مرکزي بانک پانګه په بشپړ ډول د ۲۷ غړو هېوادونو مرکزي بانکونو په واک کې ده او د دې بانکونو زیاتره یې له عامه ملکیت سره لېوالتیا نه لري. یوازې د المان مرکزي بانک، د سویس مرکزي بانک او د اتریش مرکزي بانک پانګه په بشپړ ډول د دولت په واک او ملکیت کې ده. په نورو هېوادونو کې د ساري په توګه: د ایټالیا ملي بانک (National Bank) او د یونان ملي بانک د پانګې لویه برخه د خصوصي سکټور په واک کې ده. د ۲۰۱۱ میلادي کال د جنورۍ میاشتې د پیل راهیسې (د اروپا له پولي ټولنې سره د آیسلنډ یو ځای کېدل) د اروپا مرکزي بانک ٦۹.۹۷ سلنه پانګه د غړو هېوادونو او ۳۰.۰۳ سلنه پانګه هم د هغو هېوادونو په واک کې ده چې لا هم د یورو سیمې غړي نه دي (لکه ډنمارک، ناروې او انګلستان). په تیوریکي ډول ویلی شو، چې د پانګې جوړښت دا ډول د اروپا مرکزي بانک د پرسونل پر سیاست باندې اغېزې نه لري.

- **د کارکوونکو خپلواکي:** د رهبرۍ د غړو په اړه د اروپا مرکزي بانک خپلواکي کولی شو د لاندې ټکو له مخې وپېژنو:

۱: د اروپا مرکزي بانک د عالي شورا د یو غړي لیرې کول یوازې د مستندو او پیاوړو دلیلونو له مخې د اروپا د سترې محکمې په وړاندیز ترسره کېدی شي.

۲: د دې لپاره چې د لېوالتیاوو او ګټو له ټکر څخه مخنیوی وشي، نو هیڅ غړی نه شي کولی ( له استثنایي اجازې پرته) بله اجرایي او یا هم غیر اجرایي دنده ترسره کړي.

۳: د مدیره پلاوي غړي د دندو پای ته رسېدو څخه وروسته بیا په یاده دنده نه ګمارل کېږي.

۴: د بانک د لارښوونې غړي اوږد مهال لپاره ټاکل کېږي (مدیره پلاوي غړي د اتو کلونو لپاره او د غړو مرکزي بانکونو مشران د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي).

۵: د رهبرۍ غړي مسلکي او له شخصي اړخه هم خپلواک وي (۱:۸٦).

## پنځم: د اروپا مرکزي بانک او د امریکا مرکزي بانک د پولي سیاستونو پرتله

د اروپايي ټولنې مرکزي بانک د ۱۹۹۹ میلادي کال د جنوري میاشتې په لومړۍ نېټه جوړ شوی دی. د دې بانک په جوړېدو سره د غړو هېوادونو مرکزي بانکونو د پولي سیاست واکونه تر ډېره له لاسه ورکړل. د دې بانک پولي سیاست د قیمتونو په ټیکاو راڅرخېږي.

د امریکا مرکزي بانک (فدرال ریزرف بانک) په ۱۹۱۳ میلادي کال کې جوړ شوی دی. د دې بانک پولي سیاست د اقتصاي سیاستونو پر پلي کولو راڅرخېږي چې د قیمتونو ټیکاو یې هم یوه برخه جوړوي.

د اروپا مرکزي بانک پولي سیاستونه یوه اوږد مهاله کاري پروسه ده. د دې بانک جوړېدل هم په سملاسي ډول نه دي ترسره شوي بلکې اوږد مهاله پرېکړه وه چې دا مبارزه د اقتصادي موخو په چوکاټ کې د یوې طرحې په ډول د دې لپاره پیل شوه څو وکولی شي چې د پولي سیاست پرېکړې د پولي سیاست د تدابیرو له مخې ونیول شي او په دې ډول د پولي سیاست موخې ترلاسه کړي.

د امریکا مرکزي بانک پولي سیاستونه له نورو هېوادونو سره توپیر لري. د فدرال ریزرف سیستم د پولي او بانکي اړیکو د تنظیم په برخه کې مهمه ونډه لري او د بانک مدیره پلاوی، د ازاد بازار فدرالي کمېټه، سلاکاره فدرالي شورا او د فدرال ریزرف بانک په بېلابېلو آیالتونو کې د خپلو ۱۲ څانګو په مرسته د دې دندو پر مخ بېولو بوخت دي. له دې سره ـ سره چې دا بانک د دندو او

موخو لرونکی دی، خو په نسبي او يا هم مطلق ډول خپلواکي او يا هم تړلتيا يې له ځانګړي اهميت څخه برخمنه ده. د يادو بانکونو هر يو يې د بشپړې خپلواکۍ دعوه لري، دا چې تر کومه بريده حقيقت لري، د دې بانکونو په کړنو پورې تړلې ده.

**۱: د اروپا مرکزي بانک له جوړېدو څخه مخکې وضعيت**

تر ۱۹۸۸ ميلادي کال پورې د واحد بازار له سمونونو او اصلاحاتو څخه د پانګې کنټرول موجود نه و او د اسعارو د جوړښت په هوکړه کې د اسعارو کچې پر ټاکنه باندې د سوداګرو يرغل او تهاجم هر وخت شونی و. نو په دې توګه د حل يوه لاره هم د ارز کچې د يوې برخې ګړندي خوځښت بشپړ ثابتوالی و. هغه څه چې خورا مهم و دا دي چې د اسعارو د کچې په برخه کې ډاډ موجود وي او يو بنسټ (د انګلستان بانک) د بهرې کچه وټاکي. ځکه چې د انګلستان او سکاټلنډ پيسې په اډينبورګ کې په چلښت کې وې. خو دا موخه ترلاسه نه شوه او وروسته په ۱۹۹۱ ميلادي کال کې د ماسټريخت هوکړه  وشوه او له مخې يې په دريېو پړاوونو کې د پولي ټولنې په جوړېدو هوکړه وشوه:

- په لومړي پړاو کې چې په ۱۹۹۴ ميلادي کال کې پيل شو، د پانګې کنټرول پاتې برخې له منځه يووړل شوې او بريتانيا ترغيب شوه چې د اروپا له پلوي ټولنې سره يو ځای شي.
- په دويم پړاو کې چې په ۱۹۹۵ ميلادي کال کې پيل شو، د اروپا نوي پولي بنسټ د پولي ټولنې رامنځته کېدو ته لار هواره شوه، ان د اسعارو د کچې برابري ستونزمنه شوه او د بوېدجې ډېر کسر، له دې سره ـ سره چې غير قانوني نه شو، خو توصيه يې هم نه کېده.
- په درېيم پړاو کې د اسعارو کچه په نه راستنېدونکي (غير قابل برګشت) ډول وټاکل شوه او واحد پولي سياست پرمخ وړل کېده. داسې هوکړه وشوه چې که چېرې د بالقوه غړو اکثريت (د ماسټريخت

معيار) پوره کړي (چې البته پوره نه شو)، له ۱۹۹۷ میلادي کال څخه وروسته به په کار پیل وکړي. په همدې ډول پرېکړه وشوه چې د اروپا پولي ټولنه د ۱۹۹۹ میلادي د جنوري په میاشت کې، هر ځومره هېوادونه چې وکولی شي د ماسټریخت د معیارونو له عهدې څخه وځي، په کار پیل وکړي. همداراز په دې هم هوکړه وشوه چې د اروپا په پولي ټولنه کې پولي سیاست خپلواک او مرکزي بانک د قیمتونو ټیکاو موخې ترلاسه کول د بنسټیزې موخې په توګه وټاکي.

**۲: د اروپا مرکزي بانک پولي سیاستونه**

د پولي مرجع په توګه ټول مرکزي بانکونه د دولتونو اقتصادي سیاستونه پلي کوي او د پیسو د جریان لارښوونکي او همغږي کوونکي په توګه د ټاکل شوو او وړاندیز شوو اقتصادي موخو ترلاسه کول پر غاړه لري.

د پولي جریانونو د لارښوونې او همغږي کولو لپاره یو لړ داسې وسایلو ته اړتیا لیدل لري، څو وکولی شي هغه ستراتیژیکې موخې چې دا وسایل یې د مرکزي بانک د کنټرول چوکاټ جوړوي، ترلاسه کړي.

د دې وسایلو تر ټولو مهم یې په لاندې ډول دي:

- قانوني زیرمه (ذخیره).
- د پور او مجدد تنزیل اړوند سیاستونه.
- د بازارعملیات.

چې وروستي دوه یې د سوداګریزو بانکونو د زیرمې برخه تر اغېز لاندې راولي. په عمل کې له دې وسایلو څخه ګټه اخیستل توپیر لري. د اروپا مرکزي بانک دا وسایل په لاندې ډول کاروي:

د اروپا مرکزي بانکونو سیسټم وسایل او ګامونه د ازاد بازار راکړو ـ ورکړو، دوامداره نغدوالی او همدارنګه لږ تر لږه زیرمې (حداقل ذخیره) جوړوي. د ازاد

بازار څلور ډوله راکړو - ورکړو له مخې د یورو سیستم د پورونو بنسټونو ته پورونه ورکوي.

د مجدد تمویل په مرسته د یورو سیستم د مالي سکټور د نغدوالي اړتیا لویه برخه تر پوښښ لاندې نیسي. په ورته مهال دا سیستم غواړي چې د شرایطو په ټاکلو (د ربحې کچه، د نغدو پیسو د وېش اندازه) سره د ټاکل شوي پولي سیاست پرمخ بېولو هڅه کوي. له اوږد مهاله مجدد تمویل څخه د اوږد مهاله نغدو پیسو د تیارولو په برخه کې د اخباریه علایمو له اغېزو څخه پرته ګټه اخیستل کېږي.

د پرانیستي بازار په چوکاټ کې د مالي سکټور نغدوالي په موخه، سیستم د ګروي راکړو - ورکړو یا آرام موجودۍ راکړو - ورکړو په بڼه د لنډمهاله لېږد په برخه کې یو لړ هوکړې کوي. داسې چې د یورو سیستم ارزښت لرونکې پاڼې (قیمتي پاڼې) د پورونو له بنسټونو څخه پېري، په ورته وخت کې له هغوی سره د بېرته پلور هوکړه کوي او په دې ډول د پور بنسټونو دا هوکړه د هغوی مکلفیت ښکاره کوي چې ارزښت لرونکي پاڼې له مرکزي بانک څخه په راتلونکي ټاکلي وخت کې بېرته پېري. د ګروۍ په راکړو - ورکړو کې د یورو سیستم هغه ارزښت لرونکي پاڼې په پور اخلي چې د پور بنسټونو په واک او ملکیت کې وي. په دې راکړه - ورکړه کې د مالکیت لېږد نه ترسره کېږي. په همدې ډول د یورو سیستم قطعي راکړې - ورکړې هم کوي چې له مخې یې د ارزښت لرونکو پاڼو پېر او پلور د لنډ مهال لپاره نه بلکې په دایمي ډول ترسره کېږي (د ملکیت حق په لېږد سره د پرانیستي بازار راکړې - ورکړې یا معاملات).

سربېره پر دې چې د یورو سیستم د سواپ (SWAP) راکړې - ورکړې هم ترسره کوي چې له مخې یې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د یورو پېر او پلور ترسره کوي او په ورته وخت کې داسې هوکړه کوي چې په راتلونکي ټاکلي وخت کې یورو

د بهرني سعر پر وړاندې بیا وپلورل شي. د دې لپاره چې د بازار اضافي نغدوالی له منځه ولاړ شي، یورو سیستم کولی شي د پور پاڼې خپرې او وپلوري او د پورونو بنسټونو میعادي امانتونه د ربحې پر وړاندې ومني.
د پورونو له بنسټونو سره د مناقصې په جریان کې د پرانیستي بازار ټولې راکړې - ورکړې د مقداري مناقصې او یا هم د ربحې د مناقصې په بڼه ترسره کېږي.
په مقداري مناقصه کې د پور بنسټونه اړ دي (لکه څرنگه چې غوښتن لیک هم دا ښکاره کوي چې دوی تیار دي چې د یورو سیستم له لوري غوښتل شوې (تقاضا شوې) ربحه ورکړي) که چېرې د پورونو بنسټونو له لوري وړاندې شوی قیمت د مرکزي بانک له هغه مبلغ څخه لوړ وي چې د یورو سیستم یې غواړي، نو د پور بنسټونو ته د پیسو واقعي وېش یا توزیع د یو ټاکلي مقدار له مخې ترسره کېږي.
برعکس د ربحې په مناقصه کې د پور بنسټونه اړ دي، څو په خپل غوښتنلیک کې نه یوازې د ټاکل شوو پیسو مقدار بلکې د ربحې هغه کچه هم ولیکي چې تیار دي پرداخت یې کړي. په دې صورت کې د پیسو وېش (توزیع) د هر غوښتنلیک وړاندې کوونکي له لوري د ربحې د لوړوالي له مخې ترسره کېږي.
که چېرې وېش د یوې واحدې ربحې له مخې  وشي، نو له هالنډي کاري عملیې څخه خبرې کېږي. برعکس که چېرې د پور بنسټونه د مرکزي بانک پیسې د انفرادي ورکړل شوې ربحې له مخې ترلاسه کړي، دا ډول وېش د امریکایي کاري عملیې په توگه پېژندل کېږي.
د بانکونو د نغدوالي ورځني نوساناتو پر وړاندې د ډال په توگه سوداگریز بانکونه له مرکزي بانک سره لږ تر لږه (حداقل) زیرمه ساتي. د لږ تر لږه زیرمې سلنه د بانک د مشتریانو له لنډمهاله امانتونو څخه محاسبه کېږي. خو د دې لپاره چې د پولي سیاست موخې ترلاسه شي، نو مرکزي بانک کولی شي په

دې سلنه کې بدلون هم راولي. مرکزي بانک د دې ډول زيرمې ربحې ارزولو لپاره د پيسو بازار په ډول ربحه ورکوي.

**۳: د امريکا مرکزي بانک پولي سياستونه**

د امريکا مرکزي بانک له لومړۍ نړۍوالې جګړې څخه تر دويمې نړۍوالې جګړې پورې د نړۍوالو راکړو - ورکړو په برخه کې ځانګړی ځای ترلاسه کړی و. ځکه چې ټولو مرکزي بانکونو ډالر د ډاډمن سعر په توګه منلی و. د دې بانک د رامنځته کېدو لامل هم د نړۍوالې سوداګرۍ په برخه کې د نړۍوالو شخړو رامنځته کېدل او نا انډوله ورکړې (پرداختونه) وې. په ۱۹۸۰ يمه ميلادي لسيزه کې د امريکا اقتصاد خپل لوړ او ځانګړی ځای تر يوه بريده له لاسه ورکړ. ځکه چې د ډالر ډېر خپرولو له امله نړۍ ته پوروړی شو او سياستوالو په ځانګړي ډول دونالډ ريګن د فرانسې د اکسپريس نوموتې مجلې د پوښتنې په ځواب کې وويل چې:

**۱:** دا چې امريکا د ځواکمن اقتصاد لرونکی هېواد دی، نو بهرني هېوادونه په امريکا کې پانګونې ته لېواله دي او له همدې لامله موږ ډېرې پيسې هم جذب کړې دي.

۲: دا چې د امريکا په اقتصاد کې د پيسو پړسوب کچه ټيټه ده، نو دا امر هم د پانګې د جذب او کشش له عواملو څخه دی.

**۳:** د امريکا متحده آيالتونه په ناآرامه او مغشوشه نړۍ کې يو آرام بندر دی. نو په دې توګه د نړۍ په هره برخه کې چې اقتصادي او يا هم سياسي ستونزې رامنځته کېږي، نو د هغو نا امنه سيمو پانګه او پيسې هم د امريکا متحده آيالتونو ته جريان پيدا کوي.

د زياتره صنعتي هېوادونو برعکس؛ د امريکا متحده ايالتونو تر ۱۹۱۳ ميلادي کال پورې مرکزي بانک نه درلوده. نو په ياد کال د امريکا متحده ايالتونو د مرکزي بانک قانون (Federal Reserve Act) د کانګرس له لوري د منلو موخه

هم دا وه څو د بانک مالي ناورین په وخت کې باید یو داسې بنسټ موجود وي چې بانک ته د وروستي پور ورکوونکي (تمویلوونکي) دنده ترسره کړي.

**د امریکا متحده ایالتونو مرکزي بانک پنځه دندې لري:**

- د پولي سیاست جوړول او پلي کول. دا د امریکا متحده ایالتونو د مرکزي بانک مهمه دنده ده چې د پیسو د عرضې ودې کنټرول په بر کې نیسي چې د استقراري (بشپړ روزګارتیا، د قیمتونو ثبات او دوامداره وده) موخو لپاره پلي کېږي.
- د سوداګریزو بانکونو او نورو پولي بنسټونو د تمویل وروستۍ سرچینه.
- د پیسو خپرول.
- دولت ته د بانکي خدمتونو وړاندې کول.
- د مالي بنسټونو لارښوونه او د مقرراتو ټاکل.

د امریکا مرکزي بانک د خپلو دندو پرمخ بېولو لپاره د نورو مرکزي بانکونو په شان درې وسیلې په واک کې لري چې په لاندې ډول دي:

- د لږ تر لږه زیرمې ټاکل او په هغې کې بدلون.
- د تنزیل (ربحې) پایې (کچې) ټاکل او بدلون.
- د پرانیستي بازار راکړې - ورکړې (ازاد بازار عملیات).

**۴: د امریکا او اروپا مرکزي بانکونو پرتلنه**

| شمېره | د امریکا مرکزي بانک پولي سیاست | د اروپا مرکزي بانک پولي سیاست |
|---|---|---|
| ۱ | د امریکا مرکزي بانک پولي سیاست استقراري سیاست ته د رسبدو په موخه پلی کېږي. | د اروپايي ټولنې مرکزي بانک پولي سیاست د قیمتونو ټیکاو ته د خپلو موخو په سر کې ځای ورکړی او د استقراري سیاست د نورو موخو ترلاسه کولو لپاره یوازې په هغه صورت کې اړین ګامونه |

| | | |
|---|---|---|
| | | پورته کوي چې د قیمتونو ټیکاو موخې ته زیان ونه رسېږي. |
| ۲ | د امریکا مرکزي بانک په پرانیستي بازار کې یوازې د دولتي پور پاڼو پېر او پلور کړي. | د اروپايي ټولنې مرکزي بانک دولتي او غیر دولتي ارزښت لرونکې پاڼو (قیمتي پاڼو) پېر او پلور ترسره کوي او په خپله هم دا ډول پاڼې خپروي. د دولتي پور پاڼو د پېر يا پلور له لامله د دې پاڼو قیمتونه بدلون کوي چې په پايله کې ددې پاڼو اغېزمنه یا مؤثره ربحه هم تغیر خوري او د نورو پور پاڼو او لاسوندونو د ربحې په کچه هم اغېز کوي. |
| ۳ | د امریکا متحده آیالتونو په مرکزي بانک کې د سوداګریزو بانکونو لږ تر لږه (حداقل) زیرمې پر وړاندې ربحه نه ورکول کېږي. | د اروپا مرکزي بانک غړي مرکزي بانکونه د پولي او مالي بنسټونو لږ تر لږه زیرمې پر وړاندې ربحه ورکوي. |

سرچینه: څېړونکی.

## ۵: د امریکا متحده ایالتونو مرکزي بانک سیاست او په یاد هېواد کې د بهرې کچه

په تېرو څو لسیزو کې د امریکا په متحده ایالتونو کې د داخلي ناخالص تولید پر وړاندې د کورنیو د سپما کچه په آرام ډول نږدې ۱۰ سلنه کمه شوې ده. نو په دې ډول؛ ویلی شو چې دې بهیر د یو فعال اقتصادي لوی مدیریت سیاست بنه خپله کړې ده.

کله چې د امریکا متحده آیالتونو اقتصاد د ځوړ په لوري حرکت کړی، نو مرکزي بانک او دولت یې پر وړاندې د بهرې کچې راکمولو او د ډېر دولتي پور اخیستو په بڼه غبرگون ښودلی دی. دا سیاستونه له چټک او جدي اقتصادي ځوړ څخه د مخنیوي په برخه کې گټور دي او په خپل وار یې له جدي ځوړ څخه د مخنیوي په برخه کې مرسته کړې ځو کورنیو ته دا وښیي چې د دوی د سپما کچې کموالی او د ډېر پور اخیستل ستونزه نه جوړوي.
د امریکا په متحده آیالتونو کې د سپما د کچې کموالی په دې مانا نه دی چې، د ۲۰ کاله پخوا وضعیت په پرتله د امریکا متحده آیالتونو کورنیو په خپلو کلنیو لگښتونو کې د ناخالص داخلي تولید ۱۰ سلنه زیاتوالی راوړی دی. بلکې د دې اضافي لگښتونو نږدې نیمایي یې د شرکتونو په گټې کې زیاتوالی دی او پاتې یې د امریکا متحده ایالتونو د بهرنۍ سوداگرۍ بیلانس په کسر کې زیاتوالي له لامله بهر ته جریان پیدا کړی دی. د شرکتونو گټې لوړې کچې په طبیعي ډول د ونډو بازارونه، ډېرې پانگونې او د ډېرې روزگارتیا ودې مالي تامین رامنځته کړی دی. د سپما کچې کموالي داسې اقتصادي شرایط رامنځته کړي دي چې دا ښیي چې د کمې سپما په اړه پرېکړه توجیه کوي (۱۷:۳۹۰).

# خلورم څپرکی
# د مرکزي بانک پولي سیاست

### ۱: د پولي سیاست مفهوم او ماهیت

لکه څرنګه چې د بېلابېلو پدیدو او علومو په برخه کې بېلابېل نظرونه او پېژندنې وړاندې شوې دي، د پولي سیاست په اړه هم بېلابېلې پېژندنې او تعریفونه وړاندې شوې دي. د بېلګې په توګه: پولي سیاست د یو هېواد د مقاماتو له لوري د ټولو سیاستونو په ټولګې باندې اطلاقېږي چې د قیمتونو د ټیکاو کچې، د بشپړ روزګارتیا او دوامداره اقتصادي ودې په موخه جوړ او پلی کېږي. خو یوه هر اړخیزه پېژندنه چې تر ډېره ورباندې هوکړه شوې، په لاندې ډول ده:

پولي سیاست له پولي وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره د ټولیزې تقاضا او ټولیز تولید ترمنځ د انډول رامنځته کولو له لارې د مطلوبو قیمتونو کچې او د پیسو ارزښت ټیکاو ته د رسېدو او د اقتصادي موخو د ترلاسه کولو لپاره د غوښتل شوي او مطلوب چاپېریال رامنځته کولو په موخه د ځانګړو ګامونو او تدابیرو له یوې سلسلې او ټولګې څخه عبارت دی.

په پورتنۍ پېژندنه کې د غور وړ بنسټیز ټکي عبارت دي له:

- د پیسو ارزښت او ټیکاو.
- د قیمتونو غوښتل شوې او مطلوبه کچه.
- د ټولیز تولید او د پیسو ټولیز حجم ترمنځ انډول او تعادل.
- د ټولیزې عرضې او ټولیزې تقاضا ترمنځ د مطلوب چاپېریال رامنځته کول.

- له پولي وسايلو څخه اغېزمنه ګټه اخیستل دي.

پولي سیاست د اقتصاد د عمومي سیاست یوه مهمه برخه ده چې په سالم اقتصاد کې د مرکزي بانک له لوري د پیسو عرضې (د همغه هېواد پولي واحد)، د بانکي ربحې کچې او بالاخره د پیسو پړسوب چې د پیسو ارزښت په ټیکاو پورې اړه لري، د کنټرول په موخه جوړېږي.

بالاخره پولي سیاست د سیاستونو یوه ټولګه ده چې د لویو اقتصادي موخو د ترلاسه کولو او یا هم په اقتصاد کې د نغدوالي د حجم کنټرول په موخه د پولي نظام د کړنو په پایله کې د زیانونو راکمولو په موخه په کار وړل کېږي.

پولي بنسټونه د نغدوالي د کنټرول په موخه له بېلابېلو تګلارو څخه ګټه اخلي چې کولی شي په کمي او کیفي پولي تګلارو يې وویشو:

۱: کمي تګلاره د پرانیستي بازار، بیا کمښت (مجدد تنزیل) او په قانوني زیرمو کې د تغییر په مرسته پلې کېږي.

۲: کیفي تګلاره په هغو پولي ژمنو باندې اطلاقېږي چې له مخې يې د اعتبار ورکړه یا وېش د اقتصاد په هغو برخو پورې چې د مسؤلو چارواکو او بنسټونو له لوري اړین ګڼل کېږي، لارښوونه کوي او تر ډېره په اقتصاد کې د پیسو د خلق ډول دی او برعکس د پولي انقباض جوړښت په اقتصاد کې د پیسو د حجم محدودولو ته ورته دی.

دا سیاست چې تر ډېره د کلاسیک اقتصاد پوهانو له لوري يې ملاتړ کېږي، د پیسو په حجم کې تغییر، د پیسو حجم په وده او د بهرې په کچه کې تغییر او د مالي اسانتیاوو د ورکړې په شرایطو کې تغییر له مخې پلی کېږي. د پولي سیاست بنسټیزه موخه د پیسو د عرضې کنټرول او د پیسو، تولید او پړسوب ترمنځ اړیکې تنظیمول دي. د پولي سیاست د پلي کولو لپاره پولي بنسټونه (سیاست جوړوونکي) د خپلو مطلوبو موخو لکه د پیسو پړسوب ټیټه کچه او

بالقوه تولید ته نږدې حقیقي تولید په موخه د سیاست له وسایلو (لنډمهاله بهرې کچه او پولي پایه) څخه ګټه اخلي.
د پولي اقتصاد په پراختیا او تکوین سره پولي سیاست هم په پرله پسې پېړیو کې بدلون او تحول کړی دی. کله چې په ۱۹۳۰ میلادي کال کې د تقاضا په مدیریت کې د دولت ونډه پراخه شوه، نو له مالي سیاست سره په څنګ کې له پولي سیاست څخه هم د یوې بشپړوونکې وسیلې په توګه او په ځینو شرایطو کې د مالي سیاست پر ځای ګټه اخیستل کېده.
په ۱۹۷۰ میلادي لسیزه کې په ځینو صنعتي هېوادونو کې د پیسو د پړسوب زیاتوالی د دې لامل شو چې اقتصاد پوهان په دې برخه کې د پیسو ونډې ته ډېر پام وکړي. نو له همدې لامله د پیسو پړسوب او د پیسو د عرضې کنټرول په موخه د پولي سیاست په ونډه (نقش) هم ټینګار وشو.

## ۲: د پولي سیاست ډولونه

پولي سیاستونه په ټوله کې په انقباضي پولي سیاست او انبساطي پولي سیاست وېشل کېږي. مرکزي بانک او پولي بنسټونه له پولي وسایلو څخه په ګټه اخیستنې او د اقتصاد بنسټیزو موخو د ترلاسه کولو لپاره له انبساطي او انقباضي پولي سیاستونو څخه ګټه پورته کوي. په انقباضي پولي سیاست کې پولي بنسټ (مرکزي بانک) د پولي پایې د محدودولو او یا هم د پیسو زیاتوونکي ضریب کمولو له لارې هڅه کوي څو په اقتصاد کې ټولیزه تقاضا کمه کړي. په انبساطي پولي سیاست کې د مرکزي بانک موخه په اقتصاد کې د پیسو حجم زیاتول، د بهرې کچې راکمول او په پایله کې د ټولیزې تقاضا حجم زیاتول دي.

## ۱.۲: انقباضي پولي سیاست

کله چې په هېواد کې په چلښت (جریان) کې پیسې په اقتصاد کې د شته توکو او خدمتونو په پرتله ډېرې وي او په دې ډول د پیسو پړسوب موجود وي؛ نو مرکزي بانک د پیسو پړسوب او د پیسو د عرضې کنټرول په موخه له انقباضي پولي سیاست څخه ګټه پورته کوي او له بېلابېلو وسایلو څخه په ګټه اخیستنې سره له بازار څخه د پیسو په راټولولو لاس پورې کوي څو د پیسو په حجم کې کموالی راولي. انقباضي پولي سیاست د اقتصادي کړنو د ورو کولو په موخه تر لاس لاندې نیول کېږي. دا په واقعیت کې هغه حالت دی چې په بازار کې د توکو او خدمتونو د تولیزې عرضې په پرتله تولیزه تقاضا ډېره وي. نو په دې حالت کې له داسې سیاست څخه ګټه اخیستل کېږي، چې پایلې یې د شته حالت برعکس وي. دا په دې مانا چې تولیزه تقاضا کمه او تولیزه عرضه ډېره شي. نو په دې ډول یا تقاضا کمېږي، یا په عرضه کې زیاتوالی راوستل کېږي او یا هم دا چې د دې دواړو یو داسې جوړښت رامنځته کېږي څو د لوی اقتصاد په کچه د (D=Q) اړیکې ځای (D>Q) ونیسي.
دا ډول پولي سیاستونه تر ډېره پورې د ټکټانې کچې د لوړوالي په مرسته تر لاس لاندې نیول کېږي څو په پایله کې په اقتصاد کې د پیسو پړسوب کچه راکمه شي. یا هم په ساده ډول: هر مرکزي بانک هڅه کوي، د پیسو د پړسوب له لوړې کچې څخه چې د پیسو په حقیقي ارزښت کې د کموالي لامل ګرځي، مخنیوی وکړي.

## ۲.۲: انبساطي پولي سیاست

د تولیز تولید د زیاتوالي په موخه د پیسو په عرضه کې زیاتوالی دی. د پیسو د عرضې زیاتوالی د ربحې کچې کموالي او په پلان شوې پانګونه کې د زیاتوالي لامل ګرځي، تولیز لګښتونو او د تعادل په کچه کې زیاتوالی راولي. یا هم په بل ډول: انبساطي پولي سیاست په دې مانا دی چې کله چې په اقتصاد کې

د ټولیزو توکو او خدمتونو په پرتله د پیسو حجم یا اندازه کمه وي نو په دې حال کې مرکزي بانک پیسو ته د وګړو د تقاضا د ځواب ویلو په موخه په اقتصاد کې د پیسو حجم زیاتوي. دا ډول پولي سیاست تر ډېره پورې د اقتصادي ځوړ او وزګارتیا له کچې سره د مبارزې په موخه تر لاس لاندې نیول کېږي او د ربحې کچې په ټیټولو سره پلی کېږي.

کله چې ټولیزه تقاضا له ټولیزې عرضې څخه ډېره کمه وي، نو دې حالت ته اقتصادي ځوړ ویل کېږي او د اقتصادي ودې او غوړېدو (رونق) رامنځته کولو او اقتصادي ځوړ له منځه وړلو په موخه باید په ټولنه کې تقاضا زیاته شي. نو په دې ډول؛ د ملي اقتصاد د تزریقي جریان هغه برخې چې په ټولنه کې د تقاضا د زیاتوالي لامل ګرځي، باید وده وکړي. یانې دا چې هغه سیاست چې په اقتصاد کې د پیسو مقدار (Q) او ټولیزې تقاضا (D) ترمنځ اړیکه له (Q>D) نه (Q=D) ته را وګرځوي.

**خنثی پولي سیاست**

کله چې مرکزي بانک د پیسو په بازار باندې واکمن شرایط مثبت ارزوي او په پولي بازار کې د لاسوهنې یا مداخلې نیت ونه لري، نو د مرکزي بانک دا سیاست د خنثی پولي سیاست په نوم یادېږي. په خنثی پولي سیاست کې مرکزي بانک د بازار پر شرایطو د څارنې ترڅنګ د بانکونو د اعتباراتو په تګلاره کې هم لاسوهنه (مداخله) نه کوي. د خنثی پولي سیاست له پلي کولو څخه د مرکزي بانک لویه موخه په بازار کې د واکمنو شرایطو ساتل او د پیسو د عرضې او تقاضا ترمنځ په رامنځته شوي ثبات کې بدلون نه راوستل دي.

## ۳: د پولي سیاست موخې

اوسنی پولي ثبات د پولي سیاست مسلمه موخه ده. د دې ترڅنګ یو لړ نور نظرونه او تأملات هم موجود دي چې پولي سیاست تر کومه بریده پورې باید نورې موخې هم په پام کې ونیسي او څنګه د اقتصاد عمومي سیاست پیاوړی کړي.

**د پولي سیاستونو لویې موخې په لاندې ډول دي:**

۱: د قیمتونو ټیکاو او د پیسو د پړسوب کنټرول.

۲: بشپړه روزګارتیا.

۳: دوامداره اقتصادي وده.

۴: د تادیاتو بیلانس انډول او تعادل.

د پورتنیو موخو د لومړیتوب په برخه کې اقتصاد پوهان او د اقتصادي سیاستونو جوړوونکو ترمنځ د نظر یووالی نه لیدل کېږي. ځینې په قیمتونو کې ثبات د پولي سیاست لویه موخه ګڼي، خو ځینې نور بیا بشپړه روزګارتیا او اقتصادي وده د پولي سیاست لویې موخې ګڼي. دا چې ځینې وخت د دې موخو ترمنځ ټکر رامنځته کېږي، یانې د دې ټولو موخو ترلاسه کول په ځانګړي ډول په لنډمهال کې شوني نه وي او د یوې موخې ترلاسه کول کولی شي چې د نورو موخو له ترلاسه کولو څخه مخنیوی وکړي، نو له همدې لامله د پولي سیاست د موخو لومړیتوب ټاکل ډېر اهمیت لري. د مثال په توګه: د اقتصادي ودې په حالت کې قیمتونه تر ډېره پورې په چټکۍ سره لوړېږي او د وارداتو د زیاتوالي په پام کې نیولو سره، د تادیاتو بیلانس انډول او تعادل منفي کېږي چې د مرکزي بانک له دې موخو سره ځینې همغږي او ځینې نور بیا مخالف دي. نو له همدې لامله له دولت څخه د مرکزي بانک د خپلواکۍ مسئله ډېر اهمیت لري. خپلواک مرکزي بانکونه تر ډېره پورې د قیمتونو ټیکاو خپله بنسټیزه موخه ګڼي، خو دولتونه د روزګارتیا او ودې موخو ته د رسېدو لپاره د

پيسو پړسوب ته ډېر پام ونه کړي او د پيسو د پړسوب رامنځته کېدونکی سیاست پرمخ يوسي. په موخو کې له ټکر څخه د مخنيوي لپاره د دولت مالي سیاستونو او د مرکزي بانک پولي سياستونو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول خورا اړين ګڼل کېږي (۴:۱۹۲).

## ۴: د پولي سیاست وسایل

مرکزي بانک د پولي سياست د وسايلو په مرسته کولی شي په اقتصاد کې د پيسو په حجم کې بدلون راولي او د پيسو په حجم کې بدلون او تغيير په خپل وار ټولیزه تقاضا او په پايله کې د تولید، روزګارتیا او د قیمتونو کچه تر اغېز لاندې راولي.

اوسمهال پولي سیاست يو روښي اصول دي چې په مرسته يې دولتونه لوی اقتصاد تر اغېز لاندې راولي.

د پولي سياست وسایل په لاندې ډول دي:

### ۴.۱: د پرانیستي بازار کړنې او عملیات (Open Market Operations)

مرکزي بانک د پور پاڼو (د ګډون او مشارکت پاڼې) د پېر او پلور له لارې د پرانیستي بازار په کړنو او عملیاتو لاس پورې کوي. د پيسو د عرضې زیاتوالي لپاره مرکزي بانک په بازار کې د پور پاڼو په پېرلو لاس پورې کوي. د پور پاڼو د پېر پر وړاندې ورکړل شوې پيسې په بازار کې د پيسو په حجم کې زیاتوالی راولي. د دې پيسو يوه برخه نغده وي او بله برخه يې هم د پانګونې او یا هم سپما بانکونو ته لېږدول کېږي. په چلښت کې هر نغد پولي واحد دقيقاً د پيسو په عرضه کې د يو واحد پول زیاتوالي سره سم دی او په بانکي امانتونو کې د پيسو هر واحد زیاتوالی د بانکي زيرمو او د پيسو د عرضې زیاتوالي (د پورونو په توګه د پيسو رامنځته کولو له لارې) لامل ګرځي.

د پیسو د عرضې کموالي په موخه مرکزي بانک بیا د یاد سیاست برعکس سیاست غوره کوي. یانې دا چې په دې حالت کې د پور پانګو په پلور لاس پورې کوي. خلک له خپلو نغدو پیسو او له بانکي امانتونو څخه په ګټې اخیستنې سره د پور پاڼې پېري چې دا کار په چلښت کې د پیسو د عرضې د کموالي لامل ګرځي. د خلکو له لوري د بانکونو له حسابونو څخه د پیسو ایستلو له لامله له بانکونو سره شته پیسې کمېږي چې په دې ډول بانکونه هم کم پورونه ورکوي او هم د پیسو د خلق برعکس د پیسو د عرضې کموالی رامنځته کېږي.
د پرانیستي بازار کړنې په اسانۍ سره د لارښوونې او هدایت وړ دي. په واقعیت کې مرکزي بانک هم د نورو وګړو او بنسټونو په شان د ونډې او سهم پانګو (د ګډون او مشارکت پاڼې) په پېر او پلور لاس پورې کوي. له دې سره ـ سره مرکزي بانک کولی شي، پرته له دې چې په بانکي قوانینو او مقرراتو کې بدلون راولي، د پرانیستي بازار کړنو څخه په ګټې اخیستنې سره هر وخت او په هره اندازه چې وغواړي، د پیسو په عرضه کې بدلون راوړي (۹۰۵:۲۰).

**۴.۲: قانوني زیرمې (Required Reserve)**

مرکزي بانک کولی شي له قانوني زیرمو څخه په ګټې اخیستنې سره چې په بانکي نظام کې د ساتل شوو امانتونو په پام کې نیولو سره د بانکي مقرراتو له مخې ټاکل کېږي، د پیسو په عرضه کې بدلون راولي. لږ تر لږه بانکي زیرمې دا په ګوته کوي، چې بانکي نظام د هر پرداخت شوي پولي واحد په پام کې نیولو سره د پیسو څومره مقدار خلق کولی شي. په قانوني زیرمه کې د هر پولي واحد زیاتوالی په دې مانا دی چې بانک باید د زیرمې په توګه ډېرې پیسې وساتي او په دې ډول د امانتونو په پام کې نیولو سره لږ پورونه ورکولی شي. په دې حالت کې د قانوني زیرمې نسبت زیاتېږي، د پیسو زیاتېدونکی ضریب او د پیسو عرضه هم کمېږي. برعکس؛ په قانوني زیرمو کې هر کموالی

د قانوني زيرمې نسبت (کچې) کموالي، د پيسو زياتېدونکی ضريب او د پيسو د عرضې د زياتوالي لامل ګرځي.

مرکزي بانک له دې سياست څخه ځکه کمه ګټه پورته کوي چې د قانوني زيرمې په کچه کې هر وخت بدلون راوستل د بانکونو په سوداګريزو کړنو کې د تزلزل لامل ګرځي. د بېلګې په توګه: که چېرې يو مرکزي بانک لږ تر لږه قانوني زيرمه کې لوړوالی راولي نو بانکونه هم د پيسو له کموالي سره مخ کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د بانکونو د امانتونو په کچه کې بدلون نه دی رامنځته شوی. نو په پايله کې بانکونه اړ دي چې د خپلو پورونو په کچه کې تر هغه کموالی راولي څو يو ځل بيا يې د زيرمو په کچه کې بدلون راشي.

**۴.۳: د مجدد تنزيل کچه (د بهرې کچه) (Interest Rate)**

د پولي سياست يوه بله وسيله د بهرې کچه ده چې مرکزي بانک يې بانکونو ته د پورونو ورکړې لپاره ټاکي. بانکونه پيسو ته د اړتيا پر مهال له مرکزي بانک نه پور اخلي. د دې ډول پور اخيستنې دليل کېدای شي له بانکونو څخه د وګړو له لوري د ډېر پور اخيستل او يا هم دا چې د مشتريانو له لوري له تمې څخه د ډېرو پيسو ايستل وي. کله چې مرکزي بانک نورو بانکونو ته پور ورکوي، نو له بانکونو سره زيرمې زياتېږي او له دې اضافي زيرمو څخه په ګټې اخيستنې سره کولی شي ډېر پورونه ورکړي. مرکزي بانک د بهرې په کچه کې د بدلون له لارې د پيسو په عرضه کې بدلون راولي. د بهرې کچې د لوړوالي په صورت کې د بانکونو له لوري له مرکزي بانک څخه پور اخيستل کمېږي. نو له همدې لامله د بهرې په کچه کې هر زياتوالی له بانکونو سره د زيرمې په مقدار کې د کموالي لامل ګرځي او په دې توګه د پيسو عرضه هم کمېږي. برعکس د بهرې کچې کموالی بانکونه پور اخيستو ته هڅوي او د بانکونو په زيرمو او د پيسو په عرضه کې زياتوالی راځي. مرکزي بانک د بهرې له کچې څخه نه يوازې د

پیسو د عرضې کنټرول په موخه ګټه پورته کوي بلکې د ستونزو پر مهال له مالي بنسټونو سره مرسته هم کوي.
له دې وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره په واقعیت کې بانکونه د سوداګریزو پانګو او د پور لاسوندونو (اسنادو) په تنزیل سره د خصوصي سکټور د مالي اړتیاوو یوه برخه پوره کوي. اوس که چېرې هغوی مالي سرچینو ته اړتیا ولري، کولی شي له مرکزي بانک سره د پور پانګو د بیا کمښت (مجدد تنزیل) له لارې پور ترلاسه کړي. د استقراض او پور تمایل لپاره د تنزیل په کچه کې بدلون له لارې د بانکونو ترلاسه کېدونکي پورونه تغییر کوي چې په پایله کې یې د پیسو عرضه هم تر اغېز لاندې راځي (۱۵:۱۵۷).

## ۵: پولي سیاست او د بېلابېلو اقتصادي ښوونځیو له انده یې اغېزې

په دې بحث کې د پولي سیاست او اغېزو په اړه د بېلابېلو اقتصادي ښوونځیو نظرونه لولو:

### ۱.۵: د سوداګرو یا مرکنټلیستانو نظریه (۱۵۰۰-۱۷۵۰)

د دې ښوونځي د پلویانو په باور ارزښت لرونکي فلزات (سره زر او سپین زر) ملي شتمني جوړوي او د دې فلزاتو لرل او ساتنه باید په اقتصادي سیاستونو او کړنو کې بنسټیزه او اساسي موخه وګرځول شي. دا نظریه بېلابېل اړخونه لري چې مونږ یې د پولي څېړنو او تجزیې اړخ تر لوست او مطالعې لاندې نیسو. سوداګرو په هغه څه چې وروسته د پیسو مقداري نظریه ونومول شوه، باور درلوده چې د سوداګرۍ چټکه وده په اقتصاد کې د پیسو په ګردښت کې زیاتوالی راولي. یا هم په بل ډول؛ د پیسو د عرضې او د اقتصادي کړنو او

فعالیتونو ترمنځ نېغه اړیکه موجوده وي. نو په دې توګه که د پیسو عرضه زیاتېږي (نور عوامل ثابت وي) نو په اقتصادي کړنو کې هم زیاتوالی راځي.

په همدې ډول سوداګران د پیسو په عرضه کې د تغییر او په قیمتونو باندې یې له نېغې اغېزې څخه خبر و او په دې اړه داسې استدلال کوي چې: په ګردښت کې د پیسو زیاتوالی ځینې وخت د قیمتونو د لوړوالي لامل ګرځي. په دې اړه کولی شو چې له (ژان بودن) څخه یادونه وکړو. دا فرانسوي اقتصاد پوه چې د ډېرو اقتصادي نظریاتو تاریخ لیکونکو په اند د پیسو مقداري نظریې لومړنی رامنځته کوونکی دی زیاتوي چې په شپاړسمو پېړیو کې یې په لویدیځه اروپا کې د قیمتونو تورمي لوړوالی له سویلي امریکا څخه د سرو زرو او سپینو زرو د راتګ یا ورود له لامله و. دا په دې مانا دی چې نوموړي د پیسو عرضې او په قیمتونو یې له اغېزو څخه خبر (۵۶:۵).

## ۲.۵: د کلاسیکانو او نوو کلاسیکانو نظریه

د دې دوو ښوونځیو فکري بنسټ دا دی چې پانګه وال نظام په اقتصادي چارو کې د دولت نه لاسوهنې په صورت کې د ټاکلو شرایطو لاندې انډول او تعادل رامنځته کوي. په بشپړې روزګارتیا کې د تولیزې عرضې او تولیزې تقاضا د برابرۍ له مخې تعادل رامنځته کېږي. د کلاسیکانو او نوو کلاسیکانو د ارزونې او تجزیې له مخې، د پیسو مقداري نظریه (M*V=M*Y) د قیمت نظریې په توګه یادېږي. کلاسیک اقتصاد پوهان لکه ادم سمیت په دې باور دی چې پیسې په اوږدمهال کې خنثی او بې اغېزې دي نو د بشپړې روزګارتیا تعادل اوږدمهاله پدیده ده او د دولت د نه لاسوهنې په صورت کې د اقتصادي ځوړ او د پیسو پړسوب رامنځته کېدو ته هیڅ دلیل نه موجودېږي. د دوی په اند؛ د پیسو پړسوب د بشپړې روزګارتیا په حالت کې په اقتصادي تعادل وضعیت کې د پیسو حجم زیاتوالي له لامله رامنځته کېږي (دوی اقتصاد د بشپړې روزګارتیا په حالت کې انګېري). دا په داسې حال کې ده چې د قیمتونو لوړوالی پر

واقعي متحولینو لکه تولید، روزګارتیا او واقعي مزد اغېزه نه لري. یانې دا چې د قیمتونو په لوړوالي سره اسمي مزد هم په همغه اندازه لوړېږي. که د پیسو مقداري نظریه ومنو نو د قیمتونو د ثبات او په ټوله کې د اقتصادي ټیکاو او ثبات لپاره ښه وسیله په لاس کې لرو. نو په هغه صورت کې پولي سیاست په چلښت کې د پیسو حجم په کنټرول پورې تړلی دی. فیشر (نوی کلاسیک اقتصاد پوه) د دې لپاره وړاندیز کوي چې د بانکي امانتونو تکیه یا پشتوانه سل په سلو پولي زیرمې شي. نو په دې توګه بانکونه نه شي کولی چې د پیسو د حجم زیاتوالي لپاره له دې امانتونو څخه ګټه واخلي (۴۶۲:۲۰).

## ۳.۵: د کینزین اند

د کینزین بنسټیز او اساسي نظر کولی شو چې په دوو محورونو کې را لنډ کړو:

۱: کینزین د پیسو جریان د روزګارتیا له کچې سره تړلی ګڼي او هغه د بهرې په کچې او ملي تولید په ټاکونکو عواملو پورې تړي. د دې کار پایله د پیسو بازار او د توکو بازار خپلمنځي تړلتیا (همبستګي) ده چې په واقعیت کې د سي قانون (عرضه په خپله تقاضا رامنځته کوي)، ردوي. نو د دې خپلمنځي تړلتیا له مخې، پیسې یو بنسټیز متحول دی او که تغییر وکړي نو تر ټاکلو شرایطو ( له پیسو څخه د بهرې کچې باندې اغېزې او د بهرې کچې پر وړاندې د پانګونې غبرګون) لاندې کولی شي د بهرې کچې له لارې د تولید پر کچه د پام وړ اغېزې وکړي. نو له همدې لامله کینزین په پولي سیاست کې منځګړې موخه د بهرې کچه بولي او د پولي سیاست اغېزې د بهرې له کچې څخه مجرا ګڼي.

۲: د وزګارتیا او اقتصادي ناورین د اصلي علت په توګه د اغېزمنې تقاضا کموالي په منلو سره- که چېرې ازاد پانګه وال نظام د دولت او پولي بنسټونو له لوري کنټرول نه شي، تر ډېره به نیمګړې یا ناقصه روزګارتیا (ځوړ او وزګارتیا) رامنځته شي.

لکه څرنګه چې یادونه وشوه کینزین د پولي سیاست اغېزې د پانګونې د غبرګون په ګډون د بهرې کچې پورې د ترلي تولید په اندازې پورې تړي. د دې نظریې افراطي موضوع چې ځینې اقتصاد پوهان له هغې څخه د مالیون یا مالي نظریې د پلویانو په توګه ملاتړ کوي، دا ده چې د بهرې کچې پر وړاندې د پانګونې کشش په لنډمهال کې ډېر کم او ان صفر دی (عمودي (IS)) او دا د دې لامل ګرځي چې د پیسو حجم تغییرات او د پولي سیاست پلي کول یوازې د بهرې کچې د بدلون لامل ګرځي، په (Y) اغېزه نه لري او یوازې جوړښت (ترکیب) ته یې بدلون ورکوي.

### ۴.۵: د پیسو ښوونځي نظر (شیکاګو)

دا ښوونځي له دې سره ـ سره چې په لومړیو کې یې د پولي ښوونځي او د پولي سیاستونو او د پولي نقش د پرمخ وړونکي ببرغچي په توګه شهرت پیدا کړ، په ورته وخت کې یې د اقتصادي کړنو ازادي، د کسب، کار او ازاد بازار واکمنی سیاست، له قید او شرط څخه پرته د پانګونې او سود انګېزې ملاتړ او په اقتصاد کې د دولت نه لاسوهنې له معیارونو څخه هم پلوي وکړه.

د دې ښوونځي لارښود او رهبر (فریډمن) په اند؛ د پیسو عرضه او تقاضا د ملي عاید ټاکونکي دي او د پیسو په عرضه کې هر ډول بدلون د ملي ناخالص تولید اسمي ارزښت کې د بدلون لامل ګرځي. د دې نظریې او د کینزین د نظریې ترمنځ لوی توپیر دا دی چې د کینزین د نظریې برعکس چې د پیسو په عرضه کې بدلون یې د بهرې کچې له کانال څخه لیده، د نوموړي په اند په پانګونې باندې د بهرې کچې د ناڅرګندو اغېزو له لامله د پولي سیاست ګټورتوب او اغېزمنتوب په اړه شک کېده. خو فریډمن او د هغه ملګري په دې باور دي چې د پیسو په حجم کې بدلون له یوه مستقیم کانال (د فیشر د مبادلې اړیکه) څخه پر پولي عوایدو ډاډمنه او مطمئینه اغېزه لري. په پایله کې پولي سیاست په تولید ډېره اغېزه لري. خو دا چې مالي سیاست په دې ډول چې د بهرې

کچې پر وړاندې د پیسو عرضې او تقاضا جاذبه صفر ده، هیڅ ډول اغېزې نه لري. البته دا هم باید په پام کې ونیول شي چې د پیسو ښوونځي په اند د پیسو حجم زیاتوالی یوازې په لنډمهال کې کولی شي چې په ناخالص ملي تولید محسوسېدونکې اغېزې ولري او په منځمهال او اوږدمهال کې د پیسو حجم زیاتوالی تورمي او انفلاسیوني اغېزې لري.

د وزګارتیا طبیعي کچې فرضیه چې د فریډمن له لوري وړاندې شوې ده، د پولیون کلاسیکه نظریه په نوي ډول بیانوي او د مخکښانو په توګه په منځمهال او اوږدمهال کې د تولید او روزګارتیا په کچې باندې د فعال پولي سیاستونو په نه اغېزو ټینګار کوي. د دې نظریې له مخې، که چېرې د کافي مالوماتو د نه شتون له لامله د پیسو د پېرسوب کچې وړاندوینه سمه نه وي او په راتلونکي کې د پیسو پېرسوب واقعي کچه له وړاندویل شوې اندازې څخه لوړه وي، نو د کارکوونکو په واقعي مزد کې کموالی او د روزګارتیا په کچه کې زیاتوالی راځي. نو د دې کار په پایله کې د وزګارتیا کچه د وزګارتیا له طبیعي کچې څخه ټیټېږي، د تولید کچه د طبیعي تولید له کچې څخه لوړېږي او د کارکوونکو واقعي مزد هم له متوقع مزد څخه کمېږي. نو له همدې لامله یې د نمونې په توګه د ټولیزې عرضې تابع ته د غولوونکې یا دوکه ورکوونکې عرضې تابع نوم ورکړی دی. د دې نمونې رامنځته کېدل د تمو (انتظاراتو) له مخې د فلیپس د منحني د ښکلا لامل شوې چې په لنډ مهال کې کېدای شي د تولید او پیسو پېرسوب ترمنځ ځیناستې رامنځته شي خو په اوږدمهال کې داسې اړیکه موجوده نه ده. د فلیپس منحني عمودي ده چې په اوږدمهال کې کارکوونکي د خپلو انفلاسیوني تمو په برخه کې بیا کتنه او سمون رامنځته کوي او د پیسو پېرسوب په اړه د دوی وړاندوینه د پیسو له واقعي پېرسوب سره سمه وي.

د طبیعي وزګارتیا کچې په نظریه باندې یوه لویه نیوکه دا ده چې کارکوونکي د پیسو پېرسوب کچې د وړاندوینې په برخه کې ولې تېروتنه کوي او تولیدوونکي

ولې دا ډول تېروتنه نه کوي؟. کېدای شي یو ساده کارګر وروستیو مالوماتو ته د نه لاسرسي له لامله د پیسو د پړسوب کچې وړاندوینې په برخه کې تېروتنه وکړي خو د کارکوونکو ټولنه د تجربه لرونکو کسانو او د پوهو اقتصادي سلاکارانو په لرلو سره دا ډول تېروتنه کمه کوي (۳:۱۰۰).

## ٦: د پولي سیاست تګلارې

د ستراتېژۍ (Strategy) اصطلاح چې د تګلارې په توګه تعبیرېږي، لومړی له نظامي برخې رامنځته شوې او وروسته په نورو برخو لکه اقتصاد، سوداګرۍ او په ځانګړي ډول د سیاست او هېواد په برخه کې ډېره کارول کېږي. د ستراتېژۍ اصطلاح ریښه له یوناني اصطلاح (استراتیژیا) څخه ده چې د لارښوونې او فرمان ورکولو په مانا ده. خو اوس د ستراتېژۍ ساده مانا د موخې ترلاسه کولو لپاره د ګامونو همغږي او سازماندهۍ په موخه له یوې عملیاتي طرحې څخه عبارت ده.

نو په دې ډول د پولي سیاست ستراتېژي په واقعیت کې هغه ګامونه او تدابیر دي چې مرکزي بانکونه یې د قیمتونو د ټیکاو په موخه تر لاس لاندې نیسي. کلاسیک اقتصاد پوهان او د پیسو ښوونځي پلویان په پولي سیاست کې د قواعدو رامنځته کولو پلویان دي او مرکزي بانکونه له مخکې ټاکل شوو قواعدو په پلي کولو اړ باسي. د شونتیا تر بریده پورې دا قواعد باید د یو لړ متحولینو په چوکاټ کې په پام کې ونیول شي څو د اړتیا په وخت کې مرکزي بانک نېغ په نېغه د هغوی د کنټرول وړتیا ولري. خو د کینزین ښوونځي پېروان بیا په دې باور دي، چې مرکزي بانک د پولي سیاست د پلي کولو په برخه کې باید په بشپړ ډول خپلواک او ازاد وي څو وکولی شي بنسټیزه موخه چې د پیسو د پړسوب ټیټه کچه ده، ترلاسه کړي. د دوی په اند؛ مرکزي بانک باید په مستمر او دوامداره ډول اقتصادي وضعیت تر پام لاندې وساتي او د موخو ترلاسه کولو

لپاره د چارو کارپوهانو په سلا او مشوره د پیسو په عرضه کې هم بدلون راولي.
د بېلګې په توګه: کله چې د پیسو د پړسوب کچه ټیټه وي او اقتصاد د ځوړ په پړاو کې وي، مرکزي بانک کولی شي چې د پیسو عرضه زیاته کړي او په پایله کې اقتصاد د غوړېدو او رونق په لوري وخوځوي. خو د ستراتېژۍ له مخې د مرکزي بانک قواعد باید له وړاندې جوړ شوو قواعدو او اصولو له مخې پلي شي او د پولي سیاستونو د پلي کولو په برخه کې خپلواک او ازاد نه دي.
مرکزي بانک کولی شي د لاندې تګلارو په خپلولو سره د پیسو پړسوب مهار او کنټرول کړي:
۱: د تبادلې کچې موخې ټاکونکې تګلاره.
۲: د پولي ټولګې (مجموعې) موخې ټاکونکې تګلاره.
۳: د پیسو د پړسوب موخې ټاکونکې تګلاره.
له یادو تګلارو څخه د هغوی د ښېګڼو او نیمګړتیاوو په پام کې نیولو سره په لنډ ډول یادونه کوو:

## ۱.٦: د تبادلې کچې موخې ټاکونکې تګلاره

دا تګلاره د هغو هېوادونو د پیسو ارزښت پر وړاندې چې د پیسو پړسوب کچه یې ټیټه وي، د هېواد د پیسو ارزښت د ټاکلو له لارې په ټیټه کچه کې د پیسو د پړسوب ساتلو په موخه کارول کېږي. دا تګلاره د نورو هېوادونو پر وړاندې د تبادلې ثابتې کچې له مخې کارول کېږي خو ځینې نور موارد هم په بر کې نیسي. د بېلګې په توګه: یو هېواد د تبادلې بې ثباته کچې په حالت کې کولی شي چې د نورو هېوادونو د پیسو پر وړاندې د خپلو پیسو په ارزښت کې په دوامداره ډول بدلون راولي. دا تګلاره په تېرو وختونو کې په لویه کچه کارول کېده خو اوسمهال یې کارول تر ډېره پورې کم شوي دي.

## ددې تګلارې ښېګڼې

ددې تګلارې ښېګڼې په لاندې ډول دي:

- د زماني بې ثباتۍ له ستونزې څخه مخنيوی د دې تګلارې يوه ښېګڼه ګڼل کېږي. ځکه چې د تبادلې ثابتې کچې په برخه کې د يوې ځانګړې قاعدې شتون د زماني نه ثبات او د سياستوالو له لوري د تبادلې په کچه کې له بدلون څخه مخنيوی کوي.
- د دې تګلارې يو بل ښه والی يا ښېګڼه هم دا ده چې ساده، اسانه او په آسانۍ سره د پوهېدو وړ ده. په همدې ډول د تبادلې کچې ثبات کولی شي چې يو هېواد ته د پيسو د پړسوب ټيټې کچې له پلوه ښه اعتبار او ځای ورکړي.
- دا تګلاره په دې شرط د مهار او کنټرول وړ ده چې د تبادلې کچې ثبات لپاره قوي او ځواکمنه اراده موجوده وي.

په پای کې کولی شو دې پايلې ته ورسېږو چې د دې تګلارې له مخې د هغو توکو او خدمتونو لپاره چې په نړۍوالې سوداګرۍ کې يې راکړه - ورکړه کېږي، د پيسو د پړسوب کچه ثابته ساتل کېږي او د پيسو پړسوب په ښه ډول کنټرولېږي، د پيسو پړسوب تمې ثابتې ساتي او له زماني عدم ثبات څخه مخنيوی کوي.

## د دې تګلارې نيمګړتياوې او نواقص

- د دې تګلارې يوه لويه نيمګړتيا دا ده چې د مرکزي بانک خپلواکي له منځه وړي او مرکزي بانک په متناسب ډول د اقتصادي احوالو، اوضاعو او شرايطو په رامنځته کولو سره د پولي سياست جوړول او پلي کولو واک نه لري او نه شي کولی چې اقتصادي نوسانونه کنټرول او مهار کړي. مرکزي بانک د دې تګلارې په نه شتون سره کولی شي چې د داخلي نوسانونو او همدارنګه د هغو بهرني نوسانونو پر وړاندې

سیالي وکړي چې د تبادلې کچې قرارونکې موخې له نورو هېوادونو
څخه هېواد ته جریان پیدا کوي. په همدې ډول کولی شي څو اوضاع
تر کنټرول لاندې راولي.

- د دې تګلارې یوه بله نیمګړتیا هم دا ده، دا چې په پرمختیایي هېوادونو کې د مالي سیستم د پراختیا او پرمختیا شونتیاوې لږې دي، نو له دې تګلارې څخه د ګټې اخیستو په صورت کې یاد هېوادونه له خنډونو او ستونزو سره مخ کېږي. د بېلګې په توګه: د داخلي پیسو د ارزښت کموالي په صورت کې د مالي شرکتونو او بانکونو موقف له جدي زیان او ګواښ سره مخ کېږي. ځکه چې د دې بنسټونو د پورونو لویه برخه په بهرنیو اسعارو کې وي او د دې بنسټونو د شتمنۍ په اړخ کې د شتمنۍ اقلامونو ټولیز مبلغ کم وي او په نهایت کې یې د پور مکلفیتونه ډېرېږي.
- د دې تګلارې بله ستونزه دا ده چې له دې سره ـ سره چې دا تګلاره په پرمختللو هېوادونو کې د پیسو د پړسوب د کنټرول په برخه کې اغېزمنه ده خو په پرمختیایي هېوادونو کې چې مرکزي بانکونه له ښه اعتبار څخه برخمن نه وي، احتکاري انګېزه رامنځته کوي. په دې حالت کې له احتکار څخه وروسته د پیسو په ارزښت کې له کموالي سره ـ سره د پیسو متوقع او اصلي پړسوب زیاتېږي او دا حالت کېدای شي چې د سود کچه لوړه کړي چې منفي احتمالي پایلې به یې ناورینونه وي.

### ۲.۶: د پیسو ټولګې موخه ټاکونکې تګلاره

د پیسو د پړسوب کنټرول له مهمو تګلارو څخه یوه هم د پیسو ټولګې موخه ټاکونکې تګلاره ده. د برټن ووډز د تبادلې کچې سیستم د له منځه تلو څخه وروسته زیاتره هېوادونه د دې تګلارې پلي کولو ته لېوال شول. دا تګلاره پر

دې انګېرنه ولاړه ده چې پيسو ته تقاضا د قيمتونو کچې په ګډون د لوی اقتصاد په څو متحولينو پورې اړه لري. نو په دې توګه د پيسو پړسوب هغه وخت په ښه ډول مهارېدای شي چې له يوې خوا د پيسو د عرضې وده کنټرول شي او له بلې خوا د دې تګلارې موخه هم د پيسو مقداري نظرېې (M*V+P*Q) له مخې تنظيم شي.

په پورتني مساوات کې:

- M د پيسو عرضه.
- V د پيسو ګرځندی والي يا سرعت.
- P د قيمتونو کچه.
- Q د پيسو له مقدار څخه استازيتوب کوي.

که ګرځندی والی ثابت وي، نو د پيسو په عرضه کې د بدلون په پايله کې اسمي ناخالص داخلي توليد هم تر اغېز لاندې راتلی شي. دا په دې مانا دی چې که د پيسو ودې درجه کنټرول شي، نو په اسمي ناخالص داخلي توليد کې بدلون يا تغيير رامنځته کېږي. د پيسو د پړسوب کنټرول په موخه د مرکزي بانک له لوري د پيسو د عرضې ودې لپاره هر کال يوه ټاکلې اندازه ټاکل کېږي. خو له دې تګلارې څخه د تېرو پېړيو د ۷۰يمو او ۸۰ يمو ميلادي لسيزو په پرتله کمه ګټه اخيستل کېږي.

**د دې تګلارې ښېګڼې**

- د دې تګلارې يو لويه ښېګڼه دا ده چې مرکزي بانک کولی شي خپل پولي سياستونه د اقتصادي شرايطو په پام کې نيولو سره همغږې کړي. په همدې ډول دا تګلاره يو هېواد ته دا شونې کوي څو له نورو هېوادونو څخه په جلا ډول د ځان لپاره د پيسو د پړسوب موخه وټاکي او د توليد د نوساناتو پر وړاندې غبرګون وښيي.

- د دې تګلارې بله ښېګڼه دا ده چې عام وګړي د مرکزي بانک په موخو پوهېږي، د پوهې کچه یې لوړېږي او له ځنډ څخه پرته د پیسو د عرضې ودې په اړه مالومات ترلاسه کوي. مرکزي بانک ته د دې توان ورکوي څو د پیسو د پړسوب کچه ټیټه وساتي.
- د دې تګلارې بله ښېګڼه دا ده چې له مخې یې د پیسو د پړسوب پر وړاندې د پیسو اسمي عرضه کنټرولېدی شي.

**د دې تګلارې نیمګړتیاوې او ستونزې**

- د دې تګلارې یوه لویه ستونزه دا ده چې په لنډمهال او اوږد مهال کې د پولي ټولګې (مجموعې) ترمنځ پیاوړې اړیکې موجودې نه دي. نو له همدې لامله اړتیا لیدل کېږي چې د متحولینو (اسمي عاید او د پیسو پړسوب) ترمنځ موخه او د پام وړ پولي ټولګه موجوده وي، له دې څخه پرته یې اغېزمنتوب هم تر پوښتنې لاندې راځي.
- د دې تګلارې بله ستونزه او نیمګړتیا دا ده چې د مرکزي بانک له لوري ورکړل شوې پولي ټولګه باید تل په کنټرول کې وي او له دې څخه پرته غوښتل شوې او مطلوبې پایلې نه ترلاسه کېږي.

## ۳.٦: د پیسو د پړسوب موخه ټاکونکې تګلاره

لکه څرنګه چې پوهېږو د پولي سیاست بنسټیزه موخه د پیسو د پړسوب کچې ټیټ ساتل دي. دا تګلاره د پولي ټولګې او د تبادلې کچې هدف قراروونکو تګلارو چې په غیر مستقیم ډول د پیسو د پړسوب تر اغېز لاندې راولي (لومړی باید د تبادلې کچه او د پیسو ټولګه موخه وټاکل شي څو د پیسو پړسوب کنټرول شونی شي)، برعکس کولی شي چې نېغ په نېغه د پیسو پړسوب خپله موخه وټاکي.

د دې تګلارې بنسټیزې ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

- د پیسو د پړسوب لپاره د یوه منځمهاله عددي موخې ټاکل.

- د بنسټیزې موخې په توګه د قیمتونو ټیکاو او ثبات رامنځته کولو او ساتلو لپاره پیاوړې او قوي ژمنه.
- د داسې هر اړخیزې تګلارې جوړول چې څو متحولین په بر کې ونیسي.
- د پیسو پړسوب موخې ته د رسېدو په موخه په مرکزي بانک کې د روڼتیا شتون.

د پیسو د پړسوب موخې قراروونکې تګلاره یوه نوې پولي تګلاره ده چې په ځینو پرمختللو هېوادونو کې تربنه ګټه اخیستل شوې ده. په دې تګلاره کې د پیسو د پړسوب کچې وړاندوینه بنسټیزه ونډه لري او مرکزي بانک باید د اقتصادي بدلونونو په برخه کې موډولونو ته پرمختګ ورکړي.
د یادولو وړ ده چې د دې تګلارې پلي کول په یو لړ شرطونو او انګېرنو پورې تړلي دي چې د هغوی نه شتون له لامله اغېزمنه نه تمامېږي او خپل اهمیت له لاسه ورکوي.
له د پام وړ شرایطو څخه په لاندې ډول یادونه کولی شو:

- د پیسو پړسوب موخې ټاکلو لپاره په لومړي ګام کې د مرکزي بانک د خپلواکۍ اصل یوه بنسټیزه او اساسي اړتیا ګڼل کېږي او دا خپلواکي باید د دولت مالي او سیاسي فشارونو قرباني نه شي.
- د مرکزي بانک له لوري وګړو ته حساب ورکول او روڼتیا موجوده وي، وګړو ته د مرکزي بانک ګامونه او پولي سیاستونو پلي کول په بشپړ ډول روښانه وي څو د هغو د اعتماد او باور اصل ته زیان ونه رسېږي.
- د دولت مالي محدودیتونه او ملاحظې د پولي سیاست د پلي کولو پر وړاندې خنډ نه شي. دا په دې مانا چې دولت د بودیجې د کسر د تمویل لپاره له بانکي سیستم او یا هم له مرکزي بانک څخه پور وا نه خلي. نو په دې ډول د یو ځواکمن مالي ډسپلین شتون اړین دی په

ځانګړي ډول په هغو هېوادونو کې چې د پیسو لوړ پړسوب او د بودیجې د لوی کسر تجربه ولري.

- مالي ثبات هم د دې تګلارې لپاره اړین شرط ګڼل کېږي. نو د یو ثابت مالي بازار په شتون کې د مالي سیسټم د سلامتیا په برخه کې ګواښ او اندېښنه موجوده نه وي او مرکزي بانک په ښه ډول کولی شي دا تګلاره پلې کړي.
- د پولي سیاست د سمو وسایلو ټاکل هم د دې تګلارې پلي کولو لپاره یوه بله انګېرنه او شرط ګڼل کېږي. لکه څرنګه چې لیدل کېږي د پولي سیاست غیر مستقیم وسایل (د پرانیستي بازار کړنې) د نغدوالي او سیالیت د ښه مدیریت په موخه تر ټولو وړ او مناسب دي.

مرکزي بانکونه باید د موډل جوړولو او د پیسو د پړسوب وړاندوینې وړتیا ولري او له بهرنیو پیسو څخه ګټه اخیستل باید لږ تر لږې اندازې ته ورسېږي.

## د پیسو د پړسوب موخه ټاکونکې تګلارې ښېګڼې

- له دې تګلارې څخه د ګټې اخیستنې په پایله کې د پیسو د پړسوب کچه ټیټه وي، په مرکزي بانک کې د حساب ورکولو او روڼتیا زیاتېدو لامل ګرځي او په راتلونکي کې د پیسو د پړسوب پر وړاندې د قیمت او مزد په ټاکلو کې عدم ثبات هم را کمېږي.
- دا چې دا تګلاره د عامو وګړو لپاره هم ساده او د پوهېدو وړ ده، نو له همدې لامله رڼه او شفافه ده. له دې تګلارې څخه ګټه اخیستل د زماني عدم ثبات شونتیا له منځه وړي.
- په همدې ډول دا تګلاره انعطاف پذیره ده. دا چې مرکزي بانک سمدلاسه کنټرول نه شي رامنځته کولی، نو له همدې لامله هغه د یوبمنځ مهاله موخې په توګه په پام کې نیسي.

**د دې تګلارې نیمګړتیاوې او نواقص**

- دا تګلاره د پیسو پړسوب له معمول ډېر مهم ګڼي.
- دا تګلاره د اقتصادي نوسانونو پر وړاندې چې په ودې باندې منفي اغېزې کوي، د یو هېواد د پولي بنسټونو له ګامونو څخه مخنیوی کوي او هغه د پیسو د پړسوب فرعي موخو په توګه یادوي.
- په اوږدمهال کې د پیسو پر پړسوب باندې د دې تګلارې اغېزې د حس کیدو وړ دي خو په لنډمهال کې د وګړو او بازار لپاره ډېره ګټوره نه ده او په وخت اړین مالومات نه شي ورکولی. په همدې ډول په اوږدمهال کې مالي واکمنتیا د نه منلو وړ وي، د بودیجې لوی کسر د پیسو د ارزښت کموالي لامل ګرځي چې د پیسو د ډېر پړسوب لامل ګرځي (۱۳:۳۱).

## ۷: د بودجې کسر او پولي سیاست

لکه څرنګه چې پوهېږو د بودیجې کسر هغه حالت ته ویل کېږي چې په یوه مالي دوره معمولاً یو کال کې د دولت د عوایدو په پرتله د دولت لګښتونه ډېر وي. د بودیجې کسر نامطلوب او نه غوښتل شوی حالت دی او کولی شي چې د پیسو پړسوب رامنځته کړي. د بودیجې کسر د پولي سیاست او یا هم مالي سیاست د وسایلو په مرسته له منځه وړل کېدی شي.

د پولي وسایلو لکه د بانکنوټونو خپرولو له لارې د بودیجې کسر له منځه وړل په کمه یا هم لویه پیمانه د پیسو پړسوب رامنځته کوي چې په دې حالت کې له یوې خوا د قیمتونو لوړوالی په اقتصاد منفي اغېزې کوي او له بلې خوا په راتلونکي کې دا کسر نور هم زیاتوي. نو له همدې لامله د ښه اقتصادي تشخیص له مخې دولت یوه اندازه اضافي پیسې (د پانګې بازار نه لرونکو هېوادونو کې اغلباً له مرکزي بانک څخه د دولت پور) په چلښت کې اچوي

څو د قیمتونو لوړوالی د شونتیا تر بریده ټیټ وساتل شي، له دې څخه پرته د پولي سیاست په مرسته د بودیجې د کسر تمویل غوښتل شوې او مطلوبې موخې نه شي ترلاسه کولی.

## ۸: د پولي سیاست د لېږد جوړښتونه/میکانیزمونه

د پولي سیاست د لېږد (انتقال) جوړښت د دودیزې او عنعنوي ربحې کچې کانالونه په بر کې نیسي چې د پانګې لګښتونو له لارې فعالیت کوي او پانګونه تر اغېز لاندې راولي. د پانګې قیمت نور کانالونه لکه د تبادلې کچې اغېزې، د دولت یا ثروت اغېزې، د کریډیت نظریې کانال، د بانک پور ورکولو کانال، د بیلانس کانال، د نغد جریان کانال او د کورنیو نغدي اغېزې دي.
د یاد جوړښت له څېړنې څخه لاندې پایلې ترلاسه کېږي:
د لنډمهاله اسمي ربحې کچې د زیاتوالي او کموالي سره له انبساطي او انقباضي پولي سیاستونو څخه ګټه اخیستل تل ګواښوونکی او خطرناک وي. ځکه چې زیاتره مرکزي بانکونه د پولي سیاست یوې مهمې وسیلې په توګه د لنډمهاله اسمي ربحې له کچې څخه ګټه اخلي، نو په دې حالت کې دا ګواښ او خطر موجود دی  چې مرکزي بانک او وګړي به د پولي سیاست د ټاکونکي شاخص په توګه په لنډمهاله اسمي ربحې کچې باندې تمرکز وکړي.
په همدې ډول د لنډمهاله پور وسایل د نورو شتمنیو قیمت هم د پولي سیاست د موقف په اړه مهم مالومات له ځان سره لري ځکه چې د پولي سیاست د لېږد په بېلابېلو جوړښتونو کې مهم عوامل دي. پول ګرایان او کینزیان په دې برخه کې د نورو شتمنیو قیمت لکه د تبادلې کچه، د ونډې (سهم) قیمت، د ځمکې قیمت او د کور قیمت د پیسو د لېږد جوړښت په برخه کې مهمه ونډه لري، ورته نظر لري. د کریډټ کانالونو یوه مهم اړخ په هغو لارو ټینګار دی چې له مخې یې پولي سیاست د نرخونو ترڅنګ د نورو شتمنیو

قیمتونو له مخې اقتصاد تر اغېزې لاندې راولي. همدا راز دا ډول اضافي کانالونه د هغو کانالونو په شان چې د تبادلې کچې له لارې فعالیت کوي، اقتصاد تر اغېز لاندې راولي. د ثروت ډېروالی او اغېزې هغه نور اضافي دلایل دي چې له مخې يې د نورو شتمنيو قیمتونه د پیسو د لېږد جوړښت په برخه کې کومه مهمه ونډه نه لري. په دې برخه کې دا نظریه چې د لنډمهاله ربحې کچې تر څنګ د نورو شتمنیو قیمتونه د پولي سیاست په برخه کې مهمې پایلې ورکوي، د اهمیت وړ ده.

بله مهمه موضوع دا ده چې پولي سیاست کولی شي د اقتصادي د بیا غوړېدو او رونق په برخه کې مهمه ونډه ولري ان که د منځمهالې ربحې کچه صفر ته نږدې هم وي. د بېلګې په توګه: پراختیایي پولي سیاست چې په اقتصاد کې د نغدوالي څواک د لوړېدو لامل ګرځي، کېدای شي چې په پرانیستي او ازاد بازار کې د پېر په برخه کې ترېنه ګټه واخیستل شي. دا پېر کېدای شي چې د دولت لنډمهاله ارزښت لرونکو پاڼو (قیمتي پاڼو) او بهرنیو اسعارو پېر وي چې د پیسو د عرضې او پایې د زیاتوالي لامل وګرځي. نو په دې توګه پولي سیاست د هغه اقتصاد د بیا غوړېدو او رونق لپاره چې له ډیفلاسیون سره مخ وي، کېدای شي چې یو څواکمن خوځوونکی او محرک وي (۱۱:۱۴۲).

### ۱.۸: پولي سیاست او د (LM) منحني لېږد

د (LM) منحني د بهرې کچې او تولید د ټولو جوړښتونو له هندسي محل څخه عبارت دی چې د پیسو په بازار کې انډول یا تعادل په ګوته کوي. که چېرې ملي تولید ثابت وي، نو د بهرې په کچه کې هر ډول بدلون د (LM) منحني د ځای په ځایوالي لامل ګرځي. د بېلګې په توګه: د قیمتونو د ټیکاو حالت کې د پیسو اسمي عرضه کې زیاتوالی د پیسو حقیقي عرضې (MS/P) د زیاتوالي لامل ګرځي چې په پایله کې د بهرې په ټاکلې کچې سره د پیسو بازار له اضافي عرضې سره مخ کېږي او په پایله کې يې د بهرې په کچه کې تر

هغه بریده پورې کموالی راځي څو د پیسو په بازار کې نوی انډول رامنځته شي.
د نوي انډول په حالت کې، له دې سره ـ سره چې د بهرې کچه ټیټه شوې ده، خو ملي تولید په پخوانۍ کچه وي. نو په دې ترتیب د پیسو په بازار کې ترلاسه شوی نوی تعادلي جوړښت د بهرې کچې د پخواني جوړښت په پرتله کم دی، خو په عاید کې یې بدلون نه دی رامنځته شوی. د (LM) منحني ځای په ځای والی د انبساطي پولي سیاست پایله ده. په دې اساسي بحث کې هغه کلاسیکه نظریه چې وایي پیسې خنثی دي او په واقعي متحولینو لکه اقتصادي ودې، د روزګارتیا پر زیاتوالي او د پیسو پر پړسوب باندې اغېزه نه لري، ردېږي. ځکه چې د پیسو په اسمي عرضه کې زیاتوالی د بهرې کچې د کموالي او ښي اړخ ته د (LM) منحني د لېږد لامل ګرځي چې د پانګونې زیاتوالی (که پانګونه د بهرې پر وړاندې حساسه وي) به له ځان سره ولري او کولی شي چې روزګارتیا لوړه او اقتصادي وده رامنځته کړي.




انځور: د LM منحني لېږد

د انبساطي پولي سیاست په پایله کې د (LM) منحني ښي اړخ ته لېږدول کېږي او د دې سیاست په پلي کولو سره د بهرې کچه ټیټېږي، په پانگونه کې زیاتوالی راځي او اقتصاد د ځوړ او رکود له پړاوه تېرېږي. په همدې ډول د انقباضي پولي سیاست پلي کول چپ اړخ ته د (LM) منحني د لېږد لامل گرځي. له دې سیاست څخه هغه وخت گټه اخیستل کېږي کله چې په اقتصاد کې د پیسو پړسوب موجود وي. دا چې د پیسو پړسوب د زیاتوالي یو دلیل هم په چلښت کې د پیسو د حجم زیاتوالی دی، نو د دې سیاست پلي کول کولی شي چې د پیسو پړسوب له زیاتوالي او ودې څخه مخنیوی وکړي.

پورته یاد شوی مطلب هغه وخت سم ثابتېږي چې نور عوامل د یاد سیاست انبساطي او انقباضي اغېزې خنثی نه کړي. خو په واقعي نړۍ کې دا په سادگۍ سره موجود نه دي (۱۵:۱۷۲).

## ۸.۲: پر ټولیزه تقاضا د پولي سیاست اغېزې

د ټولیزې تقاضا منحني په بېلابېلو قیمتونو سره په اقتصاد کې د ټولو توکو او خدمتونو د تقاضا ټولیزه اندازه په گوته کوي.

د ټولیزې تقاضا منحني په درېیو دلیلونو نزولي میل لري:

- **ثروتي اغېزې:** د قیمتونو په ټیټوالي سره د کورنیو پولي شتمنیو په حقیقي ارزښت کې زیاتوالی راځي او د حقیقي ثروت زیاتوالی د مستهلکینو د لګښتونو زیاتوالي لامل ګرځي.
- **د بهرې کچې اغېزې:** د قیمتونو په کچه کې ټیټوالی د بهرې کچې د کموالي لامل ګرځي او په دې توګه وګړي هڅه کوي څو د خپلو شتمنیو مازاده برخه پور ورکړي او د بهرې کچې ټیټوالی د پانګونې د زیاتوالي لامل ګرځي.
- **د مبادلې کچې اغېزې:** کله چې د قیمتونو په کچه کې ټیټوالی د بهرې د کچې کمېدو لامل وګرځي، نو پانګه وال د خپلې پانګونې یوه برخه بهر ته لېږدوي او بهر ته د پانګې لېږد د دې لامل ګرځي چې د بهرنیو پیسو پر وړاندې د ملي پیسو ارزښت کم شي. د بهرنیو پیسو پر وړاندې د ملي پیسو د ارزښت ټیټوالی د نورو اسعارو د پیاوړتیا په مانا دی. یا هم په بل ډول: د یو هېواد د پیسو ارزښت  د ټیټېدو په پایله کې د بهرنیو هېوادونو د توکو او خدمتونو په پرتله کورني توکي او خدمتونه ارزان تمامېږي او په دې توګه صادرات زیاتېږي.

دا درې اغېزې باید د یو بل ځایناستي په توګه ونه انګېرل شي بلکې د توکو او خدمتونو په قیمتونو کې له کموالي سره سم د هغوی په تقاضا کې لوړوالي او د قیمتونو په کچه کې زیاتوالی د توکو او خدمتونو په تقاضا کې د کموالي لامل ګرځي. له دې سره ـ سره چې دا درې اغېزې په ټوله کې د ټولیزې تقاضا منحني نزولي میل بیانوي، خو یو شان اهمیت نه لري. ځکه چې پولي شتمنۍ د کورنیو د شتمنیو کوچنۍ برخه جوړوي. نو له همدې لامله له پورته یادو شوو اغېزو څخه ثروتي اغېزې تر ټولو لږ اهمیت لري. د اسعارو د مبادلې کچې اغېزې د کوچنیو هېوادونو لپاره ډېر

اهمیت لري ځکه چې په دې هېوادونو کې د (GNP) پر وړاندې د صادراتو او وارداتو نسبت لوړ وي.

### ۳.۸: د نغدوالي میلان نظریه

جان مینارد کینز په خپل کتاب (د پیسو، سود او روزګارتیا عمومي تیوري) کې په اقتصاد کې د بهرې پر کچې اغېزمن عوامل، د نغدوالي میلان نظریه وړاندې کوي. د دې نظریې جوهر په واقعیت کې د عرضې او تقاضا مفهومونه دي. د کینزین په اند د پیسو د عرضې او تقاضا له انډول یا تعادل څخه د بهرې کچه ټاکل کېږي.

اقتصاد پوهان د بهرې دوو کچو ترمنځ په توپیر باور لري:

- د اسمي بهرې کچه: د بهرې هغه کچه ده چې معمولاً په راپور کې اعلانېږي.
- د حقیقي بهرې کچه: هغه کچه چې د پیسو پړسوب اغېزو په پام کې نیولو سره بدلېږي.

نغدوالي ته میلان نظریې یوه برخه هم د پیسو عرضه ده. مرکزي بانک په پرانیستي یا ازاد بازار کې د پور پاڼو د پېر او پلور له مخې د بانکي نظام په زیرمو (ذخیرو) کې د بدلون له لارې د پیسو په عرضه کې هم بدلون راولي. کله چې مرکزي بانک د دولتي پور پاڼو په پلور لاس پورې کوي، نو په دې توګه له بانکي نظام څخه پیسې وځي او په بانکي زیرمو کې کموالی راځي.

په بانکي زیرمو کې دا ډول بدلونونه په خپل وار د پور ورکړې وړتیا او د پیسو خلق تر اغېز لاندې راولي. د پرانیستي بازار د کړنو سربېره مرکزي بانک کولی شي چې د قانوني زیرمو په کچه کې د بدلون له لارې هم د پیسو په عرضه کې بدلون راولي ( د قانون له مخې، د بانکي نظام د امانتونو یوه برخه باید د قانوني زیرمې په توګه په مرکزي بانک کې وساتل شي) یا هم د بهرې په کچه

(هغه کچه چې له مخې یې بانکونه کولی شي له مرکزي بانک څخه پور ترلاسه کړي) کې د بدلون له لارې.

د پیسو کنټرول دا ډول د مرکزي بانک پولي سیاست پلي کولو په برخه کې خورا ډېر اهمیت لري. له هغه ځایه چې د مرکزي بانک له لوري د عرضه شوو پیسو مقدار ثابت دی؛ نو د پیسو عرضه د اقتصاد د نورو متحولینو تابع نه وي. کله چې مرکزي بانک د خپلې خوښې پولي سیاست پلی کوي، نو د پیسو عرضې مقدار به د بهرې کچې په پام کې نیولو پرته ثابت وي.

د عمودي عرضې منحني له مخې د پیسو ثابته عرضه په لاندې انځور کې ښودل کېږي.




انځور: د پیسو بازار انډول یا تعادل

د نغدوالي د میلان نظریې له مخې، د بهرې کچه د پیسو عرضې او تقاضا مقدار ترمنځ انډول رامنځته کوي. که چېرې د بهرې کچه د تعادلې بهرې له کچې نه پورته او یا هم د ($r_1$) په اندازه کې وي، نو پیسو ته تقاضا یا د پیسو هغه اندازه چې  وګړي یې ساتلو ته تمایل ولري ($M_1^d$) د پیسو له عرضې څخه زیاتېږي او د بهرې کچه کمېږي. برعکس؛ که د بهرې کچه د

تعادلي بهرې له کچې څخه ټيټه (يا هم د ($r_2$) په اندازه) وي، نو د پيسو له عرضې څخه د پيسو تقاضا کمېږي او په دې توګه د بهرې کچه لوړېږي. نو په دې ډول د پيسو په بازار کې د عرضې او تقاضا دا ځواکونه د بهرې کچه د تعادلي بهرې کچې په لور بيايي او په دې توګه وګړي د مرکزي بانک له لوري د خلق شوو پيسو ساتلو ته ميلان پيدا کوي.

- **پيسو ته تقاضا:** نغدوالي ته د ميلان نظريې بله برخه، پيسو ته تقاضا ده. د شتمنيو نغدوالي تقاضا (نغدوالي ته ميلان) په دې مانا ده چې وګړي پيسو ته د نغده راکړو ـ ورکړو ترسره کولو او يا هم په د ګټه ورکوونکو شتمنيو اړولو په موخه د پيسو تقاضا کوي. يا هم په بل ډول؛ وګړي په سمو شرايطو کې لومړيتوب ورکوي چې د نورو ګټه ورکوونکو شتمنيو پر ځای خپلې پيسې په نغد ډول وساتي. ځکه چې د دې پيسو په مرسته کولی شي د اړتيا هر ډول توکي او خدمتونه وپېري. له دې سره ـ سره چې پيسو ته تقاضا د بېلابېلو عواملو له مخې رامنځته کېږي، خو له دې مهمو عواملو څخه يو يې چې نغدوالي ته د ميلان په نظريه کې ترېنه يادونه شوې ده، د بهرې کچه ده چې د پيسو د ساتلو فرصتي لګښت دی. د بهرې کچې زياتوالی د پيسو ساتلو لګښت لوړوي او په پايله کې پيسو ته تقاضا (نغدوالي ته ميلان) کمېږي. د بهرې کچې کموالی هم د پيسو د لګښت کموالي لامل ګرځي او د پيسو په تقاضا کې زياتوالی راولي. نو په دې ډول، لکه څرنګه چې په مخکښني ګراف کې ليدل کيږي، پيسو ته تقاضا منحني نزول ميلان لري.
- **د پيسو بازار انډول/تعادل:** نغدوالي ته د ميلان نظريې له مخې، د بهرې کچه د پيسو عرضې او پيسو ته تقاضا ترمنځ

انډول رامنځته کوي. که د بهرې کچه د تعادلي بهرې له کچې څخه پرته په بله هره کچه کې قرار ولري، نو وګړي هڅه کوي د خپلو شتمنيو د ټوکرۍ (سبد) په برخه کې سمون او اصطلاحات رامنځته کړي څو د بهرې کچه يو وار بيا د تعادلي کچې په لور وخوځوي. که چېرې د بهرې کچه د تعادلي بهرې له کچې څخه لوړه او په ($r_1$) کې قرار ولري (په مخکښني ګراف کې)، نو پيسو ته د تقاضا مقدار ($M^d{}_1$) يا هم د وګړو د نغدوالي ميلان به د مرکزي بانک له لوري د خپرو شوو پيسو له عرضې څخه کم وي. نو هغه وګړي چې د پيسو مازاد لري، د ګټې لرونکو ونډو په پېر او يا هم په بانکونو کې د پيسو په ايښودلو لاس پورې کوي. دا چې د ونډو خپروونکي يا هم د بانکي بهرې ورکوونکي غواړي کمې بهرې ورکړي، نو د بازار په غبرګون کې به د بهرې ټيټې کچې وړانديز وکړي.

## ۴.۸: د ټوليزې تقاضا منحني نزولي ميل

لکه څرنګه چې پوهېږو د قيمتونو کچه د پيسو د عرضې او تقاضا يو ټاکونکی عامل دی، نو د قيمتونو د لوړوالي په وخت کې د توکو او خدمتونو د پېر لپاره ډېرې پيسې تبادله کېږي او په دې توګه ډېرو پيسو ته اړتيا وي. يا هم په بل ډول؛ په لوړو قيمتونو کې پيسو ته تقاضا د بهرې له کچې څخه لوړه وي. نو په دې توګه له ($MP_1$) څخه د ($MP_2$) ته د قيمتونو لوړوالی د دې لامل ګرځي چې پيسو ته تقاضا منحني له ($MP_1$) نه ($MP_2$) ته ولېږدول شي.

پيسو ته د تقاضا منحني لېږد د بهرې کچه تر اغېز لاندې راولي. که د پيسو عرضه ثابته وي، نو د بهرې کچه تر هغه لوړېږي څو د پيسو عرضه او پيسو ته تقاضا يو ځل بيا سره مساوي شي. د قيمتونو لوړوالی د پيسو

ساتلو ته د وګړو تمایل او همدا کار ښي لوري ته د پیسو د تقاضا د منحني لېږد لامل ګرځي. د بهرې په کچه کې کموالی د دې لامل ګرځي چې پانګونې ته د وګړو تمایل کم شي. په نغده ډول د پیسو نغدو ته د وګړو تمایل د تعادلي بهرې کچې ته تر رسېدو پورې زیاتېږي او د تعادلي بهرې کچې ته له رسېدو سره سم به پیسو ته د وګړو تقاضا د پیسو له عرضې سره یو شان شي. برعکس؛ که د بهرې کچه د تعادلي بهرې له کچې څخه ټیټه یا هم د ($r_1$) په نقطه کې قرار ولري، نو د وګړو له لوري به پیسو ته تقاضا ($M^d1$) د پیسو له عرضې څخه ډېره وي او په دې توګه به د وګړو له لوري د پیسو ساتلو تمایل د پیسو له عرضې څخه ډېر وي. خو دا چې د پیسو عرضه ثابته ده، نو د پیسو د تقاضا له منحني لېږد سره د بهرې کچه باید له ($r_1$) څخه ($r_2$) ته لوړه شي. د بهرې کچې لوړوالی نه یوازې دا چې د پیسو پر بازار بلکې د توکو او خدمتونو پر تقاضا باندې (لکه څرنګه چې په ۲ انځور کې لیدل کېږي) هم اغېزه کوي. دا چې د بهرې په لوړه کچه کې د پور لګښتونه زیاتېږي، نو له همدې لامله کله چې قیمت له ($P_1$) نه ($P_2$) ته لوړېږي، پیسو ته تقاضا هم له ($MD_1$) نه ($MD_2$) ته لوړېږي او د بهرې کچه له ($r_1$) نه ($r_2$) ته ټیټېږي.

پورتنۍ څېړنه او تجزیه کولی شو په لاندې درېیو پړاوونو کې را لنډه کړو:

۱: د قیمتونو په لوړوالي سره، د پیسو نغدوالي ته تقاضا ډېرېږي.

۲: پیسو ته په تقاضا کې زیاتوالی، د بهرې کچې د لوړوالي لامل ګرځي.

۳: د بهرې کچې لوړوالی، توکو او خدمتونو ته د تقاضا د کموالي لامل ګرځي.

برعکس، د قیمتونو ټیټوالی پیسو ته د تقاضا او د بهرې کچې کموالي او په پایله کې هم توکو او خدمتونو ته د تقاضا د زیاتوالي لامل ګرځي.

د پورتني تحلیل په پایله کې ویلی شو چې د قیمتونو کچې او د توکو او خدمتونو تقاضا ترمنځ منفي اړیکه موجوده ده.
له ($P_1$) نه ($P_2$) ته د قیمتونو لوړوالی له ښي لوري څخه د پیسو تقاضا د منحني لېږد لامل ګرځي.
په همدې ډول پیسو ته د تقاضا زیاتوالی له ($r_1$) نه ($r_2$) ته د بهرې کچې لوړوالي لامل ګرځي.
دا چې د بهرې کچه د پیسو پور لګښت دی، نو زیاتوالی یې د دې لامل ګرځي چې د توکو او خدمتونو تقاضا له ($Y_1$) نه ($Y_2$) ته کمه شي.
د قیمتونو کچې او د تقاضا ترمنځ منفي اړیکه د ټولیزې تقاضا منحني نزولي میل په ګوته کوي.

## ۹: د امریکا مرکزي بانک له انده د پولي سیاست موخې

د امریکا مرکزي بانک د خپل پولي سیاست لپاره درې لویې موخې ټاکلې دي او د هغوی ترلاسه کولو لپاره ژمن دی (د کینز- هامفري هوکړه ۱۹۷۸).

**لومړنۍ موخه:** پولي سیاست باید د شونتیا تر بریده پورې د روزګارتیا (استخدام) کچه لوړه وساتي. ځکه چې د روزګارتیا د کچې لوړوالی نه یوازې دا چې د تولیدي او خدماتي کړنو د ودې لامل ګرځي، بلکې د مؤلدو پانګونو په پیاوړتیا کې هم ډېر اغېزمن دی. د روزګارتیا کچه د ملي عاید، سپما او تولید اقتصادي څرخ په پراختیا او ټاکلو کې هم لویه ونډه لري.

**دویمه موخه:** د پولي سیاست دویمه موخه د قیمتونو د ټولیزې (عمومي) کچې ټاکل دي (د پیسو پړسوب باید له ۳ سلنې څخه ټیټ وي). د پولي سیاست د پوتنشیلونو په پام کې نیولو سره، د قیمتونو ټیکاو کولی شي

چې داسې وضعیت رامنځته کړي څو کورنۍ ډېرې سپما او متشبثین ډېرې پانګونې ته وهڅوي. دا چې مالي بازارونه بشپړ شوي او له پېچلي جوړښت څخه برخمن دي، نو د داسې جوړښت د اغېزمنتوب د زیاتولو لپاره د قیمتونو ټیکاو ډېر اهمیت لري.

**درېیمه موخه:** د امریکا مرکزي بانک د پولي سیاست درېیمه موخه انډولیزه (تعادلي) بهره ده. د امریکا په شان په یوه لوی او پرانیستي اقتصاد کې د مرکزي بانک له لوري د بهرې په کچه کې هر ډول بدلون کولی شي د ډالر ارزښت، د سوداګرۍ بیلانس، د بانکي سیستم د اعتباراتو تګلاره، د بانکي امانتونو میزان او مقدار، د ونډو بازار او نورو د غبرګون لامل وګرځي او په پایله کې پر اقتصادي کړنو ژورې اغېزې وکړي.

د امریکا مرکزي بانک د ناخالص داخلي تولید کچې او د ارزښت لرونکو پاڼو (قیمتي پاڼو) د بورس په بازار کې د پانګې جوړښت له مخې د نړۍ تر ټولو لوی اقتصاد، د پولي سیاست د تنظیم ځواب ویونکی او مسؤل دی.

د ۲۰۱۴ کال د ارقامو له مخې، د امریکا متحده آیالتونو د ناخالص داخلي تولید ۱۷.۴ ټریلیون ډالر دی چې د نړۍ د ټول تولید (۷۷ ټریلیون ډالر) ۲۲ سلنه جوړوي (په نړۍوال اقتصاد کې د امریکا ونډه او وزن). په همدې ډول، د دې هیواد د ونډو بورس په بازار کې د پانګې جوړښت او ارزښت هم ۲۱ ټریلیون ډالر محاسبه شوی دی. په نړۍواله کچه د ارزي زیرمو په برخه کې د امریکا د ډالرو ونډې له مخې، د نړۍ ارزي زیرمې چې په ۲۰۰۰ میلادي کال کې ۹.۱ ټریلیون ډالر وې، په ۲۰۱۳ میلادي کال کې ۱۱.۶۷۴ ټریلیون ډالرو ته لوړې شوې. د ۲۰۱۳ میلادي کال د وروستیو ارقامو له مخې، په ټولو نړۍوالو ارزي زیرمو کې د امریکا د ډالر ونډه ۳.۸۰۶ ټریلیون ډالر وه.

یاد ارقام په مالي بازارونو کې د ډالر د ودې کچې په کنټرول کې د امریکا پولي سیاست اهمیت او د مرکزي بانک مسؤلیت په گوته کوي. دا په دې مانا چې ډالر په کومه کچه کولی شي چې په کورنیو بازارونو او بهرنیو بازارونو کې د امریکا سیاسي او اقتصادي موخې وساتي. د پیسو په نړۍوال نظام کې د غوره پولي واحد (معیاري پیسو) په توگه د امریکایي ډالرو د ځای او موقعیت پیاوړتیا او په همدې ډول په مالي بازارونو کې د ډالر د راکړې - ورکړې او د زیرمو ونډې پراخېدل په نړۍوال اقتصاد کې د ډالر د پراختیا سیاست (بسط سیاست) د گټو ساتلو لپاره د امریکا د هڅو ښکارندویي کوي (۱۸:۳۸).

## ۱۰ د اروپا مرکزي بانک له انده د پولي سیاست موخې

د امریکا له فډرال ریزرف بانک څخه وروسته د اروپا مرکزي بانک د نړۍ دویم لوی مرکزي بانک دی چې د یورو په سیمه کې د واحد ارزي او پولي سیاست پر وړاندې ځواب ویونکی او مسؤل دی. د ماسټریخت هوکړې د ۱۰۵ مادې له مخې؛ د اروپا مرکزي بانک د پولي سیاست مهمه موخه د قیمتونو ټیکاو او ثبات دی. د دې لپاره چې د پولي سیاست لومړنۍ موخې ته زیان ونه رسېږي، د اروپا مرکزي بانک کولی شي د یورو په سیمه کې د روزگارتیا کچې لوړوالي او اقتصادي ودې ملاتړ له سیاست سره مرسته وکړي.

اروپایي ټولنه په خپل ډول کې په وگړو پورې تړلې او منحصره پدیده ده. په ځانگړي ډول د دې واقعیت په پام کې نیولو سره چې د اروپا لوی هېوادونه د تاریخ په اوږدو کې له ډېرو کورنیو او بهرنیو جگړو سره مخ شوي چې تر ډېره یې نژادي او قومي ریښه درلوده، نو اوسنۍ اروپا د تېرو جگړو زیانونه جبرانوي. له همدې لامله ده د اروپا متحده ایالتونو جوړولو لپاره د

اروپایانو وروستۍ او ستراتېژیکه موخه د ٦٠ کلونو په تېرېدو سره لا هم په واقعیت نه ده بدله شوې. له دویمې نړۍوالې جګړې څخه وروسته، په ۱۹۵۲ میلادي کال کې د اروپا د لویو هېوادونو ترمنځ د ژورو شخړو د له منځه وړلو او د نوې سولې او ملګرتیا جوړولو په موخه د (مانتان یووالي) تر نوم لاندې د فولادو او ډبرو سکرو یووالي هوکړې په ترسره کولو سره لومړنی ګام پورته شو. د ۱۹۵۷ میلادي کال د مارچ په ۲۵ نېټه د روم هوکړې په لاسلیکولو او د ۱۹۷۲ میلادي کال د اپریل په میاشت کې د اروپا ارزي جوړښت له هوکړې سره په ټولو برخو کې د اروپایي ټولنې هېوادونو همپالنه پراخه شوه او له یو بل سره یې له ښو اړیکو څخه په ښه ډول ګټه پورته کړه. د (اروپایي ټولنې) هوکړې چې په ۱۹۹۲ میلادی کال کې د ماسټریخت په ښار کې رامنځته شوه او د ۲۰۱۵ کال پورې یې ټول ۲۸ اروپایي هېوادونه لرل، له سیاسي او اقتصادي پلوه یې د اروپایانو لپاره د اروپا ګډ پولي واحد امتیاز هم له ځان سره رامنځته کړ.

**۱.۱۰: اقتصادي همپالنه**

اروپایي هېوادونه په دې توانېدلي چې د همپالنې له لارې بېلابېل کورني بازارونه د شاخص په یو بازار تبدیل کړي او د ګډ پولي واحد د پیاوړتیا او ټیکاو په برخه کې عمل وکړي. د بالدوین څېړنه دا په ګوته کوي چې د اروپا ګډ پولي واحد د اروپایي هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په ځانګړي ډول د چوپړیزو (خدماتي) او صنعتي راکړو - ورکړو د حجم په زیاتوالي کې مهمه ونډه لري (Baldwin, 2008, 101). په همدې ډول د النګټن او کاتومن څېړنې هم دا ښکاره کوي چې د یورو له لامله د اروپا په ګډ بازار کې د توکو او خدمتونو قیمت او ارزښت همغږی او یو شان شوی؛ داسې چې په زیاترو اقتصادي برخو کې قیمتونه راټه او له ډېر ټیکاو (ثبات) څخه برخمن دي (Anlngton and Kautman). دا مسئله د دې لامل

شوي څو نه يوازې دا چې د پيسو د پړسوب کچې، د مزد کچې، د انرژۍ کچې او د بانکي بهرې کچې په پام کې نيولو سره په اروپايي هېوادونو کې د توليد لګښت تر ډېره يو شان شي، بلکې د سياليزو بازارونو په چټکۍ سره اقتصادي فعالانو هم دا اسانتيا ترلاسه کړې څو د توليد له عواملو او سرچينو څخه د شونتيا تر بريده پورې سمه ګټه پورته کړي. د ګمرکي تعرفو له منځه وړل، د سوداګريزو محدوديتونو له منځه تلل او د سوداګريزو قوانينو يو شان کېدل د خصوصي برخې د پانګونې په زياتوالي او د اقتصادي نظامونو د انسجام په برخه کې مثبت او اغېزمن تمام شوي او د نړۍ په نورو برخو کې د اروپا صادراتي ځواکمنتيا پياوړې شوې ده. په ملي پيسو د يورو ځاى پر ځاى کېدل د دې لامل شوي څو د يورو ټولو غړو هېوادونو ته يوازې يوه کچه يا نرخ (د يورو ارزښت) په پام کې ونيول شي. له اقتصادي اړخه د ارزې کچې نه غوښتل کېدونکي نوسانونه په بازار کې د مالي او پولي بې ثباتۍ لامل ګرځي او د ډاډ نه شتون په راتلونکي کې داسې شرايط رامنځته کوي چې کولی شي د اروپايي هېوادونو ترمنځ د پانګې لېږد ـ راليږد په برخه کې منفي اغېزې وکړي. د اروپا مرکزي بانک د راپور له مخې، ګډ پولي واحد د يورو سيمې په کچه د اسعارو د تبديلۍ ګواښ او خطر له منځه وړی او هر کال د اروپايي هېوادونو په ناخالص داخلي توليد کې په ميلياردونو يورو زياتوالي سره مرسته کوي (Blue Book, 2007:12). سربېره پر دې د نړۍ د معتبرو اسعارو لکه امريکايي ډالر، انګليسي پونډ، جاپاني ين او سويسي فرانک پر وړاندې د يورو د برابرۍ په ارزښت کې بدلون هم د پام وړ کموالی کړی دی.

له اروپايي پولو څخه بهر هم د نړۍ په مالي او پولي بازارونو کې د يورو ځاى د تثبيت په حال کې دی. ځکه چې دا پولي واحد د ارزي نظامونو او زيرمو په جوړښت او په همدې ډول په نړۍوالو سوداګريزو راکړو ـ ورکړو

کې د حکم (معتبرې پیسې) په توګه د امریکایي ډالر ترڅنګ یوازېنی مطرح پولي واحد دی. د پیسو نړیوال صندوق په پنځه کلنه زماني دوره کې د اخیستنې ځانګړي حق (Special Drawing Rights, SDR) د پولي ټوکرۍ (سبد) د تغییر لپاره ګام پورته کوي. د اخیستنې په ځانګړي حق کې د پولي ټوکرۍ د جوړښت سنجش/ معیار د هېوادونو د ټولو صادراتو د ارزښت ځیناستی شوی چې د بلې هرې دورې په پرتله د نړۍ د اسعارو په زیرمو کې د معتبرو پولي واحدونو په توګه ونډه لري. په اوسني وخت کې، د اخیستنې په ځانګړي حق کې د امریکایي ډالرو ونډه ۴۱ سلنه او د اروپايي یورو ونډه هم ۳۷.۴ سلنه ده.

**۲.۱۰: سیاسي همپالنه**

اروپايي ټولنه هغه وخت کولی شي چې په نړۍواله کچه خپلې ملي ګټې ترلاسه کړي چې په یوه غږ او بڼه د نړۍوالو پر وړاندې غږ پورته کړي. د دې ډول اغېزمنې همپالنې رامنځته کولو په موخه د یورو سیاسي پیاوړتیا باید داسې تعبیر شي چې اروپايي هېوادونه نه یوازې دا چې د ګډ بهرني سیاست رامنځته کولو لپاره په دوامداره ډول هڅې وکړي بلکې د اروپا اساسي قانون د پلي کولو لپاره هم خپلې سیاسي غوښتنې رامنځته او وڅاري. یا هم په بل ډول؛ د امریکا متحده ایالتونو په لوري خوځښت د دې لویې وچې د ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي ستونزو د ریښو د حل یوازېنی سم او مناسب غوراوی دی. د دې موخې ترلاسه کولو لپاره له دې سرهـ سره چې د اروپايي ټولنې اساسي قانون د اروپايي ټولنې د سیاسي انسجام لپاره یو مثبت ګام دی، خو د دې لویې وچې د ستونزو د اصلي حل وړتیا به ونه لري. د نوي اساسي قانون له مخې چې په ځینو غړو هېوادونو (فرانسه، ډنمارک او ایرلنډ په ګډون) د ټولپوښتنې په پایله کې رد شو، په نړۍواله کچه د اروپايي ټولنې لاربښوونې او رهبري به د ګډې

ولسمشرۍ او د بهرنیو چارو وزیر پر غاړه ولري څو له اروپا څخه یو واحد او روڼ سیاست وړاندې کړي. د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه هیله من دي چې د دې دوو سیاسي بستونو په رامنځته کولو سره به وکولی شي په اروپا او د نړۍ په نورو برخو کې د چټکو بدلونونو په برخه کې د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سیاسي پرېکړو د نیولو په برخه کې همغږۍ رامنځته کولو ته لاره هواره کړي. دا چې د اروپايي ټولنې ګډ ولسمشر او بهرنیو چارو وزیر له اجرایوي ځواک څخه بې برخې او په عمل کې د غړو هېوادونو د مشرانو پرېکړو ته غوږ نیسي، نو داسې انګېرل کېږي چې د ناورین په وخت کې به ونه شي کولی چې د نظر یووالی یو له بل سره نږدې او په یو واحد اړخ کې یې وساتي. له بلې خوا؛ د یورو سیمې هېوادونه د متمرکز پولي او ارزي سیاست لرونکي دي، په داسې حال کې چې مالي او اقتصادي سیاستونه چې د غړو هېوادونو په واک کې دي، په غیر متمرکز ډول پلي کېږي. نو که د غیر متمرکز مالي او اقتصادي سیاست او د متمرکز پولي او ارزي سیاستونو ترمنځ ټکر رامنځته شي، داسې چې په ۲۰۱۱ میلادي کال کې د یورو ناورین هم وښودله، د یورو په سیمه کې به د مالي انضباط او پولي ټیکاو ساتل یو ستونزمن کار وي. د مالي انضباط نه شتون د بېلګې په توګه؛ د بودیجې کسر غیر اصولي زیاتوالی نه یوازې دا چې د اروپايي ټولنې هېوادونو (پرتګال او یونان) د مالي اعتبار درجه به ښکته کړي، بلکې کولی شي چې په نوې رامنځته شوې اروپا او ګډ پولي واحد باندې د وګړو باور هم زیانمن کړي. د پراختیا او تثبیتي سیاستونه د ماسټریخت د هوکړې له مخې دا موخه څاري چې د یورو د سیمې ټول غړي هېوادونه د خپلو مالي او اقتصادي سیاستونو د همغږي کولو له لارې د یورو په ټولنه کې د هر ډول تشې له رامنځته کېدو څخه مخنیوی وکړي او د یورو په سیمه کې د مالي انضباط او پولي ټیکاو

په برخه کې به د وګړو باور ډېر کړي. د دې واقعیت په پام کې نیولو سره چې د یورو د سیمې هېوادونو اقتصادي موقعیت او شرایط له یو بل سره توپیر لري او دا توپیر په ځانګړي ډول د صادراتي تولید، اقتصادي ودې ـ کچې، په لومړیو توکو پورې د تړلتیا کچې، د وزګارتیا کچې او ټولنیزې هوساینې جوړښت په برخه کې لا ډېر روښانه دی، نو کېدای شي چې په سختو اقتصادي شرایطو کې (د بودیجې په کسر کې زیاتوالي او د بهرنیو پورونو زیاته وده) د (تثبیتي او پراختیا سیاست) اجرا او رعایت د هوکړې له مخې شونی نه وي. دا په دې مانا دی چې د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه په خپلو مالي او اقتصادي سیاستونو کې باید هر وخت خپلې ملي ګټې د ټولنې ګټو په پام کې نیولو سره ترلاسه کړي ځو په دې توګه ونه شي کولی چې د خپلې خوښې خو نه په خپل زړه پرېکړه وکړي (د غړي هېوادونو د اجرايي ځواک محدودېدل). د اروپایې ټولنې زیاتره غړي هېوادونه یوازې په دې دلیل د اروپايي هېوادونو د همپالنې او د یورو په اړه مساعد او مثبت نظر لري چې تمه لري د یورو په رامنځته کېدو سره د دې ټولنې په ټولنیز، سیاسي او اقتصادي برخه کې پرمختیا رامنځته او حالات به له یورو څخه مخکې حالت څخه په ځو ځله ښه والي ومومي. دا چې د یورو ټولنې غړي هېوادونه د بېلابېلو اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو ستونزو له لامله په دې ونه توانېږي چې د وګړو له تمو سره سم په پام کې نیول شوې هوساینه ترلاسه کړي، د غړو هېوادونو بریالیتوب به ستونزمن او پېچلی شي. دا مسئله له دې اړخه هم ډېر اهمیت لري چې له یورو سره یو ځای کېدل تر هر څه وړاندې د دولتونو مالي انضباط رامنځته کولو او د اقتصادي بنسټونو ترمنځ د سیالۍ د زیاتوالي لامل ګرځي او دولتي چارواکي به هم له ارزي او هم پولي سیاستونو څخه د ګټې اخیستنې اسانتیاوې او شونتیاوې ونه لري. نو په دې توګه د اروپا مرکزي بانک له

یوې خوا د یورو له ټولنې سره د نوو یو ځای شوو هېوادونو له واقعیت څخه لیرې غوښتنو سره مخ دی او له بلې خوا اړ دی چې د غړو هېوادونو بېلابېلو شرایطو په پام کې نیولو سره نه بلکې د یورو سیمې اقتصادي وضعیت په پام کې نیولو سره باید خپل پولي سیاست تنظیم کړي. د قیمتونو د تثبیت په موخه (له ۲ سلنې څخه ټیټ د پیسو پړسوب) د اروپا ګډ پولي واحد ارزښت ساتلو پولي سیاست د اروپا مرکزي بانک د چارواکو مطلوبه ټاکنه ده (۱۸:۴۵).

## ۱۱: د چین مرکزي بانک له انده د پولي سیاست موخې

د چین مرکزي بانک پولي سیاست مهمې موخې، ډاډمنه او عادلانه اقتصادي وده، د قیمتونو ټیکاو او ثبات، د پیسو د پړسوب مدیریت او همدارنګه د اقتصاد حقیقي برخې د مالي خدمتونو ښه والی دی (Central Bank of China, 2014:42). د چین مرکزي بانک د پولي چارواکو لوی مسؤلیت د داسې یو لوی او باثباته جوړښت (ساختار) رامنځته کول دي چې له مخې یې اقتصادي کړنې په یوه سالم چاپېریال کې پراختیا پیدا کړي.

د چین هېواد د ۱۹۷۰یمې میلادي لسیزې په وروستیو کې د (دولت محور او متمرکز) اقتصادي نظام سره مخه ښه وکړه او (بازار محور او غیر متمرکز) اقتصادي نظام ته یې مخه کړه. په اقتصادي نظام کې بدلون د دې اوږد مهاله او ستراتېژیکو موخو له مخې رامنځته شو څو دا هېواد د نړۍ یو پرمختللی او لوی اقتصاد شي. په ۱۹۸۰ میلادي کال کې د چین هېواد ناخالص داخلي تولید ۱۸۹.۳ میلیارد ډالر ؤ په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ میلادي کال کې ۹.۵۳ ټریلیون ډالرو ته لوړ شو. یا هم په بل ډول، په ۱۹۸۰ میلادي کال کې د نړۍ په ټول تولید کې د چین ونډه

۱.۳ سلنه وه خو په ۲۰۱۴ میلادي کال کې ۱۲.۴سلنې ته لوړه شو چې د امریکا متحده ایالتونو او د یورو له سیمې څخه وروسته د نړۍ دریېم لوی اقتصاد شو. په نړۍوال اقتصاد کې د چین اقتصادي ونډې په زیاتوالي سره، دا هېواد د ۴.۲ ټریلیون ډالر په ارزښت د سرو زرو او ارزي زیرمې لري چې په نړۍواله کچه د تر ټولو ډېرو زیرمو لرونکی هېواد دی او په سیاسي او اقتصادي برخه کې د سیمې او نړۍ په کچه له لویو لوبغاړو څخه ګڼل کېږي.

## ۱۲: د پیسو په بازار کې تعادل راوړونکي عوامل

د پیسو ثبات لرونکی بازار مطلوب مقرراتي او مالي چاپېریال ته اړتیا لري. د پیسو په بازار کې د تعادل ټاکونکي عوامل په لاندې ډول دي:

### ۱.۱۲: د بانکي سود (بهرې) کچه

له بانکي سود څخه موخه هغه قیمت دی چې پیسو ته تقاضا کوونکی (د پور اخیستونکی) یې د پور د ټاکلي مبلغ پر وړاندې د پیسو عرضه کوونکي (پور ورکوونکي) ته ورکوي.

د ویکسل په اند، اړینه ده چې د جاري اسمي بهرې کچې او د حقیقي (طبیعي) بهرې کچې ترمنځ توپیر ته قایل شو:

- د اسمي بهرې کچه له هغې کچې څخه عبارت ده چې د بانکي اعتباراتو په بازار کې په پور د ترلاسه کېدونکو پیسو د عرضې او تقاضا مقدار په پام کې نیولو سره رامنځته کېږي.
- د حقیقي بهرې کچه هغه کچه ده چې له یوې خوا د پانګونې موخو لپاره او د اعتباراتو لپاره د تقاضا مقدار او له بلې خوا د سپما د عرضې له مقدار څخه ترلاسه کېږي. یا هم په بل ډول؛ د

حقيقي بهرې کچه له پانګونې څخه د منتظره سود له مقدار څخه عبارت دی.

د اقتصادي انډول په موخه اړینه ده چې د حقیقي بهرې کچې او د اسمي بهرې کچې ترمنځ انډول او توازن رامنځته شي. ځکه چې د مالي شتمنیو (سوداګریزې پاڼې او لاسوندونه، د پور پاڼې، د ګډون پاڼې، ونډې او امانتونو پانګونه) ارزښت د دې شتمنیو خپروونکو مالي بنسټونو او شرکتونو له لوري د وړاندې شوو توکو او خدمتونو له ارزښت سره تړلی دی. همدا راز، دا ټکي هم باید په پام کې ونیول شي چې بانکونه کولی شي د پیسو خلق له لارې د حقیقي بهرې کچې په پرتله د اسمي بهرې کچه را ټیټه کړي. داسې چې شرکتونه او اقتصادي بنسټونه ترغیب کړي چې بانکي سیسټم ته د پیسو په ورکولو سره بانکي پورونو او اعتباراتو ته تقاضا لوړه کړي او په خپلو کړنو کې د پانګونې کچه زیاته کړي (له پانګونې منتظره سود زیات کړي). په واقعیت کې، مالي بازارونه د پانګې لټوونکو (پور اخیستونکو) او پانګې لرونکو (پور ورکوونکو) ترمنځ د اړیکو رامنځته کوونکي دي.

د واقعي شتمنۍ او مالي شتمنۍ ترمنځ توپیر دا دی چې زیاتره واقعي شتمنۍ فزیکي بڼه لري. د مثال په توګه: د کور وسایل، ماشینونه، املاک او نور چې د وخت په تېرېدو سره استهلاک کېږي. خو مالي شتمنۍ کېدای شي چې د وخت په تېرېدو سره یې ارزښت لوړ شي او د لرونکو لپاره یې په حقیقي سود کې زیاتوالی راشي. په باثباته او مډرن اقتصادونو کې د اقتصادي مؤلدو پانګونو لپاره د مالي شتمنیو پېر له وړ او مناسبو لارو څخه دی.

د واقعي شتمنيو پر وړاندې د مالي شتمنيو ښه والی او مزيت په دې کې دی چې:

- د مالي شتمنيو پېر او ساتل نه يوازې دا چې د توليد او پيسو په بازار کې د پانګې په ګردښت کې زياتوالی راولي او د اقتصاد په ټولو برخو کې د سوداګريزو راکړو - ورکړو د کچې لوړولو لامل ګرځي، بلکې د اړتيا وړ سرچينو د تأمين له پلوه د لويې پانګونې ترسره کولو لپاره مساعد مالي شرايط هم رامنځته کوي، د اعتباراتو لګښتونه را کموي او په عملي ډول په اقتصادي کړنو کې د مستقيمې او غير مسقيمې پانګونې انګېزه زياتوي.
- د واقعي شتمنيو پېرل او له ګټې اخيستنې څخه پرته يې په دې موخه ساتل چې په راتلونکي کې به يې قيمت لوړ شي، په ځوړند او راکد ډول د هېواد د شتمنيو ساتل دي چې زياتېدونکي ارزښت (سوداګري) نه رامنځته کوي. واقعي شتمنۍ تر ډېره استهلاکي توکي دي چې د استهلاک لګښتونو په پام کې نيولو سره د پانګونې او سپما موخو لپاره په اوږدمهال کې مطلوب نه ارزول کېږي.

نو په دې توګه د منطقي بانکي سود کچه د پيسو په بازار کې د تعادل رامنځته کولو لومړنی عامل دی چې مرکزي بانک يې بايد د خپلواک پولي سياست له لارې مديريت کړي او د پولي چارو په برخه کې د دولت هر ډول لاسوهنه د پيسو د عالي شورا د واک او اعتبار تر پښو لاندې کول او نقض کول دي او د بانکي سود دستوري کچه په نهايت کې د پيسو په بازار کې د پيسو پړسوب او بې ثباتي رامنځته کوي.

## ۲.۱۲: پیسو ته تقاضا

د پیسو په اړه یوه نوموتې او مشهوره تیوري چې په شلمه میلادي پېړۍ کې یې د اقتصاد پر علم او د هېوادونو په اقتصادي سیاست ډېرې اغېزې شیندلي دي، د جان مینارډ کینز عقاید او تیورۍ دي. کینز په خپل کتاب (د پیسو، سود او روزګارتیا عمومي تیوري) کې د اقتصادي نظام په اړه خپل نظر داسې څرګندوي:

پانګوال اقتصاد له دوو بنسټیزو ستونزو سره مخ دی او د ازاد بازار جوړښت نه شي کولی چې دا ستونزې حل کړي. دا ستونزې وزګارتیا او د ملي عاید او دولت غیر عادلانه وېش دی. د ثروت په زیاتوالي سره لګښت ته وروستی (نهایي) میلان په نسبي ډول کمېږي چې دا کار د تولیزې تقاضا د کموالي لامل ګرځي. اقتصادي څوړ چې د اقتصادي کړنو د نزولي سیر له لامله رامنځته کېږي، د بالقوه تولید کچې (د بشپړ روزګارتیا په حالت کې د تولیدي وړتیا او ظرفیت توان) او د بالفعل تولید کچې (د اوسني تولید وړتیا او ظرفیت) ترمنځ تشه زیاتوي. د خصوصي برخې په پانګونه کې د کموالي په پام کې نیولو سره، د روزګارتیا کچې د لوړوالي او اقتصادي مؤلدې پانګونې د پیاوړتیا په برخه کې د دولت ونډه اهمیت لري. د کینز په باور، انګېزه کولی شي چې پیسو ته د وګړو په تقاضا اغېز وکړي.

د وګړو له لوري پیسو ته د تقاضا په برخه کې درې انګېزې ونډه لري:

- **د پیسو معاملاتي انګېزه (د عاید تابع ده):** اقتصادي واحدونه تل اړینه ګڼي چې د خپلو مبادلاتي او راکړو - ورکړو ورځنیو اړتیاوو په پام کې نیولو سره د پیسو یوه برخه په نغد ډول وساتي. معاملاتي تقاضا د عاید د کچې تابع ده. داسې چې د اقتصادي واحدونو د عاید زیاتوالي په پایله کې د راکړې - ورکړې تقاضا هم لوړېږي.

- **پیسو ته احتیاطي انګېزه (د عاید تابع ده):** اقتصادي واحدونه د نه وړاندویل شوو پېښنو او چارو لکه اور، ودانیزې چارو ( تعمیرات) او راکړو ـ ورکړو په موخه، د پیسو یوه برخه په نغده ډول ساتي. پیسو ته احتیاطي تقاضا د عاید په اندازه کې د بدلونونو پر وړاندې حساسه ده خو د بهرې کچې پر وړاندې حساسه نه ده.
- **پیسو ته احتکاري انګېزه (د بهرې کچې تابع ده):** د سوداګرۍ په موخه پیسو ته تقاضا هغه حالت ته ویل کېږي چې یو کس پکې د ګټې ترلاسه کولو لپاره د خپلې پانګې یوه برخه د نغدو پیسو په توګه له ځان سره ساتي ځو وکولی شي چې له اقتصادي فرصتونو (د قیمتونو په کچه کې بدلون) څخه د شونتیا تر بریده پورې ډېره ګټه پورته کړي.

د سوداګرۍ په موخه د نغدو پیسو ساتل د دوو علتونو له مخې ترسره کېږي:

**۱.** وګړي په راتلونکي کې د واقعي بهرې کچې بدلون په برخه کې پوهه او ډاډ نه لري او له همدې لامله په پور پانګو کې د پانګونې په پرتله په نغده ډول د پیسو ساتلو ته لومړیتوب ورکوي.

**۲.** پیسې داسې شتمني ده چې د اهمیت او ارزښت (د نغدوالي درجه) په پام کې نیولو سره وګړي له ښه اقتصادي موقف څخه برخمن کوي.

### ۳.۱۲: د پیسو عرضه

په پرمختللي او مډرن اقتصاد کې د پیسو عرضه د پیسو خلق سرچینو له مخې تحلیل او تجزیه کېږي. په هر هېواد کې د پیسو د خلق تر ټولو مهم رکن مرکزي بانک دی چې د یوازېني پولي او بانکي بنسټ په توګه د پیسو د چاپ حق ورکړل شوی دی. د مرکزي بانک ترڅنګ سوداګریز بانکونه هم د بانکي اعتباراتو له لارې د پیسو خلق وړتیا لري.

د پولي چارواکو په اند، هغه وخت په اقتصاد کې پیسې خلق کېږي چې مرکزي بانک د غیر پولي شتمنیو پېر (د سرو زرو خښتې، بهرنیو اسعارو او له بانکي سیستم څخه د پور پانې اخیستل او یا هم دولت ته د پور ورکړې) له لارې په گردښت کې د پیسو حجم او نغدوالي زیاتوالي لامل وگرځي.
په چلښت کې د پیسو حجم د ډېر زیاتوالي (د نغدوالي د ودې لوړه کچه) څخه د مخنیوي لپاره چې د پیسو پړسوب لا چټکوي، مرکزي بانک باید د پیسو خلق په برخه کې لاندې موارد په پام کې ونیسي.

**د پیسو د خلق درې گوني اصول:**

- د هېواد په اقتصادي څرخ کې باید له تکیې او پشتوانې څخه پرته پیسې چاپ نه شي.
- د پیسو عرضه د پیسو له واقعي تقاضا سره په متناسب ډول تنظیم شي.
- د اقتصادي مؤلدو وړتیاوو وده (د اقتصاد حقیقي وده) د نغدوالي ودې په پام کې نیولو سره ترسره شي.

د اوسني اقتصاد اعتباري پولي نظام کې، د پیسو تر ټولو ښه تکیه یا پشتوانه د پیسو حقیقي تقاضا او د عرضې مقدار تنظیمول دي چې د مرکزي بانک پر غاړه دي. داسې چې پولي بنسټونه د نغدوالي مدیریت په برخه کې د اقتصادي وړتیاوو وده (تولیدي پوتانشیل) او د کړنو سیر یا روند په پام کې ونیسي او د پیسو د حجم کنټرول وړتیا ولري.
د بېلگې په توگه: داسې انگېرو چې هر کال نږدې ۱۰ میلیون بهرني سیلانیان له ایران څخه لیدنه کوي چې دا بهرنیان په ایران کې د اوسېدو لپاره ایراني ریالو ته اړتیا لري. نو په دې توگه د هېواد په بانکي سیستم کې د بهرنیانو له لوري د خپل هېواد پیسې د ایراني ریالو پر وړاندې تبادله کېږي او په دې توگه

ايراني ريالو ته تقاضا لوړېږي. نو په پايله کې د سوداګريزو بانکونو اسعاري زيرمې زياتېږي او د ايراني ريالو زيرمې يې کمېږي.
سواګريز بانکونه د ايراني ريالو د کموالي جبران په موخه په مرکزي بانک کې د ايراني ريالو پر وړاندې د بهرنيو اسعارو له تبادلې څخه پرته بله چاره نه لري (ايراني ريال ته تقاضا لوړېږي). د ارزي ثابت نظام لاندې؛ مرکزي بانک د ريالو د دود او رسمي کچې له مخې د بهرنيو اسعارو په تبادلې سره، له يوې خوا د بهرنيو اسعارو زيرمې له زياتوالي (بهرنۍ شتمني) او له بلې خوا د هېواد پولي پايې له ودې سره مخ کېږي. نو په دې توګه؛ د مرکزي بانک د بهرنيو شتمنيو وده په چلښت کې د پيسو د حجم زياتوالي لامل ګرځي او که دا روند همداسې دوام پيدا کړي او مرکزي بانک د اسعارو د تبادلې په کچه کې کموالی را نه وړي، نو د نغدوالي وده په اقتصاد کې د پيسو پړسوب رامنځته کوي.
د مرکزي بانک (د داخلي شتمنيو وده) کولی شي چې د هېواد په پولي پايې کې بدلون راولي. داسې چې بانکي سيستم اقتصادي واحدونو ته ډېر اعتبارات ورکړي او د مالي سرچينو کموالی له مرکزي بانک څخه د پور اخيستو په مرسته جبران کړي. له مرکزي بانک څخه د بانکي سيستم د پور زياتوالي له امله د پولي پايې وده اجتناب نه منونکې ده. يا هم په بل ډول؛ د مرکزي بانک د داخلي شتمنيو وده د پولي پايي د زياتوالي لامل ګرځي. که چېرې مرکزي بانک د بوديجې کسر د جبران او تمويل په موخه دولت ته پور ورکړي، نو مرکزي بانک د عمومي برخې د پورونو له زياتوالي سره به پولي پايه هم لوړه شي.
د مرکزي بانکوالۍ د اصولو په پام کې نيولو او د پيسو د پېر ځواک ساتلو په موخه، غوره ده چې د هېواد پولي بنسټونه او چارواکي د پولي انضباط له لارې د مرکزي بانک د شتمنيو او پورونو برخې تل په انډول او تعادل کې وساتي او د مرکزي بانک د تلې (ترازو) له مخې، د مرکزي بانک ټوله خالصه بهرنۍ او کورنۍ شتمني د هېواد له پولي پايې سره برابره ده.

# پنځم څپرکی

# شرکتي حاکمیت او بانکونو ته د جواز ورکړه

## ۱: بانکونو ته د جواز ورکړې اړتیا او اهمیت

له بانکي سیستم څخه بهر منفي اغېزې او نا انډوله مالومات، د څارنې د نه موجودیت په صورت کې کېدای شي پر بانکونو د مشتریانو منډې (هجوم) لامل وګرځي چې په پایله کې د یادو منفي عواملو دود د سیستم په کچه د بانکونو د له منځه تلو لامل ګرځي. نو له همدې لامله د مالي نظامونو د ټیکاو لپاره د مالي خوندیتوب جال ته اړتیا لیدل کېږي. دا جال د بانکونو مدیرانو او څښتنانو ترمنځ د نامعقول او انحرافي انګېزې رامنځته کولو لامل هم ګرځي. داسې چې د بانک جوړوونکی پوهېږي چې د خوندیتوب جال کولی شي د ناورین او بحران په حالت کې د بانکونو دېوالي کېدو مخنیوی وکړي، نو ډېر ګواښ او خطر مني. همدا استدلال د بانکونو مدیرانو او د مالي خوندیتوب جال په اړه هم صدق کوي. په واقعیت کې کله چې د بانکونو مدیرانو او څښتنانو له لوري تر لاس لاندې نیول شوی ګواښ او خطر ګټور تمام شي، نو ډېره ګټه ترلاسه کوي. په داسې حال کې چې د امانتونو بیمې او پورونو ورکولو وروستۍ سرچینې په توګه د مالي خوندیتوب جال په واقعیت کې د لګښتونو لوړوالي لامل ګرځي. یا هم په بل ډول؛ بانکي مدیران په دې ډول یو اړخیزه شرط بندي ترسره کوي.

خو پر بانکونو احتیاطي څارنه په دې لټه کې وي چې د بانکونو په کړنو باندې د محدودیتونو په رامنځته کولو سره د مالي خوندیتوب جال له لامله رامنځته کېدونکی انحراف سم (اصلاح) کړي. دا ډول محدودیتونه کېدای شي چې په

مستقیم ډول (د بېلگې په توگه: د ځانگړي مالي نسبتونو ساتلو پر وړاندې د بانکونو اړ ایستل) او یا هم په غیر مستقیم ډول (د بېلگې په توگه: د ځانگړو پانگونو منع کولو او یا هم له نورو لارو) رامنځته شي. نو په دې توگه بانکي صنعت ته د ننوتلو څرنگوالي ټاکلو لپاره د لومړنیو جوړښتونو رامنځته کول د پام وړ احتیاطي څارنې په اغېزو پورې اړه لري. دا په دې مانا چې که هر کس د دې اجازه ولري چې له هر ډول محدودیتونو څخه پرته بانک جوړ کړي، یا هم هر شرکت وکولی شي د بانک په نوم د بانکوالۍ په کړنو (د وگړو د امانتونو منل) لاس پورې کړي، نو مالي خوندیتوب جال به د زیاترو بانکونو دېوالي کېدو له لامله چې د ناوړه او ناپوهه مدیریت له لامله رامنځته کېږي، له منځه ولاړ شي.

په پایله کې د مالي خوندیتوب جال د لومړنۍ دفاعي لیکې لپاره د داسې سیستمونو رامنځته کول دي څو له دې ډول ملاتړ څخه برخمن بنسټونه تر کنټرول لاندې راولي. نو په دې ډول بانکي صنعت ته د ننوتو تقاضا کوونکو لپاره د شرایطو ټاکل او د فعالیت او کړنو صدور دا پړاو د احتیاطي څارنې رامنځته کولو د پیل ټکی گڼل کېږي (۲۶:۱۲۴).

د جواز جبري کولو طرحه له مالي خوندیتوب څخه د ملاتړ ترڅنگ له مشتریانو څخه د ملاتړ په موخه هم ترسره کېږي. د دې جبري کولو نورې گټې هم بانکي صنعت ته د هغو تقاضا کوونکو د ننوتو ممانعت دی چې د بانکونو د مدیریت لپاره اړینه مدیریتي پوهه او واکونه ونه لري. په دې توگه کولی شي چې د بانکونو په مدیریتي سیستم کې د بې کفایتۍ او درغلۍ پر وړاندې د مشتریانو حقونو ساتلو په برخه کې گام واخیستل شي. په واقعیت کې څارنه په بانکي سیستم کې د ناورین (بحران) رامنځته کېدو پر وړاندې له ډېرو مهمو وړاندنیو گامونو څخه ده. په ځانگړي ډول د بانکوالۍ کړنې او فعالیت د پام وړ عاید ترلاسه کولو شونتیا او د وگړو د پیسو کنټرول فرصت رامنځته کوي، درغل

او يا هم واک نه لرونکي وګړي دې صنعت ته ډېر تمايل لري. نو په دې توګه د هغو بانکونو دېوالي کېدل چې په دې ډول منفي ليد او نظر مديريت کېږي، په پايله کې پر نورو بانکونو هم د مشتريانو ډاډ او باور له منځه وړي او په بانکي سيستم کې د سراسري ناورين او بحران لامل ګرځي.
له هغه ځايه چې پر بانکي ضوابطو له اعمال څخه د ډاډ ترلاسه کولو پرته به د بانکي فعاليتونو جواز د پام وړ اغېز ونه لري، نو د بانکونو د مديرانو وړتيا په برخه کې جبري ټکي او همدارنګه په بانکونو کې د شرکتي حاکميت چوکاټ په اړه شرايط ټاکل شوي څو د بانکونو د هميشنيو کړنو د سلامتيا او سمون (صحت) تضمين وشي. له دې سره ـ سره چې دا معيارونه په دې ټينګار کوي چې په بانکونو کې د چارو د مديريت مسؤليت د بانکونو د مديرانو پر غاړه دی، نو په دې برخه کې د څار بنسټونه نه، بلکې د بانکونو مديران ځواب ويونکي دي.
په وروستيو کلونو کې په بانکونو کې د شرکت حاکميت او د سالم مديريت د اعمالو پر اهميت باندې دوه نور عوامل هم ور زيات شوي دي.
د مالي راکړو ـ ورکړو د پېچلتيا په برخه کې خارق العاده زياتوالی چې د نړۍوال ناورين د رامنځته کېدو لامل وګرځېده، د څارنې په برخه کې زياتره شته تشې يې هم ښکاره کړې. په دې اړه الن ګرينزپن وايي چې: مالي بازارونه په چټکۍ سره د بدلون په حال کې دي او تل نوې ټکنالوژۍ او وسايلو ته اړتيا لري.
په دې ډول، په مالي بازارونو کې د بدلېدونکو شرايطو شتون دويم عامل دی چې د بانکي څارونکو له لوري د سالم داخلي حاکميت کړنو د اړتيا توجيح لپاره مطرح کېږي. له همدې لامله د مالي راکړو ـ ورکړو د پېچلتيا زياتوالي له لامله د څارنې په موخه د متناسبو قوانينو جوړول ډېر اړين ګڼل کېږي. په همدې ډول؛ د مالي خدمتونو چاپېريال بدلېدل هم د څارنې د ډېرو تشو لامل

ګرځي چې يوازې د ځواکمن داخلي کنټرول له لارې له منځه تللی شي.
نړۍوال مالي ناورين کېدای شي چې د داخلي کنټرول او د څارنې پروسې د ماتې يوه نمونه وي.
ان له نړۍوال مالي ناورين څخه مخکې هم د شرکتي حاکميت مسئلې د هغو پېښو له لامله چې له بانکوالي صنعت څخه بهر رامنځته کېدې، ډېر اهميت پيدا کړ. يوويشتمه ميلادي پېړۍ د څو مديريتي کمزوريو په رسوايۍ سره چې په ځينو شرکتونو کې رامنځته شوې وې، پيل شوه. له دې ډلې څخه کولی شو چې د آنرون شرکت (۲۰۰۱)، ورلډ کام (۲۰۰۲) او پامالات (۲۰۰۳) څخه يادونه وکړو. د دې رسوايۍ رامنځته کېدل له يوې خوا په اقتصادي وده کې د خصوصي برخې ونډه او له بلې خوا، نړۍوال بنسټونه دې ته اړ ايستل څو د شرکتي حاکميت نظام د ارتقا لپاره هڅې وکړي. په دې برخه کې د اقتصادي ودې او همکارۍ بنسټ په ۱۹۹۹ ميلادي کال کې د شرکتي حاکميت لومړنيو اصولو خپرولو ته ملا وتړله او په ۲۰۰۴ ميلادي کال کې يې هغه خپاره کړل.
په همدې ډول د بازل کمېټې په ۲۰۰٦ ميلادي کال کې د شرکتي حاکميت لپاره سم او صحيح اصول چې د ۱۹۹۹ ميلادي کال له خپور شوي دستورالعمل څخه وو، تيار کړل. د مقرراتو د ګامونو په برخه کې د امريکا متحده ايالتونو هم په ۲۰۰۲ ميلادي کال کې د يو قانون له مخې د سابينز اوکسلي شرکت د رسوايۍ پر وړاندې غبرګون وښود. دا قانون تر ډېره پورې د شرکتي حاکميت په موضوع باندې راڅرخېده.

### ۲: د بانکي جواز ورکړې موخه

د بانکي جواز په برخه کې د شرايطو ټاکل يو نړۍوال اصل دی چې بانکونه اړ باسي څو د کړنو له پيل وړاندې جواز ترلاسه کړي. په ساده ډول، د قانوني واک لرونکي بنسټ له لوري له جواز څخه پرته هر کس نه شي کولی چې

بانکي خدمتونه لکه د امانتونو منل او یا هم د پرداخت سیستم مهمو برخو ته لاسرسی پیدا کړي.
له یوې خوا بانکي طبقه او له بلې خوا داسې کاروبارونه شته چې د شرکتي بڼې په ترلاسه کولو سره له خپلو څښتنانو څخه په خپلواک ډول خپلې کړنې پرمخ بیایي. د بېلګې په توګه: د خوراکي توکو پلورونکی کولی شي چې د محدود المسؤلیت له مزایاوو څخه د برخمن کېدو په موخه یو شرکت جوړ کړي[1]. په دې برخه کې هغه سوداګریزې کړنې راځي چې کېدای شي د جواز په ترلاسه کولو اړ وي خو د هغوی د ورځني شتون څرنګوالی د دې لامل ګرځي چې په کړنو یې څارنه په خپله د دوی له لوري وشي او د دې ډول کاروبارونو د جواز ورکړې مسئله پېچلې نه ګڼل کېږي. د وکالت برخه د دې ډول کارونو یوه برخه ده. د امریکا متحده ایالتونو له یوه ایالت څخه د جواز ورکړې وروسته پر وکیلانو باندې څارنه د وکیلانو ټولنې له لوري چې یو غیر دولتي بنسټ دی، کېږي. خو په دې طبقه کې د بانک جوړولو لپاره د جواز پروسه ډېره جدي ګڼل کېږي چې ډېر لګښت ته اړتیا لري.
دا ډول جواز هم د مالي خوندیتوب د جال ملاتړ ترلاسه کولو او هم د مشتریانو له انده یو اړین امر ګڼل کېږي. له دې سره ـ سره د دې پروسې له مخې یوازې هغه کسان کولی شي چې جواز ترلاسه کړي چې اړوند ضوابط او معیارونه پوره کړي. د خوراکي توکو پلورنځی د دې مسئلې د لا ښه پوهاوي په برخه کې مرسته کوي. دا ډول پلورنځی یوازې د خپلې اړتیا پانګه برابروي، د توکو له عرضه کوونکو سره اړیکه نیسي او خپل فعالیت پیلوي. که چېرې دې ډول کاروبار ته د ننوتو په برخه کې مالي خنډونه موجود وي، نو متقاضیان باید د خپلې اړتیا پانګه پیدا کړي ان که څارنیز خنډونه ډېر کم هم وي. دا په دې مانا چې پلورنځی اړتیا نه لري چې د خپل پلورنځي مدیریت لپاره باید له اړین ځواک او وړتیا څخه برخمن وي. دا چې دوی له وګړو او یا هم د پانګونې له

بنسټونو څخه د اړینې (لازمي) پانګې ترلاسه کولو په لټه کې وي، نو د خپلې وړتیا په برخه کې د هیڅ بنسټ او مرجع متقاعد کولو ته اړتیا نه لري. د دوی کاري وړتیا د بازار ځواکونو له لارې، د پلورنځي د غوړېدو او رونق او یا هم د پلورنځي د دېوالي کېدو له مخې مالومېږي.
په همدې ډول؛ د جواز ورکړه له دې سره ـ سره چې د ورودي د مخنیوي په توګه عمل کوي، د بانکوالۍ په صنعت کې د سیالۍ کموالي لامل هم ګرځي. په مخکېنۍ بیلګه کې؛ کله چې د پلورنځي څښتن په دې پوه شي چې له یو ځانګړي بازار (طبیعي خوراکي توکي) څخه ډېره ګټه ترلاسه کېږي، نو یاد بازار ته د ننوتو په برخه کې یې هیڅ عامل هم د سیالۍ مخه نه شي ډب کولی. په داسې حال کې چې د فعالیت جواز ترلاسه کولو اړوند الزامات، د بانکوالۍ برخې ته د ګټې فرصت لټوونکي متقاضیانو ننوتلو شونتیا محدودوي. په دې توګه څارونکي باید د دوو واکمنو تګلارو له لوري د ټاکل شوو موخو ترمنځ انډول وساتي. له یوې خوا باید د جواز ورکړي شرطونه په جدي ډول په پام کې ونیسي څو د بانکوالۍ صنعت ته د غیر واقعي متقاضیانو د راننوتو مخنیوی وکړي او له بلې خوا څخه باید هڅه وکړي څو بانکي صنعت ته د نوو سیالانو د ننوتو لپاره د محدودیتي معیارونو د تدوین مانع وګرځي[1]. نو له همدې لامله نړۍوال منل شوي معیارونه لکه د بازل کمېټې له لوري د بانکي څارنې په موخه خپاره شوي معیارونه د اقتصادي معیارونو (د بانکوالۍ په صنعت کې د ډېرې سیالۍ د شتون په برخه کې د څارونکو نظرونه په پام کې نیول) په پرتله پر بشپړ تخصصي معیارونو (د متناسبو او معقولو ازموینو ترسره کول) ډېر ټینګار کوي. په واقعیت کې د داسې انډول (توازن) رامنځته کول د دې مستلزم دی چې بانکي څارونکي په سم لوري حرکت وکړي.
د یادولو وړ ده چې د یادو شوو دوو تګلارو ټولیزې موخې هم د وخت په تېرېدو سره د بدلون په حال کې وي. داسې چې د امریکا په متحده آیالتونو کې د

بانکي جواز صادروونکی بنسټ ډېری ملاحظات په پام کې نیسي او اړوند چارواکي د غوښتنلیک منلو او یا هم نه منلو په برخه کې ټاکونکې ونډه لري.
له لوی ناورین څخه وړاندې د بانکونو جوړونې جواز په اسانۍ سره ترلاسه کېده خو د رابرټسون[1] نظریې په پام کې نیولو سره، په وروستیو کلونو کې دې کار د پام وړ بدلون موند.
له لوی ناورین څخه وروسته د شلو کلونو په اوږدو کې، یوازې د ۲۱۱ کورنیو بانکونو ته جواز ورکړل شوی دی. په سوداګریزو بانکونو کې د رامنځته شوې پانګونې کمه ګټه، له غوښتنلیکونو سره د هوکړې نه شتون چې په ځینو برخو کې یې د ټولو متقاضیانو ۴۰ سلنه په بر کې نیوله، د دې دلیلونو له ډلې څخه وو چې د زیاترو متقاضیانو د انصراف لامل ګرځېدل. خو د صادر شوو جوازونو کموالي تر ټولو لوی لامل کېدای شي چې د پرېکړه کوونکو چارواکو او بنسټونو نظر وي. داسې چې د پرېکړه کوونکي واحد د کړنو کلني راپورونه دا ښکاره کوي چې د یادې زمانې دورې په اوږدو کې مسؤلو بنسټونو د نورو بانکي جوازونو ورکړې او سیالۍ رامنځته کولو ته تمایل نه درلوده. په واقعیت کې د اړتیا او ګټې تګلارې د پرېکړه کوونکو بنسټونو په چلند واکمنې شوې او د بانکوالۍ جواز ورکړه هم د محدود موافقت له سیاست څخه افراطي حد ته واوښته.
اوسمهال پر (ګټو او اړتیا) ولاړ نظر چې مخکې د غیر سیالیزو سیاستونو د پیاوړتیا لامل ګرځېده، نور د منلو نه دی.
د حسابرسۍ اداري مقررات وايي چې:
دا چې بازار د اقتصادي کړنو ښه تنظیموونکی دی او په بازار کې سیالي د دوی د کارونو ښه والي او مشتریانو ته د ښو خدمتونو وړاندې کولو لامل ګرځي، نو د قانوني واکمن بنسټ اوسنی دستورالعمل بانکونو ته د جوازونو صادرول دي چې د ډاډ وړ او معقولو کړنو په مرسته وکولی شي، بریالیتوب

ترلاسه کړي. خو د بنسټونو (مؤسساتو) د ګواښ او خطر له مدیریت څخه ډاډ ترلاسه کول او یا هم په سیالیزو او رقابتي بازارونو کې د نوو رامنځته شوو بانکونو پر وړاندې د فعالو بانکونو ملاتړ هغه موضوعات دي چې په پام کې نه دي نیول شوي.

په یاد دستورالعمل کې د پرېکړه کوونکو بنسټونو او چارواکو د واکونو زیاتوالي په برخه کې د پام وړ ټکی دا دی چې واک لرونکي بنسټ ته ډېره خپلواکي ورکول کېږي. د خپلواکۍ دا ازادي کولی شو چې په ښکاره ډول په اروپایي تګلاره کې وګورو. داسې چې د اروپایي ټولنې د پانګې شرایطو په دستورالعمل کې چې په ۲۰۰٦ میلادي کال کې خپور شوی، یادونه شوې چې (که چېرې د بانک جوړېدو او جواز ترلاسه کولو لپاره د دولت غړي غوښتنه وکړي، نو د یو اغېزمن پارامتر په توګه د بازار اقتصادي اړتیاوو ارزونې ته اړتیا نه لیدل کېږي) (۲٦:۱۳۰).

## ۳: د بانکي جواز د ورکړې پر پروسه واکمن ضوابط

د بازل کمېټه د بانکي جواز ورکړې پروسې پر محوریت د اغېزمنې څارنې بنسټیز اصول تر سرلیک لاندې لاسوند (سند) په خپرولو سره د احتیاطي څارنې په ترسره کولو ټینګار کوي. دا سند ۲۵ اصول لري چې په نړۍواله کچه د بانکي څارنې له معیارونو څخه یادونه کوي.

د دې سند په دویم او درېیم اصل کې داسې یادونه شوې:

**دویم اصل: مجاز فعالیتونه:** د څارنې بنسټ باید د بانکي جواز ترلاسه کوونکي بنسټ ته مجاز کړنې په روښانه او صریح ډول وټاکي او د شونتیا تر بریده پورې پر بانکونو څارنه وکړي.

**درېیم اصل: د جواز ورکړې ضوابط:** د جواز ورکړې ضوابطو د تدوین په برخه کې باید ځواب ویونکي او مسؤل چارواکي له اړینو واکونو څخه برخمن وي او د اړتیا په وخت کې له ضوابطو څخه بهر هم د تقاضا کوونکو د رد توان ولري.

هغه لږ تر لږه (حداقل) پړاوونه چې د جواز ورکړه په بر کې نيسي په لاندې ډول دي:

- د متقاضي بانک د مالکيت څرنګوالي ارزونه او د بانک حاکميت جوړښت.
- د چارو ترسره کوونکو د بېلګې په توګه: د بانک مديره پلاوي او د بانک عامل پلاوي، د وړتيا او واکونو ارزول.
- عملياتي او ستراتېژيک پلانونه.
- داخلي کنټرول.
- د ګواښ او خطر مديريت.
- د بانک وړاندويل شوي مالي څرنګوالي ارزونه چې د بانک د پايې پانګه په بر کې نيسي. په هغه حالت کې د بانک اصلي څښتن او يا هم پرېکړه کوونکی بنسټ بهرنی وګړی وي، جواز بايد د غوښتونکي هېواد د څارنې له بنسټ څخه د بانک لومړنۍ هوکړې ترلاسه کولو څخه وروسته ورکړل شي.

د امريکا په متحده آيالتونو کې، د بانک جوړوونکي بايد د مرکزي دولت چارواکو او يا هم ايالتي چارواکو ته د بانک جوړولو غوښتنليک وړاندې کړي. د بانکي جواز ورکړې په برخه کې د مرکزي دولت قانوني واک لرونکی بنسټ، د حسابرسۍ اداره[1] ده چې د ماليې وزارت يوه برخه ده.

دا بنسټ د بانک جوړولو په برخه کې د پنځو شاخصونو ارزونه اړينه بولي چې په لاندې ډول دي:

۱: د بانک جوړوونکي بايد د بانکوالۍ قوانينو او مقرراتو په برخه کې اړينه پوهه ولري.

۲: د عامل مدير او مديره پلاوي په ګډون د بانک لوړ پوړي مديران بايد له کافي تجربې، وړتيا او شايستګۍ څخه برخمن وي.

۳: د بانک پانګه له وړاندویل شوو فعالیتونو سره متناسبه وي.
۴: د منتظره ګټې ترلاسه کولو په برخه کې د بانک لاسرسی او د دې ګټې ټاکل او تثبیت باید مثبت وارزول شي.
۵: د بانک ټولې کړنې باید د سمو او معقولو تګلارو له مخې ترسره شي.
په همدې ډول کورني بانکونه باید د بیمې طرحې پلي کولو لپاره د فدرالي امانتونو بیمې شرکت څخه جواز ترلاسه کړي. نو په دې توګه د حسابرسۍ اداره د متقاضي د امانتونو بیمې غوښتنلیک اړوند عوامل هم په پام کې نیسي. تر ټولو مهمه دا ده چې، دا موضوع هغه عامل دی چې هغه لیست ته ور اضافه کیږي چې د بیمه شوو امانتونو د ګواښ او خطر لامل ګرځي. د امریکا په متحده آیالتونو کې د جواز ورکړې پروسه په وګړو پورې تړلې ځانګړتیا، د متقاضي بانک له لوري د حسابرسۍ ادارې له لوري د (ټولیزې مجددې پانګونې) په قانون کې د قید شوو شرطونو د منلو درجې ټاکل دي. نو په دې توګه د تأمین له اړخه (د سمو او معقولو کړنو ترسره کولو له لارې د کم عاید لرونکو وګړو او ډېر کم عاید لرونکو وګړو په ګډون تر پوښښ لاندې ټولنې اعتباري اړتیاوې) د متقاضي بانک توان باید د حسابرسۍ ادارې له لوري وارزول شي (ټول هغه بانکونه چې د بیمې فدرالي شرکت له لوري بیمه شوي دي، باید دا شرط پوره کړي).
د یادولو وړ ده چې د امریکا په متحده آیالتونو کې زیاتره بانکونه د هغو شرکتونو تر مالکیت لاندې دي چې د امریکا له مرکزي بانک څخه د بانک جواز ترلاسه کولو پړاوونو سره ـ سره باید د بانک مالکیت جواز هم ترلاسه کړي.
لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه؛ د امریکا په متحده آیالتونو کې له مرکزي دولت سره ـ سره، آیالتي چارواکي هم د بانک جواز ورکوي چې دا کار د بانکوالۍ د دوه ګوني سیستم رامنځته کېدو لامل ګرځېدلی دی. په بېلابېلو آیالتونو کې د بانکي جواز ورکړې په برخه کې د بېلابېلو معیارونو له احتمالي

موجودیت سره ـ سره، د امریکا په متحده آیالتونو کې په ټوله کې تر ډېره پورې یو شان معیارونه ټاکل شوي دي چې د حسابرسۍ ادارې له چوکاټ څخه پېروي کوي.
په دې برخه کې د اروپایي ټولنې د پانګونې د شرطونو له دستورالعمل سره سم، غړي هېوادونه د اعتباري بنسټ جواز ترلاسه کولو لپاره د ورته پړاوونو تېرولو ته اړتیا لري چې د حسابرسۍ ادارې له لوري ټاکل کېږي. نو په دې توګه په دې هېوادونو کې قانوني واک لرونکي بنسټونه هغه وخت بانکي جواز ورکوي چې د متقاضي بانک د مدیرانو او څښتنانو له کفایت، وړتیا او شایستګۍ څخه ډاډ ترلاسه کړي. له دې شرطونو څخه یو هم دا دی چې د بانکي او یا هم اعتباري بنسټ لپاره د جواز غوښتنلیک باید لږ تر لږه د دوو حقیقي وګړو له لوري وړاندې شي. له دې سربېره، که چېرې یاد وګړي د بانکوالي په برخه کې اړینه تجربه ونه لري او یا هم دا چې د درغلۍ او ناوړه ګټې اخیستنې شالید ولري، جواز نه ورکول کېږي. نو په دې ډول ځواب ویونکي او مسؤل چارواکي باید د متقاضي بنسټ د څښتنانو پېژندنې په اړه کافي مالومات راټول او د هغوی له وړتیا او شایستګۍ څخه ډاډ ترلاسه کړي.
په همدې ډول د پورته یاد شوي دستورالعمل له مخې، د دې بنسټونو د کړنو د پیل لپاره لږ تر لږه اړینه (لازمه) پانګه ۵ میلیون یورو ټاکل شوې ده.
د انګلستان تګلاره په واقعیت کې د هغې تګلارې نمونه ده چې د اروپا په غړو هېوادونو کې تربنه ګټه اخیستل کېږي. یعنې دا چې د بانکي جواز ورکړه پر مالي بنسټونو باندې د څارنې اعمال پروسې اړوند قوانینو او مقرراتو پلې کول دي. دا په دې مانا چې په مالي برخه کې هر متقاضي شرکت باید د جواز ترلاسه کولو لپاره خپل غوښتنلیک د مالي خدمتونو څارونکي رسمي بنسټ ته وړاندې کړي. دا ټول مجازي فعالیتونه لکه د امانتونو اخیستل، د پانګې پېر او پلور، منل (قبولي)، د پانګه اچونې مدیریت او ډلبندي او په همدې ډول د سلا

او مشورو ورکړه او د پانګونې ټولې بڼې په بر کې نیسي. نو په دې توګه د پانګه اچونې بانکونو او سوداګریزو بانکونو د جواز پروسه یو شان ده.
پر مالي خدمتونو څارونکی رسمي بنسټ باید په مالي برخه کې د جواز غوښتنلیک شرطونه د پارامترونو په پام کې نیولو سره په لاندې ډول تایید کړي:
۱: د جواز ترلاسه کوونکي حقوقي وضعیت (بانک باید د سهامي شرکت او یا هم تضامني شرکت بڼه ولري).
۲: د بانکي څانګو د ځای پته ( د بانک مرکزي اداره باید په انګلستان کې وي).
۳: له نورو حقیقي وګړو سره د متقاضي نږدې پیوندونو شتون په صورت کې، پر مالي خدمتونو څارونکی بنسټ باید ډاډ ترلاسه کړي چې دا پیوندونه د اغېزمنې څارنې پر وړاندې خنډ نه دي.
۴: د متقاضي بانک سرچینې له وړاندویل شوو کړنو سره په متناسب ډول وي.
۵: متقاضي باید له اړینې وړتیا او پوهې څخه برخمن وي.
یاد موارد د مالي خدمتونو څارونکي رسمي بنسټ په لاسوندونو کې داسې یاد شوي دي: (اړین ملاحظات له نورو سره د متقاضي بانک د پیوندونو ارزونه، د هغو د کړنو څرنګوالي ارزونه چې متقاضي یې ترسره کوي او یا هم دا چې د ترسره کولو په لټه کې یې وي او تر هر ډول شرایطو لاندې په ښه او معقول ډول د کړنو له ترسره کولو څخه ډاډ ترلاسه کول په بر کې نیسي).

## ۴: د بانکونو مدیرانو وړتیا او شایستګي

د بازل کمېټې له لوري د خپاره شوي دستورالعمل ۳ اصل له مخې، د بانکونو مدیرانو او ونډه والو د وړتیا او شایستګۍ ارزونه د مهمو پارامترونو له ډلې څخه دي چې د جواز ورکولو او د جوړېدونکو بانکونو د کنټرول او څارنې په برخه کې باید په پام کې ونیول شي.

د یادولو وړ ده چې د بانکونو مدیرانو د وړتیا او شایستګۍ شاخصونه په بېلابېلو هېوادونو کې توپیر لري خو موخه یې په ټولو کې ګډه او مشترکه ده.

د بازل کمېټه د مالي بنسټونو د مدیرانو شایستګي او وړتیا ارزولو په برخه کې زیاتوي چې:

د بانکونو، د ارزښت لرونکو پاڼو (قیمتي پاڼو) په برخه کې فعالو بنسټونو او د بیمې شرکتونو د څارنې موخو د ترلاسه کولو په برخه کې د لوړپوړي مدیریت وړتیا او صداقت حیاتي ونډه لري. خو تر څارنې لاندې مالي بنسټ کې د وړ او معقول مدیریت له شتون څخه ډاډ ترلاسه کولو اصلي مسؤلیت د یادو بنسټونو پر غاړه دی. بانکي څارونکي په واقعیت کې تمه لري چې یاد بنسټونه د ټاکل شوو معیارونو له مخې مدیران، چارسمبالي (سرپرستان)، ونډه وال او د مالي بنسټونو پر کړنو نور اغېز لرونکي وګړي تر ځانګړې څارنې لاندې ونیسي.

په واقعیت کې د څارنې یو نظام هغه وخت هر اړخیز او ګټور وي چې د کافي او اړین کنټرول له لارې، د بانکونو لوړ پوړو مدیرانو له واک او وړتیا څخه د څارونکو کیفي ارزونې له مخې ډاډ ترلاسه کړي او د اړتیا په صورت کې د څارونکو لاسوهنه او شتون هم شونی کړي. کیفي ارزونه له دوديزو جوړښتونو څخه ده چې د څارونکو له لوري د مالي بنسټ مدیرانو، سرپرستانو او د اصلي ونډه والو د ارزونې په موخه ترېنه ګټه اخیستل کېږي څو د یاد بنسټ د کړنو له سمون څخه ډاډ ترلاسه کړي. بانکي څارونکي په ټوله کې دا واک لري چې د بانک مدیرانو، سرپرستانو او یا هم ونډه والو د وړتیا او شایستګي نه شتون په صورت کې له مجازاتو څخه کار واخلي. بانکي څارونکي په حقیقت کې د واک او وړتیا د ارزونې له مخې هڅه کوي چې د پام وړ وګړو د رښتینولۍ او وړتیا میزان وارزوي.

د نړۍوالې تسویې بانک دستورالعمل په دې اړه یادونه کوي چې:

د وړتیا ارزولو ازموینه په ټوله کې د ورکړل شوو دندو په ترسره کولو کې د مدیرانو او سرپرستانو د وړتیا ارزونه ده. د مسؤلو چارواکو د رښتینولۍ میزان اروزولو په موخه د ټاکل شوي واک او صلاحیت ازموینه او د ورکړل شوي موقعیت تناسب، د قانوني سرغړونو سوابقو، د وګړو د مالي وضعیت څرنګوالي، له تخصصي بنسټونو څخه د ایستلو او یا هم منع کولو شالید (سابقه) او د نورو ورته بنسټونو یا هم د څارونکو له لوري ورکړل شوي مجازاتو پارامټرونو څخه په ګټه اخیستنې سره ترسره کېږي.

په دې برخه کې کولی شو چې د انګلستان د څارنې له سیسټم څخه یادونه وکړو چې له مخې یې د مالي بنسټ لوی ونډه وال او مدیریت باید له اړین واک څخه برخمن وي. پر مالي خدمتونو څارونکي رسمي بنسټ د لارښوونې له مخې، د اخلاقي او حرفه یي واک د ارزونې په برخه کې تر ټولو اړین پارامټرونه په لاندې ډول دي:

۱: رښتیا ویل، صداقت او ټولنیزه ښکلا.

۲: واک او وړتیا.

۳: مالي سلامتیا.

په دې پارامټرونو کې رښتیا ویل، صداقت او ټولنیزه ښکلا پر مالي خدمتونو څارونکي رسمي بنسټ د اهمیت له لوړې درجې څخه برخمن دی. په همدې ډول نور موارد لکه ایا د پام وړ وګړي په کیفري جرمونو کې ښکېل پېژندل شوي دي؟ په حقوقي دعوه کې حکم ورباندې صادر شوی دی؟ او یا هم دا چې له دې مخکې د خپل فعالیت په برخه کې تر پوښتنو او ارزونو لاندې راغلي دي؟ د دې څارونکي بنسټ په اند د تأمل او ارزونې ځای لري (پر مالي خدمتونو څارونکي رسمي بنسټ لارښود کتاب).

د واک او وړتیا په ارزونه کې، پر مالي خدمتونو د څارونکي رسمي بنسټ د پام وړ شاخصونه په لاندې ډول دي:

آیا وګړي د اړینې پوهې او تجربې لرونکي دي؟ (د مالي اعتبار په ارزونه کې؛ دا چې ایا د پور ورکوونکو له لوري په متقاضي باندې د حقوقي دعوې کوم شالید (سابقه) شته او که نه؟، مهمه موضوع ګڼل کېږي. په داسې حال کې چې د متقاضي کم مالي توان د نوموړي د واک ردېدو لامل نه ګرځي (لاربښود کتاب).

## ۵: د مالي بنسټ د جوړېدو امتیاز لېږدول

که چېرې هر کس وکولی شي چې د بانک د جوړېدو امتیاز ترلاسه کړي او له ترلاسه کولو څخه وروسته یې داسې کوم بل کس ته ولېږدوي چې اړینې وړتیاوې او واکونه ونه لري، نو د جواز د ورکړې په برخه کې محدودوونکي شرطونه عملاً له ننګونو سره مخ کېږي. نو له همدې لامله د بانکي جواز د ورکړې شرطونو په ټولګه کې، د بانک د مالکیت لېږد او یا هم یو ځای کېدو او ادغام په برخه کې اصول هم په پام کې نیول کېږي.

د بازل کمېټې له لوري په خپاره شوي دستورالعمل کې په دې اړه داسې یادونه شوې ده:

**څلورم اصل: په پراخه کچه د مالکیت لېږد:** څارونکي دا واک لري چې د بانکونو په مالکیت کې هر ډول بدلون باید وړاندې له وړاندې وارزوي او د اړتیا په صورت کې یې مخالفت وکړي. په همدې ډول د دې اجازه لري، چې هغه ګټه او بهره چې بانکونه یې په مستقیم او یا هم غیر مستقیم ډول له اقتصادي کړنو څخه ترلاسه کوي، کنټرول کړي.

**پنځم اصل: پر عمده تملک څارنه:** څارونکي د مقرراتو او ضوابطو په پام کې نیولو سره د دې اجازه لري څو د اړینو ارزونو له لارې د دې بنسټونو له لوري ترسره شوې پانګونې او د بانکونو د تملک پروسې له انطباق څخه ډاډ ترلاسه کړي. ترلاسه شوي مالومات باید د دې ښکارندوی وي چې ملکیتي جوړښت او

بانکي جوړښت له ګواښ سره مخ نه دی او د څارنې پر وړاندې خنډونه نه جوړوي.
په یادو شوو اصولو کې مطرح مضامین کولی شو چې د امریکا متحده ایالتونو د بانکونو کنټرول په لایحه کې په رامنځته شوو بدلونونو کې هم وګورو. داسې چې د کورنیو بانکونو مالکیت په برخه کې هر ډول بدلون او تغییر باید د حسابرسۍ اداره تایید کړي. په همدې ډول د دې لایحې په پنځم اصل کې ټینګار شوی دی چې د بانکونو او اړوند شرکتونو د مالکیت پروسه باید د حسابرسۍ ادارې تر څار لاندې وي.

## ٦: د بانک د جوړېدو امتیاز ورکړې تګلاره

د نړۍ په زیاتره هېوادونو کې د بانکونو جوړېدو جواز ورکړه یوازې د یوه بنسټ له لوري ترسره کېږي او متقاضیان د جواز ورکوونکي بنسټ د ټاکنې او انتخاب حق نه لري. خو په دې برخه کې د امریکا په متحده آیالتونو کې استثناء موجوده ده. نږدې ۱۵۰ کلونه کېږي چې په دې خاوره د بانکي جواز ورکړې دوه ګونی نظام واکمن دی. له ۱۸۶۳ میلادي کال څخه مخکې د بانکونو جواز د دې هېواد په آیالتونو کې د واکمن بنسټ له لوري ورکول کېده خو په همدې کال کې د امریکا کنګرې د کورنیو بانکونو قانون په تصویب سره د بانکونو (کورنیو بانکونو) جوړېدو او جواز ورکړې په برخه کې د مرکزي بنسټ په جوړولو لاس پورې کړ څو په دې توګه د واحد ملي پولي واحد له خپرولو سره د کورنیو جګړو لپاره اړینې مالي سرچینې تأمین کړي. کنګرې په واقعیت کې تمه درلوده چې آیالتي بانکونه د جواز ترلاسه کولو لپاره آیالتونو ته نه، بلکې مرکز ته ورشي. خو د امریکا کنګرې د وړاندوینې برعکس د بانکونو جواز ورکړې په برخه کې دا ګام اغېزمن نه ؤ. په پایله کې کنګرې په ۱۸۶۵ میلادي کال کې د یو بل قانون په تصویبولو سره د آیالتي بانکونو له لوري پر خپرو شوو سکو سرکوب کوونکې/ځپونکې (بازدارنده) مالیه وټاکله. نو په دې ډول آیالتي

بانکونو د جاري حسابونو (د دود پیسو لپاره ځایناستی) په پراخېدو سره د دې ډول مالیاتو له ورکړې څخه اجتناب وکړ او سکو ته یې اړتیا رفع او له منځه یووړه. خو د دې ډول مالیاتو ټاکل له مرکزي بنسټ څخه د بانکي جواز ترلاسه کولو په برخه کې انګېزه رامنځته کړه. په همدې ډول هغو بانکونو چې له آیالتي بنسټونو څخه یې جوازونه ترلاسه کړي وو، خپلو کړنو ته دوام ورکړ. نو په دې توګه د امریکا په متحده آیالتونو کې د بانکوالۍ صنعت د بانکونو جوړولو ته د دوه ګوني نظام لاندې دا شونې کړه چې د بانکونو جواز ورکوونکو دوو بنسټونو (آیالتي بنسټ او یا هم د مرکزي دولت بنسټ) ترمنځ یو وټاکي.
د امریکا په متحده آیالتونو کې د بانکوالۍ دوه ګوني نظام شتون کولی شو چې د امریکا کنګرې له لوري له ماتې سره مخ شوو د هغو هڅو نه غوښتونکي پایله وګڼو چې له آیالتونو څخه ترلاسه شوو بانکي جوازونو له منځه وړلو په موخه ترسره شوي دي. دا نظام د ګټورتوب او اغېزمنتوب او همدارنګه د دوام شونتیا په ګډون د ډېرو بحثونو لامل ګرځېدلی دی. هغه لویه توجیح چې د دې نظام د پلویانو له لوري رامنځته کېږي، د آیالتي او مرکزي دولت د څارونکو ترمنځ د روغې او سالمې سیالۍ رامنځته کول دي. دا نظریه په دې انګېرنه/فرضیه ولاړه ده چې د بانک جوړېدو متقاضیانو لپاره د جواز ورکړې بنسټ د ټاکلو حق ورکړه د څارونکو ترمنځ د سیالۍ چاپېریال رامنځته کوي او بانکونه کولی شي د اړوند څارونکو له کړنو څخه د رضایت نه شتون په صورت کې د بانک د جواز د بدلون غوښتنه وکړي او پر بانک د واکمن څارونکي بنسټ طرحه وکړي. نو په دې توګه د څارونکو د ځایناستي په برخه کې د بانکونو توان د دې لامل ګرځي چې د مرکزي دولت او آیالتي دولت څارونکي د یو بل پر وړاندې ځای ونیسي او د خپلو کړنو د پراخېدو او په همدې ډول د ډېرو متقاضیانو د جلبولو لپاره د څارنې اړوند تګلارو او دستورالعملونو په برخه کې بیا کتنه وکړي.

په همدې ډول؛ هغه بل ټکی چې د بانکوالۍ له دوه ګوني نظام څخه د ملاتړ په برخه کې ترینه یادونه کېږي دا دی چې د دې نظام شتون اهمیت د آیالتي جواز لرونکو بانکونو د پایښت او دوام لامل ګرځي. د سیاسي واک له لارې د آیالتي بانکونو د له منځه وړلو په برخه کې د امریکا د کنګرې واک د بانکوالۍ په دوه ګوني نظام کې د آیالتي بانکونو د زیان لامل ګرځېدلی دی. له بلې خوا، له آیالتي بانکونو څخه دفاع کوونکي په دې باور دي چې ایالتي بانکونه د ټولنې له اړتیا څخه په ښه ډول خبر دي او په ورته وخت کې د خپلو مؤکلانو پر وړاندې چې آیالتي بانکونه دي، ډېر مسؤلیت لري. له دې سره ـ سره د بانکوالۍ دوه ګوني نظام اعتبار د مالي خدمتونو په برخه کې د نوښت رامنځته کېدو لامل ګرځي.

په دې برخه کې د آیالتي څارونکو د ناستې په متن کې، له آیالتي جواز لرونکونو بانکونو څخه ملاتړ داسې روښانه شوی دی:

زیاتره دود بانکي خدمتونه په واقعیت کې د هغو قانوني سیالیو پایله ده چې د بانکوالۍ دوه ګوني نظام په پایله کې رامنځته شوي دي. د رهن متغیره کچې، د ځینو راکړو ـ ورکړو لپاره د حساب پرانیستل او ان د جاري حسابونو اړوند خدمتونو کې د نوښت په ګډون نور ټول د آیالتي څارنې لاندې بانکونو له لوري رامنځته شوي دي. له بلې خوا، د مرکزي دولت څارونکو د نوښتونو په پایله کې بانکونه په دې وتوانېدل چې منظمې کلنۍ ورکړې (پرداختونه) د پولي وسیلې په توګه د پلور په برخه کې ونیسي، د متقابلې پانګونې صندوقونه او د ارزښت لرونکو پاڼو په برخه کې خپلو کړنو ته پراختیا ورکړي او په همدې ډول د ارزښت لرونکو پاڼو انټرنیټي راکړو ـ ورکړو شونتیا یې رامنځته کړې.

خو له بلې خوا د بانکوالۍ د دوه ګوني نظام موجودیت له ډېرو نیوکو سره هم مخ شوی دی. هغه دا چې له دې سره ـ سره چې د بانکوالۍ د دوه ګوني نظام له لامله د رامنځته شوې سیالۍ په پایله کې د څارونکو په اغېزمنتوب کې هم

زیاتوالی راغلی دی، خو د ورانوونکې او مخربې سیالۍ له لارې د نورو متقاضیانو د جذب او یا هم د شته امتیاز نامې د ساتلو په موخه د مرکزي او آیالتي څارونکو د هڅوونې له لارې یې په ټیټه کچه د څارونکو د ځینو قانوني ضوابطو په پام کې نه نیولو ته هم لمن وهلې ده.
ځینې نیوکه کوونکي دا ناسمه او ناسالمه سیالي د مرکزي دولت د څارنې بنسټ له لوري اخیستل شوي گامونه بولي چې د متقاضیانو د جذب او ساتلو لپاره یې په پراخه کچه د څارنې ضد سیاستونه رامنځته کړي دي[۱]. دا چې د مرکزي دولت د څارنې بنسټ له لوري خپاره شوي قوانین او مقررات پر کورنیو بانکونو د آیالتي قوانینو پلي کولو مانع گرځي، نو دا کار د دې لامل شوی چې کورني بانکونه د هغه آیالت قوانینو او مقرراتو له پلي کولو څخه معافیت ترلاسه کړي چې یاد بانکونه پکې فعالیت کوي.
د مرکزي دولت څارنې بنسټ له لوري دغو نیوکو ته داسې توجیحي دلیلونه چې قضایي بنسټونو هم تایید کړي دي، د بانکونو له مشتریانو څخه ملاتړ او په همدې ډول د لویو او ځواکمنو بانکونو له لوري د وړاندې شوو غوښتنلیکونو پر وړاندې د آیالتي څارونکو تسلیمېدل په گوته کوي چې په پایله کې د بانکوالۍ د دوه گوني نظام د کمزورۍ لامل گرځي. په همدې ډول د څارنې دا مرکزي بنسټ د مرکزي دولت له لوري له رامنځته شوو خنډونو څخه د دفاع په برخه کې یادونه کوي چې هغه جوازونه چې د مرکزي دولت له لوري ورکول کېږي، اړوند بانک ته د دې اجازه ورکوي چې په ټول هېواد کې تر واحدو قوانینو لاندې خپلې کړنې ترسره کړي او په هېواد کې د بانکي کړنو په برخه کې له ۵۰ بېلابېلو مقرراتو څخه په پېروي اړ نه دي. د بانک د مشتریانو په اند، د بانکوالۍ دوه گوني نظام مزیت دا دی چې د هر آیالت مشتریان کولی شي له بېلابېلو بانکي خدمتونو څخه گټه واخلي او یوازې په آیالتي بانک بسنه ونه کړي.

په اروپايي هېوادونو کې د بانکي څارنې قوانينو اهميت له زياتېدو سره ـ سره، د بانکوالۍ دوه ګوني نظام رامنځته کولو په برخه کې لا هم ګام نه دی پورته شوی. د اروپايي ټولنې د منل شوې او تایید شوې بانکي څارنې پروسه په واقعيت کې په دې اصل ولاړه ده چې هر بانک د اړوند هېواد تر څارنې لاندې راځي او د جواز ترلاسه کولو، کنټرول او څارنې موضوعاتو په اړه د اروپايي ټولنې د غړي هېواد د دولت پر وړاندې ځواب ويونکی دی. د ټولنې يوه غړي هېواد له لوري د بانک جوړولو جواز ورکړې سره ياد بانک څانګې جوړولی شي او کولی شي چې د پولو ترمنځ بانکي خدمتونه (لکه برېښنايي بانکوالي) د ټولنې ټولو غړو هېوادونو ته وړاندې کړي. په دې توګه بانکونه يوازې په هغه حالت کې د ټولنې له غړو هېوادونو څخه د جواز په ترلاسه کولو مجبورېږي چې د ځانګړي هېواد په پولو کې يو ترڅې يا تابع شرکت جوړوي. د بېلګې په توګه: يو بانک چې د فرانسې له دولت څخه يې جواز ترلاسه کړی وي، کولی شي د جواز له اخيستو څخه پرته په ايټاليا، المان، پولنډ، چک جمهوريت او د اروپايي ټولنې نورو غړو هېوادونو کې هم څانګې پرانيزي. له بلې خوا پولنډ مېشتي مشتريان هم کولی شي د سويډن دولت له جواز اخيستونکي بانک څخه بانکي خدمتونه ترلاسه کړي ان که ياد بانک په پولنډ کې څانګه هم ونه لري.

د اړتيا وړ پانګې دستورالعمل په چوکاټ کې د جواز ورکړې په برخه کې د يو شان معيارونو رامنځته کولو لپاره د اروپا بانکي څارونکو له غوښتنې سره ـ سره، په بېلابېلو هېوادونو کې د دې څارونکو په کړنو کې انعطاف د سيالۍ يو داسې چاپېريال رامنځته کړی چې بالاخره د بانکي څارنې پروسې د ودې لامل ګرځېدلی دی.

په دې توګه د بانکي جواز په برخه کې د قانوني واک لرونکي بنسټ د نه تمرکز له امله، د بانکونو جوړوونکي (متقاضيان) تر ډېره پورې دې ته لومړيتوب

ورکوي چې د بانک جوړونې غوښتنلیک هغه بنسټ ته وسپاري چې د دوی لپاره کم محدودویتونه ولري او د څارنې لګښتونه یې هم له نورو څخه کم وي. نو له همدې لامله په اروپا کې لیدل کېږي چې بانکونه د څارنې او د جواز ورکړې په برخه کې د پام وړ شرایطو په پام کې نیولو سره خپل مرکزي دفتر په هغه هېواد کې پرانیزي چې د نورو هېوادونو په پرتله ښه او مطلوب څارنیز سیستم ولري. د مثال په توګه: د انګلستان د بارکلیز بانک[1] پر مالي خدمتونو باندې د څارونکي رسمي مقام د ځایناستي په توګه د هالنډ مرکزي بانک د څارنې له بنسټ څخه د ګټې اخیستنې په موخه د ای.بي.ان. آمرو هالندي بانک[2] سره د یو ځای کېدو وړاندیز وکړ. د یادولو وړ ده چې داسې موارد ډېر کم وي او د اروپايي هېوادونو څارونکي تر ډېره پورې له دې ډول مواردو سره په غیر رسمي ډول مخالفت کوي. خو برعکس د امریکا په متحده آیالتونو کې د څارونکو ترمنځ له سمې او سالمې سیالۍ څخه د ملاتړ په موخه، د بانکونو جوړوونکو متقاضیانو ته تل د آیالتي څارونکي بنسټ او یا هم د مرکزي دولت څارونکي بنسټ ترمنځ د څارنې بنسټ د بدلون آسانتیا ورکوي[3]. نو په دې توګه لیدل کېږي چې د امریکا په متحده آیالتونو کې د جواز بدلون (تغییر) یو دود دی په داسې حال کې چې په اروپا کې بانکونه یوازې په هغه صورت کې کولی شي چې جواز ته بدلون ورکړي چې مرکزي اداره یې بل هېواد ته ولېږدول شي او یا هم دا چې له بهرنیو بانکونو سره یو ځای (مدغم) شي.

نو په دې توګه د امریکا په متحده ایالتونو کې د بانکوالۍ دوه ګوني نظام او د اروپايي ټولنې جواز سیستم ترمنځ لوی توپیر کېدای شي چې د مرکزي بنسټونو له لوري د جواز ورکړې نه موجودیت وي. په اروپا کې د مرکزي جواز ورکړه کېدای شي چې د اروپا مرکزي بانک د جوړېدو او د پولي واحد یعنې یورو له ټاکنې سره ورته روند ترسره کړي. خو په واقعیت کې د مرکزي بنسټونو له لوري د بانک جوړېدو جواز ورکړې په برخه کې په داسې توګه چې په ټوله

اروپا کې د منلو وړ وي، لا هم لوی خنډونه موجود دي چې په لاندې ډول ترینه یادونه کوو.

**۱:** د مرکزي جواز ورکړې په صورت کې د هېوادونو له بانکي څارونکو سره دا اندېښنه وي چې د خپلې څارنې لاندې بانکونه به له لاسه ورکړي، نو له همدې لامله له دې تګلارې سره مخالفت کوي.

**۲:** د مرکزي بنسټ له لوري د بانکي جواز ورکړه نه شي کېدای چې د اروپایي هېوادونو د بانکي څارونکو په جوړښت باندې مخکې والی (تقدم) ولري ځکه چې د اروپایي هېوادونو مرکزي بانکونه د اروپا مرکزي بانک په پرتله پخوانی دی او تقدم لري. له دې سره ـ سره چې دې بانک د بانکي څارنې کمېټې په جوړېدو لاس پورې کړی دی خو لا هم دې ته حاضر شوی نه دی چې د یوه مرکزي څارونکي بنسټ په توګه کړنې ترسره کړي.

## ۷: د سالم شرکتي حاکمیت اصول

شرکتي حاکمیت د بانک مدیرانو پر تلپاتې ژمنو او د بنسټ یا سازمان په داخلي جوړښت ولاړ دی. د اقتصادي مرستو او پراختیا سازمان په ۱۹۹۹ میلادي کال کې د شرکتي حاکمیت اصول خپاره او په ۲۰۰۴ میلادي کال کې یې له سره خپاره کړل. د اقتصادي همکارۍ او پراختیا بنسټ په دې ټینګار کوي چې دا اصول یې په غړو او غیر غړو هېوادونو کې د شرکتي حاکمیت د یوې طرحې له مخې جوړ کړي دي.

د اقتصادي همکارۍ او پراختیا بنسټ شرکتي حاکمیت داسې راپېژني:

شرکتي حاکمیت د یوه بنسټ د مدیریت، مدیره پلاوي، ونډه والو او نورو بانکونو ترمنځ د اړیکو یوه ټولګه ده او هغه جوړښت (ساختار) دی چې له مخې یې د بنسټ موخې تنظیمېږي او د دې موخو ترلاسه کولو تګلارې او د بنسټ پر کړنو د څارنې او کنټرول بڼه یا ډول ټاکي. ښه شرکتي حاکمیت د بنسټ مدیره پلاوي او مدیریت په برخه کې د ښې او مناسبې انګېزې لامل ګرځي.

داسې چې هغوی د ونډه والو او د بنسټ د ګټو ساتلو په موخه تل د بنسټ موخو ته ژمن وي. په بنسټونو او په ټوله کې د ټولنې په اقتصادي نظام کې د ښه اغېزمن شرکتي حاکمیت سیستم رامنځته کول په اقتصادي بازار کې د ښو او مناسبو کړنو د ترسره کولو باور رامنځته کوي.

په دې برخه کې د بازل کمېټې د اقتصادي همکارۍ او پراختیا بنسټ راپور له مخې چې ټولو بنسټونو ته وړاندې شوی، په ۲۰۰٦ میلادي کال کې د شرکتي حاکمیت اصول د بانکوالۍ پر بنسټونو د تمرکز په پام کې نیولو سره خپاره کړل (له دې څخه وروسته د بازل اصول د شرکتي حاکمیت اړوند طرح کېږي). دا کمېټه دا روښانوي چې د یاد لارښود له خپرولو څخه یې موخه، د شته ضوابطو، قوانینو او مقرراتو څخه پورته د نوي قانوني چوکاټ رامنځته کول نه دي، بلکې یوازې د شرکتي حاکمیت د چوکاټ د پراخېدو لپاره د بانکوالۍ له بنسټونو سره د هغوی د موخو په ترلاسه کولو او د کیفیت په ارزونه کې له ځارونکو سره مرسته کول دي.

د شرکتي حاکمیت په برخه کې د دې کمېټې اصول په لاندې ډول دي:

**لومړی اصل:** د مدیره پلاوي غړي باید د اړوند بست شرایط پوره کړي، د شرکتي حاکمیت په برخه کې روښانه درک ولري او په همدې ډول د بانک کارکوونکو په اړه د سم قضاوت وړتیا ولري.

**دویم اصل:** د کارکوونکو د کړنو او غبرګون د چوکاټ په توګه د بنسټ د جوړښت له لوري ټاکل شوي ارزښتونه او د بانک ستراتېژیکې موخې باید د مدیره پلاوي تصویب ته وسپارل شي او د دوی تر څار لاندې وي.

**درېیم اصل:** مدیره پلاوی باید په بنسټ کې خپل واکونه او مسؤلیتونه په روښانه ډول وپېژني او پلي کړي.

**څلورم اصل:** مدیره پلاوی باید د لوړپوړي (ارشد) مدیریت له لوري د کافي څارنې او د مدیره پلاوي له سیاست سره د همغږۍ په برخه کې ډاډ ترلاسه کړي.

**پنځم اصل:** مدیره پلاوی او لوړ پوړي مدیران باید د داخلي تفتیش کړنو، داخلي کنټرول او په همدې ډول د خپلواکو تفتیش کوونکو له لوري ترلاسه شوې موندنې او پایلې په ښه ډول تر لاس لاندې ونیسي.

**شپږم اصل:** مدیره پلاوی باید د کنټرول چاپېریال رامنځته او د اوږدمهالو او ستراتېژیکو موخو په پام کې نیولو سره په بانک کې د زیانونو جبران میزان د تطابق او تګلارې ترمنځ د لازمې همغږۍ له شتون څخه ډاډ ترلاسه کړي.

**اووم اصل:** بانک باید د بشپړ او روښانه تګلارې له مخې مدیریت شي.

**اتم اصل:** د بانک لوړ پوړی مدیره پلاوی باید د بانک د عملیاتي جوړښت له هغې برخه څخه چې د بانکي کړنو پر روڼتیا اغېز کوي، پېژندګلوي ولري (خپل جوړښت وپېژني).

د بانکوالۍ صنعت د پېچلتیا له امله د شرکتي حاکمیت اهمیت هم په ډېرېدو دی. د پانګې د معیارونو په اړه د دویمې ټولګې له مخې چې د بازل کمېټې له لوري جوړه شوې ده، ځینو بانکونو ته د دې فرصت ورکول کېږي چې د قانوني پانګې لازموالی چې د داخلي درجه بندۍ په برخه کې تربنه ګټه اخیستل کېږي، په خپله محاسبه کړي. دا کمېټه دا یادونه هم کوي چې د قانوني پانګې په اړه له پرمختللې تګلارې څخه د ګټه اخیستنې په برخه کې د شرکتي حاکمیت او په همدې ډول د جدي څارنې موجودیت، اړین ګڼل کېږي.

په ځانګړي ډول د دې کمېټې له لوري په خپره شوې څلورمه ټولګه کې یادونه شوې ده چې:

د درجه بندۍ او ارزونې ټولې اړینې برخې باید د مدیره پلاوي او یا هم د هغوی له لوري د تاکل شوې کمېټې او په همدې ډول د بانک د لوړپوړي

مدیریت له لوري تایید شي. یاد کسان باید د بانک د ګواښ او خطر درجه بندۍ په برخه کې هر اړخیزه پوهه او د ټیټې کچې مدیریت له راپورونو څخه روښانه درک ولري. له دې سره ـ سره، لوړپوړی مدیریت باید د بانک د ګواښ او خطر د درجه بندۍ په سیستم کې د هغو بدلونونو په اړه چې یاد سیستم تر اغېز لاندې راولي، د ټاکل شوې کمېټې یا هم د مدیره پلاوي نظر واخلي.

## ۸: په افغانستان کې د بانکي جواز ورکړې پروسه او شرطونه

**عمومیات:**

- د افغانستان بانک د بانکوالۍ جواز ورکړې یوازېنی بنسټ دی (د بانکوالۍ قانون ۱۱ ماده).
- د بانکوالۍ جواز: لیکل شوی لاسوند (سند) دی چې د بانک جوړولو او د بانکوالۍ کړنو ترسره کولو لپاره د افغانستان بانک له لوري د شرایطو پوره کوونکي شرکت ته ورکول کېږي.
- بانک د ونډه وال او یا بنسټ ایښودونکي په توګه د یوه او یا هم له یوه څخه د ډېرو کسانو له لوري جوړېږي.
- بانک نه شي کولی د افغانستان بانک له مخکېنۍ لیکلې اجازې څخه پرته په خپل حقوقي جوړښت کې بدلون راولي.
- د سهامي او محدودالمسؤلیت شرکتونو قانوني احکام پر بانکونو د پلي کېدو وړ دي، خو په دې شرط چې د دې قانون له حکمونو سره په ټکر کې نه وي.
- بانک د اساسنامې او تشکیلاتي جوړښت لرونکی دی چې د افغانستان بانک له تصویب څخه وروسته نافذ او د بانکونو د ثبت په مرکزي دفتر کې ثبتېږي.

- بانک نه شي کولی چې د افغانستان بانک له لیکلې اجازې څخه پرته په خپله اساسنامه او یا هم تشکیلاتي جوړښت کې بدلون راولي (۲۴).

## ۱.۸: په افغانستان کې د بانکوالۍ جواز ورکړې ډول

۱: غوښتنلیک وړاندې کوونکی (شته شرکت) د بانکوالۍ جواز ترلاسه کولو په موخه خپل غوښتنلیک او د جوړېدو اړوند لاسوندونه د افغانستان بانک ته وړاندې کړي. د افغانستان بانک کولی شي چې د غوښتنلیک له وړاندې کوونکي څخه نور ملاتړي او حمایوي لاسوندونه هم وغواړي.

۲: د افغانستان بانک اړ دی چې د غوښتنلیک له ترلاسه کولو او د غوښتنلیک، لاسوندونو او مدارکو له پوره والي څخه ډاډ ترلاسه او د عامل پلاوي (د عامل هیئت) او د څار پلاوي (د نظار هیئت) په توګه د وړاندیز شوو غړو، مدیرانو او څښتنانو (مالکینو) سره له لیدنې څخه وروسته د غوښتنلیک وړاندې کوونکي ته خبر ورکړي.

۳: لومړنۍ پانګه چې بانک یې په ورکړې (پرداخت) اړ دی، په اړوند مقرره کې د ټاکل شوې لږ تر لږه پانګې څخه لږه نه وي (۲۴).

## ۲.۸: په افغانستان کې د نوو جوړېدونکو (جدیدالتاسیس) شرکتونو لپاره د بانکوالۍ جواز ورکړې ډول

نوو جوړېدونکو شرکتونو ته د بانکوالۍ جواز د لاندې پړاوونو له ترسره کولو څخه وروسته ورکول کېږي:

- د شرکت جوړوونکو له لوري د بانکوالۍ جواز ترلاسه کولو لومړنی غوښتنلیک وړاندې کول.
- د افغانستان بانک اړ دی چې د لومړني غوښتنلیک ترلاسه کولو او له غوښتنلیک وړاندې کوونکي، څښتنانو او د بانک د څار پلاوي (د نظار هیئت) او عامل پلاوي (د عامل هیئت) په توګه د وړاندیز شوو مدیرانو

له غړو سره د لیدنې او د یاد غوښتنلیک له بشپړتیا څخه له ډاډ ترلاسه کولو څخه وروسته، د غوښتنلیک وړاندې کوونکي ته خبر ورکړي.

- د افغانستان بانک اړ دی چې په هېواد کې مقیم غوښتنلیک وړاندې کوونکي ته د درېیو میاشتو او د غیر مقیم غوښتنلیک وړاندې کوونکي ته د شپږو میاشتو په اوږدو کې د غوښتنلیک د منلو یا نه منلو پرېکړه واوروي او له لاندې مطالبو سره یې یوه کاپي غوښتنلیک وړاندې کوونکي ته ولېږي:

۱: د بانکوالۍ جواز له ورکړې څخه مخکې د ورکړې (پرداخت) وړ پانګې لږ تر لږه (حداقل) اندازه: د یادې پانګې لږ تر لږه اندازه د افغانستان بانک له لوري د کاري پلان او د بانک هغو کړنو له مخې ټاکل کېږي چې په ملاتړو او حمایوي لاسوندونو کې یې غوښتنه شوې ده.

۲: د هغو شرایطو او محدودیتونو لیکلړ (فهرست) چې د بانکوالۍ جواز له ورکړې سره ضمیمه کېږي.

۳: د هغو ځانګړو شرایطو په اړه بشپړ وضاحت چې د بانکوالۍ جواز له ورکړې څخه مخکې اړین او لازمي ګڼل کېږي. د ځانګړو شرایطو او محدودیتونو په ټاکلو سره چې د بانکوالۍ له جواز سره یو ځای کېږي، د ځانګړو شرایطو یا محدودیتونو له مخې د لومړني غوښتنلیک د نه منلو دلایل.

۴: د لومړني غوښتنلیک د منلو او تایید په صورت کې د افغانستان بانک اړ دی چې د ژمنه شوې پانګې ترلاسه کولو په موخه د جوړېدونکي بانک په نوم حساب پرانیزي.

۵: د غوښتنلیک وړاندې کوونکی اړ دی چې د لومړني غوښتنلیک د منلو له نېټې څخه د شپږو میاشتو په اوږدو کې لاندې ګامونه پورته کړي:

  - د اړوند قانون له احکامو سره سم د شرکت ثبت او جوړول.

- د افغانستان بانک له لوري د ټاکل شوې لږ تر لږه پانګې د ورکړې (پرداخت) ژمنه او د هغې ورکول.
- د شرکت تر نوم لاندې د بانکوالۍ جواز د ترلاسه کولو په موخه د افغانستان بانک ته د وروستي غوښتنلیک وړاندې کول.
- که چېرې د غوښتنلیک وړاندې کوونکی شرکت پورته یاد شوي مکلفیتونه ترسره نه کړي، لومړنی منل شوی یا تایید شوی غوښتنلیک یې ردېږي (۲۴).

**د غوښتنلیک وړاندې کوونکی اړ دی چې د وروستي غوښتنلیک په وړاندې کولو سره لاندې لاسوندونه هم وړاندې کړي:**

- د شرکت ثبت او جوړېدو اړوند لاسوندونه (اسناد) او د افغانستان بانک له لوري د ځانګړو شرایطو پوره کول.
- د شرکت په استازیتوب په لومړني غوښتنلیک کې وړاندې شوو مالوماتو کې د لویو بدلونونو، نه راوستو او په دې مالوماتو کې د لویو بدلونونو د تفصیل په اړه لیکلی (کتبي) ډاډ او اطمینان.
- د افغانستان بانک اړ دی د وروستي غوښتنلیک اړوند شرایطو له رعایت څخه د ډاډ ترلاسه کولو وروسته، د بانکوالي جواز صادر او موضوع په لیکلي ډول غوښتنلیک وړاندې کوونکي ته ولېږي.

**۳.۸: په افغانستان کې د بانکوالۍ جواز د ورکړې عمومي شرایط**

د لاندې موارد و له پوره کولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو وروسته د افغانستان بانک کولی شي د بانکوالي جواز صادر کړي:

- بانک په خپله اداره او کړنو کې د هېواد نافذه قوانین په پام کې نیسي.
- د بانک اساسنامې منځپانګه د افغانستان بانک په تقنیني لاسوندونو کې له یادو شوو احکامو سره سمه ده.

- د بانک لومړنۍ پانگه د اړوند مقرري په احکامو کې له لږ تر لږه ټاکل شوې مبلغ څخه چې د بانکوالۍ لپاره ټاکل شوې ده، کمه نه ده.
- د ذیصلاح استحقاقي ونډې لرونکي وگړي د افغانستان بانکوالۍ قانون د ۲۱ مادې له مخې (کس په هغه حالت کې کولی شي چې د ذیصلاح استحقاقي ونډې، ۲۰ سلنه مشارکت، ۳۰ سلنه مشارکت او یا هم په بانک کې کنټرول ترلاسه کړی چې په لیکلې بڼه د افغانستان بانک اجازه ترلاسه کړي) په اړوند مقرره کې ټاکل شوي دي.
- د بانک او هغو کسانو ترمنځ اړیکه چې بانک له هغوی سره نږدې اړیکه لري، د افغانستان بانک د څارنې پر وړاندې خنډونه جوړ نه کړي.
- بانک د گواښ او خطر د مدیریت او د داخلي کنټرول لپاره وړ پروگرام لري.
- بانک د سوداگریز پلان او مناسبو مالي وړاندوینو لرونکی وي.
- که چېرې بانک د یو سوداگریز گروپ یوه برخه وي، د دې قانون حکم (متبوع بانکي شرکتونه اړ دي چې د خپلو کړنو د ترسره کولو په موخه د گروپ د نورو بانکونو لپاره د مالي قوت د سرچینې په توگه عمل وکړي او هغه اندازه کافي پانگه چې د افغانستان بانک له لوري ټاکل شوې، وساتي) رعایت کوي.
- که چېرې غوښتنلیک له متبوع بانکي شرکت سره د غیر مقیم بانک تابع شرکت اړوند وي، نو د متبوع بانکي شرکت لرونکی بانک باید له هغه بهرني هېواد څخه چې مرکزي دفتر یې په کې موجود دی، د بانکوالۍ جواز او یا هم د معادلې اجازه نامې لرونکی وي او پر وخت د خپل تابع شرکت یا څانگې د راتلونکي پورونو د ورکړې ضوابط او

شرایط په داسې ډول تضمین کړي چې د افغانستان بانک د قناعت وړ وګرځي.

- نور ورته شرایط چې په اړوند مقرره کې ټاکل شوي دي.

## ۴.۸: د بانکوالي جواز ورکړې ځانګړي شرایط (بهرني بانکونه)

د افغانستان بانک کولی شي چې تر څارنې لاندې غیر مقیم مالي بنسټ د داخلي څانګو د بانکوالۍ جواز د لاندې شرایطو په پام کې نیولو سره صادر کړي:

۱: د هغه هېواد واک لرونکي بنسټ چې غوښتنلیک ورکوونکی پکې مقیم دی، په افغانستان کې د بانک د جوړېدو په اړه هوکړه وکړي.

۲: د افغانستان بانک او واک لرونکو بنسټونو ترمنځ له سلا او مشورې څخه وروسته، د افغانستان بانک باید ډاډ ترلاسه کړي چې یاد بنسټ د غوښتنلیک وړاندې کوونکي څخه په توحیدي ډول اړینه څارنه کوي.

۳: که چېرې غوښتنلیک وړاندې کوونکی د داسې څانګو او تړلو (وابسته) شرکتونو لرونکی وي چې په درېیم هېواد کې تر څارنې لاندې وي، د افغانستان بانک له درېیم هېواد سره د سلا او مشورو وروسته باید دا ډاډ ترلاسه کړي چې څانګې او تړلي شرکتونه په ښه او مناسب ډول د بهرنیو هېوادونو د واک لرونکو بنسټونو او مقاماتو تر توحیدي څارنې لاندې دي.

۴: د افغانستان بانک او د بهرني هېواد د څارنې بنسټونو ترمنځ په افغانستان کې د یادې څانګې او د غوښتنلیک وړاندې کوونکي په اړه د څارنیزو مسؤلیتونو او واکونو د وېش او په همدې ډول د افغانستان بانک او د بهرنیو واک لرونکو بنسټونو ترمنځ د مالوماتو د راکړې ـ ورکړې (تبادلې) د ډول تنظیم او طرزالعمل په برخه کې د مرستې هوکړه وشي.

## ۵.۸: د بانکي جواز اخیستو لپاره د شرکتونو د غوښتنلیک پړاوونه

- غوښتنلیک وړاندې کوونکی باید په خپله د بانک جوړوونکی او یا هم د هغه استازی وي.
- خپل غوښتنلیک د افغانستان بانک، د مالي چارو څارنې آمریت، د جواز ورکړې مدیریت ته وسپاري.
- د بانکوالۍ قانون او د شته مقررې له مخې د بانک د جوړولو لپاره غوښتنلیک باید لاندې موارد ولري:
  - نوم، د څار پلاوي (نظار هیئت) ټولو غړو او د وړاندیز شوي مدیریت ټولو غړو لنډه پېژندنه یا مالومات (د پوښتنپاڼې فارمټ د جواز ورکړې له مدیریت سره دی).
- د غوښتنلیک فیس.

د افغانستان بانک اړ دی چې د بانکوالۍ جواز د غوښتنلیک له منلو څخه مخکې د څار پلاوي (نظار هیئت) او د عامل پلاوي (عامل هیئت) وړاندیز شوو غړو او هغو نورو وګړو په اړه چې په راتلونکي کې په بانک کې ذیصلاح استحقاقي ونډه ترلاسه کوي، لاندې مالومات هم راټول کړي:

- مالیاتي او مالي وضعیت.
- شهرت (شخصي سوابق).
- حرفوي سوابق.
- جرمي سوابق.
- له درې کلن سوداګریز پلان (Business Plan) سره درې کلن مالي پلان(Financial Plan).

**د غوښتنلیک وړاندې کوونکی باید لاندې پالیسۍ هم وړاندې کړي:**

- د شتمنیو مدیریت پالیسي (Asset Management Policy).
- د ګواښونو یا خطرونو مدیریت پالیسي (Risk Management Policy).
- د داخلي کنټرول پالیسي (Internal Control Policy).
- د پیسو وینځلو مخنیوي پالیسي او پروسیجر (Anty Money Laundering Policy and Procedure).
- د بشري سرچینو پالیسي (Human Resouce Policy).
- د ګټو ټکر (تضاد) پالیسي (Conflict of Interest Policy).
- د اعتباراتو پالیسي او پروسیجر (Credit Policy and Procedure).
- عملیاتي پالیسي (Operational Policy).
- د تدارکاتو پالیسي (Procurement Policy).
- د کارکوونکو د سلوک او روش پالیسي (Code of Ethics Policy).
- د ښې اداري پالیسي (Corporate Governance Policy).
- د داخلي تفتیش پالیسي (Internal Audit Policy).
- د مالوماتي ټکنالوژۍ پالیسي (Information Technoloty Policy).
- د محاسبې پالیسي (Accounting Policy).
- د ونډه والو او مرتبطو کسانو په اړه پوره مالومات.
- د بانک تشکیلاتي او حقوقي جوړښت.
- په هرو څلورو میاشتو کې د بانکونو د مالوماتو وړاندې کولو لپاره د بهرني تفتیش شرکتونو ټاکل.

د بهرنیو څانګو غوښتنلیک وړاندې کوونکي د پورته مواردو په وړاندې کولو سربېره باید لاندېني مالومات هم وړاندې کړي:

- د تابع شرکتونو او د غوښتنلیک وړاندې کوونکي هېواد د څارنې سیستم په اړه بشپړ مالومات.
- د غوښتنلیک وړاندې کوونکي هېواد د واک لرونکو (ذیصلاح) چارواکو هوکړه.

**٦.٨: د داخلي بانک له لوري د څانګو جوړول**

داخلي بانک اړ دی د هېواد په دننه او یا هم له هېواد څخه بهر د څانګې جوړولو څخه مخکې د غوښتنلیک په وړاندې کولو سره د افغانستان بانک اجازه ترلاسه کړي.

د اجازې ترلاسه کولو غوښتنلیک باید لاندې مالومات ولري:

- کاري پلان چې د څانګې د کړنو ډول، اداري جوړښت او د متقاضي بانک له لوري د یادې څانګې له کړنو څخه د څارنې په موخه وړاندویل شوي ټول ګامونه او تدابیر په بر کې ونیسي.
- د څانګې پته.
- د څانګې د مدیر بشپړ پېژندګلوي.

د مالي چارو د څارنې آمریت یوه بله دنده د بانک د کلیدي بستونو لپاره د اجازې ورکړه ده.

د افغانستان بانکوالۍ قانون له مخې د بانکونو اداري جوړښت په لاندې ډول دی:

- د ونډه والو عمومي مجمع (General Assembly of Shareholders)
- د څار پلاوی (Board of Supervisors).
- د عامل پلاوی (Board of Management).

بانک اړ دی چې د څار پلاوي او یا هم د عامل پلاوي د غړي په توګه د کس له انتصاب څخه مخکې، موضوع د مالوماتو او لاسوندونو (اسنادو) په وړاندې کولو

سره د بانکوالۍ جواز لپاره د غوښتنلیک د وړاندې کولو په وخت کې وړاندیز او په دې برخه کې د افغانستان بانک اجازه ترلاسه کړي.

**۷.۸: د بانکوالۍ جواز د اعتبار پای**

د بانکوالۍ جواز اعتبار له لاندې حالتونو څخه د یوه په شتون کې له منځه ځي:

- د بانکوالۍ جواز له صدور څخه وروسته د شپږو میاشتو په اوږدو کې د بانکي کړنو نه ترسره کول.
- د بانکونو مرکزي ثبت دفتر کې د نوي بانک ثبت او د بانک یو ځای کېدل (ادغام).
- د جوړښت نوي کېدل یا د بانک وېشل (تجزیه).
- په خپله خوښه د بانکوالۍ د جواز د بېرته ورکړې غوښتنه.
- د بانک لپاره د تصفیې مدیر انتصاب (۲۴).

اخیستنې

- ۱: د افغانستان د بانکوالۍ قانون.
- ۲: د افغانستان بانک د مالي چارو څارنې آمریت.
- ۳: د افغانستان بانک او د افغانستان د مالي راپورونو د څېړنې مرکز ویب سایټونه.
- ۴: د بانکونو د جواز ورکړې شرایط او څرنګوالي مقرره.

# شپږم څپرکی
# د افغانستان بانک او پولي سیاست

## ۱: د افغانستان بانک د افغانستان مرکزي بانک په توګه

د افغانستان بانک په ۱۳۱۸ هجري لمریز کال کې په ۱۲۰ میلیون افغانۍ لومړنۍ پانګې سره د هېواد په پلازمېنه (کابل ښار) کې جوړ شو چې د هېواد دننه او بهر یې د اړینو واکونو له لارې وکولی شو چې خپلې ځانګې جوړې او سکتوري بانکونه وټاکي.

د افغانستان د بانکوالۍ نظام په ۱۳۱۲ هجري لمریز کال کې د افغان ملي بانک په جوړېدو سره رامنځته شو چې یاد بانک د افغانستان بانک له جوړېدو څخه وړاندې د دولتي بانکوالۍ چارې هم پرمخ وړې. د افغانستان بانک له جوړېدو څخه وروسته د پیسو چاپ او خپرولو په ګډون د دولتي بانکوالۍ دندې یاد بانک ته ولېږدول شوې. د افغانستان بانک د دولت بانک او سوداګریز بانک په توګه وکولی شو د افغانیو د چاپ او خپرولو په برخه کې د پام وړ بدلونونه (تحولات) او پرمختګونه رامنځته کړي او د بانکي نظام په برخه کې یې هم لاسته راوړنې درلودې (۴۴:۲).

د افغانستان بانک کړنې او فعالیتونه کولی شو په دوو پړاوونو کې تر څېړنې او بحث لاندې ونیسو.

**لومړی پړاو:** چې له ۱۳۱۸ هجري لمریز کال نه تر ۱۳۸۰ هجري لمریز کال په بر کې نیسي، د افغانستان بانک د افغانیو په چاپ، ضرب وهلو، خپرولو، د بازار تقاضا، د پیسو ارزښت ساتلو او بانکوالۍ په برخه کې بوخت و چې د دې

دندو ترځنګ يې په افغانستان کې د نورو بانکونو په شان د سوداګريزې چارې هم ترسره کولې، چې کولی شو د سپما حسابونو، جاري حسابونو، ميعادي حسابونو، د پانګونې د پياوړتيا په موخه د پورونو ورکړه او د سوداګرۍ په برخه کې د پورونو له ورکړې څخه يادونه وکړو.

**دويم پړاو:** د افغانستان بانک دويم پړاو له ۱۳۸۰ هجري لمريز کال څخه وروسته پيلېږي. د افغانستان اساسي قانون د دولسمې مادې له مخې، مرکزي بانک د يو خپلواک بانک په توګه ومنل شو او د هغو واکونو له مخې چې ورته سپارل شوي دي، په بېلابېلو برخو کې يې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي. د افغانستان بانک د نوو مالي او بانکي قوانينو له مخې سوداګريزې چارې دولتي او خصوصي بانکونو ته پرېښودې او د جواز ورکړې او له مالي او بانکي بنسټونو څخه د څار دنده يې پر غاړه واخيسته.

په افغانستان کې د نوي حکومت له جوړېدو څخه وروسته مرکزي بانک بايد د ۲۰۰۱ ميلادي کال په وروستيو کې د يو نوي پيل په لور ګام پورته کړی وای چې په دې وخت کې په چلښت کې د پيسو مقدار له کنټرول پرته د پولي سياست پلي کول هم ناشوني وو. د يو نوي پيل لپاره لومړنی مخکښنی شرط او د مهمو موضوعاتو له ډلې څخه يو هم د نوو پيسو چاپول وو. په پام کې نيول شوو شونتياوو له ډلې څخه له ډالر او يا هم له کوم بل بهرني سعر څخه ګټه اخيستل وو چې د پيسو نړۍوال صندوق (IMF) له لوري هم وړانديز شوي وو. خو هر يو وړانديز خپلې ستونزې درلودې چې يو يې هم د افغانستان وګړو له لوري منل وو. په پايله کې چارواکو پرېکړه وکړه چې په جريان کې شته پيسې پاتې شي او په چټکۍ سره نوې پيسې خپرې شي.

له دې سره ـ سره د پولي سياست د پلي کولو لپاره دوه نور شرطونه هم اړين وو چې عبارت دي له:

- د مرکزي بانک خپلواکي.

- د دولت له لوري مالي ډسپلین په پام کې نیول (د بېلګې په توګه: مرکزي بانک هیڅکله هم دا اجازه نه لري چې د دولت بودیجې کسر تمویل کړي).

په ورته نوم د افغانۍ خپرول په هېواد کې د پولي سیاستونو د پلي کولو او اجرا له شرطونو څخه یو ؤ چې د ۲۰۰۲ میلادي کال د اکتوبر میاشتې پر ۷ نېټه پیل او د ۲۰۰۳ میلادي کال په جنوري میاشت کې بشپړ شو (۱۴:۳۵).

## ۲: د افغانستان بانک موخې او دندې

### ۱.۲: موخې

د افغانستان بانک د قانون له مخې، د قیمتونو ټیکاو د افغانستان بانک لومړنۍ او بنسټیزه موخه ده او د همدې لپاره د پولي سیاستونو جوړول او پلي کول، د اسعارو سیاست جوړول، د بانکنوټونو چاپ او د سکو ضرب وهل د مرکزي بانک له دندو څخه ټاکل شوي. د دې ترڅنګ د قانون له مخې د دولت مالي استازي او بانکوال په توګه، د بانکونو، صرافانو او د سمې او خوندي ورکړې (پرداخت) سیستم، د ارزښت لرونکو پاڼو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو ته د جواز ورکړې په برخه کې هم فعالیت لري.

د افغانستان بانک د موخو په برخه کې باید یادونه وشي چې د دې بانک لویه موخه د قیمتونو ټیکاو او ثبات دی.

د افغانستان بانک نورې موخې چې د لومړنۍ موخې تابع دي، په لاندې ډول دي:

- له نغدوالي (سیالیت) څخه ملاتړ.
- د پورونو ورکړې وړتیا.
- پر بازار اقتصاد ولاړ ثابت مالي سیستم اغېزمن فعالیت.
- د ملي او اغېزمن، سالم او خوندي پرداخت سیستم پیاوړتیا.

لکه څرنګه چې د افغانستان بانک قانون د دویمې مادې په لومړي بند کې یادونه شوې ده، د افغانستان بانک او د پولي سیاست بنسټیزه موخه د قیمتونو ټیکاو دی. د افغانستان بانک په چوکاټ کې د پولي سیاست عمومي آمریت په لومړي ګام کې، (د غځول/تمدید شوي اعتباري اسانتیاوو پروګرام) تر سرلیک لاندې پولي زیرمې د معقول، سالم او ځواکمن پولي سیاست د پلي کولو او تنظیم په موخه د خپلو بنسټیزو موخو په توګه ټاکي. د کورنیو قیمتونو ټیکاو په اقتصاد کې د قیمتونو ټولیزې کچې او د پیسو اوږدمهاله پړسوب او له ډیفلاسیون څخه د مخنیوي په مانا دی. د کورنیو او داخلي قیمتونو د ټیکاو په موخه د افغانستان بانک د پراخه او مهمو اقتصادي موخو لکه د بېوزلۍ کمول، د تلپاتې اقتصادي ودې تضمین او د افغانستان د ملي پراختیایي تګلارې (ANDS) سره سم په پرمختیا (انکشاف) کې برخه اخلي.

**۲.۲: دندې**

د افغانستان بانک د خپلې لومړنۍ موخې په پام کې نیولو سره د دولت اقتصادي ټولیزو سیاستونو ملاتړ او تلپاتې اقتصادي وده پیاوړې کوي.

د ځواب ویونکي او مسؤل بنسټ په توګه د افغانستان بانک دندې په لاندې ډول دي:

- د افغانستان پولي سیاست جوړول او پلي کول.
- د افغانستان د اسعارو ترتیب او د اسعارو سیاست جوړول او پلي کول.
- د افغانستان د اسعارو رسمي زیرمې ساتنه او مدیریت.
- د افغانستان د کاغذي پیسو او فلزي سکو چاپ، ضرب او خپرول.
- د دولت مالي استازي، سلاکار او بانکوال په توګه د دندو ترسره کول.
- د جواز ورکړه.
- د بانکونو، د اسعارو صرافانو، د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو، د پرداخت سیستم پرمخ وړونکو، د ارزښت لرونکو پاڼو او خدمتونو

وړاندې کوونکو، د ارزښت لرونکو پاڼو د لېږد سیستم له پرمخ وړونکو او نورو وګړو څخه څارنه.

- د افغانستان بانک او یا هم د دولت له لوري د خپرو شوو ارزښت لرونکو (قیمتي) پاڼو، د لېږد او پراختیا لپاره د سالم او اغېزمن سیستم رامنځته کول، د پرداختي راکړو ـ ورکړو او هغو معاملاتي حسابونو تسویه او تصفیه چې په دې ارزښت لرونکو پاڼو کې ترسره کېږي.

**د افغانستان بانک د پولي سیاست عمومي آمریت دا مسؤلیت لري چې:**

- سالم او پیاوړي پولي سیاست جوړ، تنظیم او پلی کړي.
- څېړنیز او نور اقتصادي راپورونه جوړ او مدیریت کړي.
- د هېواد بهرني، مالي، پولي او حقیقي سکټورونو اړوند اقتصادي ارقام راټول او تدوین کړي.

له دې سره ـ سره دا آمریت د دې مسؤلیت هم لري چې د اقتصاد په لویو متحولینو کې د بدلونونو پر بهیر باندې دقیقه او هر اړخیزه څارنه وکړي. د دې بدلونونو او تحولاتو له مخې د پولي سیاست عمومي آمریت خپلې مصالحې او تجویزي پالیسۍ د مقتضي پرېکړو په موخه د پولي سیاست کمېټې ته وړاندې کوي. په همدې ډول یاد آمریت د پولي سیاستونو د تنظیم او پلي کولو سره ـ سره، د هېواد د څلورو سکټورونو (حقیقي سکټور، پولي سکټور، بهرنی سکټور او مالي سکټور) په اړه څېړنې او تحلیلونه هم کوي.

د پولي سیاست عمومي آمریت د افغانستان بانک د استازي (Focal Point) په توګه د پیسو نړیوال صندوق (IMF) په ګډون له نړیوالو مالي بنسټونو سره د افغانستان لپاره د غځول شوي/تمدید شوي اعتباري اسانتیاوو برنامې (Extended Credit Facilities) لاندې تحلیلي او اماري راپورونو جوړولو او سپارلو په برخه کې د لوریو ترمنځ د تړونونو په پام کې نیولو سره مرسته کوي.

د افغانستان بانک پولي سیاست آمریت د هېواد دوو مهمو سیاستونو (پولي سیاست او مالي سیاست) اړوند ستونزو د همغږۍ په برخه کې د هېواد له مالیې وزارت سره یو ځای فعالیت کوي چې کولی شو چې د نغده پیسو مدیریت (Cash Management) له او نورو څخه یادونه وکړو.

په ښه ډول د یادو موخو د ترلاسه کولو لپاره، د افغانستان بانک په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې پنځه کلن ستراتېژیک پلان جوړ کړ چې بنسټیزې موخې یې د وړتیاوو لوړول، په ښه ډول د پولي سیاست پلي کول او د یوه پیاوړي او اغېزمن مالي سیستم جوړول دي. د یادولو وړ ده چې د افغانستان بانک وکولی شو چې د ټاکل شوې دورې په پای کې یادې موخې په بریالیتوب سره ترلاسه کړي.

دا چې د لوی اقتصاد (Macroeconomics) د سیاستونو جوړول، تدوین او پلي کول د یو هېواد پر اقتصادي واحدونو نېغه اغېزه لري، نو له همدې لامله د هر هېواد لپاره د لوی اقتصاد له مهمو برخو څخه یو هم د مالي او پولي سیاستونو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول دي. له همدې لامله د افغانستان بانک د هېواد د مالیې وزارت سره په همغږۍ خپلې کړنې پرمخ بیایي.

## ۳: د افغانستان بانک د دندې په توګه د افغانۍ پولي واحد چاپ او خپرول

د افغانستان بانک قانون د ۳۳ مادې له مخې د افغانستان دود پیسې او پولي واحد افغانۍ دي او نښه یې AF ده.

د افغانستان بانک په افغانستان کې د سکو او د بانکنوټونو د خپرولو انحصاري حق لري. د افغانستان بانک د سکو او بانکنوټونو اسمي ارزښت، جنس، بڼه، د وزن محتوا، ډېزاین او نورې ځانګړتیاوې د یوې مقررې له لارې خپروي.

بانکنوټونه د ماليې وزير او د افغانستان بانک د ټولو مشر د لاسليکونو لرونکي دي.
د افغانستان بانک اړ دی چې د افغانستان اقتصاد د پولي اړتياوو د تأمين په موخه د سکو او بانکنوټونو له کافي عرضې او د دود (رايج) پولي زيرمو د موجودګۍ مديريت او د خپرولو پلان له جوړونې څخه نېغ په نېغه ډاډ ترلاسه کړي.
په افغانستان کې د ټولو پولي راکړو - ورکړو ترسره کول د هېواد په دود پيسو (افغانۍ) کېږي.

**د بانکنوټ پېژندنه**

بانکنوټ له هغې وسيلې څخه عبارت دی چې د پيسو په توګه او يا هم د پيسو برابر ترېنه ګټه اخيستل کېږي او د قانوني واک لرونکي بنسټ په اجازه په هېواد کې او يا هم کوم بل ځای کې خپرېږي (د افغانستان بانک قانون ۱۳۸۲).

## په افغانستان کې د بانکنوټ تاريخچه

لومړنۍ کاغدي پيسې يوه کابلي روپۍ د امان الله خان په دوره کې د ۱۲۹۸ هجري لمريز کال په پسرلي کې چاپ شوې. د دې پيسو په ښۍ برخه کې د افغانستان د حکومت نماد (محراب او منبر) په منځ کې يې د اماني حکومت نښان او په چپ اړخ کې يې (يک روپيه کابلي) په دري ژبه ليکل شوي وو.
د دې پيسو په پای کې په دري ژبه ليکل شوي وو: «در جمع خزانه های دولت، نوت هذا به مبلغ مندرج اش منظور است».
يو کال وروسته همدا بانکنوټونه يو ځل بيا چاپ شول خو په رنګ او پر له پسې شمېرو کې يې بدلون راغی.
يو کال وروسته بيا هم يوه کابلي روپۍ (يک روپيه کابلي) له پر له پسې شمېرې پرته چاپ شوه. په همدې کال کې جلا پيسې د ۵، ۵۰ او ۱۰۰ کابلي

روپۍ (روپیه کابلي) چاپ شوې چې تر ۱۳۰۴ هجري لمریز کال پورې دود وې.
په ۱۳۰۴ هجري لمریز کال کې په افغانۍ کې سمونونه (اصلاحات) رامنځته شول او له یادې نېټې څخه وروسته د افغانستان پولي واحد له «روپیه» په «افغانۍ» واوښت.
د حبیب الله کلکاني (۱۳۰۷ هجري لمریز کال) په حکومت کې نوې پیسې چاپ نه شوې او د امان الله خان د دورې پیسې، د نوي پاچا په مهر یو ځل بیا چلښت ته ولوېدې. خو په دې بانکنوټونو کې د حکومتي نښان پر ځای د حبیب الله خان مهر (خادم دین رسول الله) وهل شوی و.
په ۱۳۱۲ هجري لمریز کال کې ظاهر شاه واک ته ورسېده او افغان ملي بانک جوړ شو. د دې بانک له جوړېدو سره سم، د ظاهر شاه د دوران لومړنۍ پیسې چاپ او په چلښت کې واچول شوې. دا پیسې د ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰ او ۱۰۰ افغانیو کې چاپ شوې وې.
په ۱۳۱۸ هجري لمریز کال کې د افغانیو پیسو چاپ نوي پړاو ته ننوت. په دې کال کې د عبدالمجید زابلي په وړاندیز «د افغانستان بانک» جوړ شو او د دولت پانګه له ملي بانک نه د افغانستان بانک ته ولېږدول شوه.
د ۱۳۱۸ هجري لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۲۶ نېټه، یاد بانک په لومړي ځل د ۲،۱، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ او ۱۰۰۰ افغانیو بانکنوټونه چاپ کړل. په دې دوره کې په دې پیسو کې لوی بدلونونه هم رامنځته شول د مثال په توګه د پاچا انځور د پیسو پرمخ وراضافه شو.
د ظاهر شاه دورې په نوو پیسو کې، د « دولت شاهي افغانستان» پر ځای د «د افغانستان بانک» عبارت اضافه شو. له دې څخه مخکې د افغانستان لوړ ارزښت لرونکی بانکنوټ ۱۰۰ افغانۍ و خو له دې څخه وروسته ۵۰۰ افغانیګي او ۱۰۰۰ افغانیګي بانکنوټونه هم چاپ شول.

په ۱۳۵۲ هجري لمريز کال کې د داوود خان واک ته رسېدو سره لوی بدلونونه چې د پيسو د چاپ په برخه کې رامنځته شول، په بانکنوټونو کې د شاهي نښان پر ځای جمهوري نښان او د ظاهر شاه انځور پر ځای د داوود خان انځور اضافه شو. د جمهوريت د دورې (۱۳۵۲ هجري لمريز کال) په پيل کې د ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ او ۱۰۰۰ افغانۍ بانکنوټونه په بېلابېلو بڼو او رنګونو سره چاپ شول.
د خلق او پرچم ګوندونو په کميونيستي دوره کې هم د افغانستان په بانکنوټونو کې پراخه بدلونونه راغلل. په تېرو دورو کې د هر حکومت په بدلون، د وخت واکمن او يا هم پاچا انځور په پيسو اضافه کېده، خو په کميونيستي دوره کې د پيسو لوی بدلون، د هېواد د لومړني کس د انځور ليرې کول وو.
په ۱۳۵۷ هجري لمريز کال کې د خلقيانو (نور محمد تره کی او حفيظ الله امين) حکومت په دوره کې، د «خلق» حکومتي نښان پر بانکنوټونو کې چاپ شو. خو په ۱۳۵۸ هجري لمريز کال کې د پرچميانو په راتګ سره په لومړي ځل د افغانستان بانک نښان په بانکنوټونو کې د حکومتي نښانونو پر ځای چاپ شو. دې تګلارې په راتلونکو دورو کې هم دوام پيدا کړ او لا تر اوسه هم د افغانستان بانک رسمي نښان پر بانکنوټونو ليدل کېږي.
په افغانستان کې د مجاهدينو په راتګ سره د نورو بانکنوټونو سره - سره، د ۵۰۰۰ افغانۍ او ۱۰۰۰۰ افغانۍ بانکنوټونه هم په لومړي ځل له نورو افغانيو سره يو ځای شول. خو د طالبانو په دوره کې په افغانستان کې نوې پيسې چاپ نه شوې او د مجاهدينو د دورې پيسې په چلښت کې وې.
له طالبانو څخه وروسته حکومت په لومړي کال چې د ځينو خلکو ترمنځ د کرزي په دوره هم يادېږي، د مجاهدينو د دورې پيسې په چلښت کې وې.

## دوود افغاني بانکنوټونه

هغه لوی ګام چې په نوې دوره (۱۳۸۱ لمریز کال) کې د پیسو ارزښت ټیکاو او د پیسو پړسوب کموالي په موخه واخیستل شو، د پخوانیو افغانیو راټولول او د نوو پیسو چاپ و چې یوه افغانۍ د ۱۰۰۰ پخوانیو افغانیو معادله شوه.

په دې دوره کې افغاني بانکنوټونه د ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ او ۱۰۰۰ افغانۍ په ارزښت چاپ او په چلښت کې واچول شول چې له یادو بانکنوټونو څخه لا تر اوسه هم د هېواد دود پیسو په توګه ګټه اخیستل کېږي او د ډېرو کمو بدلونونو او د خوندیتوب ځواکمنو ټکو سره د نړیوالو معتبرو شرکتونو له لوري چاپ شوې دي. د اوسنیو افغاني بانکنوټونو ډولونه د ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ او ۱۰۰۰ افغانۍ دي.

## د افغاني بانکنوټونو د چاپ او خپرولو ډول

د افغانستان بانک د بانکنوټونو او سکو خپرولو په موخه په خپل مرکزي دفتر او څانګو کې اړین ترتیبات نیولي او د اړتیا له مخې یې په چلښت کې اچوي. د افغانستان بانک له ۱۳۸۱ هجري لمریز کال را په دې خوا پولي سمون تر لاس لاندې ونیوه چې د ډېرو کمو بدلونونو او د خوندیتوب ځواکمنو ټکو سره یې د نړیوالو پېژندل شوو شرکتونو له لوري له یوې افغانۍ تر زرو افغانیو بانکنوټونه چاپ کړل چې د ۲۰۱۲ میلادي کال د جولای په ۲۰مه نېټه د نړیوالې پرانیستې داوطلبۍ له تګلارې څخه په ګټه اخیستنې سره د شرطنامې د منځپانګو، د تدارکاتو قانون، د افغانستان بانک د قانون د پړاوونو له تېرولو څخه وروسته او د هېواد د اړتیا په پام کې نیولو سره یې د « De la Rue Internationl Limited, UK» سره هوکړه لیک عقد کړ څو د افغانستان لپاره ۳۲۵ میلیون بانکنوټونه چاپ کړي. وروسته یې د ډاډ ترلاسه کولو او د افغانستان د قوانینو او اصولو په پام کې نیولو سره د ۲۰۱۶ میلادي کال د

فبروري په میاشت کې د «Giesecke & Diverient GmBH Duch» شرکت سره د ۲۸۵ میلیون افغانۍ بانکنوټونه چاپ کړي، هوکړه وکړه.
د یادولو وړ ده چې د ۱۳۸۱ هجري لمریز کال د میزان له میاشتې (په هېواد کې د پولي سمون له پلي کولو څخه وروسته) راهیسې تر ۱۳۸۲/۰۲/۰۱ نېټې پورې ټولې ۲۹۸،۳۵۴،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ چاپ او د (۲۹۵،۳٦٦،۴۰۰،۰۰۰/-) افغانۍ (له یوې افغانۍ تر زرو افغانیو بانکنوټونه) په چلښت کې اچولي دي. د وروستي ځل لپاره د پیسو خپرول د ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د لیندۍ د میاشتې په وروستیو کې ترسره شوي دي. د خپرو شوو پیسو له برخې یې (۵٦،۳۴۴،۱٦۷،۰۷۵ افغانۍ) مندرس وې چې سوځول شوې دي.

## د افغانۍ پیسو د چاپ او خپرولو معیارونه

د افغانستان بانک د هېواد د اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره د پولي تقاضا اغېزمنو او بنسټیزو کانالونو په چوکاټ کې، د دولت مالي پلان (بودیجوي عاید او لګښتونه)، اقتصادي ودې لید لوری او د قیمتونو ټولیزې کچې په پام کې نیولو سره خپل پولي سیاست جوړوي.
له همدې لامله یې د پولي پایې وده او په چلښت کې پیسې یې د شاخصونو او مقداري موخو په توګه ټاکلي دي چې د ۱۳۹۸ هجري لمریز کال لپاره یې د پولي سیاست د پلان او د پیسو له نړیوال صندوق سره د رسمي هوکړې له مخې یې د هغوی وده ۱۲ سلنه په پام کې نیولې ده.
د ۱۳۹۸ هجري لمریز کال په پیل کې د پولي پایې مقدار ۲۷۱،۸۰۴.۹۳ میلیون افغانۍ وې او وده یې له ټاکل شوې اندازې (سقف) څخه ټیټه وه. د ۲۸/۱۲/۱۳۹۸ نېټه له مخې د پولي پایې لپاره ټاکل شوې موخه ۲۹٦،٦۵۵.۱۸ میلیون افغانۍ وه او حقیقي مقدار یې ۲۵۵،٦۲۷.۴۹ میلیون افغانۍ ثبت شوې دي چې دا مبلغ له ټاکل شوي سقف څخه ۴۱،۰۲۷.٦۹

میلیون افغانۍ کم دی چې د مالي کال له پیل څخه د ۵.۹۵ سلنه منفي وده ښکاره کوي.

په همدې ډول، په چلښت کې پیسې چې د مالي کال په پیل کې ۲۲۸،۲۰۵.۵۹ میلیون افغانۍ وې، د ۲۹/۱۲/۱۳۹۷ نیټه په چلښت کې د پیسو لپاره ټاکل شوی هدف ۲۳۴،۹۰۱.۲۸ میلیون افغانۍ او په چلښت کې د پیسو حقیقي اندازه ۲۲۲،۱۴۷.۲۰ میلیون افغانۍ ثبت شوې ده چې دا مقدار د ۱۲،۷۵۸ میلیون افغانیو په اندازه له ټاکل شوي سقف څخه کم دی چې له مالي کال له پیل څخه د ۲.٦٥ سلنه منفي وده ښکاره کوي.

د ۱۳۹۸ هجري لمریز کال لپاره په چلښت کې د پیسو او پولي پایې لپاره ټاکل شوې موخې او حقیقي ودې میزان څرنګوالی، په لاندې ګراف کې ښودل شوی دی:




سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست عمومي آمریت

د هېواد د پولي اړتیا او د افغانستان بانک په خزانې کې د شته پیسو په پام کې نیولو سره د افغانستان بانک د پولي سیاست آمریت په هوکړه او د بانک ریاست په حکم د افغانستان اسلامي جمهوریت د مالیې وزارت واک لرونکو

استازو څخه جوړ د څار (مراقبت) درانه پلاوي تر نظر لاندې افغانۍ پیسې خپرې او چلښت ته اچول کېږي.

افغاني بانکنوټونه د نړۍوالو معتبرو هېوادونو له لوري په بهر کې چاپ او د حامد کرزي په نړۍوال هوايي ډګر کې د افغانستان بانک ته سپارل کېږي چې تر ډاډمنو او شدیدو امنیتي ګامونو او د مراقبت د درانه پلاوي تر نظر لاندې د ا.ا.ج (افغانستان اسلامي جمهوریت) په ارګ کې د افغانستان بانک عمومي زیرمې ته لېږدول کېږي. پیسې د اړتیا له مخې د افغانستان اسلامي جمهوریت د ارګ په ریاست کې د افغانستان بانک له عمومي زیرمې څخه د یاد پلاوي تر نظر لاندې اخیستل کېږي، له ډاډمنو امنیتي ګامونو سره د افغانستان بانک ریاست ته لېږدول کېږي او د ټولو خزانه دارۍ ته سپارل کېږي.

## ۴: د افغانستان بانک پولي سیاست

د هېواد ارزي او پولي سیاست جوړول، اتخاذ او پلي کول د کورنیو قیمتونو او د ملي پیسو ارزښت ټیکاو د افغانستان بانک پولي سیاست له لویو موخو او دندو څخه شمېرل کېږي.

د دې موخې ترلاسه کول د توکو او خدمتونو د قیمتونو پر وړاندې د ملي پیسو په ارزښت کې له ټیکاو پرته ناشوني دي. مرکزي بانک د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو په ارزښت کې بدلونونه په پوره ځیرکتیا او دقت سره څاري او د قیمتونو په کچه او نورو اقتصادي شاخصونو باندې د چټکو او حادو نوسانونو له اغېزو څخه د مخنیوي په موخه، د تبادلې متحول مدیریت شوې کچې (Managed Floating Exchange Rate) په چوکاټ کې په بازار کې لاسوهنه (مداخله) کوي.

د هېواد پولي سیاست پیسو ته د تقاضا شتون او د ملي اقتصاد د شاخصونو څرنګوالي په پام کې نیولو سره د پیسو په عرضه او تقاضا کې د زیاتوالي او یا

کموالي له لارې پلی کېږي. د افغانستان بانک د هېواد ارزي او پولي سیاست د اقتصاد ټولیز (عمومي) وضعیت په پام کې نیولو سره او همدارنګه د لوی اقتصاد متحولین لکه اقتصادي وده، د زغم وړ انفلاسیون کچه، د دولت عواید او لګښتونه او افغانۍ پیسو ته د تقاضا بدلونونو له مخې جوړوي، تدوین او پلی کوي. اوسمهال افغانیو ته لویه تقاضا د دولت لګښتونه جوړوي.

## ۱.۴: د افغانستان بانک پولي سیاست موخې

لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، د افغانستان بانک قانون دویمې مادې له مخې د افغانستان بانک لومړنۍ موخه د قیمتونو ټولیزې کچې ټیکاو او ثبات دی. د دې موخې ترلاسه کول له شک پرته د توکو او خدمتونو پر وړاندې د ملي پیسو د ارزښت له ټیکاو او ساتلو پرته ناشوني دي.

دا چې افغانستان تر یوه بریده پورې د پرانیستي اقتصاد لرونکی او د سوداګرۍ له کسر سره مخ هېواد دی، نو له همدې لامله د کورنیو قیمتونو ټیکاو د تبادلې په کچه کې د نوسانونو تر اغېزې لاندې راځي. نو له همدې لامله مرکزي بانک د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې بدلونونه تر نظر لاندې ساتي او د ارزي او پولي سیاست د همغږي کولو په موخه د تبادلې متحول مدیریت شوې کچې (Managed Floating Exchange Rate) سیستم څخه ګټه اخلي.

د پولي سیاست بنسټیزو موخو ترلاسه کولو لپاره، د افغانستان بانک درې مقداري موخې ټاکلې دي چې عبارت دي له:

الف: د احتیاطي پیسو (Reserve Money) ودې لپاره د سقف ټاکل.

ب: په چلښت کې د پیسو (Money in Circulation) لپاره د سقف ټاکل.

ج: د خالصو اسعاري زیرمو (Net International Reserve) د میزان کچې ټاکل دي.

## ۵: د افغانستان بانک د پولي سیاست جوړښت (میکانیزم)

مرکزي بانک د پیسو له نړۍوال صندوق سره په همغږۍ د نغدوالي مقدار د انډول (توازن) په موخه، پولي سیاست جوړوي. دا جوړښت په دې اقتصادي اصل ولاړ دی چې د پیسو عرضه باید د هېواد له اقتصادي اسمي ودې سره په متناسب ډول ترسره شي څو د پیسو پړسوب پر کچې له ناوړو اغېزو څخه مخنیوی وشي. د کال په پیل کې د هېواد اقتصادي ودې او د پیسو پړسوب کچې وړاندوینه د (M*V=P*Q) معادلې له مخې (البته د یادې معادلې یو اړخ په بر کې نیسي) ترسره کېږي او له مخې یې په اقتصاد کې د نغدوالي کچې وده ټاکل کېږي. د نغدوالي (سیالیت) په برخه کې باید وویل شي چې د هېواد اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره په چلښت کې پیسې د نغدوالي شاخص په توګه پېژندل کېږي. په چلښت کې پیسې د ټولو خپرو (نشر) شوو پیسو او د مرکزي بانک په خزانه کې د شته پیسو ترمنځ له توپیر څخه عبارت دی.

د یادولو وړ ده چې له یوې خوا دولت مالي نغدوالي په اقتصاد کې د نغدوالي زرق (افغانیو عرضه) لوی عامل ګڼل کېږي او له بلې خوا د دولت عواید د نغدوالي کموالي مهم عامل دی. نو له همدې لامله د هېواد له مالي سیاست سره په همغږۍ او د دولت د عوایدو او لګښتونو د برنامې په ارزولو سره، په اقتصاد کې د افغانیو عرضې مقدار ټاکل کېږي.

## ٦: د غځول شوي/تمدید شوي کریډیټ اسانتیا

**(Extended Credit Facilities)**

د افغانستان بانک له مالیې وزارت سره په همغږۍ کې د افغانستان لپاره درې کلن پلان جوړ او د پیسو نړۍوال صندوق ته وړاندې کړ. د پیسو نړۍوال صندوق اجرایه پلاوي د ۱۵/۱۱/۲۰۱۱ نېټه تر یادې برنامې لاندې ۱۳۳.٦ میلیون ډالر د افغانستان اسلامي جمهوریت لپاره ومنل.

د غځول شوي کریډیټ اسانتیا برنامې لویې موخې تر ډېره پورې د ساختاري سمونونو (اصلاحاتو) په چټکوالي او د لوی اقتصاد پر ټیکاو ټینګار دی. د یادې برنامې منځپانګه په ځانګړي ډول پر تلپاتې ودې، د لوی اقتصاد ټیکاو ساتل او له افغانستان څخه د بهرنۍ ټولنې له وتلو وروسته د ګواښونو پر وړاندې چمتووالي باندې ټینګار دی څو افغانستان څنګه وکولی شي چې په سم ډول خپل مالي او پولي سیاستونه همغږي، جوړ او پلي کړي. په همدې ډول، دا برنامه د افغانستان پنځه کلن ملي پرمختیایي پلان سره په همغږۍ کې د بېوزلۍ کچې د کمولو په موخه جوړه شوې ده.

د یادولو وړ ده چې د افغانستان بانک د پولي سیاست ارزونې په موخه، د پیسو نړۍوال صندوق د یادې برنامې له مخې درې مقداري موخې ټاکلې دي چې عبارت دي له:

الف: د احتیاطي زیرمو (احتیاطي پیسې) میزان لپاره د سقف ټاکل.

ب: په چلښت کې د پیسو لپاره د سقف ټاکل.

د: د اسعاري زیرمو میزان کچې ټاکل دي.

په همدې ډول د غځول شوي کریډیټ اسانتیا برنامې د مالیې وزارت د مالي سیاست لپاره هم بېلابېلې موخې ټاکلې دي. یادې موخې د یوه کال لپاره ټاکل شوې دي او په درې میاشتني ډول د پیسو نړۍوال صندوق له لوري ارزول کېږي.

د هېواد پر مالي نظام د خلکو د باور رامنځته کولو او د ثبات تأمین په موخه د افغانستان بانک له لوري افغانیو د نه وړاندویل شوي مقدار تزریق د دې لامل شوی چې د تمدید شوي کریډیټ اسانتیا پروګرام له مخې د افغانستان بانک له لوري د ژمنه شوي مقداري موخې په ښه ډول ونه ځارل شي. د احتیاطي زیرمو اندازه او په چلښت کې د پیسو مقدار له ټاکل شوو سقفونو څخه زیات شوي دي. برعکس، د افغانستان بانک وکولی شو چې په خپلو اسعاري زیرمو کې د پام وړ زیاتوالی راولي. نو له همدې لامله د افغانستان بانک د نه وړاندویل شوو عواملو له امله ونه شو کولی چې ټولې ټاکل شوي مقداري موخې ترلاسه کړي.

د غځول شوي کریډیټ اسانتیا پروګرام د لاندې اغېزمنو اقتصادي سیاستونو جوړونه په بر کې نیسي:

۱: د مالي نظام ټیکاو او ثبات.

۲: معقول پولي سیاست او اغېزمن بانکي نظام.

۳: د بهرنۍ سوداګرۍ لپاره د سالم چاپېریال رامنځته کول.

۴: د خصوصي سکټور وده، د پانګونې لپاره ښه چاپېریال رامنځته کول او په همدې ډول په اقتصاد کې د سالمو سیالیو شرایطو رامنځته کولو په موخه په نافذه قوانینو او مقرراتو کې بدلون راوستل دي.

د افغانستان بانک په اقتصاد کې د پیسو عرضې مقدار د پیسو مقداري نظریې (Quantity Theory of Money) له مخې ټاکي. دا جوړښت پر دې اقتصادي اصل ولاړ دی چې د پیسو عرضه باید د هېواد له  اقتصادي اسمي ودې سره په متناسب ډول وده وکړي څو د پیسو پر پړسوب د ناوړو اغېزو څخه مخنیوی وشي چې اوسمهال د دې موخې ترلاسه کولو لپاره د پولي سیاست یوازېنۍ وسیله، د افغانستان بانک د پانګه ییزو پاڼو (سرمایوي پاڼې) او بهرنیو اسعارو پلور دی.

## ۷: د نغدوالي (سياليت) وضعيت

په اقتصاد کې د نغدوالي کچه ډېر اهميت لري چې د زياتوالي يا کموالي څرنګوالی يې بايد پيسو ته د اقتصاد اړتيا او اقتصادي فعاليتونو د ودې له اندازې سره په همغږۍ کې ترسره شي. د افغانستان بانک د نغدوالي د کنټرول په موخه، د پيسو نړۍوال صندوق په مرسته د پولي سياست لومړنی جوړښت د اقتصادي ودې اسانتيا او بېوزلۍ د کموالي برنامې لاندې جوړ کړی دی چې د بانکي سکټور د ودې څرنګوالي او د هېواد اقتصادي وضعيت په پام کې نيولو سره يې له ۱۳۹۰ هجري لمريز کال راهيسې پولي پايه (Reserve Money) د نغدوالي سنجش لومړني شاخص او په چلښت کې پيسې يې د نغدوالي سنجش دويم شاخص په توګه ټاکلې دي. دا جوړښت پر دې اقتصادي اصل ولاړ دی چې د پيسو عرضه بايد د هېواد له اسمي ودې سره په متناسب ډول وده وکړي څو د پيسو پر پړسوب باندې له ناوړو اغېزو څخه مخنيوی وشي. بېلابېلو عواملو لکه: په افغانستان بانک کې د مناسبو وړتياوو رامنځته کول، د مالي سکټور د اوږدمهاله احصايو جوړول او د ارقامو ښه انسجام د نغدوالي شاخص د تغيير د بنسټيزو عواملو په توګه ټاکل شوي دي.

د يادولو وړ ده چې په چلښت کې پيسې د احتياطي زيرمو يوه لويه برخه جوړوي. په همدې ډول؛ له يوې خوا د دولت لګښتونه (مالي سياست) په اقتصاد کې د نغدوالي د زرق (د پيسو عرضه) مهم عامل دی او له بلې خوا د دولت عوايد د نغدوالي د کموالي لوی عامل ګڼل کېږي.

نو له همدې لامله د هېواد له مالي سياست سره په همغږۍ او د دولت د عوايدو او لګښتونو په پام کې نيولو سره، د نغدوالي زرق (پيسو عرضه) وړاندوينه کېږي. نو په دې ډول په چلښت کې د پيسو او احتياطي پيسو اندازه په اقتصاد کې د نغدوالي له مهمو شاخصونو څخه ګڼل کېږي.

## ۱.۷: په جریان کې پیسې

په جریان کې پیسې د ټولو خپرو شوو افغانیو او د مرکزي بانک په مرکز او ولایتونو کې د شته پیسو ترمنځ له توپیر (تفاوت) څخه عبارت دي.

## ۲.۷: احتیاطي پیسې (پولي پایه)

په اقتصاد کې د نغدوالي له شاخصونو څخه یو دی چې په چلښت کې د پیسو او له مرکزي بانک سره د بانکي سیسټم نغدو یا سیال افغاني امانتونو له ټولګې څخه عبارت دی. دا شاخص په اقتصاد کې د نغدوالي په برخه کې د سوداګریزو بانکونو وړتیا په ګوته کوي. که چېرې د نغدوالي مقدار د اقتصاد له اسمي ودې سره په متناسب ډول زیاتوالی ونه کړي، د قیمتونو د لوړوالي او د پیسو د پړسوب لامل ګرځي.

## ۳.۷: د نغدوالي کنټرول په برخه کې د مرکزي بانک وسیلې:

## په جریان کې د پیسو کنټرول

په متداول ډول د پولي سیاست تر ټولو مهمه وسیله د پرانیستي بازار کړنې دي. خو اوسمهال چې د دولتي او نادولتي بنسټونو د بودیجې کسر تر ډېره پورې د بهرنیو مرستو له لارې تمویلېږي او په هېواد کې د پانګه ییزو پاڼو بازار هم موجود نه وي، نو په چلښت کې د پیسو کنټرول په برخه کې د پولي سیاست تر ټولو اغېزمنه وسیله د بهرنیو اسعارو پلور دی.

## د احتیاطي پیسو کنټرول

د افغانستان بانک د احتیاطي پیسو کنټرول په برخه کې درې وسیلې په واک کې لري چې عبارت دي له:

۱: د بهرنیو اسعارو پلور.

۲: د ارزښت لرونکو (قیمتي) پاڼو پلور.

۳: د اجباري زیرمې اندازه.

له دې وسیلو څخه تر ډېره پورې په چلښت کې د پیسو مقدار د کنټرول په موخه ګټه اخیستل کېږي. خو کله چې د احتیاطي پیسو وده کنټرولېږي، نو اړینه ده چې د بانکي سیستم د نغدوالي مازاد هم کنټرول شي. نو په دې برخه کې له ارزښت لرونکو (قیمتي) پاڼو څخه ګټه پورته کېږي. ارزښت لرونکې پاڼې لنډمهاله پانګه ییز لاسوندونه (اسناد) دي چې سوداګریز بانکونه پکې خپلې اضافي زیرمې له مرکزي بانک سره پانګونه کوي. دا چې په بانکي سکټور کې د نغدوالي زیاتوالی د اقتصادي کړنو د زیاتوالي او په دې توګه د پیسو د پړسوب کچې د لوړوالي لامل ګرځي، نو له همدې لامله د دې وسیلې رامنځته کول د بانکي سکټور د نغدوالي کنټرول یوه وسیله ده (۴۲:۱۰).

**پولي پایه**

پولي پایه چې په چلښت کې پیسو، شپني امانتونه (Over Night Deposits)، جاري حسابونه او له مرکزي بانک سره د سوداګریزو بانکونو الزامي یا جبري زیرمې (Required Reserve) په بر کې نیسي. پولي پایه په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې له ۸۵ میلیون افغانیو څخه په ۱۳۹۲ هجري لمریز کال کې ۱۹۸ میلیون افغانیو ته لوړه شوه چې د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي. دا زیاتوالی په خپل وار د اقتصادي کړنو او په همدې ډول په هېواد کې د بانکوالي نظام وده ښیي.

**په چلښت کې پیسې (Currency in Circulation)**

په ۱۳۸۲ هجري لمریز کال کې په چلښت کې ټولې پیسې ۲۹ میلیارد افغانۍ وې چې دا مقدار په ۱۳۹۲ هجري لمریز کال کې ۱۷۰ میلیارد افغانیو ته لوړ شو چې د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي.

## ۸: د افغانستان بانک پولي سیاست وسایل

د پولي سیاست تر ټولو لویه وسیله چې تکیه ورباندې کېږي، د پرانیستي بازار کړنې دي. په اقتصاد کې د نغدوالي موخې په پام کې نیولو سره، مرکزي بانک په چلښت کې د پیسو مقدار کنټرولوي. دا وسایل په حقیقت کې د پولي پایې (Reserve Money) د کنټرول لپاره کارول کېږي او د بهرنیو اسعارو له پلور او د مرکزي بانک د پانګه ییزو پاڼو (Capital Notes) له لیلام څخه عبارت دی چې مرکزي بانک یې د پولي سیاست د لومړنۍ وسیلې په توګه کاروي. په همدې ډول د افغانستان بانک د الزامي/قانوني زیرمو (Required Reserve) په شان نورې وسیلې هم په واک کې لري چې د اړتیا په وخت کې له دې وسیلې څخه هم د پولي سیاست د پلي کولو په موخه ګټه اخلي.

### ۱.۸: د پرانیستي بازار کړنې (Open Market Operations)

د افغانستان بانک قانون د پنځم څپرکي دویم بند له مخې د افغانستان بانک له پولي کړنو او دندو څخه یوه هم د بازار کړنې دي. په همدې ډول د افغانستان بانک قانون د درې شپیتمې مادې له مخې، د افغانستان بانک د خپل پولي سیاست د پلي کولو په برخه کې کولی شي چې د پرانیستي بازار له لارې د قطعي پېر او پلور (له وړاندې پېر او سمدلاسه پلور) په برخه کې او یا هم د پرانیستو او ازادو هوکړو له لارې د تبادلې وړ بهرنیو اسعارو او د پور ارزښت لرونکو خپرو شوو پاڼو د پېر په موخه ګام پورته کړي. نو له همدې لامله د بازار عملیاتو آمریت (Market Operation Department) د پولي سیاست د اجراء پایې په توګه عمل کوي او د اسعارو او د پانګه ییزو ارزښت لرونکو پاڼو مزایده یا لیلام ترسره کوي.

## د پرانیستي بازار کړنو په چوکاټ کې د پولي سیاست عملیاتي موخه (MPD Operational Target)

د پولي سیاست د دې چوکاټ له مخې، مرکزي بانک د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال څخه را په دې خوا د پولي پایې (Reserve Money) میزان د نغدوالي سنجولو په موخه ټاکلی دی او مقدار یې د هېواد اقتصادي ودې په پام کې نیولو سره، په یو کال کې د پیسو پړسوب منځنۍ کچې وړاندوینه او افغاني پیسو ته په تقاضا کې بدلونونه ټاکلي دي. د افغانستان بانک د بانکي سکټور د ودې او د هېواد اقتصادي وضعیت او د پیسو رامنځته کولو (Money Creation) په برخه کې د دې سکټور ودې په پام کې نیولو سره، پولي پایه (Reserve Money) د اصلي شاخص په توګه او په چلښت کې پیسې یې د ضمني شاخص په توګه ټاکلې دي.

## د ارزي او پولي سیاستونو د پلي کولو لګښت

د افغانستان بانک د اقتصادي - سیاسي شرایطو او د لوی اقتصاد د متحولینو په پام کې نیولو سره، د نورو هېوادونو د مرکزي بانکونو په توګه د خپل پولي سیاست د پلي کولو او د اقتصادي ټیکاو او ثبات په موخه یو لړ لګښتونه مني. د نړیوالو منل شویو معیارونو له مخې، د دې ډول لګښتونو منل ان که ډېر لوړ هم وي، پر اقتصادي ودې او پرمختیا د مثبتو اغېزو او په همدې ډول د ټولنې د هوساینې کچې لوړولو په موخه مؤجه ګڼل کېږي.

د بېلګې په توګه: لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، د افغانستان بانک د اسعاري او پولي سیاستونو پلي کولو لپاره په بازار کې د اسعارو له پلور څخه ګټه پورته کوي. د پولي سیاست له دې وسیلې څخه د نه ګټې اخیستنې په صورت کې او په همدې ډول مالیې وزارت ته د مرستو او نړیوالو ځواکونو د لګښتونو لپاره د اسعارو راتګ په پام کې نیولو سره، د هېواد په اسعاري شتمنیو

(اسعاري خالصې زيرمې) کې زياتوالی راځي چې په اقتصاد کې د پيسو حجم زياتوالي او د پولي پايې لوړوالی د پيسو د پړسوب لوړوالي لامل ګرځي.
که چېري په هېواد کې اقتصادي کړنې ډېرې نه شي، په پولي پايه کې هر ډول زياتوالی د پيسو پړسوب د زياتوالي او د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانيو ارزښت د کموالي لامل ګرځي. د پيسو د پړسوب د زياتوالي په پايله کې نا مريي ماليات په اوتومات ډول پر خلکو تحميلېږي چې د هغوی د پېر ځواک را کموي، پر ملي پيسو د خلکو باور کمېږي او د اقتصادي هوساينې د کموالي لامل ګرځي. په همدې ډول د وګړو له لوري پر بهرنيو اسعارو باندې د خپلو نغدي او غير نغدي شتمنيو اړولو کې هم زياتوالی راځي.
د يادولو وړ ده چې د پولي سياست پلي کول تل لګښت لري او په پايله کې يې دولتونه دا لګښتونه مني څو د تورمي مالياتو د زغم له درندو لګښتونو او پر خلکو باندې د پيسو د پړسوب کچې د زياتوالي له امله د نورو لګښتونو مخنيوی وکړي.
لکه څرنګه چې پورته هم يادونه وشوه؛ د افغانستان بانک د پولي پايې او په چلښت کې د پيسو حجم کنټرول په موخه له دوو وسيلو څخه ګټه اخلي چې په لاندې دول توضيح کېږي.

**د مزايدې له لارې د بهرنيو اسعارو پلور**

د پولي پايې او په چلښت کې د پيسو د حجم کنټرول په موخه د افغانستان بانک د خپل اسعاري او پولي سياست پلي کولو لپاره له کلونو راهيسې بهرني اسعار پلوري. په لاندې لومړني ګراف کې د تېرو يوولسو کلونو (د ۱۳۸۸ مالي کال راهيسې تر ۱۳۹۸/۱۲/۲۹) په اوږدو کې د ليلام له لارې اسعارو ته د تقاضا او عرضې څرنګوالی په ګوته شوی دی.
لکه څرنګه چې په لاندېني ګراف (۱) کې ښودل کېږي؛ ۱۳۸۸ مالي کال له پيل څخه تر ۱۳۹۸/۱۲/۲۹ پورې، د افغانستان بانک د ۵۴۲ ميليون

امریکايي ډالرو په شا او خوا کې بهرني اسعار د لیلام له لارې پلورلي دي او پر وړاندې يې نږدې ۴۰.۷ میلیارد افغانۍ له بازار څخه راټولې کړې دي.

په همدې دوره کې په بازار کې ډالرو ته د تقاضا اندازه نږدې ۸۱۷.۴۲ میلیون امریکايي ډالر وه چې د پورته یاد شوي مبلغ د ډالرو په عرضه کولو سره په بازار کې ډالرو ته د ټولې تقاضا ٦٦.٣٠ سلنه ځواب شوې ده.




د لیلام له لارې اسعارو ته تقاضا او عرضه

سرچینه: د پولي سیاست عمومي آمریت/د بازار د کړنو او عملیاتو مدیریت.

**د پانګه ییزو پاڼو (Capital Notes) پلور (د ټکټاني متناقصه)**

پانګه ییزې پاڼې د پولي سیاست یوه بله وسیله ده چې د افغانستان بانک له لورې د پولي سیاست د پلې کولو او په همدې ډول د نغدوالي د کنټرول په موخه کارول کېږي. له دې وسیلې څخه له بانکي سیستم څخه د نغدوالي اضافي (مازادې) برخې د جذب، د ارزښت لرونکو پاڼو (قیمتي پاڼو) د دویمي (ثانوي) بازار دودول، د پیسو د پرسوب مخنیوی، د پولي سیاست د وسایلو

تنوع او له خلکو څخه د افغانیو امانتونو د جذب ډېرولو او د سوداګریزو بانکونو هڅوولو په موخه ګټه اخیستل کېږي.
د پورتني وضعیت په پام کې نیولو سره، په هېواد کې د پانګونې د هڅوونې او پورونو ته د هېوادوالو د لاسرسی په موخه؛ د افغانستان بانک د درانه مقام د لارښوونې له مخې، د ۱۸۲ ورځنیو او ۳٦۴ ورځنیو ارزښت لرونکو پاڼو لیلام په تدریجي ډول کم شوی او په ورته وخت کې یې د تکتانې کچه هم راکمه شوې ده څو په دې ډول بانکونه وکولی شي وګړو ته په ټیټې تکتانې او اسانو شرایطو سره پورونه ورکړي. د ۱۳۹۸ مالي کال له پیل څخه د کب د میاشتې تر ۲۹ مې نېټې پورې، د ۲٦.٦٦ میلیارد افغانیو په ارزښت پانګه ییزې پاڼې لیلام شوې دي. په همدې ډول، د پانګه ییزو پاڼو له لامله د ۱۸.۷۸ میلیون افغانۍ تکتانه هم ورکړل شوې ده.
په ۱۳۹۸ مالي کال کې د ارزښت لرونکو پاڼو څرنګوالی په لاندې ګراف کې لیدل کېږي:




سرچینه: د پولي سیاست عمومي آمریت/د بازار د کړنو او عملیاتو مدیریت.

## اووه ورځنۍ ارزښت لرونکي پاڼې

د کب په میاشت کې د ۷ ورځنیو ارزښت لرونکو پاڼو وروستی پلور ۱.٦ میلیارد افغانۍ و چې د ټکټاني منځنۍ کچه یې هم ۰.۱۵ سلنه وه او د مانده مقدار یې هم تر ۱.٦ میلیارد افغانیو ته رسیده.




سرچینه: د پولي سیاست عمومي آمریت/د بازار د کړنو او عملیاتو مدیریت.

## ۲۸ ورځنۍ اربنت لرونکي پاڼې

د کب په میاشت کې د ۲۸ ورځنیو ارزښت لرونکو پاڼو وروستی پلور ۱.۸ میلیارد افغانۍ و چې د ټکټاني منځنۍ کچه یې هم ۰.۳٦ سلنه وه او پاتي مقدار یې هم تر ۷.۴٦ میلیارد افغانیو ته رسیده.




سرچینه: د پولي سیاست عمومي آمریت/د بازار د کړنو او عملیاتو مدیریت.

## ۹۱ ورځنۍ ارزښت لرونکي پاڼې

د کب په میاشت کې د ۹۱ ورځنیو ارزښت لرونکو پاڼو وروستی پلور ۰.۷۸ میلیارد افغانۍ و چې د ټکټاني منځنۍ کچه یې هم ۰.۵۵ سلنه وه او د دې پاڼو مانده مقدار هم تر ۸.۱٦ میلیارد افغانیو ته رسېده.




سرچینه: د پولي سیاست عمومي آمریت/د بازار د کړنو او عملیاتو مدیریت.

## ۱۸۲ ورځنۍ لرونکي پاڼې

د کب په میاشت کې د ۱۸۲ ورځنیو ارزښت لرونکو پاڼو وروستی پلور ۰.۴۸ میلیارد افغانۍ و چې د ټکټاني منځنۍ کچه یې هم ۰.۷۵ سلنه وه. په داسې حال کې چې د دې پاڼو مانده مقدار هم تر ۹.۴۴ میلیارد افغانیو ته رسېده.




د یادولو وړ ده چې په روان کال کې د ۳٦۴ ورځنیو ارزښت لرونکو پاڼو په لیلام کې کموالی راغلی دی.

## ورکړل شوي (پرداخت شوي) تکتانه

د تېرو ۱۲ کلونو په اوږدو کې د ارزښت لرونکو پاڼو پر وړاندې ورکړل شوې تکتانه په لاندې ګراف کې ښودل کېږي:




سرچینه: د پولي سیاست عمومي آمریت/د بازار د کړنو او عملیاتو مدیریت.

## د مبادلې کچه

له دې سره ـ سره چې د افغانستان بانک د مبادلې کچه خپله موخه نه ټاکي، خو د هغې د اغېزو اهمیت په پام کې نیولو سره په نورو اقتصادي شاخصونو باندې د هغې نوسانونه او اغېزې په پوره ځیرکتیا سره څاري. د پرانیستي/ازاد بازار په نظام کې؛ د مبادلې په کچه کې بدلونونه یو طبیعي امر دی چې عرضه او تقاضا یې په بازار کې بنسټیز او ټاکونکي عوامل دي. د شته اماروو او مالوماتو له مخې د امریکایي ډالر او نورو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې کچه د مالي کال د پیل راهیسې تر اوسه د یو لړ بدلونونو او نوسانونو شاهده ده.

د ۱۳۹۸ مالي کال له پیل څخه د کب تر ۲۹ نېټې، د امریکایي ډالر پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې کچه په منځنۍ ډول ۷۵.۱ افغانۍ ثبت شوې ده چې د کال د پیل راهیسې یې په ارزښت کې نږدې ۰.۷ سلنه کموالی راغلی

دی. په همدې ډول د مالي کال د کب میاشتې په پای کې د مبادلې کچه ۷۵.۴۶ افغانۍ ثبت شوې ده.




سرچینه: د پولي سیاست عمومي آمریت/د بازار د کړنو او عملیاتو مدیریت.

## ۲.۸: اجباري زیرمې (Required Reserve)

سوداګریز بانکونه اړ دي چې د افغانیو امانتونو ۸ سلنه او د اسعاري امانتونو ۱۰ سلنه د اجباري زیرمو په توګه له افغانستان بانک سره وساتي. د افغانستان بانک د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د ۱۹۳.۷۴۵ میلیون افغانۍ د اجباري زیرمو پر وړاندې د ټکتانې په توګه بانکي نظام ته ورکړي (پرداخت) دي. د افغانستان بانک د درنې عالي شورا د تصویب له مخې؛ د ۲۰۱۵ میلادي کال د جون میاشتې له ۲۸ نېټې د وروستیو بدلونونو په پام کې نیولو سره، د افغانستان بانک د اجباري زیرمو پر وړاندې د ټکتانې ورکړه له منځه یوووړه او له یادې نېټې راهیسې هیڅ یو سوداګریز بانک ته د اجباري زیرمو پر وړاندې ټکتانه نه ده ورکړل شوې. د ۱۳۹۵ مالي کال په وروستیو کې د سوداګریزو بانکونو د اجباري زیرمې ټول مبلغ نږدې ۱۹ میلیارد افغانۍ راپور ورکړل شوی دی.

د ۱۳۹۰ـ۱۳۹۵ کلونو په اوږدو کې د افغانستان بانک له لوري د قانوني زيرمو پر وړاندې سوداګريزو بانکونو ته ورکړل شوې ګټانه

(مبلغ په افغانۍ)




## ۹: د پولي سیاست چوکاټ

په نړۍ کې د دود پولي سیاستونو له منځه د افغانستان بانک پولي ټولګه (د نغدوالي د حجم کنټرول) خپله موخه ټاکي. د پولي سیاست دا چوکاټ د پیسو په مقداري نظریه تکیه لري او د همدې چوکاټ له مخې د ۱۳۸۹ کال راهیسې مرکزي بانک پولي پایه د نغدوالي شاخص په توګه خپله موخه ټاکلې او مقدار یې د هېواد له اقتصادي ودې سره په همغږۍ ټاکي.

## ۱.۹: د مرکزي بانک پولي پایه

### پېژندنه

د اقتصاد په علم کې د یو هېواد پولي پایه له مرکزي بانک سره د سوداګریزو بانکونو د امانتونو، له خلکو سره د نغده پیسو او له بانکونو سره په فزیکي بڼه د نغدو پیسو له ټولګې څخه عبارت دی.

پولي پایه له لاندې برخو څخه جوړه ده:

- په چلښت کې پیسې.
- له مرکزي بانک سره د سوداګریزو بانکونو جاري حسابونه.
- له مرکزي بانک سره د سوداګریزو بانکونو اجباري زیرمې.
- له مرکزي بانک سره شپني امانتونه.




په ۱۳۹۴هجري لمریز کال کې د تعدیل شوې پولي پایې د ودې کچه ۷ سلنه وه. دا په دې مانا چې د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره پولي پایه ۰۳/۲۴۱ میلیارد افغانۍ ټاکل شوې وه، په داسې حال کې چې د مالي کال په پای کې د پولي

پایې حقیقي حجم له ټاکل شوي سقف څخه نږدې ۹ میلیارده افغانۍ کم و. د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره د پولي پایې وده ۱۰ سلنه ټاکل شوې وه، په داسې حال کې چې د کال د څلورمې ربعې په پای کې حقیقي پولي پایه ۰۷/۲۵۰ میلیارد افغانۍ ته ورسېده. په همدې ډول د وروستۍ ربعې په گردښت کې د پیسو حجم (له ټولو خپرو شوو پیسو څخه د افغانستان بانک په مرکز او څانگو کې د شته پیسو په منفي کولو سره) ۸۳/۲۲۳ میلیارد افغانۍ و چې د ټاکل شوي سقف په پرتله ۴/۱ میلیارد افغانۍ کمه ښودل شوې ده.

## ۲.۹: د افغانستان بانک اسعاري زیرمې

په وروستیو کلونو کې د افغانستان په اسعاري زیرمو کې زیاتوالی، د هېواد په مالي نظام کې د افغانستان بانک یوه له لویو لاسته راوړنو څخه گڼل کېږي چې د ملي اقتصاد د بنسټیزو شاخصونو له ډلې څخه شمېرل کېږي. د نړیوالې ټولنې مرستو د هېواد ارزي زیرمو په پیاوړتیا کې رغنده رول لوبولی او له نېکه مرغه د افغانستان بانک هم په دې بریالی شوی څو د مناسبو او خوندي پانگونو په پایله کې د هېواد له ارزي زیرمو څخه په گټه اخیستنې سره، په دې برخه کې بریالۍ کړنې ترسره کړي. د ارزي زیرمو کچه په هر اقتصاد کې د پولي سیاست په پلي کولو او همدارنگه د مبادلې کچې، د پیسو پړسوب او د تادیاتو بیلانس په انډول کې اغېزې لري. یا هم په بل ډول؛ په وروستیو کلونو کې د افغانستان بانک د ارزي زیرمو په کچه کې زیاتوالی، د پولي تکیې (پشتوانې) د پیاوړتیا او په همدې ډول د پولي سیاست د پلي کولو په برخه کې د پام وړ برخه لري.




## ۱۰: په وروستيو کلونو کې په هېواد کې د پيسو پړسوب

افغانستان د ۱۳۷۰ او ۱۳۸۰ هجري لمريز کلونو په اوږدو کې د پيسو د چټک او حاد پړسوب شاهد و چې د پيسو ارزښت به هره ورځ ښکته کېده. په هېواد کې د طالبانو د رژيم له نسکورېدو څخه وروسته، د اقتصادي کړنو په غوړېدو او په همدې ډول د نړۍوالې ټولنې د مرستو په راتګ سره، د افغانستان بانک پولي سمون او اصلاحات طرحه او پلي کړل. د دې طرحې پلي کول د دې لامل شو چې د پيسو چټک او حاد پړسوب ته د پای ټکی کېښودل شي او په ملي پيسو د خلکو ډاډ او باور ډېر شي. د پيسو پړسوب د مستهلکينو د قيمت شاخص له مخې او د ۲۹۱ ډوله استهلاکي توکو توکرۍ (سبد) په قيمتونو کې د بدلونونو او تغييراتو د ارزونې له مخې، سنجول کېږي.

د پيسو د پړسوب په برخه کې ټاکونکي او لوی عوامل عبارت دي له:

- د کورني توليد ټيټه کچه.
- د پيسو وارداتي پړسوب.
- د سون توکو په ګډون انحصار.

- لوړې کرايې.
- د ګټې ترلاسه کولو لوړه پايه.
- اداري فساد.
- ټرانزيټي او د لېږد ـ رالېږد ستونزې.
- د ګاونډيانو اقتصادي سبوتاژ.
- د بنسټيزو پروژو پلي کول.
- په نړۍواله کچه د خوراکي او غير خوراکي توکو د قيمتونو نوسان څرنګوالی.
- د اوبو او هوا وضعيت او فصلي ستونزې دي.

د وروستيو ارقامو له مخې، د ۲۰۱۳ او د ۲۰۱۸ ميلادي کلونو په اوږدو کې د پيسو پړسوب کچه په لاندې ګراف کې ښودل شوې ده:



# ۱۱: د افغانستان بانک د مبادلې کچې نظام

په نړۍ کې د مبادلې کچې د دوو رژیمونو له ډولونو څخه، د افغانستان بانک د مبادلې له مدیریت شوي متحولې کچې څخه ګټه اخلي چې د مبادلې کچه د اسعارو په بازار کې د عرضې او تقاضا له مخې ټاکل کېږي. د افغانستان بانک د مبادلې کچې د ټاکلو په برخه کې هر وخت لاسوهنه (مداخله) نه کوي او یوازې د چټکو او لویو نوساناتو د شتون او د هغوی له ناوړو اغېزو څخه د مخنیوي په موخه په بازار کې لاسوهنه کوي. د یادولو وړ ده چې په هر اقتصاد کې که هغه پرمختللی اقتصاد، صنعتي اقتصاد او یا هم پرمختیایي اقتصاد وي، د پولي واحد په ارزښت کې نوسانونه یو طبیعي اقتصادي امر دی.




۱.۱۱: د وروستي یو کال په اوږدو کې په هېواد کې د مبادلې کچې نوسان عوامل

- د اقتصادي، امنیتي او سیاسي وضعیت د ټیکاو په برخه کې د ډاډ نه شتون.
- د نړۍوالې ټولنې د مرستو د کموالي له لامله هېواد ته د اسعارو په راتګ کې کموالی.

- د هېواد د وارداتو په پرتله د هېواد د صادراتو کموالی.
- په هېواد کې د بهرنۍ مستقیمې پانګونې کموالی.
- د وګړو او کاروبارونو له لوري په امریکایي ډالرو او یا هم نورو اسعارو باندې د افغانۍ شتمنۍ اړول.
- د ځینو محتکرینو له لوري په راتلونکي کې د ډالر په ارزښت کې له لوړوالي څخه د ګټې ترلاسه کولو په موخه د امریکایي ډالرو ته احتکاري تقاضا.
- د نامسؤلو څېړونکو او رسنیو د نیمګړو او ناقصو راپورونو له لامله د ګنګوسو رامنځته کېدل.

## ۱۲: د افغانستان اسعاري سیاست او د هغه اغېزې

د اسعاري سیاست تر عنوان لاندې هغه ټول ګامونه پېژندل کېږي چې له مخې يې د اسعارو عرضه او تقاضا په ځانګړي ډول د بهرنیو پیسو پر وړاندې د ملي پیسو د تبادلې کچه تر اغېز لاندې راځي. د اسعاري سیاست له لویو موخو څخه یوه هم پر ملي اقتصاد د بهرني اقتصاد د ناوړو اغېزو له منځه وړل دي. د دې ترڅنګ د بهرنیو پر وړاندې د هېواد دننه تولیدوونکو د سیالیزو وړتیاوو پېر او ځواک لوړول د اسعاري سیاست له نورو موخو څخه شمېرل کېږي. دا موخې د تبادلې کچې تر اغېز لاندې راوستو له لارې ترلاسه کېدی شي. په پرمختللو هېوادونو کې تر ډېره پورې د پولي سیاست (د ربحې په کچه کې بدلون) او مالي سیاست (د دولت د عوایدو او لګښتونو کې بدلون) له ګامونو څخه ګټه اخیستل کېږي او له دې لارې څخه د تبادلې پر کچه اغېزې کېږي. له دې سره ـ سره د تبادلې پر کچه د اغېزو په موخه مرکزي بانک د اسعارو له پېر او پلور څخه هم د یوې وسیلې په توګه کار اخلي. دا چې په دوامداره ډول له دې وسیلې څخه ګټه اخیستل د مرکزي بانک د ارزي زیرمو د له منځه تلو لامل ګرځي، نو له همدې لامله له دې وسیلې څخه ډېره لږه ګټه

اخیستل کېږي. له دې وسیلې څخه تر ډېره پورې هغه هېوادونه ګټه پورته کوي چې د تبادلې د ثابتې کچې له نظام څخه ګټه پورته کوي.
په افغانستان کې د نورو هېوادونو برعکس، اسعاري سیاست په لومړي ګام کې د ملي پیسو د ارزښت او ټیکاو په موخه پلی کېږي. د افغانستان بانک په بازار کې د ډالرو په لیلام سره غواړي چې په چلښت کې مازادې افغانۍ له اقتصاد څخه وباسي څو په دې توګه له یوې خوا په چلښت کې شته افغانۍ تر کنټرول لاندې راولي او په دې توګه د قیمتونو د کچې ټیکاو (چې د افغانستان بانک اصلي دنده ده) په برخه کې ترېنه ګټه پورته کړي او له بلې خوا په ضمني ډول د افغانۍ/ډالر د تبادلې کچې له ډېر نوسان څخه هم مخنیوی وکړي. د هېواد اسعاري سیاست جوړول، اتحاذ او پلي کول د افغانستان بانک له انحصاري دندو څخه دي چې د افغانستان بانک قانون ٦٩ ماده په دې اړه صراحت لري.
په نړۍ کې د ٨ ډوله دود اسعاري رژیمونو له ډلې څخه د افغانستان بانک د تبادلې متحول مدیریت شوې کچې (Managed Floating Exchange Rate) نظام ټاکلی دی. د دې رژیم له مخې، د اسعارو پر وړاندې د تبادلې کچه په بازار کې د عرضې او تقاضا له مخې ټاکل کېږی. له دې سره ـ سره چې د افغانستان بانک د افغانیو د تبادلې کچه خپله موخه نه ټاکي، خو پر اقتصادي شاخصونو باندې یې ناوړه اغېزې په پام کې نیسي او په دې توګه هڅه کوي څو د افغانیو ارزښت په یوه مطلوبه کچه کې وساتي. د اقتصادي شرایطو، د سودګرۍ بیلانس (صادرات او واردات)، اقتصادي پرانیستوالی (د اسعارو تګ او راتګ) او د افغانستان سیاسي لید لوریو په پام کې نیولو سره، د دې اسعاري سیاست ټاکل له نورو نظامونو څخه وړ او مناسب پېژندل شوی او ټاکل شوی دی.
د یادولو وړ ده چې د پولي او اسعاري سیاست پلي کول یو لړ لګښتونه هم لري. د افغانستان بانک هم له سیاسي او اقتصادي شرایطو سره په سمون او

مطابقت او په همدې ډول د لوی اقتصاد د متحولینو په پام کې نیولو سره د نړۍ د نورو هېوادونو د عصري مرکزي بانکونو په شان د خپل پولي سیاست د پلي کولو او اقتصادي ټینګښت په موخه دا ډول لګښتونه مني. د نړۍوالو منل شوو معیارونو له مخې که دا لګښتونه ان لوړ هم وي، نو په اقتصادي ودې او انکشاف باندې د مثبتو اغېزو او په همدې ډول د ټولنې د ټولیزې هوساینې د زیاتوالي په موخه مؤجه ګڼل کېږي.
د بېلګې په توګه: لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، د افغانستان بانک د اسعاري او پولي سیاستونو د پلي کولو په موخه په بازار کې د اسعارو له پلور څخه ګټه پورته کوي. د پولي سیاست له دې وسیلې څخه د نه ګټې اخیستنې په صورت کې او په همدې ډول مالیې وزارت ته د مرستو او نړۍوالو ځواکونو د لګښتونو لپاره د اسعارو راتګ په پام کې نیولو سره، د هېواد اسعاري شتمني (خالصې اسعاري زیرمې) زیاتېږي چې په پایله کې په اقتصاد کې د پیسو د حجم زیاتوالي لامل ګرځي او د پولي پایې لوړوالی د پیسو د پړسوب لوړوالي لامل ګرځي.
نو که چېرې په هېواد کې اقتصادي کړنې ډېرې نه شي، په پولي پایه کې هر ډول زیاتوالی د پیسو پړسوب زیاتوالي او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو د ارزښت کموالي لامل ګرځي. د پیسو د پړسوب زیاتوالی په خپل وار نا مریي مالیات په اوتومات ډول پر خلکو تحمیلوي چې د هغوی د پېر د ځواک کموالي لامل ګرځي، پر ملي پیسو د خلکو باور کمېږي چې دا بیا په خپل وار د وګړو د اقتصادي هوساینې د کموالي لامل ګرځي. په همدې ډول د وګړو له لوري پر بهرنیو اسعارو باندې د خپلو نغدي او غیر نغدي شتمنیو په تبدیلولو کې هم زیاتوالی راځي.
د افغانستان بانک هم د مطلوب پولي سیاست لپاره لګښتونه مني چې په پایله کې یې بهرني اسعار (امریکایي ډالر) پلوري او په همدې ډول د قیمتي

پاڼو (Securities)، شپني امانتونو(Overnignt Deposits) او اجباري زيرمو (Reguired Reserve)پر وړاندې سوداګريزو بانکونه ته ټکټانه ورکوي.
د يادولو وړ ده چې د پولي سياست پلي کول تل لګښت لري او په پايله کې يې دولتونه دا لګښتونه مني څو د تورمي مالياتو د زغم له درندو لګښتونو څخه او پر خلکو باندې د پيسو پړسوب کچې د زياتوالي له لامله له نورو لګښتونو څخه مخنيوی وکړي.

## ۱.۱۲: اسعاري راکړې - ورکړې (معاملات)

اسعاري راکړې - ورکړې د اسعارو په بازار کې کېږي. د اسعارو بازار هم د نورو بازارونو په شان د عرضې او تقاضا د هغو خوځښتونو له مخې ټاکل کېږي چې يا هم د عرضې او تقاضا پر منحني د حرکت او يا هم د عرضې او تقاضا منحنيو د لېږد له لامله رامنځته کېږي. د عرضې او تقاضا د منحني پرمخ خوځښتونه (حرکتونه) د تبادلې په کچه کې د بدلون له لامله رامنځته کېږي. د عرضې او تقاضا منحني لېږد له دې سره ـ سره چې د تبادلې کچې بدلونونه او تغييرات له ځان سره لري، خو د دې بېلابېلو عواملو لامل د تبادلې کچه نه وي.
د اسعارو په عرضه او تقاضا باندې اغېز لرونکي عوامل چې د عرضې او تقاضا د منحنيو د لېږد لامل ګرځي، په لاندې ډول دي:

**هغه عوامل چې د اسعارو پر عرضې اغېز لري: (۲۱:۲۱۳)**

- صادراتي تصدۍ چې بهرني اسعار د ملي پيسو پر وړاندې تبادله کوي.
- مرکزي بانکونه چې د تبادلې د کچې لوړوالي په صورت کې د دې کچې د ټيکاو او استقرار په موخه، بهرني اسعار عرضه کوي.
- د پانګې واردوونکي چې بهرنۍ پيسې په ملي پيسو تبادله کوي.
- تصدۍ او بهرنۍ کورنۍ چې د کورنۍ تبادلې کچې د لوړوالي تمه کوي او له همدې لامله په لنډمهال کې ملي پيسې د بهرنيو پيسو پر

وړاندې د تبادلې په موخه تقاضا کوي. که چېرې په دې موده کې د تبادلې کچه لوړېږي، نو هغوی د بیا تبادلې په پایله کې ډېرې داخلي پیسې ترلاسه کوي.

- د ربحې د کچې له لامله داخلي پیسو ته د تقاضا رامنځته کېدل، په هغه صورت کې چې د داخلي ربحې کچه د بهرنۍ ربحې له کچې څخه لوړه وي.

**هغه عوامل چې د اسعارو پر تقاضا اغېز لري:**

- وارداتي تصدۍ چې ملي پیسې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې تبادله کوي.
- مرکزي بانکونه چې د تبادلې د کچې کموالي په صورت کې د دې کچې د ټیکاو او استقرار په موخه، بهرني اسعار تقاضا کوي.
- د پانګې صادروونکي چې ملي پیسې پر بهرنیو پیسو تبادله کوي.
- تصدۍ او بهرنۍ کورنۍ چې د کورنۍ تبادلې کچې د ټیټوالي تمه کوي او له همدې لامله په لنډمهال کې بهرنۍ پیسې د داخلي پیسو پر وړاندې د تبادلې په موخه تقاضا کوي.
- د ربحې د کچې له لامله بهرنیو پیسو ته د تقاضا رامنځته کېدل، په هغه صورت کې چې د بهرنۍ ربحې کچه د کورنۍ ربحې له کچې څخه لوړه وي.

## ۱۳: د تبادلې کچې د جوړښت ډولونه

د اسعارو په بازار کې د تبادلې کچه کېدای شي چې په ثابت، متحول او یا هم د دواړو له ګډ (ترکیبي) جوړښت څخه جوړه وي. معمولاً په اسعاري بازارونو کې د تبادلې کچې جوړښت د تبادلې کچې سیستمونو او یا هم د نظامونو په نوم یادېږي.

## ۱.۱۳: د تبادلې ثابته او متحوله کچه

د تبادلې کچه په ټوله کې په دوو افراطي بڼو رامنځته کېږي چې عبارت دي له:

- د تبادلې بشپړه متحوله کچه (په بشپړ ډول انعطاف منونکې).
- د تبادلې بشپړه ثابته کچه.

په بشپړ ډول د تبادلې متحوله کچه دا مانا ورکوي، چې مرکزي بانک د اسعارو په بازار کې د اسعارو د پېر او پلور له لارې د تبادلې په جوړښت کې لاسوهنه نه کوي. په دې حالت کې د تبادلې کچه کولی شي چې د اسعارو د ازادې عرضې او تقاضا له مخې رامنځته شي (په بشپړ ډول متحول یا شناور (Floating)).

په بشپړ ډول د تبادلې ثابته کچه هغه وخت رامنځته کېږي، کله چې مرکزي بانک د اسعارو پېر او پلور له لارې د تبادلې کچه په ټاکلو پولو کې وساتي. یا هم دا چې؛ کله چې د تبادلې کچه د رسمي بنسټ له لوري په نه راستنېدونکي (غیر قابل برگشت) ډول وټاکل شي.

د تبادلې په بشپړ ثابت افراطي (No separate Legal Tender) ډول کې یو هېواد له خپلو ملي پیسو څخه په بشپړ ډول تېرېږي او پر ځای یې یو اتکایي سعر د دود پیسو په توگه د هېواد په داخل کې مني (Formal Dollarzization). هغه هېوادونه چې د خپلو ملي پیسو ساتلو غوښتونکي وي، خو د یو اتکایي سعر پر وړاندې په بشپړ ډول د تبادلې ثابته کچه ټاکي، د اسعارو بورډ (Currency Board) له بنې څخه گټه پورته کوي. په دې بڼه کې د قانون له لارې ټاکل کېږي چې:

- لومړی دا چې د ملي او اتکایي پیسو ترمنځ د تبادلې کچه ثابته وي.
- دویم دا چې په چلښت کې د ملي پیسو مقدار یوازې د اسعاري زیرمو په تناسب بدلون کولی شي (۲۱:۱۵۰).

## ۲.۱۳: د تبادلې مختلطې کچې

د دوو افراطي ډولونو (په بشپړ ډول د تبادلې ثابتې کچې او په بشپړ ډول د تبادلې متحولې کچې) ترمنځ، په لړ او یا هم ډېر انعطاف سره نور سیستمونه موجود دي چې عبارت دي له:

- د تبادلې مدیریت شوې متحوله کچه (Managed Floating Exchange Rate).
- د نوساني سیمې یا ساحې له مخې د تبادلې ثابته کچه.
- مرحله یي متحوله تبادلې کچې (له نوساني پولې سره او یا هم له نوساني پولې څخه پرته).

د تبادلې مدیریت شوې متحوله کچه دا مانا ورکوي، چې مرکزي بانک د خپلې لاسوهنې او یا هم مداخلې له لارې غواړي د تبادلې کچه تر خپل اغېز لاندې راولي.

د نوساني سیمې له مخې د تبادلې په ثابته کچه کې د دوو اسعارو ترمنځ د تبادلې ثابته کچه ټاکل کېږي خو د تبادلې کچه کېدای شي چې د ټاکلې کچې په شا او خوا کې تر ټاکلو پولو پورته او یا هم ښکته شي (نوسان وکړي). د مثال په توګه: (د مثبت او منفي ۲.۲۵سلنه). هر کله چې د تبادلې کچه له ټاکل شوې سلنې څخه پورته او یا هم ښکته شي، نو په دې حالت کې مرکزي بانک اړ دی چې په بازار کې لاسوهنه وکړي او دا لاسوهنه کېدای شي چې ټاکل شوې پولې ته له رسېدو وړاندې هم وي ( د وروستیو پولو ترمنځ (Intramarginal)).

د مرحله یي تبادلې له متحولې کچې څخه هغه وخت یادونه کېږي کله چې د تبادلې کچه (له نوساني پولو سره او یا هم له نوساني پولو څخه پرته) ثابته وي خو د وخت په تېرېدو او د اسعارو بازار د تازه شرایطو له مخې له یوې نوې کچې سره تطابق وکړي (د ارزښت لوړوالی او یا هم کموالی). د تبادلې دې

کچې ته ورته یوه بله کچه هم خوځنده تثبیت شوې کچه (Crawling Pet) ده چې له مخې يې يو هېواد د تبادلې کچه د ټاکلې کچې له مخې ټاکل کېږي چې تر ډېره پورې وړاندې له وړاندې يې اعلانوي، د بېلگې په توگه: د پيسو پړسوب په پام کې نیولو سم هره میاشت د قیمتونو کچه د یوې سلنې په اندازه بدلون مومي (لوړېږي او يا هم ټيټېږي).
د تبادلې ثابتې کچې او متحولې کچې جوړښت د تبادلې جمعي متحولې کچې (Floating Block) په برخه کې تر سترگو کېږي چې له مخې يې څو هېوادونه په خپل منځ کې د تبادلې ثابته کچه ټاکي خو د نورو هېوادونو پر وړاندې په گډه د تبادلې له متحولې کچې څخه گټه پورته کوي (د اسعارو مار (Currency Snake)). تبادلې جمعي کچې تغيير کېدای شي چې په يوه نوساني سيمه کې محدود پاتې شي (لکه مار په يوه سوري کې).
د پيسو د نړۍوال صندوق غړي هېوادونه د ۱۹۷۰ یمې میلادي لسیزې څخه را په دې خوا د تبادلې کچې سيستم ټاکلو په برخه کې خپلواک دي. خو هر غړی هېواد اړ دی، چې د تبادلې کچې سيستم په اړه د پيسو نړۍوال صندوق ته خپل راپور ورکړي. په بېلابېلو څېړنو کې دا موندل شوې ده، چې زياتره وخت هغه څه چې په رسمي ډول د تبادلې سيستم په اړه راپور ورکړل شوی، له هغه څه سره چې په عملي ډول پلي شوی، توپير لري. نو له همدې لامله د پيسو نړۍوال صندوق د (Dejure) اصطلاح، یانې هغه څه چې د غړو هېوادونو له لوري راپور ورکړل شوی او د (De Facto) اصطلاح، يانې په واقعي ډول د تبادلې کچې پلي شوي سیستم ترمنځ توپير ته قایل شو او د ۱۹۹۸ میلادي کال د نومبر له میاشتې راهیسې د غړو هېوادونو د تبادلې کچې ډول (De Facto) چاپوي. د ۲۰۱۱ میلادي کال د اپریل میاشتې د راپور له مخې، د پيسو نړۍوال صندوق د ۱۹۰ غړو هېوادونو له ډلې څخه، ۹۲ هېوادونو د

تبادلې ثابته کچه، ۳۲ هېوادونو د تبادلې مختلطې کچې بېلابېل ډولونه او ٦٦ نورو هېوادونو د تبادلې له متحولې کچې څخه ګټه اخیستې ده (۲۲:۲۵۱).
د افغانستان بانک زموږ د ګران هېواد د مرکزي بانک په توګه له تېرو ۱۴ کلونو راهیسې د تبادلې له متحولې مدیریت شوې کچې څخه ګټه پورته کوي او د خپل اسعاري سیاست د پلي کولو له لارې (البته په غیر مستقیم ډول) د ډالر/افغانۍ د تبادلې کچې لوړوالی تر خپل اغېز لاندې راولي.

## ۱۴: د افغانستان بانک د اسعاري سیاست اغېزې

د افغانستان بانک له اسعاري سیاست څخه په چلښت کې د افغانیو کنټرول او له دې لارې څخه د قیمتونو کچې ټیکاو، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو تبادلې کچې په ځانګړي ډول د ډالر پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې کچې له انحرافاتو څخه د مخنیوي او بالاخره په غیر مستقیم ډول د سوداګرۍ بیلانس تر اغېز لاندې نیولو په موخه ګټه اخلي.
د پیسو پر پړسوب، د تبادلې پر کچې او د سوداګرۍ پر بیلانس باندې د افغانستان بانک د اسعاري سیاست اغېزې په لاندې ډول تر څېړنې او ارزونې لاندې نیسو:

## ۱.۱۴: د پیسو پر پړسوب د اسعاري سیاست اغېزې

د افغانستان بانک له لوري د اسعارو لیلام په مبالغو کې د بدلون په پام کې نیولو او په همدې ډول د پیسو پړسوب د ودې مطالعې له مخې ویلی شو چې ایا د مرکزي بانک اسعاري سیاست (د اسعارو په بازار کې لاسوهنه) په هېواد کې د افغانیو د ثبات (د قیمتونو ټیکاو او استقرار) په برخه کې دا بانک له ټاکل شوو موخو سره سم دی او که نه؟
ګراف: د پیسو پړسوب د ودې او د ډالرو د لیلام په مبالغو کې د تغییر ترمنځ اړیکه.




سرچینه: د افغانستان بانک کلنی راپور او د احصایې مرکزي اداري کالنۍ (د ۱۳۹۲-۱۳۸٦ کلونو ترمنځ).

لکه څرنګه چې په ګراف کې لیدل کېږي، د افغانستان بانک د قیمتونو او د پیسو تیکاو ترلاسه کولو په برخه کې په خپل اسعاري سیاست کې تر ډېره پورې بریالی دی. د ۱۳۸۸-۱۳۸٦ کلونو ترمنځ د پیسو پړسوب ودې او د اسعارو د لیلام په مبالغو کې بدلون په موازي ډول په حرکت کې دي. په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې ډیفلاسیون د دې لامل ګرځېدلی، چې د افغانستان بانک په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې د اسعارو لیلام په چټکۍ سره را کم کړي (منفي ۳۷ سلنه کموالی) چې دې کار په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې د ډیفلاسیون مخه ونیوله. په ۱۳۹۰ هجري لمریز کال کې د اسعارو د لیلام په مبالغو کې ډېر زیاتوالی (نږدې ۳۷ سلنه) د دې لامل شو چې په یاد کال کې د پیسو د پړسوب ودې مخه ونیول شي (۲٦:۸).

په ۱۳۹۱ هجري لمریز کال کې له ډیفلاسیون څخه وېره کېدای شي د دې لامل شوې وي، چې د تېر کال په پرتله په یاد کال کې د افغانستان بانک د اسعارو لیلام تر منفي کچې را کم کړي. په همدې ډول په ۱۳۹۲ هجري لمریز کال کې د اسعارو په لیلام کې زیاتوالي (نږدې ۳۵ سلنه) وکولی شو، چې د تېر کال په پرتله د پیسو پړسوب تر یوه بریده پورې ثابت وساتي.

## ۲.۱۴: د تبادلې پر کچه د اسعاري سیاست اغېزې

د افغانستان بانک د افغانۍ په کورني ارزښت کې د ټیکاو د موخې ترڅنګ، په دویم ګام کې د افغانۍ د بهرني ارزښت ثبات په پام کې نیسي. نو د همدې لپاره د هېواد

مرکزي بانک د تبادلې له مدیریت شوې متحولې کچې سیستم څخه گټه پورته کوي.
د اسعارو په بازار کې د اسعارو د لیلام له لارې د ډالر پر وړاندې د افغانۍ له نه غوښتل شوو او ناوړو نوساناتو څخه مخنیوی کېدی شي. د ډالر پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې کچې تغییراتو او د اسعارو په اندازه کې د تغییراتو په پرتله کولو سره لیدل کېږي، چې ایا د افغانستان بانک د افغانیو د بهرني ارزښت د ټیکاو او ثبات موخې ته د رسېدو په برخه کې بریالی دی او که نه؟
د افغانستان بانک له لوري د اسعارو په بازار کې د ډالرو لیلام په پایله کې د ډالر عرضه زیاتېږي او په دې توگه د ډالر د ارزښت کموالي او د افغانیو د ارزښت لوړوالي لامل گرځي. لکه څرنگه چې په گراف کې هم لیدل کېږي، دا اړیکه د ۱۳۸۷ هجري لمریز کال لپاره تر یوه بریده پورې او د ۱۳۹۱ هجري لمریز کال لپاره په روښانه ډول صدق کوي. د ۱۳۸٦ هجري لمریز کال په پرتله په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د ډالرو لیلام وده کموالی ښیي او دا کموالی په یاد کال کې د ډالرو د ارزښت لوړوالي او د افغانیو د ارزښت کموالي لامل گرځېدلې ده (د تبادلې کچه لوړه شوې ده). په همدې ډول، په ۱۳۹۱ هجري لمریز کال کې د تېر کال په پرتله د افغانستان بانک له لوري د ډالرو لیلام ٦- سلنه کم شوی دی چې د تېر کال په پرتله په یاد کال کې د تبادلې د کچې لوړوالي ( د ډالر د ارزښت لوړوالي او د افغانیو د ارزښت کموالي) لامل گرځېدلی دی. د ۱۳۸۸- ۱۳۹۰ او په ۱۳۹۲ هجري لمریز کلونو په اوږدو کې دا اړیکه برعکس وه. په ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ هجري لمریز کلونو کې له دې سره ـ سره چې د ډالرو په لیلام کې (په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې ان ۳۷- سلنه ) کموالی راغلی، خو بیا هم د ډالر په ارزښت کې کموالی او د افغانیو په ارزښت کې زیاتوالی لیدل کېږي. په ۱۳۹۰ هجري لمریز کال کې له دې سره ـ سره چې د تېر کال په پرتله د ډالرو په لیلام کې ۱۰۵ سلنه زیاتوالی راغلی، خو بیا هم د ډالرو په ارزښت کې زیاتوالی او د افغانیو په ارزښت کې کموالی لیدل کېږي. همدا مطلب په ۱۳۹۲ هجري لمریز کال کې هم صدق کوي. د دې معکوسې اړیکې دلیلونه کېدی شي هغه عوامل وي چې د اسعارو په بازار کې د مرکزي بانک له لاسوهنې څخه پرته، د تبادلې کچه تر اغېز لاندې راولي. لکه څرنگه چې پورته هم یادونه وشوه (پورته ۱

عنوان ولیدل شي)، د اسعارو په بازار کې د مرکزي بانک لاسوهنه او مداخله د اسعارو پر عرضې او تقاضا باندې د پنځو عواملو له ډلې څخه ده او په پایله کې د تبادلې کچې پر تغییراتو باندې یو اغېزمن عامل ګڼل کېږي.




ګراف ۲: د ډالر/افغانۍ تبادلې کچې او د ډالرو لیلام په مبلغ کې تغییر ترمنځ اړیکه.

سرچینه: د افغانستان بانک کلنی راپور او د احصایې مرکزي اداري کالنۍ (د ۱۳۹۲-۱۳۸٦ کلونو ترمنځ).

د پورتنیو اعدادو او ارقامو له څېړنې څخه دا پایله ترلاسه کېږي چې د افغانستان بانک د خپلې موخې لپاره د اسعارو په بازار کې د ډالرو د لیلام له لارې د تبادلې کچې تغییر خپله دویمه موخه ګڼي او لومړنۍ موخه یې د افغانیو د کورني ارزښت ټیکاو ده. له دې سره ـ سره چې په ځینو کلونو کې د ډالر او افغانیو ترمنځ د تبادلې او د ډالرو لیلام مبالغو د ودې ترمنځ معکوسه اړیکه لیدل کېږي، خو بیا هم په بازار کې په لویه پیمانه د ډالرو پلور او د اسعارو په بازار کې کړنو او عملیاتو له لارې د افغانستان بانک په دې بریالی شوی څو د ډالرو او افغانیو د تبادلې په کچه کې له چټکو او شدیدو نوساناتو څخه مخنیوی وکړي.

## ۳.۱۴: د سوداګرۍ پر بیلانس د اسعاري سیاست اغېزې

د افغانستان بانک د ډالرو او افغانیو ترمنځ د تبادلې کچې ټیکاو له لارې غواړي د افغانیو په کورني ارزښت کې ټیکاو وساتي. خو دا چې دا ثبات تر کومه بریده پورې زموږ د ګران هېواد د سوداګرۍ بیلانس د انډول په برخه کې

برخه اخیستی شي، کولی شو چې د تبادلې کچې او د صادراتو او وارداتو حجم د پرتلې له مخې یې ترلاسه کړو.
معمولاً د ملي پیسو د بهرني ارزښت لوړوالی د هېواد د صادراتو کموالي او د وارداتو زیاتوالي لامل گرځي (د سوداګرۍ بیلانس کسر ته میلان) او برعکس د ملي پیسو بهرني ارزښت ټیټوالی د صادراتو زیاتوالی او د وارداتو د کموالي لامل گرځي (د سوداګرۍ بیلانس مازاد ته میلان). لکه څرنګه چې په ۳ ګراف کې لیدل کېږي، د ۱۳۸۷- ۱۳۹۲ (د ۱۳۹۱ کال پرته) هجري لمریز کلونو ترمنځ د تبادلې کچې او د افغانستان سوداګرۍ بیلانس په برخه کې دا اړیکه صدق کوي. د تېر کال په پرتله په ۱۳۸۷هجري لمریز کال کې د افغانیو پر وړاندې د ډالرو ارزښت لوړوالي (د ډالر پر وړاندې د افغانیو ارزښت کموالی)، (د ۴۹.۵۰ نه ۵۱.۷۸ افغانۍ د ډالر پر وړاندې)، د تېر کال په پرتله په یاد کال کې د ۵- سلنه په اندازه د افغانستان د سوداګرۍ بیلانس کسر ودې کموالی لامل گرځېدلی دی.
همدا مطلب د ۱۳۹۲ هجري لمریز کال په برخه کې هم صدق کوي. د تېرو کلونو په پرتله د ۱۳۸۹-۱۳۸۸ هجري لمریز کلونو په اوږدو کې د افغانیو پر وړاندې د ډالرو ارزښت ټیټوالی (د ډالر پر وړاندې د افغانیو ارزښت لوړوالی)، (له ۵۱.۷۸ نه ۴۸.۴۸ او ۴۵.۳۷ افغانۍ د ډالر پر وړاندې) په یادو کلونو کې د افغانستان د سوداګرۍ بیلانس کسر د ودې (په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې د ٦۳ سلنه وده) لامل گرځېدلی دی. د تېر کال په پرتله په ۱۳۹۱ هجري لمریز کال کې د سوداګرۍ بیلانس کسر ودې (د وارداتو زیاتوالی) د زیاتوالي دلیل، له دې سره ـ سره چې په یاد کال کې د ډالر ارزښت لوړ شوی دی (د افغانیو ارزښت کم شوی دی)، د تبادلې له کچې څخه پرته نور عوامل هم وي د بېلګې په توګه: په یاد کال کې د ژمي موسم سوړوالي (په یاد کال کې د غوړو، روغنیاتو او د سون توکو په وارداتو کې ۲۰ سلنه زیاتوالی).

گراف ۳: د افغانیو او ډالرو ترمنځ د تبادلې کچې او د سوداګرۍ د بیلانس کسر ترمنځ اړیکه.




سرچینه: د افغانستان بانک کلنی راپور او د احصایې مرکزي اداري کالنۍ (د ۱۳۹۲-۱۳۸٦ کلونو ترمنځ).

د افغانستان بانک له لوري د افغانیو بهرني ارزښت نسبي ساتل د هېواد د بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې هم مثبتې او هم منفي پایلې له ځان سره لري. ګټه یې دا ده، چې د وارداتي توکو قیمت د تبادلې کچې لویو تغییراتو لامل نه ګرځي او واردوونکی سوداګر، مستهلکین او تولیدوونکي چې په وارداتي توکو تکیه لري، په هغه حالت کې ګټه ترلاسه کولی شي، چې وارداتي انفلاسیون د وارداتي توکو د قیمت نوساناتو لامل نه شي. دې موخې ته د رسېدو منفي اړخ د هېواد صادراتو ته ضربه ورکول دي. ځکه چې په پرتله ییز ډول د افغانیو په بهرني ارزښت کې د ټیکاو (ثبات) ساتل په بهر کې د صادراتي توکو قیمت لوړوي او په بهر کې د صادروونکو د سیالۍ سیمه تنګوي.

په وروستیو کلونو کې د هېواد د وارداتو زیاتوالي او صادراتو کموالي له لویو دلیلونو څخه یو هم کېدای شي چې د افغانستان بانک د اسعاري سیاست له لارې د ډالرو او نورو بهرنیو اسعارو پر وړاندې په پرتله ییز ډول د افغانیو بهرني ارزښت ساتل وي (۲۳:٦۷).

# اووم څپرکی

# د افغانستان بانک د مالي چارو څارنه او د هغې اهمیت

## ۱: د افغانستان بانک د مالي چارو څارنې تاریخچه

د بانکوالۍ قانون له تصویب څخه وروسته او د ۲۰۰۳ میلادي کال په وروستیو کې د افغانستان بانک د مقرراتي مسؤلیتونو ترسره کولو او د هېواد له مالي سیستم څخه د څارنې په موخه د مالي چارو څارنې آمریت جوړ کړ. د بانکوالۍ سکټور د کړنو بشپړتیا او ودې سره په موازي ډول، په تېره یوه لسیزه کې د مالي چارو څارنې څانګې هم د پام وړ وده کړې ده. په ۲۰۰۳ میلادي کال کې د مالي چارو څارنې څانګې ټول ۱۲ کارکوونکي درلودل خو په ورپسې کلونو کې تر وروستي بریده پورې هڅې وشوې څو د کارکوونکو شمېر لوړ شي چې اوسمهال یې شمېر تر ۱۸۰ کسانو رسېږي. له دې سره ـ سره پر لیکه (آنلاین) زدکړې، پوهنیز کاري پروګرامونه، د هېواد دننه او له هیواد څخه بهر د ټولګي زدکړو روزنیز پروګرامونه جوړ شول. یاد روزنیز پروګرامونه تر ډېره پورې د څارنې په مسایلو متمرکز وو چې د مالي څېړنې، د پورونو څېړنې، د نغدوالي مدیریت، قانون او مقررات، د شتمنۍ او پورونو (بدهي) مدیریت او د کمپیوټر زدکړې پروګرامونه پکې وو. د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۸ میلادي کلونو په اوږدو کې د بانکوالۍ قانون او مقررات تصویب او د پلي کېدو وړ وګرځېدل، د بانکونو د راپور ورکولو لپاره بنسټیزې غوښتنې (مطالبې) وټاکل شوې، د سیمې دننه کلنۍ څارنې او له سیمې څخه بهر څلور میاشتنۍ څارنې وشوې، د سیمې دننه څارنې لپاره پالیسۍ او کړنلاره جوړه او له روزنیزو پروګونو سره وړاندې شوه.

د یادولو وړ ده چې په دې وروستیو کې د مالي چارو څارنې له عمومي آمریت سره په خوا کې د اسلامي مالي خدمتونو څارنې او بانکوالۍ په نوم نوی آمریت جوړ شوی دی چې موخه يې د اسلامي مالي خدمتونو او بانکوالۍ پراختیا ده.

## ۲: د مالي چارو څارنې عمومي آمریت دندې او تشکیلاتي جوړښت

د مالي چارو څارنې آمریت اوسنی تشکیلاتي جوړښت له ۱۸۰ بستونو څخه جوړ دی چې په یاد جوړښت کې یو عمومي آمر له درېیو مرستیالانو سره په لاندې ډول په رأس کې موجود وي:

۱: د عمومي څارنې مرستیالي.

۲: د مقرراتي خدمتونو مرستیالي.

۳: د اسلامي بانکوالۍ مرستیالي.

همدارنګه د مالي چارو څارنې عمومي آمریت تر چتر لاندې د سلاکار یو بست او د سیمې دننه د همغږۍ کوونکي یو بست موجود دی.

### ۲.۱: د عمومي څارنې مرستیالي

دا مرستیالي د سیمې د ننه څارنې او له سیمې څخه بهر ارزونې او څېړنې برخې په بر کې نیسي.

**الف: د سیمې دننه برخه:** دا برخه په اتو څارنیزو ډلو (ټیمونو) وېشل شوې ده چې هره ډله یو ډلمشر، یو مرستیال او څلور غړي لري. د څارنې ډلې د خپلو دندو لایحو او مهالوېش له مخې د بانکونو ارزونه او څارنه کوي او بانکونه د هغوی د کړنو څرنګوالي له مخې له ۱ نه تر ۵ درجه بندي کوي. یاده څارنه د پانګې کفایت، د شتمنۍ څرنګوالی، مدیریت، عواید، نغدوالی، د ټکټانې کچې او د اسعارو کچې پر وړاندې حساسیت، د ترهګرۍ تمویل او د پیسو وینځلو ارزونې برخو څارنې په ګډون د بانکي کړنو ټولې برخې په بر کې نیسي.

**ب: له سیمې څخه بهر برخه:** دا برخه له سیمې څخه بهر د ارزونې او څېړنې، محاسبې او راپور ورکولو له برخو څخه جوړه ده چې د محاسبې او راپور

ورکولو برخه یو مدیر، یو مرستیال او څلور غړي لري. په دې برخه کې د بانکونو مالي راپورونه چې په میاشتني او درې میاشتني (ربعوار) ډول د مالي چارو څارنې آمریت ته لېږل کېږي، مرور او د افغانستان بانک له نمونې سره سم عیارېږي. که چېرې سوداګریز بانکونه له غوښتل شوي جوړښت او نمونې سره ناسم راپور ور نه کړي، د اړوند مقررې له مخې جریمه کېږي.

له سیمې څخه بهر د ارزونې او څېړنې برخه له یو مدیر، یو مرستیال او اتو غړو څخه جوړه ده چې د یادو مالي راپورونو ارزونه او څېړنه کوي، د وړاندې شوو اعدادو او ارقامونو له مخې د بانکونو د کړنو له څرنګوالي څخه د عمومي څارنې مرستیالۍ ته راپور ورکوي څو د سیمې دننه د ارزونې په برخه کې ترېنه ګټه واخیستل شي.

## ۲.۲: د مقرراتي خدمتونو مرستیالي

دا مرستیالي له لاندې شپږو برخو څخه جوړه ده:

**۱: د جواز ورکولو برخه:** دا برخه یو مدیر، یو مرستیال او شپږ غړي لري چې مالي بنسټونو ته جوازونه ورکوي. د دې برخې لوېې او عمدې دندې د اړینو لاسوندونو راټولول او ارزول، د جواز له ورکړې څخه مخکې د بانکونو ونډه والو ارزونه، د بانکونو د سوداګریزو پلانونو، پالیسو او کړنلارو ارزول، د څار پلاوي (نظار هیئت)، عامل پلاوي (عامل هیئت) او د تفتیش کمېټې د غړو په ګډون د لوړپوړو غړو منظوري او د مرکو تنظمیول او د اړوند فیسونو او کمیشنونو په ګډون د نورو اړوند چارو ترسره کول دي.

**۲: د ځانګړې څارنې برخه:** د ځانګړې څارنې برخه یو مدیر، یو مرستیال او شپږ غړي لري. وروسته له دې څخه چې بانکونه د هر اړخیزې څارنې له مخې له ۵-۳ درجه بندي شي، یاد راپور د دې برخې له لوري څارل کېږي او له هغې سره سم هغه بانکونه چې سرغړونې کوي، پر وړاندې یې د نغدي جریمې په ګډون تنفیذي او سموونکي ګامونه پورته کوي. په همدې ډول په ځانګړو برخو

کې د اړوندو موضوعاتو د څارلو (پيگيرۍ) په موخه د سيمې دننه څارنه هم کوي.

**۳: د مقرراتو برخه (Regulatory Section):** دا برخه يو مدير، يو مرستيال او څلور غړي لري چې د مالي چارو د څارنې لپاره قانون او مقررات جوړوي.

**۴: د څېړنې او پراختيا برخه (Research and Development Section):**
دا برخه يو مدير، يو مرستيال، دوه غړي او دوه ژباړونکي لري چې د مالي چارو د څارنې لپاره د څېړنې (ريسرچ) په برخه کې کار کوي.

**۵: د ترهگرۍ تمويل او د پيسو وينځلو پر وړاندې د مبارزې برخه (AML/CFT Section):** د بانکي او غير بانکي بنسټونو له دوو برخو څخه جوړه ده او هره برخه يې يو مدير، يو مرستيال او شپږ غړي لري چې د بانکونو، صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو په گډون په نورو مالي بنسټونو کې د پيسو وينځلو کړنې او فعاليتونه ارزوي.

٦: **د برېښنايي پولي بنسټونو برخه (Electronic Money Institutions, EMI):** دا برخه يو مدير، يو مرستيال او څلور غړي لري چې د جواز ورکړه، د لاسوندونو ارزونه او د ټليفون له لارې د پيسو لېږد موضوعاتو ارزونه د دې برخې اړوند دي.

### ۳.۲: د اسلامي بانکوالي مرستيالي

دا مرستيالي له لاندنيو درېيو برخو څخه جوړه ده:

۱: د سيمې دننه د څارنې برخه (On-site Supervision Section).

۲: د سيمې بهر د څارنې برخه (Off-site Supervision Section).

۳: د شريعت له احکامو څخه د پېروۍ برخه.

په پورته درېيو برخو کې د برخې درې مديران، د برخې دوه مرستيالان او پنځه غړي موجود دي او د دود (مروجه) بانکوالۍ په شان د اسلامي بانکوالۍ برخې کړنو ارزونه او څارنه کوي.

د يادولو وړ ده چې د نورو دندو ترڅنګ د افغانستان بانک يوه بنسټيزه او لويه دنده د هغو بانکي مالي بنسټونو او غير بانکي مالي بنسټونو د کړنو څارنه ده چې له افغانستان بانک څخه د کړنو جواز ترلاسه کوي.

دا بنسټونه کېدای شي چې:

- بانکونه.
- د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي.
- صرافان.
- د پيسو برېښنايي بنسټونه او د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونه.
- نور مالي بنسټونه.

(د افغانستان بانک وېبسايټ (Centralbank.gov.af).

## ۳: د څارنې موخه او پېژندنه (تعريف)

د حکومت له لوري په بانکونو او نورو مالي بنسټونو کې د نغدوالي له شتون څخه ډاډ ترلاسه کول، په بانکي کړنو کې د ګواښونو را کمول، په مالي او بانکي سيسټم باندې د خلکو باور لوړول، له امانت ايښودونکو څخه د ساتنې په شان د لويو موخو او بالاخره د هېواد اقتصادي بنسټ پياوړتيا په موخه ګامونه په بر کې نيسي.

(Basel Committee on Banking Supervision) او (د څارنې روزنيز پروګرامونه)

په لنډ ډول، په افغانستان کې د داسې يوه سالم او ثبات لرونکي مالي سيسټم شتون څو بانکونه د دود (مروجه) خدمتونو مالي سيسټم او د اسلامي بانکوالي محصولات د قانون، مقرراتو، پاليسيو، مناسبو کړنلارو او د ښې ادارې (Corporate Governance) له مخې وړاندې کړي، د بانکوالۍ کړنې په روغ او خوندي ډول ترسره کړي او د وګړو امانتونه وساتل شي.

(د مرکزي بانک وېبسايټ (Centralbank.gov.af)).

## ۴: د مالي چارو څارنې اړتیا

د یو سالم مالي او بانکي سیستم او د هېواد په مالي او بانکي سیستم کې د داړې چاپېریال رامنځته کولو، د پیسو په ورکړه کې منځګړیتوب او په همدې ډول د ورکړو او پرداختونو اغېزمن سیستم، پورونو او کریډیټ ته بنه لاسرسی، په اغېزمن ډول د سرچینو ځانګړې کول (تخصیص)، د روزګارتیا کچې لوړول، د ملي عاید زیاتول او بالاخره د اقتصادي ودې په موخه د مالي چارو څارنې ته اړتیا لیدل کېږي. د دې نه شتون کېدای شي برعکس اغېزې ولري او د یو هېواد اقتصادي جوړښت د اغېزمنېدو لامل وګرځي.

دلته اړتیا لیدل کېږي چې له اقتصادي اړخه د بانکونو اهمیت او ونډه د لاندنیو الف او ب انځورونو له مخې تر ارزونې لاندې ونیسو:




الف انځور




ب انځور

## ۱.۴: د سیمې دننه څارنه

د سیمې دننه څارنه د پانګې ارزونه، د شتمنۍ څرنګوالی، د مدیریت اغېزمنتوب، د عوایدو ډول، نغدوالی او د ترهګرۍ تمویل او د پیسو وینځلو برخو په ګډون د بانکي کړنو ټولې بنسټیزې او لویې برخې تر غور او ارزونې لاندې نیسي او د بانک د هر اړخیز وضعیت انځور جوړوي.

**موخه**

د سیمې دننه څارنې موخه د بانکونو هر اړخیز وضعیت ټاکل، د مالوماتو له سالموالي څخه ډاډ ترلاسه کول، د بانک کړنو راپورونه چې د سیمې بهر برخې له لوري په یو میاشتني او درې میاشتني ډول ارزول شوې وي او په ټوله کې له پالیسیو، پربکړو، مقرراتو او قوانینو سره مطابقت کې، د داخلي تفتیش څرنګوالي، د حسابداری سیستم له سالموالي څخه ډاډ ترلاسه کول، د مدیریت کړنې، د کرنلارو، پالیسیو او ګوابنونو مدیریت په پام کې نیولو سره د بانک کړنو او په ټولو حالتونو کې د سالمیت او خوندیتوب په موخه د کیفي او کمي فکتورونو په پام کې نیولو له لارې د بانک د ټولو کړنو ارزول په بر کې نیسي.

**د څارونکي دنده:** د یو څارونکي دنده د موخو ټاکل او د واک لرونکي مسؤل په توګه د معیاري (کیفي) ارزونو ترسره کول، د بانک  د راتلونکي وضعیت په وړاندوینې سره د څارنې د موندنو راپور جوړول او بالاخره د سرغړونو او هغو موندنو له منځه وړلو په برخه کې د سموونکو (اصلاحي) ګامونو وړاندیز چې د سیمې دننه څارنې په اوږدو کې یې ترلاسه کړې دي.

**د سیمې دننه څارنې پروسه**

**له څارنې څخه مخکې چمتووالی:** مخکې له دې چې یوه ډله د سیمې دننه څارنه وکړي، ډلمشر د لاندې مواردو په ترسره کولو اړ دی:

- د څارنې مخکښني راپور لوستل.
- د مخکښني کاري لاسوندونو لوستل.
- د بهرني تفتیش راپور لوستل.
- د ستونزو او تمرکز وړ برخو پېژندل.
- د څارنې کاري دایرې ټاکل.
- د دندو ټاکل او د لارښوونو/مسؤلیتونو تفکیک.

- د سیمې دننه څارنې لپاره د مهالوېش جوړول.

**د سیمې دننه څارنه**

له چمتووالي څخه وروسته د سیمې دننه څارنه پیلېږي. د بانک د رهبرۍ له پلاوي سره د څارنې ډلې راتګ موخې او د لنډو یادونو او له تشریفاتي لیدنې څخه وروسته، کار په رسمي ډول پیل او له نورو برخو څخه د معلوماتو راټولول، د تجزیې او ارزونې پروسه او پایلې ترسره کېږي.

د یادولو وړ ده چې سیمې یا ساحې ته تلل د پالیسیو، پرېکړو، له قوانینو سره د سمون او تطابق، د تفتیش پروګرام څرنګوالي (دننه/داخلي او بهرنی تفتیش)، د پالیسیو او کنټرول څرنګوالي، د تصدیق/کنټرول او بالاخره د پانګې کفایت (د پانګې لږ تر لږه اړتیا، له ګواښ څخه ډکې تګلارې، معیاري او مقداري فکټورونه)، د شتمنۍ څرنګوالي (سرغړونې، د پورونو نه زیاتوالی، د پورونو ډلبندي، د پورونو تمرکز، د شتمنیو د زیان جبران څرنګوالی)، د لارښوونې او رهبرۍ اغېزمنتوب (تجربه، د لید ژوروالی، ځایناستي، پالیسۍ او سیستمونه، پلان جوړونه، بانکي روزنه او د بانک هر اړخیز وضعیت)، د عوایدو څرنګوالی (سالمیت، تړلتیا یا پیوستګي، د لګښتونو کنټرول او د بودیجې تنظیم)، نغدوالی (د شتمنۍ/پورونه (بدهي) مدیریت، پالیسۍ او کړنلارې، د پیسو ترلاسه کولو سرچینو ډاډ او احتمالي پلان جوړول) په پام کې نیولو سره د بانک هر اړخیز وضعیت ټاکلو په موخه ترسره کېږي.

**د سیمې دننه څارنې څخه وروسته**

د څارنې ډله مجبوره ده چې د ډلې ټولې موندنې د راپور ورکولو د فورم له نمونې سره سم منظم او یو ځای کړي. د راپور له وروستي کولو څخه وړاندې د بانک له مدیریت څخه غوښتنه کوي څو د وتلو ناسته (Exit Meeting) جوړه او د سیمې دننه څارنې په اوږدو کې یادې موندنې د بانک د لارښوونې له (رهبرۍ) پلاوي سره تر بحث لاندې نیسي. د څارنې ډلې موندنو په اړه د بانک

د لارښوونې پلاوي د نه قناعت په صورت کې له بانک څخه اړین او ملاتړي لاسوندونه غوښتل کېږي چې د بانک له لوري د هغوی وړاندې کولو او د څارنې ډلې قناعت له ترلاسه کولو څخه وروسته یاد موارد له راپور څخه لیرې کېږي خو د اړینو او ملاتړو لاسوندونو نه وړاندې کولو په صورت کې په راپور کې پاتې کېږي.

د وروستۍ او یا هم د وتلو له ناستې (Exit Meeting) څخه وروسته د څارنې راپور له وړاندیزونو سره وروستۍ کېږي او د مرکزي بانک د واک لرونکو چارواکو له تایید څخه وروسته اړوند بانک ته د سموونکو ګامونو اخیستلو په موخه لېږل کېږي.

## ۲.۴: له سیمې څخه بهر څارنه

له سیمې څځه بهر څارنه د بانکونو بیلانس شیټونو، ګټې او زیان حسابونو، د پورونو ډلبندي، د اسعارو پرانیستي وضعیت او د نورو راپورونو په ګډون هغه ټول راپورونه چې د هېواد بانکوالۍ قانون او اړوندو مقرراتو له مخې د مالي بنسټونو له لوري په میاشتني او درې میاشتني ډول اړوند برخې ته لېږل کېږي، تر څېړنې او ارزونې لاندې نیسي څو مالومه کړي چې یاد راپورونه د راپور ورکولو د منځپانګو (محتویاتو) او په همدې ډول د اړوند برخې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره جوړ شوي دي او که نه؟. همدارنګه د وړاندې شوو ارقامو په پام کې نیولو سره د بانکونو او مالي بنسټونو د کړنو څرنګوالي راپور د عمومي څارنې مرستیالۍ ته وړاندې کوي څو د سیمې په دننه ارزونه کې ترېنه ګټه واخیستل شي.

### سموونکي/اصلاحي پروګرامونه

له سموونکو پروګرامونو څخه موخه د څارنې هغو موندنو او پایلو ته د اړینې رسېدګۍ په برخه کې ډاډ ترلاسه کول دي د سیمې دننه څارنې په اوږدو کې پېژندل شوي دي.

سموونکي ګامونه په دوو برخو وېشل کېږي:

**۱: غیر رسمي سموونکي/اصلاحي ګامونه:** هغه ګامونه دي چې په قانوني ډول د پلي کېدو وړ نه دي، تر ډېره پورې د وړو او منځنيو کمزورو ټکو له منځه وړلو په موخه کارول کېږي او معمولاً لاندې موارد په بر کې نیسي:

- د څارنې د راپور وړاندیزونه.
- بانک ته ځانګړي وړاندیزونه.
- کنټرول، په ځانګړي ډول د سمووونکو ګامونو د پلي کولو په برخه کې.

**۲: رسمي سمووونکي/تنفیذي ګامونه:** د قانوني ورکړل شوو واکونو له مخې، د کوچنیو، منځنیو او لویو کمزوریو د له منځه وړلو په موخه کارول کېږي. دا په دې مانا کله چې د بانک مدیریت د افغانستان بانک قانون او مقرراتو پلي کولو په برخه کې مرستندوی نه وي، نو له دې ګامونو څخه ګټه اخیستل کېږي چې لاندې سمووونکي ګامونه په بر کې نیسي:

- سمووونکي وړاندیزونه/ګامونه.
- د لارښوونې پلاوي (د رهبرۍ هیئت) لیرې کول.
- د ناغو او جریمو تاکل.
- د جواز لغوه کول/منحلول.
- نور تنفیذي واکونه چې د بانکوالي په قانون کې ترېنه یادونه شوې ده.

## ۵: بانک د ګواښ مدیریت (Risk Management) له پلوه

### ۱.۵: د بانک درجه بندۍ سیسټم:

**موخه**

د بانکونو درجه بندي تر ډېره پورې د ګواښ (خطر) له مخې کېږي. په بانکي سیسټم کې د ګواښ مدیریت او اندازه کولو یوې طریقې رامنځته کول او

همدارنګه د لویو ګوابښونو لپاره د څارنې اغېزمنو سرچینو ځانګړي کول، د یادې موضوع له لویو او عمده موخو څخه شمېرل کېږي.

**پېژندنې**

- د «۱» درجې لرونکی بانک د لوړ کیفیت لرونکی دی.
- «۲» درجې لرونکی بانک سالم او لږ ګوابښ سره مخ دی.
- د «۳» درجې لرونکی بانک په پرتله ییز ډول د کمزورو برخو لرونکی دی چې زیان رامنځته کولی شي او سمون ته اړتیا لري.
- د «۴» درجې لرونکی بانک چې په اسانۍ سره پېژندل کېږي او جدي ستونزې لري.
- د «۵» درجې لرونکی بانک دېوالي شوی وي او یا هم داسې انګېرل کېږي چې په لنډ وخت کې به دېوالي شي.

(Basel Committee on Banking Supervision) او (د څارنې روزنیز پروګرامونه)

**د مالي ادارو او بنسټونو لپاره د درجه بندۍ واحد سیستم (CAMELS)**

CAMELS د څارنې درجه بندۍ یو سیستم دی چې په لومړي ځل د امریکا په متحده ایالتونو کې رامنځته شوی دی چې له مخې یې د بانکونو هر اړخیز وضعیت درجه بندي کېږي. د سیمې دننه څارنې په مرسته د بانکونو درجه بندي د کمي او کیفي (مقداري او معیاري) څېړنې او ارزونې له مخې ترسره کېږي او د څارنې د یوه تنظیم کوونکي بنسټ له لوري د بانک هر اړخیز وضعیت ټاکل کېږي.

(https://www.Nabard.org/content1.aspx?id=523&catid=8&mid=4

(Basel Committee on Banking Supervision) او 90)

د درجه بندۍ برخې په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نيول کېږي:

| شمېره | د کیمل برخه | درجه بندۍ برخه | مانا |
|---|---|---|---|
| ۱ | C | پانګه (Capital) | د پانګې کفایت |
| ۲ | A | شتمني (Asset) | د شتمنۍ څرنګوالی |
| ۳ | M | مدیریت (Management) | د رهبرۍ اغېزمنتوب |
| ۴ | E | عاید (Earning) | د عاید څرنګوالی |
| ۵ | L | نغدوالی (Liqudity) | نغدوالی |
| ٦ | S | حساسیت (Sensitivity) | د بازار ګوابښ په ځانګړي ډول د بهرې د کچې ګوابښ پر وړاندې حساسیت |

پورته هره برخه له «۱» تر «۵» پورې درجه بندي کېږي چې «۱» درجه تر ټولو ښه او «۵» درجه تر ټولو کمزورې او خرابه درجه ده.

د یادولو وړ ده چې شپږمه برخه چې د بازار ګوابښ په ځانګړي ډول د بهرې کچې ګوابښ پر وړاندې حساسیت ده، اوسمهال په هېواد کې د قیمتي پاڼو او د ونډو فعال بازار د نه موجودیت له لامله نه کارول کېږي.

د بېلګې په توګه: داسې ګڼو چې الف بانک د کیمل د لاندې برخو له مخې درجه بندي شوی دی:

C A M E L

۲ ۳ ۲ ۲ ۱

نو ټولیزه (مرکبه) درجه بندي چې له «۱» تر «۵» پورې ده، (۲) وي. خو اوسمهال تر ډېره پورې د رهبرۍ په اغېزمنتوب تمرکز کېږي. ځکه چې د

مدیریت وندېه د بانکونو د کړنو پراختیا په ځانګړي ډول د کیمل په نورو برخو باندې خورا اغېز لرونکي او له ډېر اهمیت څخه برخمنه ده.
د کیمل درجه بندۍ په سیستم کې مالي بنسټونه د هغوی مرکبې درجه بندۍ له مخې له ۵-۱ پورې په لاندې ډول هم کولی شو:

| | |
|---|---|
| • ۱ درجه بانک = ځواکمن او قوي بانک | |
| • ۲ درجه بانک = ډاډمن بانک | |
| • ۳ درجه بانک = وړ او مناسب- جزوي | اندېښنه (سموونکي/اصلاحي ګامونه) |
| • ۴ درجه بانک= ډاډ نه لرونکی بانک ګامونه) | شدیده څارنه (سموونکي تنفیذي |
| • ۵ درجه بانک= پاتې یا دېوالي شوی بانک | د دېوالي کېدو په لور تلونکی. |

د کیمل هره برخه لږ تر لږه د لاندې مواردو د تجزیې او څېړنې له مخې درجه بندي کېږي:

## ۲.۵: د پانګې کفایت (Capital Adequacy):

پانګه د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره درجه بندي کېږي:

- د ګوانښ ډکو شتمنیو حجم.
- د شتمنۍ/پانګې د ټیټ کیفیت کچه.
- د بانک د ودې، پلانونو او لید لوري څرګوالی.
- د رهبرۍ او مدیریت ځواکمنتیا.
- د هم رتبه پر وړاندې د پانګې نسبتونه.
- د عوایدو ساتنه او نه وېش.
- د پانګې بازار او یا هم نورو مالي مرستندویه سرچینو ته لاسرسی.
- د لږ تر لږه پانګې له اړتیا سره تطابق.

**د پانگې کفایت مقداري (کمي) فکټورونه:**

له مقداري پلوه پانګه د لاندې مواردو له مخې ارزول کېږي:

- د پانګې بنسټیز/اساسي نسبتونه.

الف: د پانګې/شتمنۍ د ودې نسبت.

ب: پورونه (بدهي)/پانګه.

ج: مقرراتي پانګه/د ګواښ له مخې وزن شوې شتمنۍ نسبت.

د: بنسټیزه پانګه (د لومړۍ ستنې پانګه)/د ګواښ له مخې وزن شوې شتمنۍ نسبت.

**د پانګې کفایت معیاري (کیفي) فکټورونه:**

هغه معیاري فکټورونه چې له پانګې سره تړاو لري، په لاندې ډول دي:

- د رهبرۍ او مدیریت څرنګوالی.
- د ساتل شوي عاید تاریخچه او میلان (Trend).
- د عوایدو څرنګوالی.
- د ثابتو شتمنیو د پانګونې وړتیا.
- د پورونو (بدهي) جوړښت د بدلون وړتیا.
- د کړنو او عملیاتو کړنلارو څرنګوالی.
- د بانک وړتیا چې وکولی شي خپلې اوسنۍ او راتلونکې اړتیاوې ترلاسه او حل کړي.

(Basel Committee on Banking Supervision) او (د څارنې روزنیز پروګرامونه)

## ۳.۵: د شتمنۍ څرنګوالی (Asset Quality)

د بانک پورونه چې د شتمنۍ لویه او مهمه برخه جوړوي، له کمي او کیفي اړخه په لاندې پنځو برخو ډلبندي کېږي:

| شمېره | ډلبندي(Classification) | له کمي اړخه د ورځو سرغړونه | د زیان جبران زیرمې سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | معیاري (Standard) | ۱-۳۰ | ۱٪ (اختیاري) |
| ۲ | تحت النظر (Watch) | ۳۱-۶۰ | ٪۵ |
| ۳ | تحت المعیار-Sub) Standard) | ۶۱-۱۲۰ | ٪۲۵ |
| ۴ | مشکوک (Doubtful) | ۱۲۱-۴۸۰ | ٪۵۰ |
| ۵ | زیان (Loss) | ۴۸۱- یا ډېرې ورځې | ٪۱۰۰ |

د یادولو وړ ده چې له کمي فکتورونو سره په خوا کې، د شتمنیو (پورونو) د ډلبندي په برخه کې نور کیفي عوامل هم ډېر اهمیت لري چې د هغوی د څېړنې او ارزونې له مخې، کولی شو د شتمنیو (پورونو) سم او دقیق وضعیت په ډاګه کړو.

همدارنګه د افغانستان بانک د شتمنیو ډلبندۍ مقررې له مخې د پور اصل مبلغ او ټکتانې نه ورکړې او د ورځو یا میعاد سرغړونې په پام کې نیولو سره کوچنیو پورونو ډلبندي د لویو پورونو له ډلبندۍ سره چې په پورته ترېنه یادونه وشوه، توپیر لري.

د کوچنیو پورونو ډلبندي په لاندې جدول کې ښکاره کېږي:

| شمېره | ډلبندي(Classification) | له کمي اړخه د ورځو سرغړونه | د زیان جبران زیرمې سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | معیاري (Standard) | ۱-۳۰ | ۱٪ اختیاري |
| ۲ | تحت النظر (Watch) | ۳۱-۶۰ | ٪۵ |
| ۳ | تحت المعیار-Sub) Standard) | ۶۱-۹۰ | ٪۲۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴ | مشکوک (Doubtful) | ۹۱-۱۸۰ | ٪۵۰ |
| ۵ | زیان (Loss) | ۱۸۱ نه ډېرې ورځې | ٪۱۰۰ |

**۱: معیاري (Standard) ډلبندي:** هغه شتمني (پور) چې په منظم ډول پرداخت کېږي او د پوروړي نغده جریان (د پور ورکړې وړتیا)، نغدوالي، گټې، سوچه او خالص ارزښت له مخې حمایه کېږي. د پوروړي مدیریت تر ډېره پورې په پام کې نیول کېږي، پوروړی باثباته او په کاروبار کې ځواکمن گڼل کېږي او متناوبې پانگونې ته چټک لاسرسی لري. د پور د اصل او ټکټانې ورکړې له مخې د معیاري شتمنۍ (پورونه) په بشپړ ډول تضمین شوی وي.

**۲: تحت النظر (Watch) ډلبندي:** تحت النظر شتمني تر ډېره پورې خوندي وي، خو د کمزورۍ احتمال پکې لیدل کېږي. په همدې ډول دا ډول پورونه له هیلې لیرې اعتباري گواښ ښکاره کوي خو نه په هغه ډول چې د تحت المعیار په پورونو کې لیدل لري. اعتباري گواښ تر ډېره پورې لږ وي او د بانک مدیریت کولی شي چې یادې نیمگړتیاوې او گواښونه له منځه یوسي.

**۳: تحت المعیار (Sub-Standard) ډلبندي:** هغه شتمني چې په دې کټگورۍ کې ډلبندي کېږي، د پوروړي د ورکړې وړتیا او د پانگې له کافي خالص ارزښت او یا هم د تضمین له ملاتړ څخه برخمن نه وي. په دې ډول شتمنیو کې لږ تر لږه یوه ښکاره کمزوري لیدل کېږي چې د ټول پور بیا ورکړه له گواښ سره مخ کوي. د دې ډول پورونو ځانگړتیا دا ده چې د یادو نیمگړتیاوو د نه له منځه وړلو په صورت کې قوي احتمال شته چې بانک له زیان سره مخ شي.

**۴: مشکوک (Doubtful) ډلبندي:** یوه مشکوکه شتمني د تحت المعیار کټگورۍ ټولې کمزورۍ لري. سربېره پر دې د جاري ارزښتونو شرایطو په پام کې نیولو سره د ټول پور بیا ترلاسه کول په شدید ډول تر پوښتنې لاندې

راځي. له دې سره ـ سره چې د تاخیري فکټورونو له لامله د زیان احتمال تر ډېره پورې څرګند وي، خو بیا هم  د دې ډلبندۍ وړاندویل شوی زیان په واقعي ډول د هغه رامنځته کېدو پورې، ځنډول کېږي. د دې ډول ځنډوونکو فکټورونو بېلګې ادغام، اکتساب، د پانګې مجدد جوړښت، د تضمین نوو پلانونو جوړولو او یا هم معقولې تمویلي چارې دي، خو یوازې په دې پورې هم تړلې نه دي.

**۵: د زیان ډلبندي (Loss):** د دې ډلبندۍ پورونه د ترلاسه کېدو وړ نه وي او تر هغه بریده پورې کم ارزښته دي چې د یوې شتمنۍ په توګه یې یادول هم مجوز نه وي. د زیان ډلبندي په مطلق ډول د نه ترلاسه کېدونکي پور په مانا هم نه ده، له دې سره ـ سره چې په راتلونکي کې یې د ترلاسه کېدو احتمال شته، خو د داسې بې اررښته شتمنۍ د حذف او لیرې کولو په برخه کې ځنډ یو نامطلوب یا نه عملي کېدونکی ګام ګڼل کېږي.

شتمنۍ د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره ارزول کېږي:

- د ډلبندي شوو شتمنیو شدت، وېش او کچه.
- د غیر سنجشي شتمنیو کچه.
- د زیان جبران لپاره د زیرمو کفایت.
- له ستونزو سره مخ پورونو راټولولو او مدیریت په برخه کې د رهبرۍ وړتیا.
- د پانګونې او پورونو تمرکز.
- د ډلبندي شوو شتمنیو حجم او ډول.
- د پور ورکولو پالیسۍ او د پورونو مدیریت کړنلارو کفایت.

**ډېر اړین او مهم نسبتونه**

**ډلبندي شوې شتمنۍ (Classified Assets)/ټوله پانګه**

یاد تناسب له یوې خوا د بانک پانګې او د کمزورو کیفیت لرونکو شتمنیو ترمنځ اړیکه په ګوته کوي او له بلې خوا په راتلونکي او یا هم بالقوه زیانونو جذب کولو لپاره د پانګې وړتیا هم په ګوته کوي.

**ډلبندي شوې شتمنۍ/ټولې شتمنۍ**

یاد تناسب د کمزوري کیفیت لرونکي شتمنیو کچه، په بانک کې د شتمنیو د څرنګوالي عمومي ګواښ (خطر) او په همدې ډول له کمزوري کیفیت لرونکو شتمنیو څخه رامنځته کېدونکي زیانونو په برخه کې د قوت موجودیت ښکاره کوي.

د څارنې له اړخه ځینې بنسټیزې او اساسي پوښتنې شته چې یو څارونکی د سیمې دننه څارنې په اوږدو کې چې د بانک د شتمنیو څرنګوالي برخه ارزوي، باید په پام کې ولري چې په لاندې ډول دي:

- ایا پورونه (Loans) په ښه او مناسب ډول وده کوي؟
- ایا د پورونو زیان زیرمه کافي ده؟
- ایا عواید کولی شي چې د زیان جبران زیرمه (Loan Loss Reserve) تر پوښښ لاندې راولي؟
- د پورونو څومره برخه غیر سنجشي (Non Accrual) پورونه دي؟
- او داسې نور.

**هغه لوی ګواښونه چې د شتمنۍ څرنګوالی تر اغېز لاندې راولي، په لاندې ډول دي:**

- نوو جوړو شوو شرکتونو ته د پورونو ورکړه.
- د پانګې او پورونو تناسب په پام کې نیولو سره شرکتونو ته د پورونو ورکړه.

- هغو شرکتونو ته د پورونو ورکړه چې په بازار کې د وړتیا او سیالۍ ونډه له لاسه ورکوي؛
- هغو شرکتونو ته د پورونو ورکړه چې د اقتصادي نوسانونو پر وړاندې زیان منونکي وي.
- د مناسبې او یا هم د 5Cs له څېړنې څخه پرته د پورونو ورکړه او یا هم له پورونو څخه څارنه او مراقبت.
- له کافي لاسوندونو (اسنادو) څخه پرته د پورونو ورکړه.
- د ټکټانې ثابتې کچې (Fixed Interest Rate) له مخې د پورونو ورکړه.
- په یوه سکټور کې، یوې ځانګړې پوروړې/ډلې او یا هم خپلمنځي تړاو لرونکو کسانو ته د پورونو تمرکز.

**۴.۵: له ستونزو سره مخ پورونو (Problematic Loans) پېژندنه**

دا ډول پورونه لاندې نښې او ځانګړتیاوې لري:

- د ګټې او زیان راپور په وړاندې کولو کې ځنډ.
- له هوکړه لیک څخه په پرله پسې ډول سرغړونه.
- له بانک څخه واټن اخیستل او یا هم د اړیکې پرې کول.
- د پوروړي مخ په ځوړ اقتصاد.

**٦: د رهبرۍ او مدیریت اغېزمنتوب (Management Efficiency):**

د بانک مدیریت د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره درجه بندي کېږي:

- تخنیکي واکونه (صلاحیتونه).
- د رهبرۍ او مدیریت وړتیا/د مدیریت کفایت.
- د قانون او مقرراتو په پام کې نیول او پلي کول.
- د پلان جوړونې وړتیا او د بدلون په حال کې د چاپېریال پر وړاندې د غبرګون ښکاره کولو وړتیا.

- د داخلي پالیسیو په پام کې نیولو او کفایت.
- عمق او وراثت (ځایناستي).
- د داخلي کنټرول څرنګوالی.
- د عملیاتي طرزالعملونو څرنګوالی.
- عملیاتي پالیسي، پانګونې او پور ورکولو څرنګوالی.
- د مشرانو او مدیرانو مشارکت او همغږي.
- د سالمو او خوندي حدودو له مخې د پانګې کفایت، د شتمنۍ څرنګوالي، د عوایدو او نغدوالي ارزونه.
- د خپلې خوښې (خود غرضانه) راکړو ـ ورکړو په لوري تمایلات.
- د داخلي تفتیش مناسبو پروګرامونو او کارکوونکو موجودیت.

**د لوړپوړي مدیریت لوی مسؤلیتونه:**

د بانک لوړپوړی پلاوی د ورځنیو چارو پرمخ بېولو او له اجرایوي مسؤلیتونو سره په خوا کې، د لاندې مسؤلیتونو په ترسره کولو هم اړ دی:

- د پالیسیو جوړول، پلي کول او بیا کتنه.
- د بانک د هر اړخیز وضعیت کنټرول.
- د عوایدو لوړول.
- د شتمنۍ/بدهي له سم جوړښت څخه ډاډ ترلاسه کول.
- د ځایناستي پراختیا او انکشاف.
- د راتلونکو موخو پېژندنه.

## ۱.۶: عواید (Earning)

عواید د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره درجه بندي کېږي:

- د زیانونو جبران وړتیا او د زیرمو (Provisions) جوړول.
- د ورته یا هم له ردیف ګروپ سره پرتله.
- د خالص عاید جوړښت او څرنګوالی.
- د ټکټانې پر وړاندې حساسو پیسو (وجوه) باندې د تکیې درجه.
- د ونډې ګټې (Dividends) وېش تناسب.
- د ساتل شوي عاید (Retained Earning) د ودې څرنګوالی.
- د بانک د پانګې څرنګوالی.

**د عاید څرنګوالي اندازه ګیري**

د عاید څرنګوالی د لاندې فکټورونو له مخې اندازه کېږي:

- د جاري عوایدو جوړښت (د جاري عوایدو پر وړاندې غیر جاري عواید).
- ګټه/زیان.
- د پورونو او امانتونو ټاکل شوې ټکټانې کچه.

## ۲.۶: نغدوالی (Liquidity)

پېژندنه: د امانت ایښودونکو او نورو پوروړو او بدهکارانو پر وړاندې د بانک له لوري د پیسو ورکړې وړتیا او ځواک او په همدې ډول د نورو پورونو ورکړې لپاره په کافي اندازه د پیسو له موجودیت څخه عبارت دی چې د بانک د ټولیزو پورونو او پانګونو د زیاتوالي لامل ګرځي.

یو بانک هغه وخت له کافي نغدوالي څخه برخمن وي چې د امانتونو له زیاتوالي څخه په کافي اندازه پیسې ترلاسه کړي. یا هم دا چې له ځنډ څخه پرته شتمنۍ تبدیلې او پانګونه وکړي او ښه عواید ترلاسه کړي.

نغدوالی د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره درجه بندي کېږي:

- د امانتونو ژر له لاسه ورکول (مفریت).
- د پور اخیستو کچه او تکرار.
- د بیلانس شیټ د جوړښت (ترکیب) او د بانک رهبرۍ لپاره د مدیریت تخنیکي وړتیا.
- د داسې شتمنیو په لاس کې لرل چې په اسانۍ سره په نغدو پیسو اوړي.
- د پیسو بازار او د پیسو نورو سرچینو ته لاسرسی.
- د شتمنیو/بدهي اغېزمنتوب.
- د مدیریت تګلارې.
- د نغدوالي پالیسیو تطابق او کفایت.
- د پورونو ځانګړتیا او حجم

**د بانکونو د نغدوالي ستونزه له منځه وړل**

بانکونه کولی شي چې د خپل نغدوالي ستونزه په لاندې ډول له منځه یوسي:

- د نغدو شتمنیو یوې برخې پلورل.
- د پور ترلاسه کول.
- د لنډمهاله امانتونو زیاتوالی.
- د غیر نغده شتمنیو پلورل.
- د اوږدمهاله پورونو زیاتول.
- د پانګې زیاتوالی (Surplus).

**هغه فکتورونه چې د بانک نغدوالی تر اغېزې لاندې راولي، په لاندې ډول دي:**

- په عواید کې کموالی.
- په ځوړندو او غیر فعالو شتمنیو کې زیاتوالی.
- په امانتونو (Deposits) کې تمرکز.
- د کاروبار د پراخېدو موکې.
- نوي مالیاتي ګامونه.

### د نغدوالي کفايت تاکل

د نغدوالي کفايت د لاندې مواردو له مخې ټاکل کېږي:

- د پیسو د ورکړې تاريخي اړتياوې.
- د نغدوالي اوسنی حالت.
- په راتلونکو کې پیسو ته اړتيا.
- د پیسو سرچينې.
- د اضافي پيسو د ترلاسه کولو او يا هم د مالي اړتياوو د کمولو غوراوی.

(Basel Committee on Banking Supervision) او (د خارنې روزنيز پروګرامونه) اخيستنې

- .Basel Committee on Banking Supervision
- د شتمنيو د ډلبندۍ مقرره.
- د مرکزي بانک وېبسايټ (Centralbank.gov.af).
- (https://www.Nabard.org/content1.aspx?id=523&catid=8&mid=490)
- د خارنې روزنيز پروګرامونه.

## د اخیستنو لیکلړ


۱: اسد، محمد نعیم، (۱۳۹۰)، علم اقتصاد تصدی بانکی، دهکده چاپ

۲: اکبر، تاج محمد، (۱۳۹۱)، مبادي اقتصاد ملي، کابل، مطبعه نوري

۳: احمد، مولود، (۱۳۸۳)، پول ارز و بانکداری، همدان، نشر نور علم

۴: بهمن پور، حمید مشیری سعید، (۱۳۹۰)، اقتصاد پول و بانکداری، تهران، ایران

۵: دیزج، هاشمي، (۱۳۸٦)، پول ارز و بانکداری، چاپ دوم، اندیشه

٦: د افغانستان بانک، (۱۳۹٦)، گزارش کارکردها و دست آوردهای د افغانستان بانک

۷: د افغانستان بانک، (۱۳۹۵)، راپور سالانه

۸: د افغانستان بانک، (۱۳۹۸)، معلومات آمریت عمومی سیاست پولی

۹: د افغانستان بانک، (۱۳۹۸)، معلومات آمریت عمومی عملیات بانکی

۱۰: سیار، فیاض احمد، (۱۳۹۷)، کنفرانس علمی کابل

۱۱: شعیبی، حمد جاوید، (۱۳۹۰)، ارزیابی سیاست های پولی در افغانستان، کابل، مطبعه پیام

۱۲: شبان، محمد انور و اسد، محمد نعیم، (۱۹۹٦)، اقتصاد بین المللی

۱۳: طبیبیان، محمد، (۱۳۹۰)، اقتصاد کلان، تهران، انتشارات بازتاب

۱۴: عارف ، عبدالقیوم، (۱۳۹۵)، مدیریت در سیستم بانکی، کابل، مطبعه کاروان

۱۵: فرجی، یوسف، (۱۳۸٦)، پول ارز و بانکداری، ایران

۱٦: فراهانی، مجتبی زمانی، (۱۳۹۱)، پول ارز و بانکداری، چاپ ترمه

۱۷: کوپر، جورج، (۱۳۹۰)، ریشه بحران مالی، تهران

۱۸: کیومرث، آریا، (۱۳۹۵)، سیاست های پولی و مالی، تهران، پردیس دانش

۱۹: گهری، عبدالروف، (۱۳۹۵)، ارزیابی امکانات تطبیق سیاست های پولی با مثال افغانستان
۲۰: منکیو، گریگوری، (۱۳۸۷)، مبانی علم اقتصاد، ترجمه ارباب تهران
۲۱: نور عباد، حمیدالله، (۱۳۹۲)، سیاست اسعاری د افغانستان بانک، مجله علمی اقتصاد
۲۲: نور عباد، حمیدالله، (۱۳۹۲)، مباحثی از برنامه ماستری اقتصاد کابل، دهکده چاپ
۲۳: نور عباد، حمیدالله (۱۳۹۲)، کسر بیلانس تجارت افغانستان در دهه اخیر، مجله علمی پوهنتون کابل
۲۴: وزارت عدلیه، (۱۳۸۲)، د افغانستان بانکداری قانون
۲۵: وزارت عدلیه، (۱۳۸۲)، د افغانستان بانک قانون
۲٦: هایدی ماندانس اسکونر، (۱۳۹۰)، نظارت جهانی بانکها، ایران

# غير طبي چاپ شوي کتابونه (زراعت، انجنيري، اقتصاد، ښوونې او روزنې، ساينس او ژورناليزم) ۲۰۲۱-۲۰۱۵

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عمومي رياضيات | پوهنوال گل محمد جنت زی | خوست | 2 | د عالي رياضياتو عمومي کورس | پوهندوی محب الرحمن جنتي | ننگرهار |
| 3 | عالي کلکولس I، A 434 رياضي | پوهندوی حميدالله يار | ننگرهار | 4 | عالي کلکولس II | پوهندوی نظر محمد | ننگرهار |
| 5 | د نفوسو جغرافيه | پوهنوال لطف الله صافي | ننگرهار | 6 | فزيکی کيميا II، الکتروليتی محلولونه او الکتروکيميا | پوهاند دوکتور خير محمد ماموند | ننگرهار |
| 7 | فزيکی کيميا III، کيمياوی کنتک او کتلسس، کروماتوگرافي او اسپکتروسکوپي | پوهاند دوکتور خير محمد ماموند | ننگرهار | 8 | د ژويو فزيولوژي | پوهاند غنچه گل حبيب صافی | ننگرهار |
| 9 | د ودانيو د تودولو تخنيک، لومړی برخه، د سون تخنيک | داکتر غلام فاروق مير احمدی | ننگرهار | 10 | د متيورولوژی مبادی | پوهنوال عبدالغياث صافی | ننگرهار |
| 11 | معيار های جديد اعمار ساختمان | داکتر انجنير محمد عمر تيموری | ننگرهار | 12 | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهايشی | داکتر انجنير محمد عمر تيموری | ننگرهار |
| 13 | الجبر او د عددونو تيوری، لومړی برخه | سطان احمد نيازمن | ننگرهار | 14 | د ژوند چاپيريال | پوهاند عارف الله مندوزی | ننگرهار |
| 15 | د اوسپيز کانکرېټي عناصرو د لومړی صنفي کار متوديکي لارښود | پوهندوی انجنير عبادالرحمن مومند | ننگرهار | 16 | جامداتو ميخانيک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| 17 | عضوی کيميا، کړيوال ترکيبونه | پوهاند دوکتور محمد غوث حکيمی | ننگرهار | 18 | د ودانيو د جوړولو مهندسي اساسات، لومړی ټوک | ديپلوم انجينېر اسدالله ملکزی | ننگرهار |
| 19 | د ودانيو د جوړولو مهندسي اساسات، دويم ټوک | ديپلوم انجينېر اسدالله ملکزی | ننگرهار | 20 | کيميايي عنصرونه، لومړی ټوک | محمد طاهر کاښي | ننگرهار |
| 21 | کيميايي عنصرونه دويم ټوک | محمد طاهر کاښي | ننگرهار | 22 | د اقتصاد او تجارت اصطلاحات (انگليسی-پښتو تشريحی قاموس) | پوهنيار عبدالله عادل او امان الله ورين | ننگرهار |
| 23 | خطي الجبر | داکتر عبدالله مهمند | ننگرهار | 24 | روانشناسی و ضرورت آن در جامعۀ افغانستان | داکتر اعظم دادفر | کابل پوهنتون |
| 25 | مبادی اقتصاد زراعتی | پوهاند ولی محمد فائز | بلخ | 26 | اساسات هندسه ترسيمی مسطح | پوهنوال سيد يوسف مانووال | بلخ |
| 27 | تأسيسات و تجهيزات تخنيکی ساختمان | داکتر انجنير محمد عمر تيموری | پولی تخنيک کابل | 28 | د راديويي خپرونو توليد | پوهنوال دوکتور ماسټر واحدي | خوست |
| 29 | د خاورې تخريب او د چاپيريال ککړتيا | پوهنيار محمد حنيف هاشمي | خوست | 30 | تيوری و سياست بودجه عامه | پوهنوال داکتر سيد محمد تينگار | کابل |
| 31 | حيوانات مفصليه | پروفيسور داکتر ديپلوم علی آقا نحيف | هرات | 32 | عضوي کيميا، د اروماتيک او هيتروسيکليک برخه | پوهنوال دوکتور گل حسن وليزی | کابل |
| 33 | د پروژې تحليل او مديريت | پوهاند محمد بشير دوديال | ننگرهار | 34 | د انجنيری ميخانيک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| 35 | کلکولس او تحليلي هندسه، لومړی برخه | پوهندوی سيد شير آقا سيدي | ننگرهار | 36 | کلکولس او تحليلي هندسه، دوهمه برخه | پوهندوی سيد شير آقا سيدي | ننگرهار |
| 37 | د کرنيزو محصولاتو بازار موندنه | پوهاند محمد طيب | ننگرهار | 38 | کارتو گرافی با اساسات توپوگرافی | پوهنوال دوکتور محمد طاهر عنايت | ننگرهار |
| 39 | انرژي سمپا کوونکي ودانۍ | انجنير اسد الله ملکزی | ننگرهار | 40 | د موادو مقاومت | پوهنمل بهرام اميری | خوست |
| 41 | فزيکی کيميا گازونه او کيمياوی ترموديناميک | پوهاند خير محمد ماموند | ننگرهار | 42 | اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې | دانش کروخيل | ننگرهار |
| 43 | حياتي جغرافيه | پوهاند لطف الله صافی | ننگرهار | 44 | د فاصله اوبو انجنيري | پرهاند انجنير زلمی خالقی | ننگرهار |
| 45 | د رياضي په هکله خبرې اترې | سلطان احمد نيازمن | ننگرهار | 46 | اقتصادي جيولوجي (کانپوهنه-فلزي کانونه) | پوهاند دوکتور شريف الله سهاک | ننگرهار |
| 47 | گروه های اجتماعی بسته (مطالعه جامعه شناختی سکتها) | داکتر احمد سير مهجور | کابل پوهنتون | 48 | گرم شدن کره زمين | محمد نعيم نسين | بلخ |
| 49 | الجبر او د عددونو تيوري دوهمه برخه | سلطان احمد نيازمن | ننگرهار | 50 | اعمار ساختمانها (اساسات، مواد و سيستم ها) | پوهندوی انجنير امان الله فقيری | کابل پوليتخنيک |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 51 | په سیول انجنیري کې د اټوکډ استعمال | پوهنوال میا پاچا میاخیل | ننگرهار | 52 | وترینري عمومي پتالوژي | پوهندوی محمد طاهر کاکړ | ننگرهار |
| 53 | انجنیري جیودوزی (سرو) | پوهندی گل حکیم شاه سیدی | ننگرهار | 54 | جیومورفولوژي | پوهنوال عزت الله | ننگرهار |
| 55 | د تلویزیوني خپرونو تولید | پوهنوال داکتر ماستر واحدی | خوست | 56 | اوسپنیز کانکرېټي عناصر ، لومړی برخه | پوهنوال دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| 57 | زولوجی فقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار | 58 | زولوجی غیرفقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار |
| 59 | د تهداب انجنیري | پوهاند انجنیر زلمی خالقی | ننگرهار | 60 | الجبر معاصر | داکتر عبدالله مهمند | بلخ |
| 61 | رهنمود موثریت حفظ انرژی در تعمیرات | داکتر انجنیر محمد عمر تیموری | کابل | 62 | معاصر الجبر | داکتر عبدالله مهمند | خوست |
| 63 | آلماني د افغانانو لپاره | داکتر یحیی وردک | ښلابېل | 64 | د افغانستان د پوهنتونونو د درسی کتابونو چاپول | داکتر یحیی وردک | ټولو ته |
| 65 | آلمانی برای افغانها به دری | داکتر یحیی وردک | ښلابېل | 66 | د پروژې مدیریت په عمل کې | محمد داود علم او یو اف . گهل | ننگرهار |
| 67 | صنعتي اقتصاد | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار | 68 | نباتي فزیولوژي لومړی جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست |
| 69 | نباتي فزیولوژي دوهم جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست | 70 | د ساختمانونو تحلیل (لومړی برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| 71 | د ساختمانونو تحلیل (دویمه برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار | 72 | د مهندسانو د پاره ساختماني ستاتیک زده کړه | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ننگرهار |
| 73 | د ساختمان د جوړلو طریقې (لومړی برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار | 74 | د ساختمان د جوړلو طریقې (دوهمه برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| 75 | سیټونه او هرڅه د هغوی په هکله | لیف بوکوفسکی/ سلطان احمد نیاز من | ننگرهار | 76 | د لوبو لارو د هندسي عناصرو ډیزاین | پوهنیار انجنیر م. شاکر فاروقي | ننگرهار |
| 77 | د سرخلاصو کانالونو هایدرولیک | پوهنوال میاپاچا میاخیل | ننگرهار | 78 | د جوړښتونو تحلیل (لومړی برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست |
| 79 | د جوړښتونو تحلیل (دوهمه برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست | 80 | د ریاضي منطق | سطان احمد نیازمن | ننگرهار |
| 81 | ۴۵ انجنیري درسي کتابونه | ټول پوهنتونونه | ننگرهار | 82 | د اوبو رسولو انجنیري | پروفیسور انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| 83 | اوسپنیز کانکریټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، لومړی ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار | 84 | اوسپنیز کانکریټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، دوهم ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| 85 | د انجنیری اساسی ریاضی (دوهمه برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار | 86 | د انجنیری اساسی ریاضی (لومړی برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار |
| 87 | د اقتصادي پرمختیا تیوري | پوهاند محمد بشیر دویال | ننگرهار | 88 | د تحلیلی هندسه لومړی برخه | سید شیر اقا سیدی | ننگرهار |
| 89 | عمومي تخنیکي رسم | پوهیالی فضل اکبر | ننگرهار | 90 | کید او گرافیک | پوهنوال دیپلوم انجنیر بهاوالدین جلالي | ننگرهار |
| 91 | د اقتصاد د علم اساسات | شیرخان حساس | ننگرهار | 92 | نړیوالې ټولنې | احسان الله آرینزی | ننگرهار |
| 93 | اقلیم پوهنه | پوهاند عزت الله سایل | ننگرهار | 94 | د طبیعي علومو انگلیسي-پښتو قاموس | پوهنوال ډاکتر نظر محمد سلطانزی ځدران | ننگرهار |
| 95 | پیداگوژي | پوهنیار راز محمد فیضي | ننگرهار | 96 | د جوړښتونو تحلیل (دریم برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست |
| 97 | د اوبو لگولو انجنیری | پوهندوی دیپلوم انجنیر اصغر غفورزی | ننگرهار | 98 | د انسان فزیولوژي او اناټومي | عبدالملک پرهېز | ننگرهار |
| 99 | نیماتولوژي | پوهنوال حسین آرمان | ننگرهار | 100 | د کورنیو الوتنکو د روزنې اساسات | پوهاند میر حالم نیازی | ننگرهار |
| 101 | د سازماني اړیکو مدیریت | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار | 102 | د کرنې تشریحي قاموس | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار |
| 103 | حیواني تغذیه لومړی برخه | پوهندوی روزي خان صارق | ننگرهار | 104 | حیواني تغذیه دوهمه برخه | پوهندوی روزي خان صارق | ننگرهار |
| 105 | وترېنري داخله | پوهندوی پیر محمد ستانکزی | ننگرهار | ۱۰۶ | وترنري فارمکولوژي | پوهنوال محمد بایر درمل | ننگرهار |
| 107 | کوانتم میخانیک | پوهنیار اکرام الله وقار | ننگرهار | ۱۰۸ | د جرمني ژبې اسانه زده کړه، له اساساتو نه تر ادبیاتو پورې | داکتر اکرم ملکزی | ننگرهار |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 109 | رهبري له تیوري تر عمله | پوهنیار محمد عرفان قریشي | ننګرهار | ۱۱۰ | عامه اقتصاد | پوهندوی ریحان الله رحیمي | ننګرهار |
| 111 | د څېړنې مېتودولوژي | پوهنیار نثار احمد مصلح | ننګرهار | ۱۱۲ | د بشري سرچینو مدیریت | پوهنمل مصور فقیرزی | ننګرهار |
| 113 | مرکزي بانګ او پرمختللې پولي سیاستونه | پوهاند دوکتور عبدالقیوم عارف | خوست | | | | |

**تطبیق کوونکی**: ډاکټر یحیی وردګ، د لوړو زده کړو وزارت ، څلورمه کارته، کابل افغانستان، مارچ ۲۰۲۲
موبایل:۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰، ۰۷۰۷۳۲۰۸۴۴، ایمیل: info@ecampus-afghanistan.org, www.mohe.gov.af
ټول کتابونه له دې ویبپاڼو څخه ډونلوډولای شئ: www.ecampus-afghanistan.org



## Publishing Textbooks

Honorable lecturers and dear students!

The lack of quality textbooks in the universities of Afghanistan is a serious issue, which is repeatedly challenging students and teachers alike. To tackle this issue, we have initiated the process of providing textbooks to the students of medicine .

For this reason, we have published 365 different textbooks of Medicine, Engineering, Science, Economics, Journalism, and Agriculture from Nangarhar, Khost, Kandahar, Herat, Balkh, Al-Beroni, Kabul, Kabul Polytechnic, and Kabul Medical universities. The book you are holding in your hands is a sample of a printed textbook. It should be mentioned that all these books have been distributed among all Afghan universities and many other institutions and organizations for free. All the published textbooks can be downloaded from www.ecampus-afghanistan.org .

The Afghan National Higher Education Strategy (2010-2014) states: "*Funds will be made available to encourage the writing and publication of textbooks in Dari and Pashto. Especially in priority areas, to improve the quality of teaching and learning and give students access to state–of–the–art information. In the meantime, translation of English language textbooks and journals into Dari and Pashto is a major challenge for curriculum reform. Without this facility it would not be possible for university students and faculty to access modern developments as knowledge in all disciplines accumulates at a rapid and exponential pace, in particular this is a huge obstacle for establishing a research culture. The Ministry of Higher Education together with the universities will examine strategies to overcome this deficit* ".

We would like to continue this project and to end the method of manual notes and papers. Based on the request of higher education institutions, there is the need to publish about 100 different textbooks each year.

**I would like to ask all the lecturers to write new textbooks, translate or revise their lecture notes or written books and share them with us to be published. We will ensure quality composition, printing and distribution to Afghan universities free of charge. I would like the students to encourage and assist their lecturers in this regard. We welcome any recommendations and suggestions for improvement.**

It is worth mentioning that the authors and publishers tried to prepare the books according to the international standards, but if there is any problem in the book, we kindly request the readers to send their comments to us or the authors in order to be corrected for future revised editions.

We are very thankful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and its director Dr. Eroes, who has provided fund for this book. We would also like to mention that he has provided funds for 230 medical and non-medical textbooks so far.
I would like to cordially thank Chancellor of Universities, Deans of faculties, and lecturers for their continuous cooperation and support for this project .
I am also thankful to all those lecturers who encouraged us and gave us all these books to be published and distributed all over Afghanistan. Finally, I would like to express my appreciation for the efforts of my colleagues Hekmatullah Aziz and Fahim Habibi in the office for publishing and distributing the textbooks.

Dr. Yahya Wardak
Ministry of Higher Education, Kabul, Afghanistan, May, 2022
Mobile: 0706320844, 0780232310
Email: info@ecampus-afghanistan.org

| | |
|---|---|
| Book Name | Central Bank & Advanced Monetary Policies |
| Author | Prof Dr Abdul Qayoum Arif |
| Translator | Amanullah Vreen |
| Reviewer | Hedayatullah Farid |
| Designer | Hejratullah Muhed |
| Publisher | Shaikh Zayed University, Khost,<br>Faculty of Administration & Bussiness |
| Website | www.szu.edu.af |
| Published | 2022, First Edition |
| Copies | 1000 |
| Serial No | 364 |
| Download | www.ecampus-afghanistan.org |

This publication was financed by **Kinderhilfe-Afghanistan** (German Aid for Afghan Children) a private initiative of the Eroes family in Germany.
Administrative and technical support by Afghanic.
The contents and textual structure of this book have been developed by concerning author, translator and relevant faculty and being responsible for it.
Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.

If you want to publish your textbooks, please contact us:
Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Karte – 4, Kabul
Office 0780232310, 0706320844
Email info@ecampus-afghanistan.org

All rights reserved with the Peace Study, Research & Publish Center.
Contact: 0202107909/0787613104, website: www.psrp.org.af
Email: headoffice@psrp.org.af

Printed in Afghanistan 2022

ISBN 978-9936-633-99-5